# غني د شګو په محل کې

[لومړی ټوک]

## په غني د کرګر نوې زیاتونه

غني خان د بیل سبک ښتن شاعر، لیکوال، مفکر او مبتکر وه. دی خپله خبره کوي، د خپل زړه خبره په خپل انداز کې کوي. د بل چا په ښېرنه غږېږي او نور هم د ده په ښېر نه شي غږېدای.

په غني خان ډیرکار شوی دی خو لکه ځنګه چې د ده په شان شاعري کول او فکر کول اسان کار نه دی نو دغه شان په ده باندې علمي کار کول هم د اوبو په ګرداب کې ځان اچول دي.

په عام ډول په ټولو ژبو او په خاص ډول په پښتو ژبه کې په غني خان د محمد اکبرکرګر صاحب(غني خان د شګو په محل کې او ماته یو دریاب د نور را) آثر ډېرې نوې خبرې لري. په دې آثر کې په غني د نوو خبرو دلایل د کرګرصاحب فلسفي زده کړې او هر اړخیزه فلسفي مطالعه، سیاسي مطالعه او موقف، د غني له شعر او شاعرۍ سره مینه، په غني خان د نورو ژبولیکل شوي اثارو مطالعه او داسې نور لاملونه کېدای شي. انقلابي شاعر اجمل خټک(غني خان د شګو په محل کې) په ۱۳۶۵ کال کې د کرګر صاحب کار ستایلی دی او دا یې یو لوی کار ګڼلی دی.

غني خان شاعر دی، د خپل زړه خبرې په بې باکانه ډول کوي، که چېرې د ده د شعرونو په جولیز(شکلي)جوړښت باندې نظر وکړو، د ده شاعرۍ د بحر، ردم، تشبیه، استعارې، قافیه، ردیف (لفظي او معنوي) صنایعو نه ډېره استفاده کړې نه ده، د ده شعرونه باید د یادو توکو په تله ونه تلل شي، هغه د فکرشاعر دی، د هغه په شاعرۍ کې د وزن او بحرنه پرېوتې مسرې هم شته او داسې مسرې یې په شعرونوکې شته، چې قافیې او ردیف په کې نه دي مراعات شوي خو ده خپل فکر او نظر په بهتره ډول ټولنې ته وړاندې کړی دی او لیکوال او محقیق باید د ده شعر له معناییزې زاویې وګوري نه د فزیکي جوړښت له مخې.

د غني خان ټوله شاعري په دودیز ډول د ختیزې شاعرۍ په کالبونوکې نه ده کړې، بلکې دغه قیدونه یې مات کړي دي، دی د فکر، فلسفې او مقصد شاعردی. پښتو ادبیاتوکې یې نوې لاره د خپلې وینا لپاره انتخاب کړې ده.

غني خان خپل لومړنی شعر د ۱۹۲۹ میلادي کال د جولای پر۲۳ مه نېټه د عمرپه څوارلسم کال ویلی دی، د ده لومړنی شعر هم د وزن، قافیې، ردیف او داسې نورو توکو نه خالي دي او ازاد شعر ورته ویلای شو، لکه:

دتهمـت نـه پـه جهـان کې څوک خلاص نـه شـي
چـــې اسمــــان وي کـــله کــــله وي وريځې
چې کم اصل وي په هيـڅ هـــم نـــه خپــــليږي
چــــا غــړلی دی د شـــــنو شــګو نه مــــزې
د قـــــاليــن بــرابـــري بــــه کـــله وکــــا

کـــه هـــزار رنـګه شي رنګ بــوڼ او بـــروزې
که د وچـــو پـــه ډېـــــرۍ کې ته يـــو لونــــديې
ګمــــان مـــــه کـوه چـې ته به او نـــه سـوځې
د مـــــــردانو کار د پلک ځواب د ســـــوک دی
هـــسې نــه چـې کـــړې ژړا لــکــه د ښــځې
چـــــــې وخت راشي ښـــه زړه تش کړه غني خان
څـــــو د قهـــره پـــه لـــــړمون کې پټ پټ سوځې

شـــعر که ازاد وي او که پابند، جذبه او تخيل ورته ضـــروري ده، د ده په شاعرۍ کې د جذبې او تخيل رښتينوالی او صداقت موجود دی.

ځيني ليکوال او شـاعران د غني د شـاعرۍ دغې خواته د انتقاد ګوته نيسي خو دی يې په ځواب کې وايي: (په شـــاعرۍ کې ډېرې تجربې شـوي دي، ازاده او نوې شـاعري رواج شوه، زه په خپلو شعرونوکې د تخيل طرفدار يم)

په شـعر او شـاعرۍ کې د تخليقګر لپاره د عروج او نزول وخت څرګند نه وي نو په همدې سـبب د غني خان شـعر او شـاعري درې پړاوونه لري او په شـــعرکې يې ژور فلســـفي تفکر د دريېمې دورې زيږنده ده. د دې دور شاعري يې د هستيو د ذاتي پېژندنې په غرض انسان ته ښوونه او د شيانو

د حقایقو او د هغو د وجود د علتوڅخه بحث کوي او د فکراو هســـتیو د اړیکوڅخه هم غږېږي، چې د هغو د پېژندنې له اغېزې د انســـان لاره د عالي هدف لپاره څرګندوي.

غني خان بند تیرکړی دی او د شـــعر لومړنی مجموعه یې د پنجرې چغار نومیږي خو دغو ویناوو ته حبســـیاتي شـــاعري ویلای نه شـــو. دلیل یې دا کېدای شـــي چې د ده د کورنۍ مشـــر، یعنې پلار یې هم په بندکې وخت تیر کړی وه او په بند کې د پلار د لاس کرل شـــوي ګلان ســـره به یې خبرې اترې کولې او بند ورته د کور په شان ښکاره کېده نوځکه یې د کور ارمان نه کاوه او همدارنګه دا هم کېدای شـــي چې دی د ازادۍ ســـتر ســـالار خان عبدالغفار خان زوی وه او د دې لپاره چې خلکو ته کمزوری، بې زړه او د سختیو په مقابل کې ضـعیف ښکاره نه شي نو له همدې امله یې په بند کې هم داســـې خبرې کړي دي لکه چې کور کې وي او هیڅ ســـتونزې پرې نه وي.

کرګرصـــاحب د خان د بند د شـــاعرۍ په هکله د چخوف دا خبره د خپلې خبرې د تایید لپاره راوړي چې وایي: ( ځینې خلک په بندکې وي، ته به فکرکوې چې بندي دی حال دا چې آزاد به وي).

کرګرصـــاحب د پنجرې چغار په شـعرونو باندې هر اړخیزې خبرې کړي دي او د ده ادبي تحلیل د ستایلو دی.

غني خان په خپل وخت کې د فارسي ژبې نړیوال شاعر عمر خیام مطالعه درلوده او خپل کلیات کې یې د خیام یادونه کړې ده او د ده د فلسفي شعرونه تاثیرات یې په تخلیقاتوکې لیدل کیږي.

کرګر په پرتليزو څېړنېرو مقالو کې ځانګړی مقام لري چې د غني او ټاګور، غني او خيام او غني او نيچه د ويناوو تر منځ په پرتليز شکل علمي مقالې يې د دې آثر ښــې نمونې دي، چې د عمر خيام او د غني ترمنځ پرتليزه ليکنه کې يې غني ته په ځينو برخو کې فوقيت ورکړی دی.

غني خان په خپل وخت کې د لوی هندوستان د نابغه علامه اقبال د شعرونو مطالعه هم درلوده او د ده د فکرځرکونه يې هم په شـعرونوکې ښـکاري او همدارنګه ځينې ويناوې يې ژباړلي هم دي. لنډه دا چې غني د ماضي، حال او راتلونکي وخت شـاعر دی. دی د خپل وخت نه په سـلګونو کاله مخکې او وروسته خبرې کړي دي او د ده په ويناووکې داسې خبرې هم شته چې د راتلوونکي وخت پيش بيني يې کړې ده.

ځينې کسان په خراب وخت، خرابو خلکو او خراب ځای کې پيدا شي، چې د داســې خلکو پېژندل د هر چا د وس کار نه وي، زه نه پوهيږم چې دا د ليکوال او شاعر بدختي ده او که د هغو خلکو بدبختي ده چې د ده د پيژندلو توان نه لري. خو دا ناکامي د وروسـته پاتې او ناپوهو خلکو ده چې فکري او علمي ذوق يې نه دی پالل شـوی او د غني په شـان خلکو د پيژندلو توان ورسره نه شته.

د کرګر څېړنېزه ژبه او د ده د خبرو تحليل او تفســير ډېر لوړ دی او د ده فلسفي فکر، د عرفان او تصوف هر اړخيزه مطالعه، د تصوفي جريانونو پيژندنه، تصـوف او عرفان په نورو اديانو کې، د ده په انګريزي، فارســي او نورو ژبو مطالعه، د ده ســياســي موقف او بندي کېدل او داســې نور لاملونه دي چې د ده په خبرو هر لوستی وګړی نه شي پوهيدای چې دا هم د پورته خبرې په تاييد د کرګر ملامتيا نه ده بلکې موږ ګرم يو چې د ده د

سويي مطابق مطالعه نه لرو او د ده په وينا چې زه داسې آثار خاصوکسانو ته ليکم.

غني خان څو بعدي شخصيت دی، شاعر، نثر ليکونکی، رسام، مجسمه جوړونکی او داسې نور او همدارنګه د شرق او غرب د فرهنګونو تاثيرات يې په شعرونو کې تر سترګو کيږي. کرګر د ده د فلسفي افکارو په هکله وايي:

( د غني خان په افکارو باندې د ټيګور د شانتي نيکتين د ښوونځي اغيزه شته، د ښکلا پيژندنې او استيتيک په برخه کې خاصه نظريه لري، د هند د لرغونې فلسفي افکارو او ښکلاپيژندنې اغيزه شته، د ښکلا پيژندنې له اغيزوڅخه منکريدای نشو.د مثال په توګه په دې باب هم د خپل شعر په باب متفاوت نظريات لري.

د افلاطون د فلسفي ښوونځي په باب اظهار کوي، د اسلامي تصوف او پانته ئيرم اغيزې د هغه په افکارو کې ليدلی شو، د موسيقۍ سره د هغه نا پايه مينه څرګنده ليدلی شو، د منصور د ان الحق آواز يې ډيرخوښيږي، د افلاطون د فلسفيانه افکارو په باب اظهار نظرکوي.)

د غني خان په شعرونوکې د خيام سربيره د هيګل، کانت او هايدګر د ويناوو فلسفي څرکونه ليدل کيږي نو له همدې امله د غني خان په شعرونو کې د بېلابېلو ليکوالو او شاعرانوڅرکونه د دې لامل کيږي چې د ده په شعرونوکې په جامع او مانع ډول فلسفي باندې بحث وشي خو په عام ډول د سيمې په ژبو او په خاص ډول په پښتو ژبه کې د غني د فلسفې، نظر، عقيدې، فکر، شاعرۍ او د ده په شعر باندې د مختلفو لاملونو درلودلو

ښودلو په هکله د کرګرله دې آثره ( غني خان د شګو په محل کې او ماته یو دریاب د نور را) نه ما بهرته آثر لیدلی نه دی.

د ښکلا پېژندنې په هکه غني خان ډېرې نوې خبرې لري. هر انسان دوه جهتونه او یا دوه ډوله ښکلاوې لري، یو د انسان داخلي ښکلا ده او بله د انسان خارجي ښکلا ده، خارجي ښکلا له صورت سره او داخلي ښکلا د سیرت سره اړیکه لري، د انسان د نوم معناییز اړیکه هم له داخلي جوړښت سره رابطه لري یعنې بهترین انسان هماغه دی چې داخلي توکي یې په لاس کې وي او له انسانه هغه وخت ښه انسان جوړیدای شي چې انساني کرامت ولري، عاطفه، احساس، مینه، فکر، انسانیت، شرافت، اخلاق او داسې نور توکي ولري چې دا ټول د انسان په داخلي توکو کې راتلای شي، که په انسان کې داخلي ښکلاوې نه وي نو د رحمان بابا خبره چې وایي: (بت که جوړ کړې د سرو زرو انسان نه دی)، یعنې که د یو انسان خارجي ښکلا هرڅومره زیاته وي او ښکلی وي خوچې داخلي ښکلا ورسره نه وي نو دا د هغه کالبوت په شان دی چې له سرو زرو به جوړ وي خو روح به نه لري او چې جسم روح ونه لري دا داسې مثال لري، لکه بت.

روح دی چې جسم ته حرکت ورکوي او ښه روح د ښه جسم نماینده ګي کولای شي. انسان له بوی ناکې ختې جوړ شوی دی خو روح پاک او سپیڅلی دی، روح چې پاک شو نو ټول بدن او اعضاوې به سم کارونه کوي او په ټول بدن باندې ښه مشري کولای شي او چې روح خراب شو نو ټول بدن به ګنده بوی کوي.

غني خان د ښکلا لپاره دوه خواوو باندې بحث کوي او هغه دوه خواوې سر او زړه دی، د غني په اند (سر) د عقل سمبول او نښه ده او( زړه) د

صـوفیانو او عارفانو د پوهې مرکز دی او یا د روح او روان نښـه ده. هغه د ښکلا اصلي مرکز روح پورې تړي او روح ته زیات ارزښت ورکوي.

د غني خان په شعرونو کې استیتیکي نظریات او مفکوره د انسان له روح او روان سره اړیکه لري. یعنې دی ښـکلا د انسـان په اندرون کې ویني او له ظاهره باطن ته زیات ارزښت ورکوي.

د ده په شـعرونوکې د انســان له سـمبوله زیاته اسـتفاده شـوې ده او د ده په نظر که یو انسـان د (انسـان) نوم معناییزه خوا په کتو سـره د انسـانیت ټول کرامت پوره کړي نو دی بیا حقیقي، پوره او کامل انســان دی. همدا انســان دی چې دنیا ورانوي او ابادوي نو شـــعرد ژوند لپاره مفهوم په دې کې دی چې شاعري باید د انسان د ژوند لپاره ګټه ولري نه تاوان.

کرګر د غني او نیچه د فکر د اړیکو په هکله یوه لیکنه کړې ده، نیچه د انســـان په هکله ځینې خبرې کړي دي او وایي:( کله کله انســـان له حیوانه یوه نیزه را ټیټ شـــي. حیوانات د لږ وخت له پاره یا په ټاکلي موســم کې د یوځای کیدو(جنسي یووالي) شوق لري خو انسان داسې حیوان دی چې دا پولـه یې ړنګـه کړې ده. دا ځکـه چې انســـان تـل د خونـد او لـذت پســـې سرګردانه دی.)

د غني په ټول پوره انسـان چې روان یې سـم وي نو هېڅکله به ناروا عمل په تکراري ډول سرته ونه رسوي، خو د نیچه د وینا په تایید ځینې انسانان بایدکله کله د بې فکره، بې عقله او بې تمیزه حیواناتو، نباتاتو او جماداتو نه د خدمت کول الهام واخلي او دغه فکرمند انســان باید د بې فکره دغو توکو نه زده کړه وکړي.

د یوعالم په وینا کله چې چرګانو ته دانه واچول شـي نو دوی پکې د حرامو اوحلالو لټول کوي خو ډیر انسانان مې ولیدل چې د حرامو اوحلالو تر منځ توپیرنه کوي، کله کله چرګې مرداری خوري او هګۍ اچوي او موږ هګۍ خورو، مرداری کوو نو له همدې امله انسان باید خپلو کړو وړو ته متوجې وي.

محمد اکبرکرګر د ښکلا پیژندنې په هکله د غني خان نظر د فلوطین سره پرتله کوي او وايي: د فلوطین په باور(( ښـکلا دانسـان له روح سـره تړاو لري. بدرنګي او ناوړتیا چې د انســـان په روح کې ورزیاتیږي نو روح ککړوي. ښکلا د روح هماغه رښتینی ژوند دی او که انساني روح یا نفس له ځانه سـره یوازې پاتې شـي. له ناوړتیا وو خلاصـون مومي. په همدي دلیل ټول فضیلتونه د پاکۍ او سپیڅلتیا په کلمه کې دي.یا ښکلا او نیکي ته په رسـیدو او تر لاسـه کیدو له پاره باید مطلقې ښـکلا ته پام وکړو اودخپل دننه (درون ) ســالک شــو. په خپلو دروني ســترګو ســره د نړیمنظرته وګورو. که چیرې روح ځان ښکلی نه کړي نو ښکلا به ونه ویني.)

د غني خان او فلوطین استیتیکي نظریات د قرآن کریم او احادیثوپه رڼا کې دي او اسلام هم زړه د انسان د بدن بادشاه ښیي او د عقیدې اصلي ځای هم زړه دی.

غني خان د افلاطون مطالعه درلوده او کله کله یې په ویناوو کې د ده د خبروڅرکونه لیدل کیږي او په شـعرونو کې یې د ښـکلا پیژندنې په هکله نظریات په ډاګه کوي چې د یونانیانومطالعه یې درلوده.

کرګرصــاحب د غني د شـعرونو هر اړخیزه څیړنه په عالي فکر کړې ده او د ده د شــعرونو معنـاییزه او منځپـانګېزه خوا یې د مختلفو لاملونوپـه

نظرکي نیولوســـره تربحث لاندې نیولې ده.لکه د ده ســـیاســـي شـــعرونه، هرډول فلسـفي شـعرونه، تصـوفي او عرفاني شـعرونه، د منصـور حلاج یادونه، د ښکلا پېژندنې په هکله نظریات، ټولنیز نظرونه، اضدادو فلسفه، عدم تشـــدد فلســـفه، د فکر ازادي، هېواد پالنه، هېومانېزم او داســـې نورپه لسهاوو سرلیکونوباندې بحث شته دی او د یادو هر ډول شعرونو په اصلي لاملونو باندې بحث کړی دی.

زه څلور کلن وم چې غني خان د شــګو په محل کې آثر په ۱۳۶۵ کال کې چاپ شو او د وخت او زمان په تېرېدلو مې د دې آثر یادونه د ماخذ او منبع په ډول په ځینو ځایونوکې لیده، د کرګر صـــاحب ســـره مې ملګرتوب پیدا شو او د دې کتاب د چاپ په هکله مو تصمیم ونیوه، لومړی برخه مې ورته کمپوزکړه او د همدې کتاب( غني خان د شــګو په محل کې دویم ټوک) چې د محمد اکبر کرګر د لســګونو کلونو خېړنې پایله وه(ما ته یو دریاب د نور را) په نامه چاپ ته تیار کړ او دا برخه یې هم ما ته ولیږله، دواړه برخې( غني خان د شــــګو په محل کې او ما ته یو دریاب د نور را) مې ترتیب او تنظیم کړ او دا دی چاپ ته اماده دی.

پوهنیار سیداصغر هاشمي

ننګرهار، ښوونې او روزنې پوهنځی

۱۹/۴/۱۳۹۵

## شاعر

وايې چې هر شاعر تر يوه حده فلسفي وي، خو د غني په اړه دا خبره بېخي نيمګړې ده، ځکه زموږ نور نقادان هغه ته فلسفي شاعر وايي، ولې زه د خپلې مطالعې او د هغه د پېژندګلوۍ په رڼا کې غني ته فلسفي شاعر نه بلکې(شاعر فلسفي) وايم.

د ده ټول ژوند، مجلس، خبرې، فکر او کړه وړه د فلسفيانو دي، تر دې چې که چا نه وي ليدلی او نه يې پېژني هم، چې دی ويني او د ده خبرې واوري، نو سمدستي به قضاوت وکړي، چې غني فلسفي دی.

ولې دا فلسفي د خپل حکمت اوفکر، د باريکو، نزاکتونو ژورتيا، مسئلو، کړليچونو او لاينحل نکتو لپاره چې د شاعرۍ، ادب او هنر خوږه ژبه، د غنا نه ډک په سر پوره وزن رنګين تخيل، د معنی نه ډکې اشارې (سمبولونه)نوي، نوي تشبيهات او استعارات او رنګارنګ ترکيبونه استعمالوي، نو هېڅوک د دې نه انکار نه شي کولای، چې يو ستراو خوندور شاعر پيدا کړي.

دې د شـــعر په ژبه اوفن کې دومره اســـتاذې او کمال لري، چې که دمرغانواوځناوروپه خوله د ژوند باريکې مسئلې يادوي، که د رند اومست لېوني په څېرکې د خپل فکر د ژورتيا او وسـعت مسـئلې پرانېزي او که د صـوفي او عارف سره راز ونياز کوي، ټولوکې داسې خوندپيداکړي چې يو بې علمه باندچي يې اوري هم ورته مسـت شـي، تر دې چې که څوک د ده د شعر په بار يکی او فلسفه پوهېږي او که نه پوهېږي، که څوک ورسره اتفاق لري او که نه يې لري، د ده شـعر چې اوري، په هغې مسـتيږي، ذهن يې تازه کېږي او زړه يې خوشحالېږي.

دا شاعر فلسفي يوسياسي، مفکر او د مبارزې د ميدان پهلوان هم دی، دا صفتونه يې په شعرکې هم ترهرچا ښه څرګندکړي دي او عمل په مېدان کې هم.

او دا يواځې زه نه وايم، زما او د ده ټول معاصـــر شـــاعران او سياستدانان پري قائل دي اوکه چا د ده نوره وينا خو پريږده، که صرف دا دوه نظمونه يې لوستي، يا اوريدلي وي، هغه به زما ددې وينا صداقت زما سره متفق وي.

ای زما وطنه د لعلونو خزانې زما
چې خازې شني مې په قبر وي ولاړې

زه د غني ملګری يم، هغه صـــرف پېژنم نه بلکې په هغه پوهېږم هم، او چې په هغه د څه ليکلو د پاره قلم را واخلم، نونه قلم سـتړی کېږي او نه زه مړېږم، ولې زه په دې پوهېږم چې زه د غني په شان فلسفي نه يم، او نه د هغه د فلسفې د لارې زده کوونکی يم.

هغـه خيـال، فن او ښـــکلا ســـره لوبيږي
زه لـــګـيـا يـم لــوبــوم دا غــلــي زړونـــه
هغه مســـت شـــي په مکان کې لامکان شـــي
زه چې ويښ شـــم لاس وپښــې مې پـه زنځير

نوځکه زه نه شـــم کولای، چې قلم راواخلم او د هغه د شـــخصـــيت، فلسـفې اوفن په هکله څه وليکم، ولې شـاباسـی زما خوږ وروږ او ملګري اکبر(کرګر)تـه چې ده پـه ډېرجوش او ولولـه قلم پورتـه کړی دی، غني د شـګو په محل کې کتاب يې ليکلی دی، د غني د افکارو، شـاعرانه تصـوير، عدم تشدد، د فلسفې سيرتوکي او غني اوخيام په اړخونو يې رڼا اچولې ده، او دغه شان يې د دې کتاب عامولو ستونکوته د دې شاعرفلسفي، فلسفه او شعر په خوږه او اسانه ژبه کې وړاندې کړي دي، د پښتو ژبه يې په يونوي اوښـــکلې اثرانځورلې ده اوليکوالوته يې د غني د شـــعراوفلســـفې د محل د روازې پرانيســـتي دي، اوس چې هريوغواړي په دې ماخذکې خپل علم، شـوق او قلم د اسـتعداد مطابق، مطابق کارکولای شـي، په دې دروازو ننو تلی اونوې دروازې مالومولای شـــي او چې څومره يې وس وي، تماشـــا، لټون او تحقيق په کې کولای شـــي او په نوي ډول خپل د پښـــتوادب غني کولای او د خپل اولس ذهن روښانه کولای او وينه يې ګرمولای شي.

دلته زه د کرګر صيب په دې زيار او کوښښ د ده په ژبه، د ليکلو په هنر، تخقيق او په دې موضـوعاتوچې دې کتاب کې څېړلی شـوي دي، څه ليکلو ضـــرورت نه ګنم، دا هرڅه لوســـتونکو ته پرېږدم چې هغوی ترې خپله خپل خوند واخلي او عالمانو، شاعرانو، محقيقانو، اديبانو، فلسفيانو او نقادانو ته يې پرېږدم، چې هغوی يې خپله وســـنجوي، البته زه دا ضـــرور وايم، چې لکه ما دا کتاب لوسـتلو، نو زه يې د غني شـخصـيت او اثارو ته پســـخولم او لکه د کرګرصـــيب يې قلم پورته کولو ته تشـــويقولم، دغه

شــان(دغه څېر) د ټولولوسـتونکو ذهن او زړه ورسـره غزونې وکړي او د کرګر صــيب دا کوشــش به دپښــتو ژبې په ادب او هنرکې په دې لورې د تحقيق ډير نوي او پراخ ميدانونه را وړندې کولو سبب شي.

اوس به کرګر صـيب ته په دی تحقيق شـاباش وړاندې کړم، ځکه چې ده زموږ د وخت، تاريخ، ژبې او ادب يو داسې فلسفي شخصيت، فلسفي او شـــعر ته د اولســـونو او ليکوالو توجه راوګرځوله چې هغه د خپل وطن د مينې په جوش کې ســرشـــار، د خپل زړه د وينې په مســتۍ کې ډوب او يا کلونه د ژوندغورزې پرزې وکړې او نن په هډونوسـتړی سـتومانه، خوپه ذهن افلاطون او زړه ليونی په دارالامان(اتمانزوچارســـدې مېره کې د ده کور)کې د خپل باغ د ګلونود ســـيوري لاندې د يارانو د ربابو د ټنګ او ترنګ په زمزموکې، د فلسفې او شعر د محبوبولو په ول څنو په ټالونوکې، د وطن او قوم په ليونۍ مينه مســـت پروت دی او د خپل ماضـــي د ترخو يادونو او مســـتقبل د خوږو خوبونو ســـره لوبيږي او يقين مې دی، چې دا کتاب ور ورسيږي او هغه يې ولولې، نو پوه به شي، چې که افغانستان کې انقلاب نه وی راغلی، نو داسې پسرلی کله راتلی شو، چې زموږ د شعر او فلســـفې باغ باړې دې ګل ګلزار کړي او باور لرم چې دې کتاب ته به خوشـحال شـي، په مخصـوص انداز کې به ښـکلې مسـکا راواخلي، سـربه ګروي، او سترګې به پټې کړي او د خولې نه به يې دا ټپه ووځي چې:

ځـــانـــګـــه بـــه نـــن صـــــبـــا کـــې ګـــل شـــــي
مـــا يې پـــه ســـــر کې ســـــرې غنچې لېدلې دينـــه

اجمل ختک کابل ۱۹ جنوري ۱۹۸۶

# څوټکې

د غني د شګو په محل کې اثر دا دی اوس د ګرانو لوستونکیو په خدمت کې دی، ګران لوستونکې پوهیږي چې د هغه چا د افکارو او ژوند په باب چې په دې اثر کې پري له تاسو سره ګړیږو ساده کار نه دی او هغه په دي معنا نه چې نوموړي شاعر، هنرمند او مبارز زموږ له زمان څخه په ډیره لېره ماضي کې ژوند کاوه.بلکې له نیکه مرغه هغه همداوس ژوندې دی او هغه شعر هم د اباسین په څیر غورځنګ وهي، بلکې په دي معنا چې یوخو د هغه د شاعرانه او فلسفي تفکر په باب ډیر څه لیکل شوي نه دي او که لیکل شوي وي هغه هم یا ډیر ژور نه دي او یا د هغه د افکارو بشپړ جارج پکې نه دی لګول شوی، خو دا د دې معنانه لري چې دا اثر بشپړ دی، بلکې زموږ مطلب دا دی چې دا اثر هم زموږ د قدرمن مبارز شاعر غني خان په باب د تیروڅیرنو پر تعقیب یوه ساده لیکنه ده، باید په زغرده ووایو لکه څنګه چې د غني شاعري بېلابېل ابعاد او اړخونه لري، دغه راز د هغه په هنري شعري فعالیت او خلاقیت باندې هم څه لیکل او ویل ساده نه ده.

د غني شاعري د سمندر آرامۍ ته ورته ده چې په دننه کې له ځانه سره توفان لري او د یوه شاعر په قول چې:

د هغه احساس د حسن تازه ګل دی
او هغه مینه ده غیرت دی ولولې دي

هغه چې مست شي پر مکان کې لامکان شي هغه بحر د هستۍ او د مستۍ دی. او یا د هغه جنون د عقل خزانه ده....

نو په دې ډول د هغه چا په باب چې هم هنرمند وي او هم د هنري شخصیت سره بېلابېلې خواوې ولري او دغه راز د هغه چا په باب چې ډېر څه نه وي ویل شوي او دغه ډول د هغه چاپه باب چې د خپل ژوندد زماني مقطع په ماضي حال او مستقبل کې یوازې په خپله دی نو د هغه په باب څه ویل ساده کار نه دی.

هیله هم دا ده او غوښتنه هم دا ده چې موجوده لیکنه د نیمګړتیاوو څخه خالي نه ده، بلکې نسبي بشپړتیا ته ډېرکار غواړي نوکه هرقدرمن، د نظرخاوندلوستونکی، لیکونکی نمیګړتیاوو ته ځیر کړي په واقعیت کې به د دې کار په بشپړتیا کې ونډه واخلي او دغه راز که نور تکمیلي نظریات، معلومات او واقعیتونه راوسپړي نو دا کار به هم د ایرو په منځ کې د پراته لال په حلولو کې د برخي اخیستنې معنا ولري.

په پای کې همدومره باید ووایوچې که په دې لیکنه کې د غني خان د ژوند، شعر، هنر او تفکراتو په باب په ډېره لږ اندازه رڼا اچول شوي وي، نوڅېرونکې به د خپل عظیم شاعر په وړاندې لږ تر لږه خپله وجیبه پوره کړي وي او د خپل فرهنګي کار په ترڅ کې به یې له سمندرڅخه یوه نظره را پورته کړي وي او بس.

م.ا. کرګر ۱۳۶۵-۱-۴

# غني د خپلو افکارو په پلوشو کې

د انسان ماهیت یوه مجرده پېښه نه وه
چې د یو خاص انساني فردځانګړنه
وي په واقعیت کې د انسان ماهیت د
ټولو ټولنیزومناسباو مجموعه ده.

( کارل مار کس)

## ژوند او زده کړه:

پوهېږوچې د غني د افکارو او شاعرانه خیالاتو په باب څه ویل ساده کار نه دی.کله چې د اویا کاله عمر په سبا د غني خان ژوند او د ژوند پېښنو نه سترګې اړوو، وینو چې غني کومه باد راوړې هستي نه ده، او د شعر او ادب په آسمان کې د پسرلي د تیریدونکو وریځوله شاکوم تصادفي ستوری نه دی، بلکې د هغه د حال جاج د ژمي د شپو د عمر او سخت کړاومن ژوندانه او د(زول د شپو)څخه لګولې شو. د ډیرو تورتمو وریځو څخه نه یې لیدلی شو، د پښتو ادب په آسمان کې د خپل سبا نه تر اوسه یو غني لرو او بس بل تر اوسه نه پیژنو او که په راتلونکي کې راشي هم نو هغه به هم یو څوک وي، نه غني.

صادق هدایت زموږ د پیړۍ مشهور لیکوال د خیام په باب لیکي:

(د بشــر د مليونونو نســلونو د خپګانو او اميدونو ويرې اضــطرابونو دردونو انعکاس د هغه فريادونه دي چې په پرله پســې توګه يې ورته عذاب او رنځ ورکړی دی، خيام هڅه کوي په خپلو ترانوکې په خپل خاص سبک او ژبه دا ټول مشـــکلات، معماګانې اومجهولات څرګند او بې پروا حل کړي، هغه د عصباني او زهر لرونکو خنداوو لاندې وينې او فلسفي مسايل بيانوي او بيا ورته د حل محسوسه او عقلي لاره ګوري).[1](۱)

غني خان د لومړی نړيوالي جګړې د پيل په کال ۱۹۱۶ عيســوي کې د لرې پښـــتونخوا د اتمانزو د خوازيخيلو په قبيله کې زيږيدلی دی، هغه په داسې کورنۍ کې پيدا شوی چې سرنوشت يې د برتانوي استعمارد ماتې او د هندد لويې وچې له آزادۍسره شليدونکی پيوند لري.

د پښتو ادبياتو يو محقق ليکي:

د غني خان يونيکه بهرام خان عبدالغفارخان پلار او بل نيکه يې د مور وپلار يارمحمد خان چې دواړه نيکونه يې دخپل وخت نامتو خانان وو، په تيره بيا يار محمد خان د (رزړو) مشـرخان و او کورنۍ يې په خان خيلو مشــهوره وه، د پلارکورنۍ يې په خوازيخيلو يا (شــريف خيلو) يادېده چې اوس د پاچا خان (خان عبدالغفار)په نسبت د (اشنغر) اکثر خلک ورته (پاچا خيل) وايي.

يو بل ليکوال د غني خان د ژوند د حالاتو په باب ليکي: په هغه وخت کې د تعليم دا حال و چې مدرسي ته تلل کفر ګڼلی شو، خلکو به چغې وهلې

۱. بينوا، عبدالروف. اوسني ليکوال دريم ټوک ۱۳۴۶ کال، کابل، ۹۶۹ مخ.[1]

چې (سبق د مدرسې وايې، د پاره د پیسې وايې، جنت کې به يې ځای نه وي، دوزخ به غوتې و.)

ولي پاچا خان د دې پروا نه ساتله او غني خان يې د پېښور په نیشنل های سکول کې داخل کړو، هلته چې يې څه ابتدايي تعلیم حاصل کړو نو پاچاخان په اتمانزو کې يوسکول جوړ کړو، دغې ته به يې آزاد سکول ويلو او غني خان ته دا فخرحاصل دی چې هم د دغه آزاد سکول په ړومبيو طالب العلمانو کې دی. د اتمانزو د آزاد سکول نه يې چې لسم پاس کړو نو ددهلي جامعه ملیه ته واستولي شو ،چې هغلته کې نور تعلیم وکړی شي -[1]

❖

يادونه: د لته ضروری ښکاري يوه يادونه وکړو چې داسمه نه ده چې غني د پښتو د يوي خانی کورنۍ پوري اړه لري، خو دا حقيقت ټولی دنيا ته ځرګند دی چې دغه خانی د خلکو، وطن او خپلواکۍ څخه جار شوي خانی او يا په بل عبارت پاچا خان د خلکو د خدمت په لاره کې خان او د انګريزي استعمار په وړاندې د سرسختانه مبارزي علمبردار خان وه د هغه يو کوچنی ليکنه رانقلوو چې د پاچا خان د انقلابي او هيومانيستي خصوصياتويوه کوچنۍبېلګه يې بللی شو او همدغه انساني او ضد استثماری هيومانستي خصوصيات د غني په سر ګذشت او مبارزي کې هم ځرګند دی.

[1] ۱. مياشتنۍ مجله- پښتو اعتراف نمبر پښتو اکيډيمي پيښور يو نيورسټي نومبر او د سمبر ۱۹۷۸ ـ ۵۱ مخ

د پاچاخان لیک:

(د ټندل کار له اثر څخه را اخیستل شوي دي)

زه چې د اتو نهو کالو وم او په پېښـــاور کې مې په مکتب کې ســبق وي، نو اکثر په مې لوبې د نبګیانو د بچو یا زامنو ســـره کولې زه به هغی خپلو ملګرو منع کولم چې دا چوړیان دی ته له دوی ســـره ولې لوبی کوي ولي زه به د هغوي په دي خبرو نه منع کېدم او زه نه زما په زړه د دی څه اثر کیده زما دوســتان اکثر لوواران، جولاګان، ترکاڼان، شــاخیلان وو حا لانکه زه د خان زوی وم.

زه چې هلک وم نو د قیصــو را ســره ډیرشــوق و او دا قیصــي به مي زیاتي او یا په کتابونو کې خوښـــې وې چې هغی کې به د داســـې خلقو حـالات وو چې چـا بـه د انســـانیت او د خدای د مخلوق پـه لاره کې ډیر تکلیفونه او مصیبتونه تیر کړي وو، فقط عبدالغفار.[1]

❖

د (اتمانزو مکتب) د انقلاب او خپلواکۍ ګټلو د یوې مدرســـې حیثیت لاره، هغه د کوچینوماشومانو مدرسه چې وروسته یې د انګریزي استعمار پـه اندامونو زلزلـه راوســـتلـه او پـه خولو بـه یې تـل د آزدۍ د پـاره او استعمارضد ترانې نځیدلې، سره کالې یاد ازادۍ د قهرمانانوکالي د همدغې مدرســـې یو نیفورم و، همدغه ښـــوونځی وروســـته د نومیالیوشـــاعرانو او لیکوالو او نثر لیکونکو د روزنې ښـــوونځی شـــو چې د پښـــتو ادبیاتو په غناکې یې هم زیاته ونډه واخیسته.

(په کال ۱۹۲۷ د انګریزانو د ظلم او د جبر د لاسه د سرحد پښتنو د هجرت فیصله وکړه او چې هرکله غني خان خبر شو نو هغه هم افغانستان ته د هجرت کولو د پاره د ډهلی نه راغی.)(۱)[1]

د اوســــني لیکوال مولف د غني خان د ژوندانه د دې شـــیبو په باب لیکي:

(د غني خان د ژوند دغه تریخه دوره هغه وخت لړغوندې په تیریدو شو چې غني خان د ښوونځي لسم ټولګی په بریالیتوب پای ته ورساوه او د ډهلی (جامعه ملیه) مدرسـې ته ولاړ. دا هغه وخت و چې په افغانسـتان کې د (سقاو زوی) یاغي شـو او پاچا خان دا محسوسـه کړه چې د افغانسـتان د پاچا په لښـــکرکې د ډاکترانوکمی دی، نو یوه فیصــــله یې وکړه چې د خپل ورور (ډاکتر خان صاحب) په مشری یوطبي هیات افغانستان ته راولیږي، پـه لومړۍ ډلـه کې دوه ډاکتران د ټپیـانو د دارو درملو او دوه دیرش تنـه زلمیان له مورچو نه د ټپیان د راوړلو د پاره وټاکل شــو چې پاچاخان پنځه زره روپۍ او یو هم (غني خان)هغې ډلي ته وباخښه.[2]

د ښـــاغلي غني خان ملګری لیکي چې: (په غني خان پســـی تلیګرام ولاړاوهغه په دویمه ورځ راورسید، خوچې په مطلب پوه شو نو خپل پلار پاچا خان ته ورغی او ورته یې وویل: ولې جناب عالي:زه څه ګډوری یم چې تاسو بې تپوسه د افغانستان لښکر ته وبښلم.)

---

۲. میاشتنی مجله- پښتو اعتراف نمبر پښتو اکیډیمي پیښور یو نیورسټي نومبر او د سمبر ۱۹۷۸ – ۵۱ مخ.

1. اوسني لیکوال – دریم ټوک ۱۳۴۶ کال کابل ـ ۹۷۰ مخ.

پاچا خان موسکی شو ویې ویل: ښـه ده، که زړه دې نه وي نومه څه کنه؟

په جواب کې غني خان ولاړ ځان یې د رضــــاکارانو خړې جامې برابرې کړي او د ډاکتر خان صـــاحب له کمپوډره یې د پټیو تړلو چل زده کول شروع کړه.(۱[1])

ولی بیا چې هجرت کامیاب نه شــو نو پاتې شــو په کال ۱۹۲۸ کې د انډیا افس په وساطت انګلینډ ته لاړلو هلته یې ارتشی تربیت وشو.

په هغه وخت کې په لندن کې (پادري وکم) یو ډیرلوی ســـړی و، ده هغه ســـره هم د یو پرائیویټ طالب العلم په حیث وخت تیر کړو خو دغلته یې هم زړه ونه لیګدو او په کال ۱۹۳۱ کې د کیمکل انجنیرنګ د تعلیم د پاره د لندن نه امریکې ته لاړلو او د لویز یا نا ســـټیټ په یونیورســـټي کې داخل شو، په کال ۱۹۳۳ کې د امریکې نه دوباره لندن ته لاړاو بیا وطن ته واپس راغی.[2](۲)

یو بل پښـــتون لیکوال د غني خان د ژوند په باب لیکي: (ولي کله چې د انګریزي اســـتعمار خلاف د آزادۍ د مبارزې په جرم د باچاخان ټول جایداد ضـــبط کړی شـــو، نو له دې کبله غني خان ونه شـــوکولای، چې په انګلســـتان کې خپل تعلیم مکمل کړي او هندوســـتان ته راســـتون شـــو او په کلکته کې یې د هند د اوســـنۍ وزیر اعظم میرمن اندرا ګاندي ســـره (البته مقاله د اندراګاندي د ژوند په وخت لیکل شـــوې ده) یوځای د رابندرا نات ټاګور په مشـــهور مکتب شـــانتي نیکتن کې داخل شـــو او دلته یې د ټاګور او

---

[1] همدا اثر دریم ټوک ۶۷۰-۶۷۱ مخونه
[2] پښتو مجله اعتراف نمبر ۵۱ مخ

نورو سترو استادانو څخه د موسیقۍ، رسامۍ، مجسمه جوړولو او نورو ښکلو هنرونو درس واخیستو. د تحصیل نه وروسته غني خان په سیاست کې برخه واخیسته او د انګریزي استعمارخلاف د آزادۍ په مبارزه کې بوخت شو[1](۳).

## د شانتي نیکیتن ښوونځی:

د هند په لویه وچه کې د برتانوي استعمار لاسبری د دې سیمې په خلکو باندې د ډول ډول مصیبتونو او تراژیدیو جو ګه ده. انګریزانو د نورو توطیو او دسایسو په خوا کې د اولسونو په منځ کې ملي، دیني، مذهبي ارماني او نورو تضادونو ته پکی واهه.

د هند په لویه وچه کې د انګریزي استعمار د لاسبري دوره د دغو ترخو واقعیتونو ښه څرګندوی ده. له څېړنو او د شانتي نیکیتن د ښوونځي لـه هدفونو جوتیږي چې دا ښوونځی هم پـه کلتوري لحاظ د انګریزي استعمار شومو هدفونو سره د مبارزې له پاره جوړ شوی و.

د هند لوی متفکر او ستر شاعر رابندر نات ټاګور د دغه ښوونځي موسس و. هغه په ۱۹۰۱ع کې د دسمبر په میاشت کې د خپل پلار د رابندر نات ټاګور په ځمکه کې، د خپل پلار په خوښه یوه ودیاشاله(ښوونځی) پرانیست. د دې ښوونځي شاګردان په لومړي سرکې ډیر لږ. ان دوه درې تنو ته رسیدل. د دې ښوونځي ښوونکی خپله ټاګور و. ټاګور عقیده درلوده، چې د موجوده کلتوري کمزوریو سره د مقابلې لـه پاره باید د وخت د تعلیمي سیستم سره مبارزه وشي. پوهان عبدالشکور رشاد د ګیتا نجلۍ د پښتو ژباړې په سریزه کې لیکلي: (ده غوښتل نجونو او هلکانو ته همغسې

[1] جرګه مجله ـ ۲کال ۶ګڼه ۴۶ مخ کابل ـافغانستان ـ

تعليم ورکړی شي، چې د دغه ملک زوړ برم ور په ياد کړي او د هغه تللی عظمت د راســتنولو په هڅه کې شــي، روزنه يې بايد داســې وي، چې د شاګردانو په زړوکې د انسانانو مينې تخم وکري او د دين، مذهب، رنګ او نســل، وطن او ملک دښــمني او تعصــبونه له منځه يوســي او د راجه رام موهن رای، ارمان پس له مرګه وخيژي، ځکه نو ټاګور پر دغه آشـــرم او وديالـه شـــا(ښـــوونځي) باندې د (شـــانتي نيکتين) نوم کېښـــود، چې د (دارالامان)معنا لري([1]).

دغه راز په بله برخه کې ددې ښـــوونځي د تکميل او پراختيا په باب ليکي: ( په ۱۹۱۹ ع کال د بدهـــ مت، ويدونو، سنسکريټ، پالي او نورو پراکرايټونو او چينايي ژبې تدريس په شـــانتي نيکتين کې منځ ته راغی او هغې کوچنی (اشـرم وپاشـالي)چې پر درې شـاګردانو يې بنسـټ اېښـودل شوی و، د انساني تمدن د تعليمي او تطبيقي مرکز حيثيت غوره کړ.

( وديا بهون) (تحقيقي مرکز)کال بهون (د لطيفه فنونو مدرسه ) ناري بهون (د ښـځوځانګه) سـکهشـابهون (کالج) او سـري نيکتين (د خلکو د مخلصــانه خدمت مرکز) يې و درلودل. دغه تربيتي موسيســه د (۱۹۲۱)ع کال د ډسمبر په دوه ويشتمه ورځ ټاګور د (ويشو ابهارتي پوهنتون)په نامه افتتاح کړه([2]).

غني خان هم يوه موده دغه سترشرقي ښوونځي کې زده کړه کړې ده. لکه څنګه چې څرګنديږي دشانتي نيکيتن ښوونځی يوازې يوه خالصه فرهنګي مدرسه نه بلکې د سياسي هدفونو پر بنا جوړه شوې وه نو له دواړو

---

[1]. د ګيټ آنجلي پښتو ژباړه، سريزه، مخ۶۳
[2]. د ګيټ آنجلي پښتو ژباړه، سريزه، مخ ۶۳

خواووځخه د دغه ښوونځې نه حتماً متاثردی او دغه اغیزه د هغه په ټولو هنری کارونوکې ځرګندیږي.

د یو لیکوال په قول چې لیکي:

د غني خان شخصیت ډیرغني او هر اړ خیز دی هغه یو ساینسدان، یومتفکر، یوپخوانی سیاستمدار، شاعر، رسام(پینټر)، مجسمه جوړوونکی او موسیقار دی، هغه د خپلې مورنۍ ژبې یعنې پښتو نه علاوه په فارسي، عربي، انګلیسي او اردو ژبوکې پوره وارد دی، په انګلیسي ژبه خو شعر هم لیکلی شي (په پښتو شعر کې د هغه لوړ مقام هرچا ته معلوم دی.)([1])

په همدې مقاله کې د شانتي نیکیتن په مکتب کې د هغه د ښکلو هنرونو د زده کړې په باب لولو چې: او د لته یې د ټاګور او نورو سترو استادانو د موسیقي، رسامي، مجسمه جوړولو او نورو ښکلوهنرونو(فاین آرټس) درس واخیستو([2]).

## د پښتو زلمی د انقلابي غورځنګ د مشرپه توګه:

(غني خان د یوې مبارزې او آزدۍ غوښتونکې کورنۍ د یوه شاه ځلمي او نه یوازې د یوه شاعراو هنرمند په توګه پیژنو بلکې هغه یوسترسیاسي شخصیت هم دی او د سیاسي مبارزې په جریان کې د (پښتون زلمي) د آزادۍ ښوونکي غورځنګ مشرتوب د هغه د را وروسته افکارو په پلوشو کې د یوه مهم اړخ په توګه ګڼلی شو.

[1] جرګې مجله دویم کال ۶ ګڼه ۴۵ کخ.
[2] پښتو مجله (اعتراف نمبر)۵۲ مخ.

غني خان په ۱۹۴۴ کال کې په عامو انتخاباتوکې د هندوستان په مرکزي اسمبلي کې د (صوبه سرحد) له طرفه ممبرمنتخب کړی شو.د پښتون زلمي په نوم باندې یو تنظیم یې هم منظم کړو او دا تنظیم په ډیره لږه موده کې داسې منظم کړی شو چې خلک ورته اریان دریان پاتې شول، تقریباً ۴۵ زره زلمي پښتانه د دې تنظیم غړي وو او دا ټول په وسله بند وو. د کال ۱۹۴۷ نه ترکال ۱۹۵۴ پورې غني خان په مختلفو جیلیخانو یا په کورکې نظربند و او هم په دغه وخت کې وو چې د پنجرې چغار یې ولیکلوچې نن د شعر د دنیا شاهکار دی. )

(زلمی پښتون )په نوم د وسله والوځلمو د تحریک پیل کیدل د غني خان پر ژوند کې دسیاسي څرخیدنګ ډیرمهم ټکی دی. د اوسني لیکوال مولف د غني خان د پیژندګلوی په برخه کې لږ په تفصیل سره د دې مطلب اظهارکوي. لیکي: (په دغو ورځوکې د خدایي خدمتګارانو په مقابل کې د مسلم لیګیانو ورانی زیات شو نو غني خان د هغوی د مقابلي او د خپلو کارکنانو او مشرانو د ساتنې د پاره د (زلمي پښتون )په نامه یو قومي تحریک شروع کړچې په دوو دورو کې یې اتیا زره وسله وال ځوانان د دې تحریک دپاره تیارکړل.وایي چې یوه ورځ پاچا خان غني خان ته وویل چې: په پیښورکې زمونږ کارکنان په تنګ دي څه مظاهره کول په کار دي، غني خان د هماغي ورځې په سبا اوه لس نیم زره وسله وال زلمیان د مظاهري دپاره حاضرکړل.

له هغه نه پس چې چیرته به د خطرې جلسه وه نوغني خان به د څلورو پنځو سوو ځوانانو سره یو اړخ نه ولاړ و([1]).

---

[1] اوسني لیکوال – دریم ټوک۹۷۵ مخ.

موږ د غني خان شخصي ژوند هيڅکله د هغه دسياسي ژوندله دغه اړخ څخه چې د زلمي پښتون وسله وال تحريک يې شروع کړی، نه شو بيلولی.

د زلمي پښتون تحريک د خاصو، ټولنيزو، اقتصادي او فرهنګي شرايطو په چوکاټ کې رامنځ ته شوي دي، په ټولو پښتنې سيموکې رامنځ ته شوي دي. په ټولو پښتنې سيموکې د انګريزي استعمار ضد کرکې او نفرتونو پټوعصيانونو او سرغړاويو ټول د دغه غورځنګ په وجود کې منعکس کېدل. نژدې يوه پيړۍ څه کم زيات د پښتنو محکوميت، رټنه، ټيل وهنه، سپکاوی، بې عزتي او د هغوی په هستۍ او شتو ،ننګ اوپت بلوسيدل، له يوې خوا د خدايي خدمتګارانو او بيا (سرخپوشو)او د هند په لويه وچه کې د نورو آزدۍ پرستو غورځنګونو مبارزو او د خلکو راپاڅونکی کار د دې سبب شوی و، چې نوی نسل د هغه وخت يوه فيصله له ځانه سره وکړي چې بس بې له توري خلاصی نشته په بل کار.

په دې ډول د پښتون زلمي د تحريک بنديدل د نوي نسل لپاره د هغو د غوښتنو د بيا خپه کېدو سبب شو. دا واقيعت هغه وخت لاپسې جدي او سرسخت شکل غوره کوي، چې دکانګرس او خدايي خدمتګارانو د اوږدو مبارزو وروسته پاکستان جوړيږي او پښتانه د دې پر خای چې خپلواکي او آزدي وګوري او د خپلواک وطن او آزاد نفس ويستلو په محتوی کې يوه تابلو ووينې نو د خپلې آزدای ډيرغلط او مسخره کاريکاتور ويني، چې په نتيجه کې بيا هم پښتون زيارکښ يا پېری په شا په بازار کې ګرځي او يا د بل په کار خانه کې کار کوي او يا خو د جيل د تورو تمبونه دننه د ميږيانو او لړمانو سره مشغوليږي.

د هندوستان تر ویش وروسته د ۱۹۴۸ کال د جولای په څلورمه نېټه د شپې په یوه بجه غني خان د پاکستاني حکومت له خوا ګرفتار او د هغې شپې په سهار پېښور ته بوتلی شو او هلته د خدایي خدمتګارانود ډېربهادر او فداکارکارکن مرحوم ماسټر عبدالکریم سره یو ځای چې هغه هم په همغه شپه نیول شوی جیل ته ولیږل شو([1]).

غني خان د پاکستان په جیلونو او زندانونوکې هم چوپ او غلی پاتې نه شوبلکې دا وار یا په دې مقطع کې د هغه افکار او اختیار چیغه پورته کړه، او د پاکستانی استعمار او استبداد په وړاندې یې خپل فکري سرغړاوی هم څرګندکړ او دغه فکري بهیر د هغه په زنداني نغمویا(پنجرې چغار)کې په زغرده لیدلی شو.

شوروي محقق، ګیرس په دې دوره کې دپښتنولیکوالو د فعالیت په باب لیکي:

هغه قومونه چې دشلمې پیړۍ په دویمې او دریمې لسیزې کې یې پښتنو ټولنه په حرکت راوستله او د بیدارۍ عمومي جریان ته یې د اولس د معنوي ژوند ټول وروسته پاتې قومونه ور داخل کړل، هغو د سیاسي بحران په وخت کې خپله پخوانۍ قوه د لاسه ورکړه([2]).

نوموړی محقق د همدغه دوران د فرهنګی چاپیریال او فعالیت په باب زیاتوي.

---

[1] اوسني لیکوال، ۹۷۵ مخ.

[2] ګټ، ف ګیرس د میړني اولس ادبیات، ۱۷۱ مخ، کابل د قومونو او قبایلو وزارت، د محمد اکبر معتمد شینواری ژباړه۱۳۶۴ کال.

د ځلویښــتوکلونو په پښــتو ادب کې د ېخوا غوندې د وطن دوســتۍ د مفکورو مهم مبلغ او د وتلو لیکوالو، ادبیاتو او شـــاعرانو د آثارو وړاندې کوونکی او ترویج کوونکی (پښـــتون)مجلـه وه، پـه دغـه وخـت کې نور مطبوعات هم منځ ته راغلي.... البته په دې لړکې زیات شاعران او لیکوال راڅرګند شول خو غني خان پکې د علمبردار حیثیت درلود. او هغه دا چې د هغه د (وصیت) په نوم شعرد همدې مجلې د تندي ځلیدونکی ټیک وو.

په دې ډول غني خان د سـیاســي فعالیتونو او آزادۍ ښـونکو مبارزو کې د ګډون او مشـرتابه سـربیره د ستر پښـتو شـاعر او هنرمند په توګه هم پیژندل شــوی، تر دې حده چې په اوســنۍ زماني مقطع کې د هغه دشــهرت او څرګندتیا مهم فکتور د هغه شـــاعري او هنرمندي ده، موږ تر اوســـه د غني خان دغه آثار پیژنو:

پلوشـــي، د پنجري چغار، پانوس، (ګډې وډې نثر، نظم )پټهان،(په انګلیســي ژبه منثور اثر دی)،د پانوس د اثر په نویوشــعرونوکې هم د هغه ژور افکار پاخه بریښـــي، د هغه انتقاد د عکس العمل او اظهارنظرپه هر اړخیزه توګه د غور او تأمل وړ دی.

پرځـای ده چې د هغـه د پیژنـدګلوی پـه برخـه کې د ګیرس دا خبره رانقل کړو چې لیکی: ( د ادبي نړۍ ستر هنرمند، د ځلانده سبک څښتن او د نوو بلیغو تصــویري وســایلو اســتاد غني خان وروســته بیا د ریالســتیکو پرنسـیپونود اقتباس پلوی شـو، یو افغانی لیکوال چې د غني خان د اشـعارو په مجموعه کې (پلوشــې)باندې یې تقریظ لیکلی دی، داســې عقیده ښــکاره

کوي: د غني خان رومانتیزم موثر، فعال، جدي او مترقي دی او په یو قسم د اقسامو دریالیزم سره ټینګ ارتباط لري )([1]).

[1]ګټ. ف. ګیرس د میرنې اولس ادبیاتو، ۱۸۵ مخ، کابل د قومونو او قبایلو وزارت، معتمد ژباړه.

## د غني خان شعرد وختونو په پوړیو کې

که د غني خان شعرونو په تحلیل او راسپړنه کې د عمومیاتو اوکلیاتو څخه ډډه وکړ او وغواړو چې په مشخص ډول ځینو ټکو ته ورسېږو، نو اړه ده چې د زمانې او وخت په لحاظ د غني خان شعرونه وګورو، ځکه د غني خان د شعر ویلو وخت د دوه فکتورونو په اثر ځانګړی او خاص وخت دی. له یوې خوا د هغه د ځاني شخصیت جوړښت او په دي پدیده کې د هغه له ډول، ډول پیښو ډک ژوند او له بلې خوا د هند لویې وچې سترې ټولنیزې او سیاسي پیښې او د برتانوي استعمار موجودیت او لاسبری د استعمار په وړاندې د هند د لویې وچې او د پښتنو د آزادۍ بخښونکي غورځنګ مبارزه، د نوي استعماري اقتصادي مناسباتو وده اوتکامل، د هند آزادي، د ستر هند تجزیه او نور ټول داسې عوامل او واقعیتونه وو چې د هغو له څېړنو پرته به د غني خان د شعرونو تحلیل او راسپړنه مجرده او بې بنیاده وي.

د غني خان شعر او شاعري د پښتو د لرغونو ادبياتو د جريان په داسې زماني مقطع کې پيلېږي، چې هغه ته نوي توکونه او عناصر ور د اخليدل، د برتانوي استعماري نظام د لاسبري سره جوخت د انګليسي ادبياتوخپريدل د ورځپانو مطبوعاتو او د چاپي آثارو رامنځ ته کېدل او هم د خلکو روان ته او هم د خلکو د فرهنګي ژوند سطحې ته لاره پيدا کړه، د يوه مترقي ليکوال په قول.

د خپلواکۍ د لارې وفادار او بې تزلزله مبارزان لومړی د يو ډول حيرانۍ سره مخامخ شول، نه پوهېدل چې څه وکړي او وروسته ورته يو تريخ او ان ډير له نا اميدۍ ډک احساس ورته پيدا شو، په زياترو هېوادونو کې د دغه روحي بحران فضا د دې سبب شوه چې داسې ادبيات رامنځ ته شي چې د مدرنيزم د ښکلا پيژندنې په اصولو ولاړ وي.

اګزستانسيالتي ليد توګی په نړۍ کې وده وکړه، ويره، بې وسي او د نابودۍ احساس دا ټول د (قهرمانۍ ضد) اصلي تيپونه او نښې نښانې وې چې په دغه ادبياتو کې راڅرګندې شوې([1] )نه شو ويلای چې د پښتونخوا په ادبياتوکې په خاص ډول د غني خان په هنري کار باندې ياد شوی حکم صدق کوي خوبيا هم په عامه سطحه کې د يادو شويو شرايطو د ادبي قانونمندۍ په توګه تري سترګې نه شو پټولی.

د غني خان د ادبي فعاليتونو د ظهور شرايط په خاص ډول ديوه ځيرونکي له نظره په دې ډول وينو: چې کوم وخت زموږ په دې خاوره د فيرنګي ظالم او د پښتون مظلوم قام په منځ کې د آزادۍ جنګ و، يو خوا توپونه، ټينکونه،مشينونونه او رسالې وې او بله خوا زموږ د بې لاس او

---

[1] در باره هنر او ادبيات.ترجمه (مريم جوودان)۵۷ مخ، کابل مطبعه حزبي.

پښو قام سره بغير.... د پښتنو د ډال نه بل څه نه و، د کچه ايمان خلکو به ويل چې دا ليونی دی، د هاتي سره ډغرې وهي، خپل سرونه به مات کړي، نور په څه ونه کړي خو د قام د همت ناکوځوانانو حوصلې، سره اوچتې وې چې د وسلوخاوندان ورته حيران ولاړ وو او هغوچې د پښتون دتباهي د پاره يې هره ضربه استعمال کړې وه، نن د پښتون د ميړانې د اوصافو په صفت نه مړيږي.

په دغه وخت چې د زورګير او کمزوري کشمکش روان په قصه خوانی تکر، هاتي خيلو او اتمانزو کې د وينو لښتي وبهيدل، فيرنګي د ظلم داسې يوه حربه نه وه چې استعمال يې نه کړه خو قام يو ځلې راويښ شو او غزونې يې وکړې او خپلو ليکوالو او شاعرانو پکې داسې روح وراچولی و چې هغوي صرف د آزادۍ دليلا مخ ليده بل څه يې نه ليدل([1]).

سره له دې چې پورتني ياد شوی ټکی د هغه دوران دقيق او ژور حالت نه را څرګندوي خو په هر صورت واقيعت دا دی چې د انګريزي استعمار سره دپښتنومبارزو د وسله والو مبارزو په خوا کې فکري سرغړاوی، کرکه او نفرت هم ايجاد کړ.

د پښتنو پرګنو ژور قهر ا و غضب تر هر څه زيات د هغو په ادبي جريان کې هم راڅرګند شو په دې ډول چې:

په دغه دورکې د قامي شاعرانو يوه مضبوطه ډله لګيا وه د قام حوصلې يې اوچتولې، په دغه ډله کې ډيرنوميالي شاعران شامل وو لکه، فضل محمود مخفي، عبدالمالک فدا، حبيب الله کاکا، فضل رحيم ساقي، عبدالاکبر خان اکبر، شاه محمد ميږی، الف جانه خټکه س.ب.ب او په

[1] ښتو، مياشتنی مجله جون ۱۹۷۳ (غني خان د ترانو خالق) د جهان زيب نياز ليکنه ۳۹ مخ،

سلګونو نور خو په دغه ډله کې یو داسې شاه زلمی هم شامل و چې د هغه د شــاعري یوه ځان له لاره وه، ځان له رنګ او که زه ووایم چې دغه شــاه زلمی شـــاعر دغې ډلې ســـرخیل وو نو بې ځایه به نه وي، لوســـتونکي به حیران او تلوسه به یې وي چې دغه شاه زلمی څوک وو، نو دا دی نوم یې اخلم یعنې هغه ځوان چې کله به لیونی فلسفي شـو، کله به غني شـو او کله به غني خان شو([1]).

نوغني خان د غورځنګ شــاعر دی، د انګریزي اســتعمار پرخلاف د غورځنګ شاعر او تر کومه ځایه پورې چې انګریزي استعمار لاسبري د یو دوران خبره ده، او له هغه وروسته د پاکستان د حکومت په شکل کې په پښـــتنو باندې ملي او طبقاتي ســـتم همدا ډول دوام وموندلو، د هغه پرضـــد فکري او رواني ســـرغړا وی په ادبیاتو، شـــعراوکیســـه کې هم دوام وموند، چې غني خان د همدې ســـیاســـي ادبي جریان د یوه غړي او رهبر په توګه کار کړی دی، غني خان د ډیر لږعمرڅخه په هنري او ادبي فعالیت پیل کړی، لومړنی شـعر یې د څوارلس کلنۍ په عمر د سفر په وخت د اوبو په جهاز کې ویلی دی، او وروسته یې په مسافرت کې په جلا وطنۍ، په زندان کې او ســـیاســـي فعالیتونو په جریان کې ویلي او لیکلي دي، نوځکه د هغه دشـــعر بهیر د هغه د ژوند ســـره موازي پرمخ تللی دی، د یوه محقق په نظرچې لیکي:

غني خان د ډیرکم عمرنه شـــاعري شـــروع کړي ده، او دغه وجه ده چې د ماســترعبدالکریم د وینا مطابق د هغه شــاعري مونږ په دوو برخوکې تقسـیموو یوه برخه هغه چې هغه د امریکي، یورپ په ځمکو د هلکوالي په

---

[1] پښتو ماشتنۍ مجله همدغه ګڼه (۴۰) مخ.

دوران کې کړې ده او بله هغه چې کوم وخت هغه وطن ته راغلی دی اړې ګړې یې لیدلي، د پیرنګي لاس د هغه د قام په ګریوان کې پروت و.

د قام وینې د کلي په لارو کوڅو کې بهیدلې، جیلونه وو، د کورنو تالاشۍ وې، د تور سرو بې عزتۍ وې، نو د غني د شاعرۍ رنګ کې یو قسم بدلون راغلی دی، هغه تورو کمڅو، سرو شونډو، نرۍ ملا پرځای د شیرشاه، خوشحال خان او پاچاخان مړانې ته متوجه شوی دی او قام ته یې د داسې سبق ورکولو نیت کړی دی چې په دغه میدان کې یې نور شاعران وروسته پرېښودل....([1]).

په دې ډول موږ د غني خان شاعري د زمانې په لحاظ نه یوازې په دوه برخو ویشو بلکې ویلای شو چې یوه برخه هغه شعرونه چې هغه د زندان څخه دمخه ویلي او د (پلوشې)په اثرکې چاپ شوي دي، دویم هغه شعرونه چې د زندان په موقع ویل شوي او ډیره سمبولیکه ژبه لري او دریم هغه شعرونه چې په را وروسته وختونوکې یې ویلي او دپانوس په اثر کې د زړو شعرونو سره یو ځای چاپ شوي دي.

### ۱. پلوشې:

د غني خان د فکر پلوشې نومی اثر په ۱۳۳۹ هـ ش کال کابل پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی، په دې اثرکې د لومړي مخ نه تر ۱۲۳ مخ پورې ټول هغه شعرونه راغلي دي چې شاعر د زندان څخه ترمخه ویلي او لیکلي دي. او له ۱۲۵ مخ نه ترپایه هغه شعرونه دي چې شاعر د ۱۹۴۹ کال نه تر ۱۹۵۳ کال پورې د پاکستان په مختلفو جیلونو کې لیکلي

[1] پښتو میاشتنۍ مجله جون ۱۹۸۳ (غني خان د ترانو خالق ) د جهان زیب نیاز لیکنه پیښور (۴۰) مخ.

دي، خو دلته د پلوشـې تر سـرخط لاندې موږ په هغه شـعرونو خبرې کول غواړو چې هغه د یاد شوي اثر لومړۍ برخه جوړوي او دشاعر د ژوندانه د تفکراتو او تصوراتو بېلابېل حالتونه راڅرګندوي.

د غني خان د شــعرونو په دې برخه کې چې موږ یې پلوشـــې نوموو نژدې ۲۵۰ قطعې لري او کوچني شعرونه او نظمونه دي چې شاعر پکې په بشپړې زړورتیا سره د چاپیریال د ټولو پدیدو او پیښوپه وړاندې عکس العمل ښودلی دی.

پــه دې شـــعرونوکې د خپلې ځوانۍ او زلمیتوب پــه بــاب د خپلو مســـافرتونو په باب، د خپل وطن او وطنپرســـتۍ په باب، فلســـفي افکار، ملنډې، ټوکې او د استعمار په وړاندې شعرونه شته دي، په دغو شعرونو کې شـاعرانه تخیل هم په بشـپړه اندازه موجود دي او له بلې خوا صـراحت او ښـــکاره منطق پکې هم ډیرپیاوړی دی، په دې ډول موږ د پلوشـــو د شعرونو ډیرې عمده ځانګړنې په دې ډول یادولای شو:

## وطن او وطنپرستي:

ډیره بـه مبـالغـه نـه وي کـه ووایو چې وطن پرســـتي د غني خـان د شعرونو مرکزي مساله ده، او همدا ډول چې وطن، د وطن سره مینه د هغه د جسمي او فکري فعالیت محراق دی نو د استعمار او انګریز سره ژوره کرکه او نفرت ښـودل د دغه شـعرونو یا د غني د وطنپرســتانه هنر عمده شکل دی، وطن او وطنپرستي د احساساتو په راپارولو کې د غني شعرونه کله هم په جنډه بدل شوي او کله هم د آزادۍ غوښتونکو پښتنو په وینو لیکل شوي او د قهر او عصیان د یوې چیغې په څېر راڅرګندشوي دي.

غني خان داسې شاعر دی د آزادۍ لیوال او د استعمار دښمن شاعر او د هغه حماسي شعرونه هم د وطنپرستۍ له دغي جذبي څخه سرچينه اخلي.

زموږ د وطن اوسنی نسل د غني خان د دې انقلابي ترانې په اوریدو را لوی شو او که په دقت نظر وشي، پوهيدای شي چې دغه ترانه د هغه د نورو انقلابي شعرونو او ترانو په څېر د شاعر د زړه او ارمان څخه سرچينه اخیستي ده.

ای زمـا وطـنـه د لالـونـو خـزانـې زمـا!
سـتـا هـره دره کـې دي د تـورو نښـانـې زمـا
زه یم سـتـا د خـاورې تـه زمـا د میـنـي جـوړ یـې
تـه مـې د نـیـکـه او د بـابـا د ویـنـې جـوړ یـې
سـتـا زړه کـې ویـدې دي ټـولـې تـللـې زمـانـې زمـا
ای زمـا وطـنـه د لالـونـو خـزانـې زمـا
سـترګې مې لوګي شـه سـتـا د خـاورو د کورنو نـه
عـقـل مـې ایـرې شـه سـتـا دپـاره د فـکـرونـو نـه
ځـار شـمـه قربـان شـم سـتـا دغرونو د سـینـدونو نـه
سـتـا هـره دره کـې دي د تـورو نښـانـې زمـا
ای زمـا وطـنـه د لالـونـو خـزانـې زمـا
سـتـاعزت چې نـه وي زمـا بـه نوم او عزت څـه کړمـه
تـه چې خوارو زاریې زه بـه خوب او راحـت څـه کړمـه
سـتا سـرچې وي ټیټ نو زه به شـان او شـوکت څه کړمه
مسـتـه بـه دې خـاوره کړم پـه ویني مسـتـانې زمـا
ای زمـا وطـنـه دلالـونـو خـزانـې زمـا
یـا خـوبـه دې سـیـال کـړمـه وطـنـه د جـهـان

يا به ستا په پښو کې تورې خاورې کړم دا ځان
زه به درې ورې شم خو تا به کړم ودان
نر يمه پښتون يم تاته يادې افسانې زما
ای زما وطنه د لالونو خزانې زما

غني خان په خپلوشعرونوکې د وطن مينه او وطنپرستئ د شعر اوريدونکي او لوستونکي ته په لمسی ورړ او د عيني احساس ورړ توګه القا کوي، د دې کار له پاره د خپل کلي او چم ګاونډ د کورونو د ختينو د يوالونو او ډيرو په څېر له ساده کلماتو څخه کار اخلي لکه په دی شعر کې:

ماليدلی تاج محل غوټئ د ګلو
د ډهلي ښکلي ښارونه د مغلو
خوچې ووينم زه خپل د ختو کور
رانه هيرشي محلونه ښيسته نور
دا نړئ تنګې کوڅې زما د کلي
ورته څه دي د دنيا ښارونه ښکلي

خو غني زمور د پيړئ شاعر دی او زمور څخه يو نسل تر مخه دی په هغه نسل پورې اړه لري چې اوسنی نسل ترې الهام اخيستی او دهغو کارنامې يې په انتقادي توګه څيرلي.

غني خان د هندپه لويه وچه کې د برتانيې د استعمار د دوکو او نيرنګونو له غځيدو سره سم رالوی شوي، د امپرياليزم له منځه راتلوسره سم يې بدې ورځې ليدلي دي، بلکې دوسله والې مبارزې په خوا کې د هند د لويې وچې د سترو پرګنو (پټ مقاومت) غورځنګ هم وده کړي او پراخ شوي دي.

د غني خان شعرکله هم جنده شوې او د غورځنګ په مخ کې رپېدلی او کله هم په(شعار) بدل شوی دی، لکه (وصیت) په نوم شعر چې (د پښتون رسالې )په لومړی مخ به چاپېده:

کـه خـازې شـنـې مې پـه قبر وې ولاړې
کـه غلام مړ وم راځئ تو کړئ پرې لاړې
چې قطرې قطرې مې پوځ د انګریز نـه کـا
مورې مـاپسـې پـه کوم مخ بـه تـه ژاړې
کـه پـه خـپـلـو ویـنـو نـه وم لـمـبـیـدلـی
پـرمـامـه پـلـیـتـوئ د جـومـات غـاړې
یـا بـه دا بې ننګـه ملـک بـاغ عـدن کړم
یـا بـه کـړم د پښـتـنـوکـوځـې ویـجـاړې

دلته د یوه مبارز انقلابي (حیدر مهرګان) خبره هم صدق کوي چې د یوې سترې حماسې (ارش کمانګیر)په باب یې لیکلې ده، هغه وایي:

په دې خصلت سره شعر یوازې ساده کیسه ویونکی او لاروی نه دی چې د تاریخ په یوه ځنده کې راڅرګند شوي وي، معنوي قوت دی چې د پوهیدلو او جذبیدلو په اندازه په مادی قوت بدلیږي او د تاریخ په بدلونو کې په کار راځي.هغه هم د تاریخ ډیر وفادار حدیث کوونکی او هم د خپل حدیث ویجاړوونکی دی، هم د تاریخ په ورانولو کې ګډون کوي او هم د هغه په بیا ځلي هستونه کې. هغه د ځمکې پر مخ د انسان د عادتونو،

رنځونو نه ورکیدونکی سیوری دی او کېدای شي چې د هغه د استحقاق ملاک هم وي...([1]).

د غني خان انقلابي حماسي شعرونه او ترانې هم، د خپل وخت او وروسته غورځنګ شعار او جنډه وه او ده، د وختونو سره به هم دا زمزمې په نسلونو کې زمزمه شي.

د پښتو ژبې یو بل لیکوال د غني خان د حماسو د راپاڅوونکي، ویجاړونکي او بیا جوړونکي خصوصیت په باب لیکي:

د غني خان شعر د خپلو ځانګړو هنري خصوصیاتو نه علاوه د ملي آزادۍ د حماسي په صفت دپښتون اولس په بیدارولو کې مهم نقش ولوبو او له یوې خوا د هغه په شعرکې داستعماري نظام د زپلي انسان او روحاني درد او ابتلا اظهار دی نو له بلې خوا د آزادۍ او خلاصون دپاره د انسان کلکه اراده هم په کې غزونې کوي([2]).

د غني په شعر شاعرۍ کې په ځانګړي ډول د هغه په حماسي، رزمي، انقلابي ترانو کې خو؛ البته د نورو شاعرانو په څېر بداعت، چاپیریال او شرایط لاسبري دي خو د هغه د ځلمیتوب او ازادي غوښتنې غرور د انګریزي استعمار پر ضد عصیان شوی او په دې ډول یې د هغه شاعرۍ ته نورڅه هم ور زیات کړي دي. د یو څېړونکي په وینا چې لیکي: ( ( خو هغه د ماسترکریم خبره، چې غالب او ټیګور په لاره روان وو، غني مخې ته ورغی، دواړو یو بل ته ولیدل.

---

[1] حیدر مهرگان، دیدار یا ارش بحشی در د یالکتیک، منظومه ارش کمانگیر، اثر سیاوش کسرایی، تهران (۱۳۶۰).
[2] جرګه مجله، دوهم کال ۴ ګڼه، پ، ن، ۱۲، ۱۳۶۳ کال، ۴۱ مخ.

دا داسې وخت و، چې د غني په شاعرۍ کې د خیام مستي د غالب بې باکي او د ټیګور رنګیني ورننوتې وه. خو د دې هرڅه سره غني په سینه دننه د درد نه ډک زړه لري، غني د خپلې خاورې عاشق و، غني خپل رنګ خپله ځواني او په تېره تېره خپله شـــاعري په دغه رنګ کې رنګ کړه او د قام سره د سیالۍ په ډګر په اوچته غړۍ ودرېده))[1]

نوموړی په بل ځای کې زیاتوي: ((... او دغه دور هغه دی، چې غني هم د پښتو ننګ، غیرت، پت او میړانې نه ډکې قومي ترانې ولیکلې او پیرنګي ته یې دا ثابته کړه، چې پښتون که زده کړه کړي، که یې نه ده کړې، هغه د خپلې خاورې څخه ســـرځارولو تـه تیار دی او ځکه یې پیل لـه همدې وکه..))[2]

((د هلکـانو ترانــې پـه نـوم د غنـي خـان بلـه مشـهوره ترانـه ده، چــې تـل د خپـل وخـت د ماشـومانو پـه خولـو خوځېدلـه، دغـه ترانـه چـې سـر یـې دی:

خـــــور دی مـــــا تــــه ملـــــک زمــــا
خـــــــور تـــــــر کـــــــل جهـــــــان
زه بــــه ځـــم پــــه جنــــګ د کــــام زه

زه چــــــــې شــــــــمه ځـــــــــوان

یا د همدې ترانې په بل ځای کې وایي:

۱. پښتو میاشتنۍ مجله... ۴۰ مخ (غني د ترانو خالق د جهان زیب نیاز لیکنه).
۲. همدا اثر ۴۰- ۴۱ مخونه.

سـر څه د سـپي سـر وي، چې فدا نه وي په کام
نر څـه ښـځونی وي، چې شـيدا نـه وي، پـه قـام
نوم نـاموس يې څـه دی، چې يې نوم وي د غلام
دا نـوم بـه بـدل کـړم يـا بـه کـړم بـدل جـهـان..

د ختيځې نړۍ ستر پوه د تاريخ د سترو هنرمندانو په اړه ليکي:

(( د تاريخ ستر هنرمندان د درې صفتونو په درلودلو سره ډېر پياوړي وو: لومړی ريښتينولي، هغوی خپل مطالب له هرډول تظاهر او دوه مخۍ پرته د تصـنع پرتـه څرنګه چې پرې پوهېدلي وو او پرې بـاور يې درلوده، بيانول. د هغوی هنري خلاقيت، پياوړی اړتيا ته ځواب و...

د درواغو، لاپو، دوه مخي، ستايونکي (مداح) د واقعيتونو سينګاروونکي، هنر، هنر نه دی، بلکې تزوير او ګناه ده. د دغه هنرمندانو دويم صـفت، د خپل انسـاني رسالت باندې پوه و. هغوی هغه وخت خلاقيت ته لاس اچاوه، چې د ويلوخبره په عمل کولو دنده او پراخولو فکر او د ويسـتلو کړيکه درلوده، په ځانګړي ډول چې کله به پوهېدل چې که دې وخت کې غلي کيني. نو له نعمت به منکر شوی وي....)[1]

په ټوله کې کله چې د غني خان د شـعر سـمندر ته ورننوځو او په فکري لحاظ پکې غوپه وهو، پرته له دې چې سـا وباسـو، د ډېرو مرغلرو سـره پکې مخامخېږو. غني د خپل وخت او دوران د غورځنګ شـاعر دی او څرنګه چې د خپل ژوندي ارمان سره يې ژوند کړی، د هغه ژوندي ارمان

[1]. احسان طبري – مسايلی از فرهنگ و هنر و زبان ۲۵-۲۶ مخونه.

چغه هم ژوندۍ ده. هغه د غورځنګ د حرکت او پرمختګ سره موازي پر مختللی دی او شعر او حماسه يې ليکلې ده:

(( غني ځای پر ځای په بېله بېله موقع د موقع اړوند داسې ترانې ويلې دي، چې هغه د ستاينې وړ دي. غني په ساده او سوچه پښتوکې د الفاظو په شکل د پښتنو په غم درد کې ګډ شوی دی خو چې موقع راغلې ده، نو لکه: د ابراهيم عليه وسلم يې اور ته هم دانګلي دي. د حيدر اباد او هريپور جيلخانې (اړتونونه) نن هم د غني د دغو ورځو په ژوندون دلالت کوي او دغسې غني خان په تن او قلم د خپل قام خدمت ښه په نره کړی دی. د خپل قام د بې وسۍ او د پيرنګي د زور ګيرۍ نه خبر دي.....))[1]

موږ د غني خان د هېواد پالنې او حماسي شعرونو په اړه نور څه ويلی شو؟ پرته له دې چې ووايو، هغه يو ژمن شاعر دی. هغه د انګريزي استعمار دوښمن شاعر دی او هغه د پښتنو د ازادۍ ښوونکی غورځنګ ژباړن شاعر دی.

کله چې د هغه سياسي عقيدت او سياسي تګلاره څرګندوو او د مکان په دننه کې د زمان په بوده او تنسته کې ځانته د خبرو اجازه ورکوو. نو ويلای شو، چې د هغه په ټولو شعرونو کې همدغه مرکزي او اساسي مسايل يعنې د وطن ازادۍ او د انګرېز سره د دوښمنۍ مسئلې شته. که موږ د هغه د مسافرت او د زده کړې د دوران شعرونه وينو او که د هغه عاشقانه شعرونه لولو او که د شعر په ښه کې د هغه ملنډو ته ورته شعرونو ته پام کوو، نو په ټولو کې دغه احساس په زغرده ځلېږي.

1. پښتو مياشتنۍ مجله هماغه مقاله ـ (۴) مخ.

د هغه په شعرکې به د شانتي نکتین د ښوونځي، د ټاګور د شاعرانه رنګینۍ او د غالب د بې باکۍ اغېزې وې. خو له دې ټولو زیات پکې هغه څه زیات دي، چې د ده خاني یې په ملنګۍ بدله کړې ده او دی یې داسې منقلب کړی، چې د ژوند هیڅ شیبه یې هسې نه خوښېږي خو د نمرود په اور یې د ابراهیم د پښو د ایښودو ساعت، د منصور د دار ته د پورته کېدو شیبه او د پاچا خان ملنګي او سر شاره غرور خوښېږي او وایي:

زور د دوښمن نه ګوري
داسې لېونی روان
دار ورسن نه ویني
دا د مستانو خان
دا د پښتنو ملنګ
څه بادشاهي زنګ لري
جنګ له دې منصور روان
توپ او نه تفنګ لري

کله چې په غور ګورو او په ځیر سره د غني خان د شعرونو پاڼې اړوو، نېغ ور سره زموږ د نسل ذهن ته د بابړې عام وژل او د کیسه خوانۍ خونړۍ پېښه او په سلګونو نور ناتار ونه را ژوندي کېږي او بیا د دغه پېښو سره په موازاتوکې ځانته دا حق ورکولای شو، دا ووایو، چې غني د غورځنګ علمبردار خپله جنډه تر پایه نېغه وړې او د هغه دریدنګ نشته.

د غني خان د دې شعر په اړه ویلی شو چې: د ازادي غوښتونکي مبارزې په خونړیو پېښوکې د هغه شعر په ژوند او جګړه بدلېږي او د تاریخ په اوسني وخت کې ژوند د مرګ په اوږو پښه ږدي او مرګ د ژوند په سلولونوکې غوړېږي، برې په ماتې تکیه کوي او ماته پرې محاصره کوي.

افســـانه په حقيقت تعبيرېږي او حقيقت د افســـانې تر ناپايه پولې پورې وده کوي.

او په دې ډول د قهرمانۍ روح خپل مادي تجسم پيدا کوي او ولسونه په يوه شــته بدلېږي او د پولادين دېوال په توګه د شــعر عيني تجســم ګرځي او په دې ډول د حماسو د هستېدو اتموسفير د مکان په وزرو لاسبرى کېږي.......

## غني خان او په (پنجره)کې د آزادۍ او اختیار (چغار)

په دې برخه کې موږ د غني خان په هغو شعرونو څو خبرې لرو چې هغه د ۱۹۴۹ نه تر ۱۹۵۴ پورې د نوي پاکستان (د اقایانو میلمه)وو. یعنې سیاسـي بندي، غني خان د خپل ژوند په دغه زمانې مقطع کې د نویو پیښـو سـره مخامخ کېږي، په دي معنا چې د هغه اوږدې او سـرسـختې مبارزې نتیجه چې د ټول هند د زیارکښـــانو او د هغو په خوا کې د پښــتنو آزادۍ پرسـتان د (خداي خدمتګارو)او پښـتون زلمي، په سـیاسـي غورځنګونوکې شامل او د برتانوي استعمار پرضد مبارزه کې یې پښتنو ته نه یوازي خپل حق ور نه کړبلکې هغوی یې زندانونو ته ټیل وهل او په ډله ییزه توګه یې بندیان او زولانه کړل او د غونډو، جلسـو او جلوسـونو په وخت کې یې په ډله ییزه توګه ووژل.

د پنجرې چغار شعرونه د غني خان د همدې زمان شعرونه دي او په خاص ډول د غني خان د زندان د شـــرايطو شـــعرونه دي، د غني خان د پنجرې چغار په باب د پښـــتو مبتکر او مشـــهور ليکوال ماســـټرعبدالکريم ليکي:

(وچ په وچه دا اوس هســـې يوه لاره غوندې جوړه شـــوې ده چې هر کتاب له به خامخا يوه پيژندګلو ليکلی شي)

ګنې زه پوهيږم چې ولې دی څوک عبدالقادر را پاڅي او د چا اقبال پيژندګلو دی، د خلکو سره وکړي څکه چې (مشک آنست که خود ببويد نه که....) منم چې د نابيناوو په بازار کې لال مدام د کوتې لال په بيعه خرڅ شـــوي او بيا شـــاعر هم چې دغني خان د جوګې شـــاعر وي نو که څوک سترګې په بده وهي نو د غني خان شعرونه خو په جار نعرې وهي چې (به آب و تاب وخال وخط چه حاجت روی زيبا را) بيا هم که څه لږه ډيره پيژندګلو پکار ده نو هغه هم (پښتون)اخبار پخوا کړې ده([1]).

ماسټر عبدالکريم د غني خان هم دورانه او د هغه ډير نژدې سياسـي ملګری دی، کوم قضـاوت چې د غني خان په شـاعرئ او شـعرونو باندې د هغه نژدې ملګری کولی شـــي، نو وروســـته کســـان يې لږحق لري، په دې ډول په همدې ياده شوې سريزه کې ماسټر صيب ليکي:

زما په فکرنن په پښـتونخوا کې غني خان شـاعر دی چې لوړ تخيل او ځان ته مســـلک لري، په حيثيت د شـــاعر د غني لوی والی هم دا دی چې خپل اوري او د بل نه مني، د دغه مســـت زړه واګې مدام هم دده په خپلو لاسـوکې دي، خو سـره له دې غني نه چاپسـې تللی شـي او نه به لاړ شـي

[1] د پنجري چغار، عبدالغني خان، پوهنتون يک ايجنسي پشاور ۱۹۵۶ کال الف مخ.

ځکه چې غني خان شاعر دی او تقلید د شاعر مرګ او بغاوت د هغه ژوند دی.

د غني خان د شـــاعرۍ درې دوره دي او هر دوريې د بل نه جدا او زيات خوند ناک دی، اولنی دور يې دهلکوالي شـاعري ده، کوم کې چې لا د هغه د تخيل پراخوالی نه و راغلی، دې دور کې غني لکه د يو شـنه زور آس په مخه زغلي، نه کنده وينې، نه کپری نه فکر، يوه مســتي ده چې نه کون لري او نه مکان يوه نشــه ده چې نه آن لري او نه شــاه، ولې چې دغه غني خلقو وليدو نو ګونګوسې شوې چې:

خــانـګــه بــه نــن ســــبــا کــې ګــل شــــي
مـا يې پـه ســـرکې ســـرې غوټۍ ليدلي دينـه

دويم دور د غني د شـاعرۍ هغه وخت ګڼلی شــی، څه وخت چې غني خان له يورپ او امريکي، طواف پو هه زياته کړې وه، او د ژوند تلخو تجربو ور له ســـينه ســــوزولې وه، دې دور کې د غني په تخيل کې پراخوالی موندلای شــی، دلته هم غني د خيال په نيلی سور دی، خو واګې يې په خپل قابوکې دی، يو آواز دی چې سوز او ساز لري، يوسرور دی چې د مړاوي سترګو خمار لري، دې دورکې غني ځان ته خپل مسلک هم لري.... ([1])

په دقت ســره د غني خان د شــعرونو هر لوســتونکی تقريباً دغه ډول جاج اخيستلی شي، کوم چې د پښتو مشهور ليکوال او د پښتو د معاصر نثر استاد ماسترکريم ليکلي دي:

[1] همدغه اثر. ۵۰ مخ.

د پنجرې چغار شعرونه د عصیان او سرغړاوۍ شعرونه دي، د دقت او تامل نه پکې کار اخیستل شوی دی، نو ځکه د شاعر د شعري تکوین او بشپړتیا د دوران شعرونه هم ورته ویلي شو.

د پنجرې چغار ټول شعرونه د شاعر د زندان د دوران شعرونه دي، په سرسري نظر سره په دغه اثرکې موږ دوه ډوله شعرونه وینو.

لومړی:

هغه شعرونه چې په څرګنده او ښکاره ژبه باندې د خپل چاپیریال ناخوالو، د استعمار او د هغه د میراث خواره نظام پاکستان نادودو خپل شخصي تخیلات او تصورات د خپلو شهیدو ملګرو یا د زنداني ملګرو په باب شعرونه دي.

دوهم:

هغه شعرونه دي چې شاعر په سمبولیکه ژبه ویلي دي دا شعرونه د کارغانو مارغانو او نورو حشراتو د خصوصیاتو په باب دي که مبالغه مونه وي کړي نوو به وایو چې شاعر په زندن کې د ټولنې ډیر بد او ناوړه او ځینې وخت ډیربښه او غوره کرکترونه د کارغه، میږي، کوترې او نورو په تصویرکې تشریح کړي دي.

## د پنجرې چغار لومړۍ برخه شعرونه:

لکه څنګه چې دمخه مو ورته اشاره وکړه، هغه شعرونه دي، د نورو (کارغانو او مارغانو) ته د شعرونو په نسبت لږ څه څرګنده افاده لري.

خو دا هیڅکله په دې معنا نه ده چې ګوندې خپل شـــاعرانه خوند او کیفیت نه لري.... بلکې باالعکس دا کټګورۍ شعرونه د ډیر اوچت او عالي تخیل او ایماژ او تصویرجوګه دي.

د خپل خانی خوب له دغه جملې یو شــعر دی چې د شــاعر د آزادانه خیال او فکر څرګندوی دی، د دې شعر په یوه برخه کې وایې:

خوب وینم چې پورتــه لکــه چغــه د منصـــور شـــومــه
یــایو موتـی خــاوره وم یــالوی دریــاب د نور شـــومــه
خو: بانګ د ســحر وشـــو زه را ویښ شـــوم کروکور شـــوم
خــوب یــووړه خــوبــونــه را ژونــدۍ شـــــوه زمــانــه
وي پــر یــوځــه لــیونــیــه، تــیروه دې جــیــلــخــانــه ([1])
(حیدر اباد جیل ۱۹۴۸ع)

یا د خاوري په نوم شعر:

چــې یــوه غــوتــۍ شـــــي خــاورې تــخــم وکــري روغ ګــلــزار لــه
د خــپــل رنــګ او بــوی پــنــډونــه شــــکرانــه یوســـــي بــهــار لــه
دا جهــان د نور او ســـوز ولې ورک شـــي چې ســـاز چــپ شـــي
چې جــانـــان پــه مســـتو ســـترګو ګوتې ور وړلی ســـتــار لــه
پــه قبــرونو کــې پــرتــې دي لاس او پښـــې شـــونــډې او ګــوتــې
څوک شـــي قبر جوړولی د د ې ســـرو ســـترګو خمــار لــه..([2])

[1] د پلوشو ۱۲۶ مخ.
[2] د پلوشو ۱۲۸ مخ.

یا د سـود اګر په نوم شـعر چې په هغه کې یې د اسـتعمار منحوسـه او یاکرغیرنه څیره او دپاکستان د چنګیزي په اصـلاح مسلمان نظام په ډیر هنرمندانه او د لمس وړ توګه ترسیم کړې وایې:

عــجـــبـــه داســـــواد ګـــر دی
پـــه لاس تـــیـــغ پـــه ســــر قـــرآن

په دې اوږده شـعر کې د آزادۍ غوښـتونکو د تطمیع کولو د هغوی د غرور او آزادۍ پرستۍ د جذبې د وژلو چالونه او نیرنګونه افشا شوي دي او یا د غم لورپه شعرکې چې وایې:

لــنــګــه تــیــاره شــــوه رڼــا یــې راوړه
آدم چـــې مســـــت شــــو(حـــوایـــې)راوړه
مــرګ چــې د خــپــل ژونــد تــالاش کــې ووت
ژونــــدون یـــې راوړ او ســــایـــې راوړه
تـــورې چـــې چـــغـــه د کـــفـــر وکـــړه
ډال یـــې پـــیـــدا کـــړ قـــلایـــې راوړه
چې اوښــکې ســرې شــوې شــراب ترې جوړشـــو
چــې غــم بــابــا شـــو خــنــدا یــې راوړه...([1])
او یا د بت په نوم شعر کې:

دا د عـــیـــســـی د لاس پـــه شـــان
ژونـــد او امـــیـــل او خـــنـــدا خـــوروي
(بـــت)ورتـــه څـــنـــګـــه ووایـــمـــه

---

[1] د پلوشو ۱۴۹ مخ.

## مـا تــه چــې نــور او رڼــا خــور وي.....([1])

دغه راز د غني خان د پنجرې چغار په دې کټګورۍ شـــعرونوکې قيد، خاورې، ای باد سبا، ژوند، ګوګل، جناب شيخ، ساز، اور، ګواه، څومره، بل څـه، تش جام، آدم، غم، هوش، حســـن، نـه کيږي، پـه عقل، اورکې، حســاب، غزل، لوړه، قمســـت، ټوقه، ډنډکی، دوزخ، جنت، زه، پســـرلی، ژوندون او نورو شعرونو کې بېلابېل مطالب وينو او لولو.

په دې شـعرونوکې هم د يوې خوا د چخوف خبره: (چې په انسـان کې د ښــکلا حس هيڅ پوله او سـرحد نه پيژني) صـدق کوي، او له بلي خوا دا خبره هم صــــدق کوي، چې (نه فکر کوي چې بندی يې حال دا چې آزاديې او ته فکرکوي چې په خپل ســـره يې خو حال دا چې د نورو پورې اړه لرې....)

د غني خان په دي شعرونوکې هم که له يوې خوا د استعمار د ميراث خورو پر ضد پکې قهر او عصيان او سرغړاوی ليدلی شو، نو د زندان په کونج کې د هغه تصوير نه را پيدا شـوی او د هغه عيني تجسم دی، د يوه ليکوال خبره چې ليکي:

هنر نړۍ د ځينو ارمانونو په رڼا کې منعکســـوي، هر ســـتر هنرمند نوی او يواځينی دی، هغـه د ژونـد نوې پـديـده يعنې هنر هســـتوي. چې (هرتزن) ورته د ښـــکلا پيژندنې واقيعت او (بلينســـکی) ورته هنري نړۍ وايې، او اوس زياتر د هنري نمونو په توګه ورته ګوته نيول کيږي، هنر

---

[1] د پلوشي ۱۵۲ مخ.

خپل قوت د واقیعت سره د ټینګو اړیکو څخه اخلي، داسې واقیعت چې هنر ته د ډیرو ژورو انتظامونو د منعکس کولو وس ورکوي....([1]).

په دې ډول د غني خان دغه شعرونه هم سره له دې چې د زندانونو په کونجونوکې ویل شوي، خو له بیروني واقیعتونو سره ډیر نژدي پیوندونه لري.

په همدې برخه کې یو لړ نور شعرونه هم شته چې د هغه د ملګرو سره د زندان د حالاتو او د هغه د مستانه او آزادانه خیالانو او بې پروايیو څرګندوی دی لکه د شپږ زمري د شعر په سرکې د یوې توضیح په ترڅ کې لیکي:

په کال ۱۹۴۹ کې زه په دربیم ځل د هرې پور جیل ته را ورسیدم، دا زما د بندیدو دویم کال و، په دې دوران کې ما پیښور او د حیدر آباد سند په جیلونوکې ډېرې بدې ورځې تېرې کړې وې، موږ ټول یاران دوستان خپل خپلوان د پاکستان په ټولو صوبو کې خواره بند وو خو د هرې پور جیل ما ته د کور په شان ښکارېده، ځکه چې دې کې زما بابا ډیرکلونه تېر کړي وو، د هغه د لاس ډیرې ونې دلته شنې ولاړې وې، زه د حیدرآباد د جیل نه دلته په کال پس راغلم او په ډیره موده پس مې یو وړوکی د زیړو ګلونو نه ډک بوټی ولید، هر سحر چې به زه پاڅیدم نو د هغه سلام له به لاړم.

زه په انګستان، یورپ او امریکه کې ډیر ګرځیدلی یم او ډیرلوی باغونه مې لیدلي دي، ولې دومره ښایست او رڼا په یو بوټي کې هم نه وه

---

[1] زیبایي شناسي نوین ۷۸ مخ ۱۳۵۲ (نقش جهان)تهران.

ځومره چې دغې غریب او ارزان ګل ته د خوا اوســـپني توري پنجرې او چاپیر تور ماحول وړکړې وه، دې پنجره کې ما سره نور شپږ ملګري وو.

۱. پیر شــــاکرالله د ګوجرو ګړۍ ۲. خان خیل مهردل خان د هوتي د نواب وراره ۳. جهان زیب خان د رزړو، زما د ترور زوی۴. فردوس د مـانیرۍ چې موږ ورتـه د مینې نـه کوکو وایو ۵. زرین خـان د میاســـۍ دپارلمنټ ممبر ۶. یوسـف خان بابه خیل، یو ماښـام مې دماغ وتښـنید دا د ټوقو شعرمې ولیکه.او د ډوډۍ نه پس مي واوراوه (1).

دلـــتـــه کـــې پـــنـــجـــره ده پـــکـــې شــــــپـږ دي زمـــري
ځوک غټ دي ځوک اوږده دي ځوک څاربـه دي ځوک نري
وروره پـاکســـــتـــان عـجـب جـوړ کـړی چـړیـاګـړدی
بـــنـــد پـــکـــې دیـــوان، پـــیـــریـــان، زوز، ښــــــاپـــیـــري
غني خان د پورتني شعر له پای وروسته لیکي:

چې دا شـعرمې وا وراوه نو ټول ملګري مې چپ شـول، یوسـف خان خو را سـره خبرې بندې کړې، زرین کاکا مهردل خان ته خپل زړه سـپک کړ، مهردل خان هم خفه شـــو ډیر بد رد یې راته وویل، زه ډیر خپه خپلې چوکۍ تـه روان شـــوم، نـاګهـانـه مې هغـه وړوکی د زیړو ګلو بوټی ولید ورسره خواکې کښیناستم، هغه وی ولې خان خو ډیر خفه یې؟ ما وی ټول دوســتان مې خفه کړي دي، ځکه خفه یم، ما خو ټوقه کوله خو هغوی ترې بوقه جوړه کړه، وی خانه؟ دا خپله خوله دې هم قلا ده هم بلا.

په دغه ماښـام ما د خپل ژوند اوله قصـیده ولیکله او د تجربې په طور مې خپلو ملګرو ته واوروله، او هو، هغه ماښا م زه په ټوله دنیا ښه دوست

[1] غني خان پلوشي ۱۸۶ مخ.

او لوی شاعر شوم او کوم شعر چې زما دا ټول مرور دوستان زما مينه ناک ياران کړل هغه ليکم....([1]).

د دې شعر سر داسې دی:

يووړه غوندې پنجره کې
په يو ګوټ کې د دې جيل
دا وو ګلو جوړ کړی
آزادۍ له چا اميل..... ([2])

د پورتنيو دوه شعرونو يادونه مو په دې خاطر وکړه چې لوستونکي لږ تر لږه د شاعر د زندان، شپې او ورځې او د هغه د ملګرو حالت تداعي کولی شي.

## د کارغانو او مرغانو په نوم سمبوليک شعرونه:

د غني خان د شعرونو يا د پنجرې چغار په شعرونو کې د شاعرۍ بل اړخ هغه سمبوليک شعرونه دي چې هغه د يوازيتوب په حالت کې د چا خبره ژوند او مرګ ته او حيواناتو يعنې کارغانو ته ويلي دي، شاعر د دغه ډول شعرونو تر مخه د مرګ او ژوند په باب په يوه کوچنۍ يادونه کې ليکي:

[1] پلوشي ۱۸۸ مخ.
[2] پلوشي همدا مخ.

(د انسان سره د هرسوال ځواب شته، ولې د مرګ ځواب نه لري، د جهان اکثره فلسفي او ټول مذهبونه د عزرائيل د شاهنشاهيت برخلاف بغاوت دی ټول دغې تورې کندې نه تښتي......)([1])

د مرګي په نوم شعر کې غني خان د خيام په څير د ژوند د ډيرو ارزښتناکو شيبو شمار کوي او د هر درنګ په هيريدو هغه افسوس کوي، خوخپله دی زړه ټينګوي او د مرګ پرضد بغاوت کوي، هغه نه مني او په اوچت آواز د نيستۍ په باب وايي:

مرګی دې راشي
شراب کميږي
پسرلی خلا صيږي
ګلاب کميږي
رڼا د شمع کې
د سحر نور راغی
کور د بلبلو ته
نوم د باتور راغی
ستار کې شرنګ هغه
د ماښام نشته دی
سرور په سترګو کې
د خيام نشته دی.... ([2])

[1]. پلوشي ۱۶۴ مخ.
[2]. پلوشي ۱۶۴ مخ.

د ژوند د هرې شیبې څخه خوند اخیستل او د هرې بې خوندې شیبې د لاسه ورکول د شاعر د فلسفي طرز فکر او د زمانې بې پایه او بې پوښتنې تیښته دوه متناقض واقیعیتونه وو.

د ترخو واقیعتونو لـه دغـه گرداو څخـه تیښـــتـه او فرار او یو ډول شـــاعرانه پردیوالي ته پناه وړل چې بیا هم واقیعتونه پکې وینې د شـــاعر د ژوند په دې پړاوکې انعکاس کوي.

لکه چې په خپله هم د دغه سمبولیکوشعرونو په باب لیکي:

خو د ژوند ښایست دا وي چې ټول عمر انسان سره د ده د خلاصیدو فکر نه وي، کله کله یې دا ټولې غټې غټې خبرې هېرې شــــي او په خپل ماحول کې د وړو وړو څیزونو په تماشـــــه شـــي او د وړو وړو شـــمعو په تالاش کې ځان د هغې لویې تاریکۍ نه وتښتوي.

د حیدر آباد ســـند په جیل کې زما د ټوټې ټوټې مســـتقبل نه علاوه ډیر نورڅه هم وو، د چکۍ د دروازې په خوا کې د میږو جالې وې،کله ناکله به زموږ د احاطې په کې کوترې کښــیناســتې، کله به نیمه شــپه کې د تارو چړ چق واورید، کله به نور کارغه لکه د یو جمهوري وزیر اعظم د شــور او چل نه ډک په دیوال کښـــیناســـت، د بمبې خوا ته په ماښـــام کې چینډخه راغله، دیوال د پاســــه به د اوښ بړبړ راغی، او په دغو ورځو کې زه ډیر وړی ترۍ او یوازې وم نوما به دې ټولوسره خبرې کولې....

دا روان شعرونه ما د هغوی په مجلس کې لیکلي دي، که زه د هغوی په طبیعت نه یم پوه شوی، نو معافي غواړم، زه د انسان هډوکی لړم او د چینډخ په څرمن کې نه شم ننوني([1]).

په دې شعرونو کې د اوښ، کوتره، چینډخ، میږي، ماشي، آس بدو، کارغه، مږه، بازیګرکوتر، کوچی، ملاچرګک، چرګ، بودا ، تارو، کورکوړه او مچ شعرونه یادولی شو.

کله چې موږ د آزادۍ، خپلواکۍ، ننګ او غیرت سره د شاعر زیاته مینه او عشق د هغه په نورو شعرونو کې وینو، او له بلي خوا د استعمار انګریز او د پاکستان د انګریزي استعمار د میراث خورو واکمنانو او نظام سره د شاعر او سیاسي انقلابي شخصیت نه پخلا کیدونکې کرکه وینو او له بلي خوا د شاعر شاعرانه او خلاق ذهن ته پام کوو نو د دې ټولو واقیعتونو د تحلیل په نتیجه کې ویلی شو چې د شاعر دغه کټګوري شعرونه ساده شعرونه نه دي، بلکې د شعرونو د ساده والي او د شاعرانه مشغولا سره سره د استبداد، استعمار او پاکستان په وړاندې د شاعر د قهر او عصیان شاعرانه سرغړاوی هم یکې شته چې د څو مثالونو یادونه یې کوو.

د اوښ په شعر کې:

په خیټه دې ځان ورکړځکه ډوب سپک او دووس شوې
مین په پیکوړې شوې ځکه پاتې د جلوس شوې
جنون خندا دې ورکړه د ځوځانو په بدل کې
د حسن بادشاهۍ کې د ژوندون ویرې جاسوس شوې

---

[1]. پلوشي، ۱۶۶ مخ.

تــا ښـــــايســـــت د آرمــان ورکړ بـد رنګي کې د ژونـدون
تـــا ورکـــړه پـــه ټـيــپـــرو فـــلســــــفـــه د افـــلاطـــون....

او کوتره چې هر وخت د سولې، ښکلا او مينې سمبول دی وايي:

د جـــنـــت مــــرغـــۍ کــــوتـــــره
د غـــم در ده بـــې خـــبـــرې
کـــه پســــرلـــی دی کـــه خــــزان
ســــتـــاوي مســــتـــې بـــازيـــګـــرې

بل مثال دچرګ په نوم شعرکې:

خـــوراک کــوي د ســــپـــي
اومســــئــلــي د مـــلايـــانـــو
بـــانـــګـــونـــه د بـــلال
او لــنـــګـــوټـــی د چـــنـــګـړيـــانـــو
پـــرتـــوګـــټ دی يـــاره نشــــتـــه
او شــــمــلـــه نــيـــغــه د خــان
شـــل ښـــځـې دې ســـاتـلـي
خـــو ســـحـــر وايـــي اذان
پـــه جـــنـــک کـــې بـــهـــادر
او مســـتـــانـــه لـــکـــه چـنـګـيـز
پـــه مـيـنـــه کــې يـې شــــرمـه
بـــي پـــراو لـــکـــه انـــګــريـــز
اور بـــوز دې د قـــاضــــي دی
طـــبـــيـــعـــت دې د هـــټـــلـــر

آواز دې پــــخــنــــی دی
او انـــداز د مـــنســــتـــر
انــــجـــــام............ دی
ای مـــجـــنـــونـــه د ډيـــران
يو ورځ پــه وروســـتی بـانـګ وکړي
ډوډۍ بـــه وکـــړي خـــان...... ([1])

دا و د غني خان د پنجرې چغار په باب يو نيمګړی تصويرکيدای شي په دې باب زيات کار وشـــي او دشـــاعر د شـــخصـــي ژوند د نا معلومو، پيښــوســره په اړه کې د هغه د فکرونو، تاملاتواو انديښــنو پټ څرکونه هم راڅرګند شي.

خو له بده مرغه اوس په دې شـــيبوکې موږ زيات مواد نه لرو، غني خان د خپلو شـــعرونو د دې برخې په پای کې د جيل په دننه کې ليکي: د هري پورجيل ۲۰ جولای ۱۹۴۹ عيسوي.

کتاب خلاص شوخو شعرونه ډير پاتې شو، خير بيا به چېرته څه غم وکړو ژوند هم عجب شی دی، دې کتاب کې اول شعر د اوبو په جهاز کې په بحرهندکې ليکلی شـــوی و او آخرنی د هري پور جيل د کوارنټين په يوه چکۍ کې په دې منځ کې چې څه مستی، خوشالي، ارمان، اميد، ويره، خندا او ژړا په ما راغلي دي نو دې پاڼوکې موجود دي، ولې افســـوس دی چې ژبه مې د زړه څومره طاقت نه لري، بيان د احســـان نه کمزوی دی خو

---

[1].پلوشي ۱۸۰ مخ.

هرڅه چې دي دي حاضر دي ما پټولوکوشش نه دی کړی بلکې د ښکاره کولو خواري مې کړې ده.....([1])

او هم د دي يادونې په پای کې ليکي:

که په دې خيالاتو کې دومره حســـن وي چې له ما نه پس هم ژوندي پاتې شـــي نو زه به وايم چې واقعيي ما د ادب چينه وموندله اوس، دوی ما ژوندي کړي دي بيا به دوی ما ژوندی کوي. (غني)([2])

ګورو چې په وروســـتيو ټکوکې غني خان ښـــه اټکل کړی دی، بايد يادونه وکړو چې هر هنرمند او هر اديب او شاعر د خپل تاريخ او چاپيريال هنرمند دی او اړ دی چې په دې چوکاټ کې ځان وساتي او سره له دې چې کله هم ډير چټک خو (هيڅکله ورو او کرار نه)د خپلي ټولني ســـره ګام اخلي.

او غني خان دا کار ښـــه په زغرده او ښـــه په زړورتيا کړی دی او دا واقيعت اوس هرڅوک مني چې هغه به تل له خپلو شـــعرونو ســـره ژوندی وي.

---

[1]. پلوشي ۲۳۶۰ مخ.
[2] همدغه اثر ۲۶۳ مخ.

# په شعر کې د شاعر تصویر

د غني خان په شــعرونو کې که موږ شــعریت، نوی والی او خلاقیت وینو نو تر اوسه په پښتوشعر کې د هغه د شعر په اندازه پیاوړی او پراخ تصــویر چا نه دی ویســتلی، د غني شــعر د فلسفې ژورولی په څنګ کې د اوچت تخیل سره پراخ تصویرونه لري.

د غني خان د شــاعرانه ښــکلا توصــیف او تخیل په باب دا نکل ښــه صدق کوي چې وایي:

یوکلیوال ښار ته راغی او په ټول ښار کې یې د شاعر ستاینه، صفت او نوم واوریده، ورپسې وګرځیده چې شاعر پیدا کړي، آخریې شاعرماښام مهال له ښـاره بهر پیدا کړ، له هغه نه یې پوښـتنه وکړه: (څه دې کړي دي چې دومره مشهور شوی یې، شاعر ورته هلال وښوده او پوښتنه یې وکړه، هغه وینې، کلیوال وویل: اوس دې ســــترګې پټې کړه او ووایه چې هغه وینې، کلیوال وویل: (نه)شـــــاعر وویل: خو زه کله چې ســــترګې پټې کړم هلال له خپل رنګ او ښــــکلا نه ډېر ښــــکلي وینم، دا یو شـــــاعرانه مثال دی)([1]).

---

[1].دنیا، نشریه سیاسي وتئوریک ۱۰-۹ ګڼ ۱۳۵۹ کال حزب تودة ایران.

د مثال په توګه: د جنت او دنیا په شعر کې د خپلو نورو شعرونو په څېر د دې او هماغه دنیا ژور او ښکلی تصویر باسي، په دې انځورکې ښکلا او تخیل هم ډېر ښه ځای کړی شوی او فلسفي غوښتنې هم.

چې مستي وي او ځواني وي
او جانان وي اوډک جام
ډیر ګلونه لښ یاران
او غمګین غوندې ماښام

شاعر د دې غوښتنه کوي د خپل فلسفي طرز فکر مطابق هغه په خپل څو ساده شیانو او لمس وړ عناصرو څخه ځانته جنت جوړوي، او د بل جنت لپاره د انتظار وس نه لري او د دې یادونه هم کوي چې که دا ټول ونه شي نویا خو......

ربه ای جانانه ربه دغه یو سوال خو منظور که
ګنې لاړ غني دې مړ شو ورپسې یې جبې کیږي

په دې شعر کې د یوه شیبه خوند ور ژوندانه، د ماضي او مستقبل تورې هیولا په منځ کې یوه شیبه رڼا ده چې د لمر څرک او د سپوږمۍ د هلال په څېر بله کې ځلیږي او د شاعر غوښتنه هم دا ده چې همدغه شیبه کېدای په ډېره اسانه فارمولا په جنت بدله شي.

خیام وایي:

ګویندکسان بهشت باحور خوشت
من می ګویم که باغ انګور خوشت
این نقد بګیرو دست ازان نسیه بدار

کـه آواز دهـل شـــنیـدان از دور خوش اســــت

نومړی په همدې ډول د خپل ژوندانه او د خپل عمر د رنګ رنګ شیبو په یو درنګ تیریدل یوه شیبه تصور ته راوړي او په هغه سوچ کوي کله چې هغه په دې باب د خپل فکر په ســـمندرکې لاهوکیږي، نو په ډیر سوز او ګداز سره یو ناڅاپه چیغه کوي او د (لکه واخلي چې ماشوم شعر) یې د یوي نا اشنا سندرې په څېر له خولې وزي.

نومړی په دې شـــعر کې د خپل ژوندانه د رنګینو شـــیبو څغاســـته ترسیموي چې څرنګه په یو درنګ او د سترګو په رپ کې تیرې شوي او څوک پرې خبریږي نو د ژوندانه د مازیګر زیړی لمر د خپلو وړانګو تناب له ځان پسي راکاږي:

لکه واخلي چې ماشوم

لـــکـــه واخـــلـــي چـــې مـــاشـــوم
ډک شـــکـــرې د ســـرو ګـــلـــونـــو
خـــانـــدي چـــغـــې وې غـــورزی یـــي
لـــپـــې لـــپـــې پـــه مـــوجـــونـــو
د ی پـــه غـــاړه ورتـــه خـــانـــدي
خـــرســـیـــلاب یـــي ګـــلاب یـــوســـي
نـــه پـــه زور ســـیـــلاب پـــوهـــیـــږي
نـــه پـــه قـــدر د ګـــلـــونـــو
داســـــې مـــا دا خـــپـــل ژونـــدون
د مســـتـــي ســـیـــلاب کـــې لـــهـــو کـــه
پـــه خـــپـــل لاس مـــې ځـــان بـــنـــدي

د ځــو قســمــه دوزخــونــو
لــکــه واخــلــي چــې مــاشــوم
ډک تــالــی دســرو او ســپــيــنــو
پــه خــنــدا خــنــدا يــې نــولــی
پــه کــوڅــو پــه بــازارونــو
غــلــه وايــي واه واه د نــرزويــه
څــه ســخــي ارســلاخــان يــې
دې نــه زور د دولــت ويــنــي
نــه دردونــه د غــمــونــو
داســې مــا دا خــپــل ژونــدون
روک کــه خــاورې کــه ايــرې کــه
ځــان مــې وتــړه پــه خــپــلــه
د غضــب پــه زنــځــيــرونــو
يــا دا ژونــد بــيــلــلــي جــنــګ دی
او يــا زه پــهــلــوان نــه وم
مــا خــو هــيــڅــوک هــم ونــه لــيــد
چــې زوره ور شــو پــه غــمــونــو
زه لا ويښ نــه وم د خــوبــه
چــې زيــړی مــازيــګــری شــو
چــې يــې زه پــه قــدر پــوی شــوم
ګــلــزار تــش و د ګــلــونــو
اوس نــه رنــګ شــتــه نــه مســتــي شــتــه
نــه ســيــلاب شــتــه نــه ګــلــونــه
د يــو خــوب لــيــده ووتــيــر شــو
ژونــد شــو ډک د ارمــانــونــو

باغ د ګلوپې تالاشو
د لالونو شکور مې تش شو
دا لا واوره ملاجانه
کې ټنګ ټنګ د حسابونو
وخت او ژونددغه تقرير دی
د يو اور يې بل لره بوتلم

دا ژوندون و که يو دام و؟
د اورونو د غمونو

پانوس، ۱ مخ

که زموږ د زماني دغه ستر متفکر او شاعر د خپل چاپيريال او ټولو پديدو سره سنت ماتونکی چلند کړی، د هغو بدې خواوې يې غندلي اوښې يې ورته ستايلي او په هرڅه کې يې جمال او ښکلا ليدل نو په شعر کې يې هغه ابتکار او بداعت تر سره کړی چې د ټولو پښتو شاعرانو په شعر کې ډير لږ ليدل کيږي.

په زغرده ويلی شو چې غني خان سره له دې چې کله کله د قالب او فورم له پلوه د پښتو د کلاسيک شعر په څېرشعر ويلی خو له فکري پلوه يې بيخي په دې جريان کې بدلون راوستی او د فورم او شکل له مخې يې هم پکې نوی والی راوستی او د هغه په اشعارو کې (نوی شعر) د نوې محتوی او مضمون سره هم له بيخي نوی او ډير په زړه پورې دی.

د مثال په ډول د (چينجي ) په نوم شعرچې هم نوی شکل لري او هم زوړ، ډير ژورتيا اوعمق لري، هغه په دغه شعرکې چې په را وروسته وختونو کې يې ليکلي او د (غني پلوشې) او د (پنجرې چغار) کې نشته په

ژوره او دقیقه توګه په کې خپله ټولنه د یو باغ په څېرترسیموي او په هغو کې د نویو آفاتو او مرضونو تصویر کاږي، د چینجو درمل کوونکی د وخت د نظام خاص سمبول دی او داسې نور.....

نومووړی شعر یې د ایوب خان د مار اشلا په وخت کې لیکلي دی، که د هغه د شعر نه په سطحي ډول داسې ښکاریږي چې ګوندې هغه د سیاسي مسایلو سره ځان مخامخ کوي، نه غواړي نو داسې په زغرده ویلی شوچې خبره بالعکس ده، که د هغه په شعرکې ظاهراً له سیاست څخه فرار او تیښته ځرګندیږي نو په عمق کې د هغه د فکر ټوله مسئاله په دې کې ده.

دغه راز اوس چې خبره د هغه په (نوي شعر)کې ده ډیر ښه مثال یې د لټون په نوم شعرکې وینو چې د عمر او ژوند سختې شیبې کله هم دا وړي د اوږدې غرمې او د ژمې د اوږدې او نه خلاصیدونکې شپې سره ورته بولي(وخت خپه نیولی په رکاب سوربولي)او شاعر د خپل ژوندانه په دغه چپ چوپ عالم کې یوازې د خپل زړګي درزا ته غوږ نیولی، هغه د ځان سره د خپل زړه سره هم مجادله کوي او د هغه له اسارت څخه هم ځان آزادوي او هرڅه کې په شرایطوکې په جام کې او د جمات په تاخ او هرڅه کې یوه ورکه پلټي، په میحانه کې د افلاطون په مرګ کی ژوندون ګوري خود دې ټولوسره یو اظطراب ويني او ددغه اظطراب څخه د تیښتې لپاره یوه شیبه ګوري، دا تیښته او فرار د ژوند نفي کول نه بلکې د ژوند د خوند او رنګ سره افراطي مینه، هغه دې ته رابولي چې د دې (یو ورک ساعت د لدار کړی ځان) چې بیا یې هم خپل فلسفي طرز فکر پکې په هنرمندانه توګه ځای کړی دی.

یادونه : (په دویم ټوک کې دوجودې فلسفې له لیده دا شعر شنل شوی دی -)

شعر دا دی:

## لټون

غرمه د اوړي

لکه شپه د ژمي

یو خاموشي

او قلاري خور دی

د کور کوړکو ګوګو

او چپ چاپ عالم هو

وخت ښپه نیولی

په رکاب سور دی

دنیا دې خپل زړګي ته غوږ نیولی

د مرګ او ژوند حساب کتاب اور دی

فضا کې ګډ یو مسکیې توب شان دی

لکه په خوب کې څوک رباب اوري

او زه یواځې

په خیالونوکې ډوب

د خپل ارمان
تلاش کې ګرځمه
یو ورک
مجبوره
مسافریم روان
په مزکه پروت
په اسمان ګرځمه
ما هم دې خپل زړګې ته غوږ نیولی
د ژوند څه وجه څه نسب لټوم
درد له او مرګ له څه سوب ګورم
ابدکې خپل د هوس حباب لټوم
د ولې، ولې
په دریاب کې ورک
جام کې شراب
او په شرابو کې
په سور کتاب کې

د جمات د تاخ

زه مرګ او ژوند

يو تړون ګورم

چپه چپتيا

او خاموشي

کې زه

شرنګ دستار

د تال مضمون ګورم

چاپيره رنګ کې

شنوکمتروکې

ځان له جواب د خپل ژوندون ګورم

زه ليونی يم، ليوني يم رښتيا

په ميخانه کې افلاطون ګورم

ځان ته چې سترګې مې راواړ ولي

بس

مرګ

او نیش

ووینمه

زه لیونی یم لیونی یم رښتیا

د مرگ په سترگوکې ژوندون گورم

غرمه د اوړي

لکه شپه د ژمي

یو خاموشي

یو قلاري خور دی

چرته کې

یو بڅری

د نور

ستوري

که لری د صحرا اور دی

ما ته وړوکو

ما ته وړوکو

پلوشو

کې وايي

که غردی لوی

په سرکې لارخوشته

څه

که ژوندون

يو روک

ساعت

د هوش

يو

ابدي

د ده، د لدار خوشته

زړګيه، ځان ټکي که ما ټکي

څنګه ځان خلاص د هرجنجاله کړی

زړګيه، ای ټکه زړګيه زما

ځان کې مشغول او ما خوشحاله کړه

خوستا نه منم

غرقيږمه

سم په رښتيا

ليونی کيږمه

د اضطراب په تور درياب کې زه

اوس سرسري يم بيا ډوبيږمه

په تورو ويرو کې مه کېږمه

دلته په خپل اور کې سوزيږمه

په ژوندون تورې خاورې کېږمه

په خپلو وينوکې ډوبيږمه

غرمه د اوړي

لکه شپه د ژمي

يوخاموشي يو قلاري خور دی

غرمه د اوړي

لکه شپه د ژمي

چرته کې لرې

يو بڅرى د نور

ستوری، که لرې د صحرا اور دی

ما ته وړوکو پلوشوکې وایي

که غر دی لوی په سرکې لاره شته

څه که ژوندون یو ورک ساعت دی د هوش

یو ابدي د ده د لدارخوشته

پانوس – ۲۸ مخ

غني خان په ډیرو شـعرونو کې اوله هغه جملې د (باچا) په نوم شـعر کې ظالمانه او اســـتعمار ګرانه اقتدار او (قدرت)په ډیر ښـــه او هنرمندانه توګه مسخره کړی، په لومړي سرکې یې د باچا په سمبولیک مفهوم سره د قدرت د ناوړه او استعمارګر قدرت ماهیت او جوهر ښه را سپړلی، دنیا یې هم د ســـپی لکی بللی او په موجودیت کې یې ورته د تورې پیشـــو خطاب کړی او له هغو وروســـته یې خپل فکر بیان کړی، هغه ته دا ډیره په زړه پورې ده چې وایي:

ما له راکړه څو ګلونه
یو نیاز بین شانتې جانان
یو وړوکی غوندې باغ
او په خوایې سیند روان
چې یې زه په غاړه ناست یم
په یخ سوري د خرولی
په مزه مزه لیکمه
د مزې مزې غزلې

او بیا له دې وروسته سره د دې استدعا او غوښتنه کوي چې ګورئ زه د دې کار نه یم (تاج وړلی هغه سر شي، چې وژل لکه وباکړي)او په آخر کې خو دې ته راځي چې خدای ځانته مخاطب کړي او له هغه دا غوښتنه کوي چې:

چرته غټ خر ته په شاکې
دا د سرو لالونو کته
سفارش ورته دا وکړه
صیب زموږ د بابته
وی پام کوه د دله خره
غني و نه وی په لته

دغه ډول مسایل هم د غني په شعرکې په ډیر هنرمندانه ژبه را تصویر شوی دی او کله چې د غني د شعر عمومي مطالعه کوو نو د شاعرانه تصویر مساله په کې په دقیق ډول ځان را ځرګندوي.

موږ دلته دغني خان ((دشګودمحل))شعر دهغه دشاعرانه تصاویرو د ډیرو غوره بیلګوپه توګه را لیکو. په دې شعر کې د غني د امید ځرک هم د هغه د ژوند د امیدونو او ځرکونو په نوم راځرګندیدلی شي او لیدل کیږي چې غني خان د شګو د یو داسې محل شاعر دی، د دې شعرنوم دی:

(زما محل)

د سیند د سپینو شګو نه مې جوړ کړلو محل
دې ټول خرګي جهان ورته حیران حیران کتل
قالین مې په کې خور کړو دسرو پاڼو د ګلاب
اوچت یې دیوا لونه د سازونو د رباب

بیا رنګ مې ورلـه ورکړ د خوبونو د شباب
هر ګل مې ورلـه راوسـتـه مالیار مي کړ بلبل
دې ټول خرګي جهان ورته حیران حیران کتل
نرګس مې پـه غیږ راوړ هم میلمـه مې کړ رامبیل
د څاڅکو د شـبنم نـه مې ښیسته جوړ کړ امیل
نسـیم پـه خندا راوړل زیړګلوله د چامبیل
شـراب مې ورلـه راوړل بیا دا وښکود بلبل
دې ټول خرګي جهان ورته حیران حیران کتل
رنا مي د سپوږمۍ کړه د زهرا پستې غزلې
خندا تـه د تمځرو ښکلی زرکی ګډیډلی
د ستورو مستې سترګې غلې غلې رپیدلې
رو رو پرې مستي راغله خدایي اور یې کړبل
دې ټول خرګي جهان ورته حیران حیران کتل
یواځې زه بادشاه ومه په سر مې تاج د غم
په خوا کې مې دلبره وه موسکۍ سترګې پرنم
په غاړه یې امیل ښیسته د څاڅکو د شبنم
ماشومه نازنینه پاکه ښکلې لکه ګل
دې ټول خرګي جهان ورته حیران حیران کتل

نوځکه د همدې شعر د اغیزې له مخې مو غوره وګڼله چې درسالې نوم هم (غني د شګو په محل کې )وي خو غني خان په پښتنو شاعرانو کې سنت ماتوونکی شاعر هم دی او هغه د شعرونو ځانګړنه ډیر عوامل لري چې په ځینو ځایونو کې تحلیل شوي دي.

ک.ف. ګیرس:([1])

شوروي لیکوال د میړني اولس ادبیات په اثرکې د غني خان په باب: (غني خان رومانتیک، ریالست شاعر) تر سرخط لاندې لیکي:

خاص ده په پښتو ادب کې د لومړي ځل لپاره د جنون فلسفه رواج او تبلیغ کړې ده، عیناً په همدغه یو وخت کې د شـــعر د عنعنوي قانون او لفظي اسـلوب د یو سـخت مخالف په توګه منځ ته راغی، د غني خان آثار پخپل منځ کې یو تربله سره تضاد لري.

خصوصاً بیا په لومړیو وختونو کې د ده په اشعارو کې کله کله داسې ځېې راپورته کېږي، چې هغو ټاکلو مسایلو نه مجزا دی چې هغو د حصول له پاره د ده ســـکه پلار د خپل ژوند زیاته برخه وقف کړې ده، په همدې ترتیب په هغه شعرکې چې اختلافات نومیږي غني خان داسې وایي:

پـــلار مـــې ورک پـــخـــپـــل وطـــن
زه د خـــپـــل وطـــن نـــه ورک
د هـــغـــه خـــوبن دی تـــعـــلـــیـــم
زمـــا خـــوبن ســـــاګ دپـــالـــک
د هـــغـــه خـــوبن دي ځـــوانـــان
تـــول د قـــام پـــه جـــنـــګ روان
زمـــا خـــوبن هـــر ګـــلـســـتـــان
هـــر چـــمـــن د لـــو لـــو ډک
د هـــغـــه وطـــن جـــهـــان
ځـــای بـــې نـــوره بـــیـــابـــان

[1]. ک.ف ګیرس.د میړني اولس ادبیات (د معتمد ترجمه)۱۸۰- ۱۸۱ مخونه کابل.

زما ملک ښکلی آسمان
د ښیسته ستور نه ډک

**عدم تشدد:**

د غني په آزادۍ ښوونکې مبارزه کې او همدارنګه د هغه په شعرو شاعرۍ کې یو ډول بشپړه آزادي او (اختیار) موجود دی، غني د خپل اولس او خلکو د ټولنیز روان په قانونمندۍ ښه پوه دی او په همدې سبب د هغه په سیاسي ژوند کې د (پښتون زلمي) د غورځنګ او د زرګونو زلمو وسله وال کول د دې خبرې ثبوت دی چې هغه دد ې پلوی دی چې حق په زور اخیستل کیږي نه په صبر، هغه پو هیږي چې دښمن دښمن دی.

دي ډول هغه د ژوند په خاصو شرایطو کې د پښتون زلمی وسله وال غورځنګ ایجاد کړ، او د عدم تشدد له تګ لاري سره یې انتقادي جلند وکړ.

په دي برخه کې موږ د هغه په زیاتو شعرونو کې د عدم تشدد په وړاندې عکس العمل وینو په څرګنده توګه د هغه افکار (په جنګ له دی منصور روان، نه توپ او نه تفنګ لري)په مشهور شعر کې چې د پلوشي په اثر کې راغلي څرګند شوي، خو په دي بل شعر کې هم د هغه بغاوت ښه جوت دي لکه چې وایې:

د غضب په نیلی سورشو
د شیر شاه لمسی با تور
سترګې بیا د پښتون سري شوي
چې نیم اور دی او نیم نور
ځوان کړل شنه بریتونه تاو بیا

په مستي جنګ ته روان دی
د یار مستي سترګې وینی
بې خبره د جهان دی
مور یې ږدي په سر قرآن بیا
خور یې سترګې کږلي توري
د بابا پښتنو سترګو
ورته وکړي قصی نوری
ای زما د نیکه ځویه
ای زما د میني وروره
ای د نر بابا بچیه
ای پیدا له نرې موره
سترګې ډکې د رڼا ستا
لاس دی تش توره دي څه ده
د غضب په نیلي سور شوي
فولا دي زغره دی څه شوه
وي په نوي مستي مسته
پاکه وینه د پښتون شوه
ولي ګوره که لیلی بیا
تش په وینه د مجنون شوه ([1] )

## غني او د ټولنې منفي کرکترونه:

غني خان د خپل دوران شاعر دی او د شاعرۍ په څنګ کې د یوي سیاسیی عقیدي خاوند هم دی، په دی ډول د هغه په ټولو شعرونو کې زمان

[1].پلوشي، ۶۷- ۶۸ مخونه.

او تک لاري اثر غورځولي دی، د غني په شعرونو کې ځومره چې حماسي او تخيلي رنګ ډېر پياوړي دی، ځومره پکې د خوشحال خټک په څير مخامخ او په زړورتوب خبري هم شته.

په پښتو ادبياتو کې خوشال خټک هم د وخت ظالمانو او مستبدينو سره مخامخ و، هغه هم له يوې خوا د خانۍ جرآت او له بلې خوا د هغه د اولس پت او عزت او آزادي د پايمالونکو پرضد قهر او غصې دې ته رابللي چې خپل اولس او په خپلوخلکوکې هغه کسانو ته چې د نورو غلامۍ کوي، مخ په مخ او څرګندې خبرې وکړې لکه چې وايي:

پښتانه په عقل پوهه څه ناکس دی
کوته سپی د قصابانو د جوس دی
اوښ د بار سره يې کور ته دي ورغلي
په ولجه د اوښ د غاړی د جرس دی

يا دا چې:

چې نه لري ننګونه
ويې مه ويني رنګونه
دا د ننګ دپاره ګرزم
په دا هسې ګرځنګونه
صد رحمت رابانديې ښا يې
په دا هسې آهنګونه ([1] )

او يا بل ځای خپل قوم ته دا ډول پيغور ورکوي:

[1] ـ خوشحال خټک څه وايي، ليکونکی عبدالروف بينوا، (۵)او (۸)مخونه.

پـه دا هســـې وخـت چې وخـت د نـام و ننـګ دی
دا بـــې نـــنـــګـــه پښــــتـــانـــه کـــاڅـــه رفـــتـــار
مـرګ زمـا پـه پـوهـه ښــــه تـر دا ژونـدون دی
د عـزت ســـره چې نـوي زيســـت روزګــار([1])

او غني خان هم د هغه ټولو منفي کرکترونو په وړاندې عکس العمل ښــيي چې د هغه په ټولنه کې په ځانځانی بوخت دي او د خلکو دا ذهانو په تخريبولو بوخت وي، د خلکو په منځ کې بې اتفاقي اچوي، د خلکو وينې ځبيښـــي او په ډېرې پستۍ او رذالت د انګريز او بيا د هغه د پاټې شـــونو چاپلوســـي کوي، هغو ته ســـر ټيټوي او له هغوي نه د خپل ورور د وژلو لپاره کار اخلي، غني دا ټول کرکټرونه که د (شـــيخ)په څيره کې وي، که د خان په څيره کې وي او که د بل، ټول مســـخره کوي او پرې ملنډې وهي، او ډېرســـپورې ســـتغې ورته وايي، کله چې د غني خان ټول شـــعرونه په ژوره توګه لولومور ته په هره برخه کې نوي نوي شيان او پيښـې سترګو ته راځي.

غني خان د اولس د آزادۍ د ګټلو په شرايطوکې د پېل په غوړکې ويده له خوبه را پاڅوي او د هغو بې توپيري په جدي توګه غندي، په دې را نقل کړو، البته هغه نمونې چې د خانۍ، مذهب، رشـــوت، بي اتفاقي اچولو او دښمن ته د تسليموولوپه برخه کې ويلي او هم يې ځينې ټولنيزو موسسو ته ګوته نيولې او يا يې هغه بربنډې کړي دي، د يوه محقق په قول:

د غني خان انتقاد چې لاتر اوســـه د ثبات حالت ته نه دی رســـيدلی که څه هم توند دی، د ماحول او چاپيريال د واقيعت سره د ده عمومي نهيلستي

[1] ـ خوشحال خټک څه وايي، ليکونکی عبدالروف بينوا، (۵)او (۸)مخونه.

مناسباتوڅرګندوی دی، دا په حقیقت کې د نوی نسل وضیعت دی چې پخپلو اساسي پرنسیپونو سره د انتقادي ژوند د ترسیم طرفداری دی([1]).

د مثال په ډول د خانانو په شعر کې:

د خانې منفي کرکتر:

عـجـیـبـه ده خـانـي، عـجـیـبـه ده ځـوانـي
ای پښـتونـه پوه دی نـه شـوم پـه ورانۍ پـه ودانۍ
دا دې لانوی هنر دی چې خپـل ور وژنې بې هیڅـه
پیرنګي تـه خو ټینـګ نـه یې چې یې کړلې پیزواني
چې پټکی یې پر پري وي پـه حجره کې یې زمری وي
نـاسـت د مرچو وي پـه ښتـه د ځـان نـه ویني ثـاني
وایې: پلار مې بهـادر و او نیکـه مې سـکنـدر و
چې د ځان تپوس ترې وکړې، پس هین هین اماني
په غریب همسایه نر وي یا په ښځه زوره ور وي

د جنګ وخت کې پټ کور ناسـت وي خو د جنګ وي ارماني
غني نـه د دوی دوا شـتـه نـه طبیـب ور تـه ورتلی شـي
د خـدای قـهرپـرې لـګیـا دی، چـې زر زر یـې کـړي فـانـي

دغه ډول په یوه بل شعر کې هم په هغه ټولنیزه موسیسه انتقاد کوي، چې د ژوند، وطن او خپلواکۍ د ورځني اساسي مسائلوڅخه د خلکو پام بلې خوا

[1]. ګټ.ف، ګیرس- د میرني اولس ادبیات ۱۸۳ مخ.

ته اړوي. دې ځای کې خان د لاپو شاپو خان نه دی بلکي هغه چې حقيقت وايې او حقيقت ته نور هم رابولي:

خان راخيستی دی ملا پسې څوباړي
خپل کور سم کړه څه پردي غمونه ژاړي
بل ته وايې د حرص وباسه غاښونه
او په خپله سوان په لاس تيروې داړې
تل وطن په خپله وران کړې بل بدنام کړې
ملايان دې کړل قارغان خوارې خراړې
چې په خپله په پيسه قام خرڅوي ته
بيا په کوم مخ په ملا کوي پيشاړې
چې په خپله دې مخ کال کې نه يې وينځلی
بل ته مه وايه زړګيه، چې پواړې
ته اول د صاحب پرېږده سلامونه
بيا په ده سرسايه پرېږده په ولاړې
د غني نصيحت دا وه اوس ځان سم کړه
خولې ته نه راځي بيا بيا توکړې لاړې

دغه راز غني خان په خپلو شعرونو کې د خپل سياسي فعاليت د دوران عمده مسائلو ته ګوته نيسي، په ځانګړي ډول هغو ته چې په پيسو باندې پښتو او ايمان خرڅوي، د ده مطلب هغه کسان دي چې د انګريزي استعمار او بيا د پاکستاني ارتجاع له خوا تطميع کيږي خو غني ورته په پوره زړورتيا وايې:

وتونه راغله پيسه سير پښتو ايمان خرڅيږي
پخوا به جوني خرڅيدلې اوس ځوانان خرڅيږي

ژړا بــه نــه کــړم چــې غــنــم جــوار ازان خــرڅــيـږي
پروســـــکـال ګوړې خرڅيدې ســــر بيوپـاريـان خرڅيږي

غني خان د دوه عنوانونو لاندې يعنې د (پلوشـــــه) او د ګډې وډې تر سـرليک لاندې د سـياسـي پيښـو ډېر عمده او اسـاسـي مطالب په شـعر کې راوړي، هغه کـه د يوې خوا پـه خپلو خلکو او ولس کې هغـه کرکترونـه غنـدي چې د بې ننګۍ او بې عزتـۍ ځپيړې پر مخ اچوي او بې توپيره کېني، نو له بلې خوا د هغه په ســـاده ګۍ او په بې عقلۍ هم خاندي لکه په دې شعر کې:

چـې بـې ننـګـه شـــــي پښــتون پـه ســـر يـې دانـګـه
تـېـښـــتـه تـېـښـــتـه د ســـاخـتـي مـلا لـه بـانـګـه
چـــې پـــه تـمـــه د دونـيـــا کـــوي واعـــظـــونـــه
خــدای دې وچـــې کــړي د دې خــبـيــث غــړانــګــه
پـــه والله کـــه د صـــــــراط پـــورې پـــرېـــږدي
کـه وېـرېـږي پـه دې لـيـن لـه پـېـښـــو پـړانـګـه
کــلــــه کــلــــه د غــنـــي هـــم کــيســــــه واوره
دا هـــم ده وروره د لـــويـــې ونـــې ځـــانـــګـــه

او همدغه راز په بل شـعر خپل ولس او خپلو خلکو ته چې کلونه کلونه يې قرباني ورکړي، زندانونه يې تېر کړل او د دوښمن ګوليو ته يې خپله سينه ســـپرکړه خو د حق په وخت کې يې داســـې دوکه وخوړه چې د خولې او کولمو سلسلو خبر نشول لکه: په دې شعر کې

پښـــــتونـه تـګـيـجـنـه تـا مـلا بـابـا دوکـه کـه
راضـــي شـــو پـه پيتي پـه ګـل ګلونـه خبر نشـــو
او پير غريـب حيران دی کلـه غـپ کړي کلـه کـاون

پیری مې لاړه دا یې تلو نه خبر نشو
منمه د جناح کاکا چې پوخ خانک ته راغی
د ټکه د کوتکه د ګولو نه خبر نشو
ګوره ! لېونیه په مړه خېټه بوډا شوې
د خولې او د کولمو د سلسلو نه خبر نشو

غني خان په خپلو شعرونو کې او پخپلو فکري څرګندونو کې بت ماتوونکی (بت شکن )دی، د هغه موخه دا ده، چې بندونه ونړوي، زاړه او رټل شوي جالونه وشلوي او د ریا او تزویر پردې څیرې کړي، هغه د خپلې ټولنې عوامل او کرکټرونو په وړاندې راپاڅېږي او په بې باکه ډول هغه بوتان چې له پېړیو راهیسې یې حکومت کړی او زورګیره قوت د خپلې موخې لپاره ترې کار اخیستی دی، غني د هغوی په وړاندې راپاڅېږي، ښه له بدو بېلوي، حقایق له دروغو بېلوي او بیا خپل ولس ته په هغه ژبه څه وایي، چې د هغه ولس پرې پوهېږي، د ناوړه ستونزو سره د غني مبارزه ژوره او نه پوخلاکېدونکې ده.

په دې ډول د غني د شعرونو مشخص تحلیل او راسپړنه په ژوره توګه د شعر د ویلود وخت او د حالت د څرنګوالي غوښتنه کوي، سره له دې چې دغه زمان زموږ څخه دومره لرې نه دی او نه هم د هغه په اړه مواد او معلومات لږ دی خو په هر صورت دلته یواځې د نمونې په ډول د ځینو موسېساتو په اړه او د هغوی په وړاندې د غني خان د شاعرانه عکس العمل راالېږدوو.

پرته له دې د شعرونو په اړه څه تبصرې وکړو، کېدای شي ګران لوستونکي ورته ځیر شي، د بېلګې په ډول په دې شعر کې په زیات ګومان د پاکستان جوړېدو ته اشاره ده:

پېښ په لېوني باندې شو، بل لېونی یو
وی وروره په یورپ کې سړی کړي د سړو لو
بانګ کې د سبا مې پرون نوې ټپه واورېده
لاړ وم خالصې راته یې وویل ټکهي ناو[1]
پرېږده پاچاخانه دا د جیل کیسې دې خوښې دي
دال مې نه هضمېږي، زه عادت یم د پولاو
واوره د یورپ نه د انصاف خوږې خبرې
واوره مړې واوره د پېښو بې بې میاو میاو
یو نهنګ غټ شوی ووکبان یې ډېر خوړلي وو
بل نهنګ پرې راغی اوبه سرې شوې د تالاو
یخې د قسمت ګوتې مړوندکله مري نیسی
پښې که ځان ته ماتې ګوډاګی کا په داو داو
بخت بې پروا یار دی، له یوې غېږې بل ته خاندي
واه پرون غریب سره نن صیب ته شو میلاو[2]
خدا خبر بیا به چاته خاندي خندوي څوک
او مور نه خو خپه بوته ملا علي داو داو
دلته چرګوړې ده کوړکه جنګ یې په هګیو شو
ورکړو د موټر چابي ته بیا پېرنګي تاو
کور کې د قصاب غوایان په وچو ټانټو نښتي دي
خو لنډیه! خوبرګیه! خوچرګیه! هو!

او بل ځای د اسلام څخه د ناوړو سیاسي د ګټې په اړه:

---

۱. د هند کیانو ستړي مه شي ده. ۶۲۰ غني پلوشې.
[2]. یانې انګرېز ته په لاس ورغی. پلوشې، ۹۵ مخ.

ای ! په اسلام مَینه
ای سیاسي مومنه
نن چې اسلام ساتې
ستایي دې څوک پرون
دا هغه مخ د تپوس
خو نوي شنه پرونه
دا د عقاب پنجې
دا ښاپېرک درونه
نن د جنت وعدې
پروني دوزخونه
چاربیته هغه زړه
خو نوي دي سرونه
ای په اسلام شیدا
ای سیاسي مومنه([1])

نن چرګټ د انقلاب وهي نعري قو
جوړ وخت شو د سبا
خو نه ځي د جومات نه انګازي د الله هو
ویده پروت دی ملا
بیګا د جمعې شپه وه ډیر تالي راغلي وو
خوړه پکې حلوا
خو چې شول طالبان یې ما پرون لیدلي وو
که ویښ نه دی ملا
پرون طالبانو ډیر باد رنګ خوړلي وو

[1] پلوشي.۴۸ مخ.

ټـــول نــــاســــــت دي پــــه بــــيــــديــــا
وړوکی چڼی څـــه شـــو چې هم وربـــه کړي دارو
راويښ بــــه کـــــــړي مــــــلا
هـغـه بـيـګـا تـيـاره کې ډيـر تـيـپـرخـوړلـي وو
د هــــوکـــــه کــــې د حـــــلــــــوا
الله پـه نس يې درد و ټول پـه شـــپـه يې کړل او او

پــــوروت پــــــه مصــــــــلا
اوس څوک وکړي جومـات کې انګـازي د الله هو
جــــهـــــان کـــــې شـــــوه رڼـــــا
لـنـډيـه چـرګـه زور کـړه دا نـعـرې د قـو قـو
راويښ بـــــه شــــــي مــــــلا

☆ ☆ ☆

عارفان د سرپه سترګو ګوتې کښېږدي
د خپل زړه په سترګو ګوري تماشا که
(خوشحال خان خټک)

## د غني خان دپلوشو لید توګې ته لنډه کتنه

د غني خان د فلسفي لیدتوګي په باب ویل ډېر ساده کار نه دی، سره له دې چې په ټولو لیکنو او څېړنو کې هغه ته د(فلسفي)(لیونی فلسفي)او نور اصطلاحات کارول شوي دي، خوکله چې د هغه آثارو او شعرونو ته مراجعه کوو نو د هغو پربنسټ انطباقي قضاوت مشکل دی، ځکه چې د هغه شعرونه په بېلابېلو وختونوکې ویل شوي دي، خو د هغه د افکارو یا فکري بهیر په تکوین او بشپړتیا کې د خپل وخت ملي آزادي بښونکی غورځنګ، کورنی ژوند، پښتونواله، د شانتي نیکتین ښوونځی او د پښتون زلمي غورځنګ ډېر اغیزمن فکتورونه دي، د دې عواملو په څنګ کې د نوموړي شخصي ژوند او د هغه د آزادۍ غوښتونکو افکارو په وړاندې استعماري موانع او خنډونه او خیامي ډوله افکاروڅه ناڅه د هغه فکري بهیر ته یو جهت ورکړی دی.

د غني خان (فلسفي افکار)یا فکري او (ټولنیز رواني) بهیر په عمده توګه د پیل، پوخوالي او بشپړتیا په دریو مرحلو کې یعنې د پلوشې د اثرپه اشعارو، پنجرې چغار او د پانوس په نویو شعرونو کې لیدلی شو.

د غني خان په ټولو شعرونو کې د هغه ژور او مهم فلسفي مسایل نه دي ځای شوي، بلکې د هغه ژور افکار تر زیاته حده (پلوشې) او (ګډې

وډې)تر سر خطوتو لاندې شعرونوکې ځای شوي دي، ځینې نور شعرونه هم شته چې د خیام په نوم او تر نورو سرخطونو لاندې لیکل شوي دي.

پلوشه:

تر دې سرخط لاندې د پلوشې په اثر کې نژدې ۴۳ ټوټې شعرونه دي، دغه شعرونه یوازې یو بیت او دوه بیته نه دي، البته زیاتره یې دوه بیته دي، خوځینې یې اوږده دي یعنې پنځو او شپږو بیتونو ته هم رسیږي.

د (پلوشه) په نوم په شعرونه کې ځینې مستانه افکار هم ځای شوي دي لکه:

د مستې جینۍ خوی وي چې بنګړي ډیر ماتوي
چې لږه نوره مسته شي نو زړونه ماتوي

خو په دغه شعرونو کې تر زیاته حده د هغه ژور افکار ځای شوي دي، په دي معنا کوم افکار چې د هغو څرګندول د شاعر نظر او عقیده او د هغو پرځای کول د شاعر ایدیال دی.

څو پلوشې د مثال په ډول رانقلوو:

پلوشه:

نه په لیونتوب تري فلسفي کړله څه جوړه
نه په فلسفه تري څه کړه جوړه لیوني
دا کړه وړه دنیا کړه وړه راونه ده
بویه دومره بویه، بویه د خوار غني
دا د ستورو شمار د وخت تلل د ساز لیدل

ښـــه خونیتولادي چې یې ډېرو شـــو ګني (۷۴م)

پلوشه:

هر ټټو براق دی کـه وي ســـور د محمـد پـه شـــان
هـر ځـپـر کـعـبـه ده کـه اوســـیږي ابـراهـیـم پـکـې
هـره لار مـکـې تـه ځـي چـې نـیـت دې د مـکـې وي
هر قبر ګلشـــن دی که ورو ورو لګي نســیم پکې ۷۴ مخ
پلوشه:

ګـفـتـــار د لـیـونـو کـې وي ګـلـونـه هـم مـاران
قـطـار د لـیـونـو کـې ډیـر ولاړ پـیـغـمـبـران
پروایي غني نـه کړي کـه یې ســپـک تلی کـه درونـد
تـف!ځـه بـه دا جـهـان وي او ځـه تـول د دې جـهـان

پلوشه:

مـخ یـې وقـبـلـې تـه لـیـونـی تـرې خـبـر نـه و
ســـتـرګـې یـې وې وازې د انســـان پـه تـمـاشـــا
عکس د ســـپوږمۍ یې د شـــبنم څـاڅکي کې ولیـده
ځـکـه پـه ســـجـده شـــو د جـانـان پـه تـمـاشـــا
نشـــتـه دی د ژونـد د خوب تعیر کتـاب کې نشـــتـه دی
ســـتـرګـې دې کـړه پـورتـه د آســـمـان پـه تـمـاشـــا
خـدای مکـه کې نشـــتـه د منصـــور د خولې مې واوریده
لاړ شـــه لیونیـه، شـــه د ځـان پـه تمـاشـــا (۶۳ مخ)

۲.ګډې وډې:

د ګډې وډې ترسرخط لاندې د غني خان بل ډول شعرونه دي چې په ظاهرکې داسي برېښي چې ګوندې بې نظمه او بي وزنه خبرې دي خو په واقیعت کې د ټولنیز چاپیریال مهمي مسألې او واقیعتونه په کې په ساده ژبه بیان شوي دي، د پلوشي په اثرکې د دې ډول شعرونه شمیرشلوټوټوته رسیږي، دغه شعرونه د پلوشه تر سرخط لاندې شعرونو څخه لږ څه اوږده او مطالب يې هم عینې واقعیتونو ته ډیر نژدې دي، د مثال په ډول يې څو نمونې رانقلوو:

ګډې وډې:

چې خلاصیږي بې وفا عمر زما
د جهان د ښاخه څي ثمر زما
توده لړه د مرګي چې شي راپورته
چې په غیر د عزرائیل وي سر زما
زه به شین د سرو شرابو جام په خوله کړم
د جنت باغچه به شي بستر زما
په ژړا او په سجدو چې شیخ ونه لید
ما په یو ګوټ ولید آ دلبر زما
مرګ یو خوب دی یوه نشه ده بې هوشي
په دې واړو دی بلد ځیګر زما
ته د روح په کوتک زړه وژني زاهده
روح او زړه زما یویوافسرزما
تا بینا عقل مې مست زړګي ته پریښود
اوس تیاره کې د غم شعر رهبر زما
د غني دې همه لارې ګډې وډې
ځان سره بې سره لو کاسر زما

۳۸)

مخ پلوشي)

گډې وډې:

مچ د زمري سترگې شکوي ماشی د اوښ وینه
خدایه، ستا دا عجیبه دنیا توره که سپینه
مږ لسوگیدړو ببرشیر په بونډۍ چرگه کړ
سپور شغان په پړانګ دی د غرڅه وو ښکار له ځینه
پریوځي چواړي ته ځان گاټه په رتۍ زرو کړي
ښکلي ستا د گوتو جوړه ځوانه نازنینه
ناسته ده د ډم د لندن لور په سرو وریښمو کې
لور دلوی شیرشاه لور یې په لاس دی لو له ځینه
مست مغروره سر د پښتون ټیټ سترگې یې ښکته دي
شرم داسې شرم چې شرمونه شرموینه
گډې وډې:

راشه راشه ساقي راشه
لرې ملا درې
په ما باندې بدې لگي
ستا پخې پخې خبرې
غټه پگه دې شه خاورې
عجیبه ته ځنا وړې
ته د مینې بې خبره
ته د حسن نه منکرې.... الخ – (۱۹۷-۱۹۶) مخونه پلوشي.
نور شعرونه:

د غني خان په نور شـعرونوکي هم د ژوند او مرګ په باب، د ښـه او بد په باب، د انسان د سعادت او نیکمرغۍ په باب مسایل مطرح شوي دي، د مثال په توګه دلته موږ یوازې د هغه د شعرونو او نظمونو نومونه راوړو چې د(پلوشــې) په اثرکې چاپ شـوي او د ژوند عمده مســایل یې په کې په فلسفي ژبه مطرح کړي دي لکه:

(څـه د پـاره ۱۳ مخ)،(پتیره دا دنیـا ۱۴مخ )،(لیونتوب ۲۴ مخ )، (د فقیرانو غزل ۳۵ مخ )، (فلسـفه ۶۸ مخ )، (حقیقت او مجاز ۶۹ مخ)، (چې د مستې په هستې جوړیږي ۷۱ مخ)، (منصور ۷۴ مخ)، (شان او شرنګ ۱۱۸ مخ)، (د مرګی ۱۶۴ مخ)، (بس دی افلاطونه ۲۰۷ مخ) او دغه ډول ځینې نور شعرونه چې د پانوس په اثرکې راغلي دي.

د مخه موږ د ځینو نمونو او مثالونو یادونه وکړه، یوازې په دې خاطر چې غني خان په شــعرونو کې د هغه د فلســفي لید توګي څرک ولګوو خو کله چې ځیرکیږو او د هغه د شعرونو بشپړه مطالعه کوو(چې البته موږ نه ده کړې)موږ په کې هر څه لیدلی شـــو په دې معنا چې، د غني خان په افکارو کې د اسـلامي تهذیب ژور تاثیرات شـته، سـره له دې چې د مغربي تهذیب پر ضد بغاوت کوي، خو د هغه له اغیزو انکار نه شو کولای.

د غني خان په افکارو باندې د ټیګور د شـــانتي نیکتین د ښـــوونځي اغیزه شته، د ښکلا پیژندنې او استیتیک په برخه کې خاصه نظریه لري، د هند د لرغونې فلسفي افکارو او ښکلاپیژندنې اغیزه شته، د ښکلا پیژندنې له اغیزو څخه منکریدای نشو.د مثال په توګه په دې باب هم د خپل شعر په باب متفاوت نظریات لري.

د افلاطون د فلسفي ښوونځي په باب اظهار کوي، د اسلامي تصوف او پانته ئيرم اغيزې د هغه په افکارو کې ليدلی شو، د موسيقۍ سره د هغه نا پايه مينه څرګنده ليدلی شو، د منصور د ان الحق آواز يې ډېر خوښيږي، د افلاطون د فلسفيانه افکارو په باب اظهار نظر کوي، د مثال په ډول د منصور په نوم شعرکې د منصور سرنوشت په دې ډول ترسيموي: د شعر ډېره لږه وروستۍ برخه:

د يار مخ يې چې وليد ډېر په درد او واويلا لاړ
بادشاه د ليونو هم له دنيا نه په ژړا لاړ
د نور نازنين تاو شو جانان د سترګو تور شو
يو لهو د مستي شو د جانان د زړه سرور شو
يو سوال و چې يار واوريده يو سوال و چې منظور شو
يو څاځکی د ارمان ډوب شو د مينې سمندر کې
عشاق د نور بڅرې د جانان د زړګي سرکې
او همدارنګه د افلاطون په باب وايې:
بس دی افلاطونه!فلسفه دي سنبال کېږده!
غونډ دې کړه دامونه خپل او ته دې دجال کېږده
دلته ټول تللي دي ستا د تللي نه اوچت
غرونه دعقاب دې د بللي نه اوچت
ستا سترګي روښانه دي خو زړه دې دروند او تور دی
تا کړه روښانه ستورې نه دی لار دی اور دی
سل کاله منطق کې يو ساعت د وصال کېږده
خوی شه د منصور په تور ډېران کې هلال کېږده

دغه راز غني خان د ځينو فلسفي افکارو د څرګند ترديد او د ځينو د څرګندې مننې سربيره نور هغه مسايل مطرح کړي، چې د پښتنې ټولنې د

عنعنې پورې اړه لري او په فلســـفي ډوله افکارو کې خیام ځای پر ځای یادوي او هم هغه مثال راوړي او هم د هغه د افکارو ځرک لګوي، چې په دې باب به وروسته مفصله پرتلنه وړاندې شي.

ســـره له دې چې زیاتو څېړنو ته اړه ده، خو لږ تر لږه د غني خان په شعرونو کې د (نور د فلسفې) ځرکونه د هندي لرغونې فلسفې له لارې هم شته.

په لنډه توګه غني خان د خپل وخت د یوه آزادۍ غوښـــتونکي مبارز آزادخیاله شاعر او نازکخیاله شاعر په توګه پیژنو، د هغه په اثارو کې موږ دغه یادې شوې اغیزې وینو، خو تر ټولو یو ټکی ډېر په زړه پورې دی او هغـه دا چې د غني خـان د (ژور افکـارو)محتوی د هلال ځرک، د اور اورکی، د رڼا ځرک، د ستار غمجنه نغمه، د یو داد ګرځېدو او ستنیدو هغه شـیبه چې ریاضـیت غوره کوي، په دار باندې د منصـور د ختلو هغه شـیبه چې د ان الحق په خاطر ځان(ابدي ښـــکلا)ســـره یو ځای کوي.او د خیام د عمر یو درنګ چې لږه شـــیبه په کې روحي آرام مومي پري تاکیدکوي او غوښتنه یې کوي.

عبدالغني خان په داســـې حال کې خپل هېواد ته راســـتون شـــو چې په شـــعر ویلویې پیل کړی و، د هندي اشـــعارو ډېر محبوب ایجادات یې را واخیستل، د ده توجه ټاګور او غالب ځان ته جلب کړې ده، او خصـوصـاً بیا عمرخیام ده ته ډېر نژدې دی، ده د خیام نه رندي، بزلـه ګویي عیاشـــي او می پرستي اقتباس کړې ده، مګر د غني وظیفه د استادانو په ساده تقلیدکې انحصاره نه ده، دی د یو پاخه ایجاد او ابتکار څښتن هم دی.([1])

---

[1]. ګټ.ف. ګیرس.د میرني اوس ادبیاتو (د مصتمد ژباړه)۱۸۱-۱۸۲ مخونه.

خو په لنډه توګه د هغه د لید توګي په باب ویلي شــو، چې غني خان د کوم مشــخص فلسـفي او فکري ښــوونځي ښوونکی او یا پیرو نه بلکې که داسې ووایو چې هغه د خپل وخت د سیاسـي پیښـو، فرهنګي چاپیریال او د ختیځ او لویدیځ د فرهنګي خلا نه متاثر شـــاعر او متفکر دی نو مبالغه به مو نه وي کړي، انسان او د هغه اختیار د هغه د فکر مرکزي مساله ده.

د هغه له دې ټولو وصیتونو، وعظونو او خبرو سره سره مهم ټکي دا هم دي چې ځرنګه خپل ولس ته پیغور ورکړي، ســپورې ســـتغې ورته ووایي او د استبداد او ظلم په خلاف یې بغاوت ته را وبولي.

نوټ : دشـــاعر دفلســـفي نړۍ لید او لید په باب په دویم ټوک کې بېلابېل اړخونه ځرګند شـــوي دي ـ پورتنې لیکنه له نن نه تقریبا دیرش کاله دمخه شـــوې ده چې په هغه مهال دومره زیات مواد اوماخذونه له ما سـره نه وو. په دویم ټوک کې دشــاعر عرفاني اوتصــوفي لید اســتیتیک او وجودي اصالت ښه ترا تشریح شوی دی ـ (کرګر )

# خیام او غني

## (خیام په پنځمه هجري پیړۍ کې او غني له موږ سره)

خیام:

خـیـامـه تـه تـش غـم یـې تشـــه تـیښـــتـه تـل فـرار
تـه د جـام او ســـاقي یـار یې یو خیشــتـه رنګین انکـار
عـجـیـبـه غـونـدې جـنـون یـې نـا امـیـد او بـې قـرار

ستا احساس د تن بنده دی په یو ښکلي رنځ بیمار
ته لمبه یې د تالاش د لټون او د ارمان
زړه او فکر د خزان، ښکلې ژبه د بهار
سر د بحر سرې چپې وې ډوب یې ویخ کې وې قرار
ته کشتئ د ګلو ډکه سرسري د کشتئ لار
انسان پلار دی د سبا هم بچی دی د پرون
دا هم جام دی هم ساقي دی څه وصال او څه بیلتون
دا یوساز دی چې روان دی د آواز د سرو کمال ته
یو د رنګ څاڅکی چې زغلي ځان رسئ د بوډئ ټال ته
دا ستا غم خوځه غم نه دی چې ډوبیږي په یو جام کې
د امید سپوږمئ پټه تورو لړو د ماښام کې
په دې مست ښکلي دماغ دې تور خور شوی د مرګ جال
د ساقي جمال پټ کړی، ستا د زړه نه بل جمال دی
یوه مسته اوشیرینه عجیبه د غم نغمه یې
د سرو زیړو ګلو ډکه یو رنګینه مقبره یې

د ټولنې روان هم په ولاړ حالت ولاړ او ډب دی، کله هم په خاصه زماني مقطع کې ددغه ډب په ویجاړولو د (دیوانو)او (پیریانو) زور هم نه رسي او کله هم دغه ډب دومره پوخ او نه ویجاړیدونکی بریښي، چې د ټولنې ټوله هستي او نیستي په خپل نس کې خوسا او ورسته کوي.د انساني ټولنې د خوځنده افکارو لپاره له همدغه ځایونو چینجی را پورته کیږي او د هغو په خوراک بوختیږي.

خو (زمان)له هرڅه زیات پیغام راوړونکی و، زمان ته یې (زروان)یا ناپایه زمان هم وایه او هغه د خپل چټک خوکله نا محسوس او کله هم محسوس تللو کې په هرمطلق د نابودئ ټاپه وهله او ترې تېریده خو د

ټولنې د وروستۍ او ناروغې ټولنې ډب ته ورته روان ځغاسته کله هم ددې او هغه متفکر، پوه، فیلسوف، شاعر او هنرمند په افکارو کې لیدلی شو.

موږ په فکري لحاظ داسې سرغړاوی زیات لیدلی شو، چې د شپې په تورتم کې د اور اورکيپه څیر را برېښـــیدلی دی.کله یې هم له زمان څخه دومره مخ ته حرکت کړی، چې پېړۍ وروسته د هغه په حادثه پوه شوی او بیا یې د وروســـته وختونو څیړونکي دې تـه رابللي دي، چې لـه زړو کتـابونو، ګردونه او خاورې پاکې کړي او د هغو زیړ او سره مښتې پاڼې په دقت او غور واړوي او په کې وګوري چې څه یې ویلي دي نو بیا خوحتماً دې ته رسېږي، چې د فکر په غورځنګ ((د فلک زور نه رسـي))د طبیعت پراخ او مسـت سـیندونه ځان ته لار پیدا کوي او د بارانونو له شـیبو او جړیو د شـیبو سـر په سـمندرونو کې هم غورځنګ وهي او زمان هم خپل آهنګ د همدې طبیعت څخه اخیسـتی دی او ښـه په خوند یې اخیسـتی دی.ځکه د طبیعت له اهنګ سره د زمان سندره د انسان د فکر او روان په سمندر کې یاغي کېږي. د ټولنې ولاړو بوتانو ته سـجده نه کوي.له هغو نه مخ اړوي، د تېرغم نه کوي، د راتلونکي په باب تشـویش له لاسـه ورکوي، ځکه چې خپل اصلي طبیعت ته ورګرځي او په دې ډول د معمول په ټولو سنتونوپښه ږدي.

ســـرغړاوی کوي، تمرد کوي، ځان ته چاپېریال جوړوي، د وربښـــمو د چینجي په څېر په خپله غوزه کې نه پاتې کېږي، بلکې د شــــاهین په څېر پرواز کوي، الوزي او د خپل فکر په ناپایه ســـمندر کې هم دا ډول لامبو وهي.که نورخپل ژوند د ماحول سـره په سـازش کې ویني، که نور معمول ښـه ګڼي که نور د لوی سـره لوی او د وړوکي سـره وړوکی او له... سـره څه دی، نو دې خو بیا دا ډول مســـخره نظم په لغته وهي او نســـکوره وي یې.که په جسـمي او عیني ډول یې نه شـي کولای، نو د فکر سـمندر خو یې

خپل دی.که طوفان په کې وي او که ارام، دی په کې خوند ویني، چې ځرنګه په کې غوپه شي، مرغلرې ترې راوباسي او ځرنګه یې د طوفان له ځپو سره خپله سندره غبرګه کړي.

په دې بحث کې موږ ددې قصد او تکل نه لرو، چې څوک د چا سره پرتله کړو او د دې تکل هم نه لرو، چې په دې او هغه فکري طرز باندې نقد وکړو خو دا به ډېره زړه خبره نه وي او نه به هم دمعمولي لیکنو په څیر (د ښه کوه بد مه کوه)سوال رامنځته کړي.بلکې هېله ده یو څه وي، داسې چې که نویوالی ونه لري، نو ډېر زوړوالی دې هم ونه لري.اصلي خبرې ته راځو او وایو، چې په دې ګړېږو، چې عمرخیام په پینځمه هجري پېړۍ کې و او غني له موږ سره و او دی، راځئ چې چا موږ ته څه را پرېښې او سبا نسلونو ته څوک څه ور پرېږدي.

په دې ډول که موږ د خیام په باب څه لیکل غواړو، د ډېرو ستونزو سره ځان مخامخ بولو. په دې معنا چې:( د فارسي ژبې نومیالی ژبور او متفکر په پینځمه هجري پېړۍ کې ژوند کاوه. د خیام شاعر د فکر نیلی د هغه د زماني په خاصو دښتو کې ځغاسته کړې او د فکري نړۍ په سمندر کې یې په زړه پورې اندېښنې او مسئلې طرح کړي او د خپل وخت خاصو موسیسو سره یې چلند کړی، اعتراض یې کړی او د خپل په نیلی یې خپله لاره وهلې، چې د مرګ او خوند متفکر او د هدونیزم د فلسفي افکارو ځښتن یې بولي.

خیام په دې باور و، چې د وخت رسمي نړۍ لید وجود د اسرارو له کشف څخه ناخبره ده.هرڅوک په خپل فکر طرح وړاندې کوي او څوک د حقایقو

جوهر نه شي راسپړلای.هغو چې ځان د علم او پوهې محور بولي، افسانې وايې او تحليل کوي.([1])

له بله پلوه د خيام له شـخصـي ژوند څخه زيات او څرګند آثار نه دي راپاتې، د هغه فلسـفي عقايد په نجوم، رياضـياتو د هغه په نورو علمي تحقيقاتوکې انعکاس نه دی کړی، بلکې يوازي او يوازي په رباعياتو کې هغه خپل عقايد په څرګنده او يا نا څرګنده توګه د وخت د سـخت مذهبي سانسور سره څرګندکړي او متعصبوکسانو د هغه په وړاندې عکس العمل هم ښودلی دی.

خو موږ دلته د هغه د ژوندانه په ټولنيز اقتصـادي چاپيريال څه زيات ويل نه غواړو بلکې يوازي د هغه په فکري طرز څه ناڅه ويل غواړو.دکتر جواد حديدی شاعران ايراني درنمايشنامه های فرانسوي.

تر سرخط لاندې مقاله کې د خيام په باب ليکي:

د خيام فلسفه په خاص ډول، د نن ورځې د اريايانو د فکري تګ لارې سره سرخوري، له دې امله هم په دې وروستيو سلوکالوکې يې په اروپاکې زيات شـهرت وګاټه، لکه چې په اروپاکې د هغه شـهرت عامل د هغه د رباعياتو ژباړې نه شـوګڼلی، البته په دې برخه کې، د هغه د رباعياتو د لومړي ژباړونکي ونډه(د فتيزجرالد)اروپايانو ته د هغه پيژندنه کې ډيره پياوړې وه خو دومره ښـه ژباړه نه وه، چې خيام يې دومره مشـهور کړ، بلکې د هغه د رباعياتود شهرت ډير مشهور راز، چې د يوه ژباړن په قول

[1].ژوندون مجله، ارکان نشراتي اتحاديه نويسينده ګان ج.د.الف.شماره۴، کال اول، ميزان او عقرب، ۳۳، مخ، غني خان د خپلو افکارو په پلوشو کې

د تورات او انجیل څخه هم زیات دی، د هغه په ژوره او اصیله فلسفه کې ده.....([1])

نوموړی محقیق چې اصـــلاً د خیام افکارو ته د یوې نمایشـــنامې له زاویې ګوري دومره په غور څېړنه نه کوي، خو د ځینو فاکتونو او حقایقو را وړاندې کول او په تاریخي لحاظ له هغه څخه د اروپایانو برداشـــت راڅرګندوي.

نوموړی د همدې مقالي په یوه بله برخه کې زیاتوي او لږ تر لږه د خیام په باب د اروپایي محققینوڅېړنو ته ګوته نیسي.

هغه خیام چې فرانســـویانو په هغه وخت کې پیژانده د نیکلا د ژباړې له مخې (یعنې په فرانسوي د خیام د آثارو د لومړي ژباړن له مخې)عارف شـاعر و، چې د می خوارو او اته ایسـتو په ژبه یې سـتر فلسـفي او عرفاني افکار بیان کړي دي، دا واقعیت دی چې دا دواړه سـره سـازش نه لري، له دې امله د عرفان د مراحلو د تشـــریح په ترڅ کې او د خیام د افکارو د توجیه په برخه کې او په خاص ډول هغه څه چې نوموړی د تصـــوف په بـاب پوهیده نیکلا هڅـه کړې خو لږپوه شـــوی او څـه نتیجې تـه نـه دی رســېدلی، د نولســمې پیړۍ د وروســتیو شــپو خیام نه زیاتو کســانو دغه تفسیرونه ناسم بلل، د رباعیاتوڅرګندونې پرته له دې چې په هغو کې تغیر راشـي، قبلولی یې، له هغې ډلې څخه یوه پوه چې (موریس بوشـور) نومیده عقیده څرګندوي چې خیام د وحدت وجود پلوی دی، ښایې دا نظر د خیام په باب صدق ونه کړي([2]).

[1].برخو ردانديشه ها داكتر جواد حديدي (شاعران ایران رنماشينامه های فرانسوی) ۱۵۷ مخ.
[2].همدغه اثر. ۱۵۹ مخ.

بو شور د خپلي نمايشنامې په سرکې چې هغه يې خپل کار ته وهڅاوه د خپل فکر يووالی له خيام سره دا ډول څرګندوي:

(زه د خيام د مکتب يو پيرو يم د شــرابو خم، د شــرابو جام او ښــکلی شاهد دا دی. زما په نظر ټول ژوند، عقل او حکمت )([1]).

د نوموړي محقيق په نظربوشــور په اســلامي تيولوجي ســخته عقيده لري او په دې برخه کې د زيات افراط څخه کار اخلي.

له ډيره وخته راهيســي ســپوږمۍ ځليږي، ډيره پســته وږمه چليږي، شــوګيرکوونکې خوښ ســاتي، يوه ډله د ســپوږمۍ رڼا ته ناســت دي او د عشق په شرابو مست خبرې اترې کوي، په يوې خوا کې کوډله ده چې په ګلونوکې ډوبه ده، ډير ښـــکلی باغ او ځلانده چينه ده، چې دونو لاندې جريان لري، همدې جونګړې په خوا کې ميخانه ده، د چينې له آواز نه پرته او د عاشقانو له آوازه پرته بل څه غږ غوږته نه را رسي.

خو ناڅاپه د شپې سکوت ماتيږي، د ميخانې دروازه ماتيږي او خيام په قهر او غضـــب تري رابهر کيږي، د مې پلوونکوســـره يې اختلاف پيدا شوی دی:

د يوجام شرابو له پاره مې

خپل دفتر او پټکی وپلوره

بيا هم بس نه ده

---

[1]. برخو ر د انديشه ها، دوکتور جواد حديدي(شاعران ايراني در نمايشنامه های فرانسوی)۱۵۷ مخ.

کاشکې چې کولای مې شوای

ستوري، لمر ا وسپوږمۍ ګروه کړم.

افسوس چې جیب مې خالي دی.

او بیا د مستۍ په حالت ځانته داسې تسکین ورکوي:

ډیرښه راشئ چې فلسفه باقې وکوخود څه په باب، دشرابو په باب([1]).

ګرانو دوستانو، ځینو شراب پر ما حرام کړي، ډیره ښه...خو امکان لري چې غوښتنه زما زړه کې او ګناه زما په خوا کې ځای کړي.

دا په دي معنا ده چې خداې وایې: خیامه، زما بنده، دا جام واخله او هغه نسکور کړه.

خو افسوس پرتا که یو څاڅکې یې پرځمکه توی کړې. او بیا:

له ازله پوهیدم چې زه به شرابخور شم.

که نن د شراب خورۍ نه لاس واخلم.

نو.......([2]).

خو د داکتر جواد حدیدی څېړنه ډیره لنډه ده، د خیام د ژوند په ټولو خواوو رڼا نه اچوي، یوازې د یو بهرني اروپایي هنرمند د نمایشـــنامې له نندارې ورته ګوري او په هغه بسنه کوي خو د فارسي ژبې ستر معاصر

---

[1]. همدغه اثر، ۱۶۰او ۱۶۱ م.م.

[2].همدغه اثر.۱۶۲ م.

کیســـه لیکونکې او محقق صــــادق هدایت چې جواد حدیدي هم د هغه له اثرڅخه فیض موندلی په خپل مشـــهور اثر (ترانه های خیام) کې څه نا څه بشــپړه څېړنه کوي، د خیام د شــخصــیت علمي، فلســفي، هنري او رواني ابعاد څېړي او له دې دا هم جوتېږي چې نوموړی د خاصـــې علاقه مندۍ له مخې دا کارکوي، نوموړی هم د فتیز جرالد د فرانســوی ژباړي په باب وايي:

فتیز جرالد نه یوازې د خیام د رباعیاتو ژباړن بلکې د هغه له فلسـفي افکـارو هم متـاثر... هغـه د خپـل ذوق او درک لـه مخې د خیـام اصـــلي رباعیات پیژندلي دي، نیکلا فرانسوي ژباړه خیام یو صوفي شاعر بولي او عقیده لري چې خیام عشـــق او الوهیت د شـــرابو او ســـاقي په جام کې څرګندوي([1]).

(مرصادالعباد)د نجم الدین رازي له خوا په ۶۲۰ کال کې تالیف شوی دی، د دغه اثرلیکونکی متعصـــبه صـــوفي و او د خیام عقیدت ردوي، نوموړی وايي.

د نظر ثمره ایمان دی او د قدم ثمره عرفان، فلسفه د هرې او طبایعي دوه مقامونو محروم دی لالهانده او سر ګردانه ده.

یوه فاضـل چې د رندو په نزد په فضـل او حکمت او پوهه معروف او مشهور دی هغه عمرخیام دی او هغه له ډیره تعجبه دا بیت وايي:([2]).

رباعي:

[1].ترانه های خیام، صادق هدایت، امیر کبیر ۱۱مخ (۱۳۴۲ )کال تهران.
[2].همدغه اثر.۱۳ مخ.

در دایـره ای کـامـدن و رفـتـن مـاسـت
آن رانـه بـدایـت نـه نـهـایـت پـیـداسـت
کـس مـی نـزنـد د مـی دریـن عـالـم راسـت
کـایـن آمـدن از کـجـا و رفـتـن بـکـجـاسـت

رباعي:

دارنـده چـې تـرکـیـب طـبـایـع ار اسـت
بـاز از چـه سـبـب نکنـدش انـدر کم و کـاسـت
گـرزشـت آمـد ایـن صـور عـیـب کـه راسـت
ورنـیـک اور خـرابـی از بـهـر چـه خـواسـت

صـادق هدایت د نجم الدین رازي له تعصـبه ډک چلند څخه بالعکس نتیجه اخلي او لیکي:

دغه مشـخص قضـاوت دخیام د فلسـفې او فکر دپیژندلوپه برخه کې خاص ارزښـت لري، صـوفي مشـربه مولف د ژبې له نیش اوخیام ته له کنځلو ډډه نه ده کړې خو د زمان د نژدې والي او هغه سـره د یو وخت والي له امله چې دخیام په باب عقیده څرگندوي، ایا په خپله ددې دلیل نه دی چې خیام نه یوازې صوفي نه و بلکې د دغه فرقې سخت دښمن هم. کله چې د خیام د افکارو په باب څه ویل غواړو په هماغه اندازه چې د هغه دعصرصوفي نه و، بلکې د دغه فرقې سخت دښمن هم و([1]).

کله چې د خیام د افکارو په باب څه ویل غواړو په هماغه اندازه چې د هغه د عصـرصـوفي ته د هغه په باب د بدو رد ویل آسـان کار و، موږ د

[1].ترانه های خیام، صادق هدایت ۱۸ مخ.

همدغه ډول ټولنيزو او رواني ستونزو او اتموسفير له مخې د هغه د عقايدو تائيد په باب ستونزې لرو، هيڅکله په څرګند ډول اظهار نظر نه شوکولی. خو د دې جرآت به وکړو چې د خيام متسي او بدمستي په فلسفي لحاظ ډيره د ستاينې وړ ده، هغه ډير جبون، بې زړه او نامرده کسان محکومول، هغه د خپلې ټولنې د منفي کرکټرونو څخه کرکه کوله، د مقام غوښــتوونکو چاپلوسو او ډارنو کسانو غندنه يې کوله، خو هغه که د جسمي او عيني سر غړاوي وس نه لري، نو غلی هم نه کيني، بلکې له خپلو رباعياتو توره جوړ وي او د وخت په حاکمه او مستبده موسسه فکري يرغل کوي او کله هم دې ته اړ کيږي چې د ټولو ناخوالو زغم له لاســه ورکوي او له هغو په فکري توګه فرار او تيښته کوي.

د صادق هدايت په قول نوموړی:

له پېل څخه ژوند تريخ او بې خونده باله او د خپلو دردونو د ارويي په شرابوکې پلټل..........

امــروز کــه نــوبــت جــوانــی مــن اســـت
مــی نــوشـــم ازآن کــه کــامــرانــی مــن اســـت
عيبم مـکنيـد کــه چــه تلخ اســـت خوش اســـت
تــلــخ اســـت چــراکــه زنــدګــانــی مــن اســـت

او د ځوانی او ځلميتوب د تلو په باب هم افسوس کوي:

افســـوس کـــه نــامــه جــوانـــی طـــی شـــد
وان تـــازه بـــهـــار زنـــدګـــانـــی طـــی شـــد
خـــالـــی کـــه او را نـــام جـــوانـــی ګـــفـــتـــنـــد

مـعـلـوم نشـــــد او کــه کــی آمــد کــی شـــــد([1])

نوموړی محقق یعنې د (ترانــه هــای خیــام) د اثر څېړونکی د خیـام افکار د وخت په ټولنه کې داوړدو مودو د فکري او رواني رنځ څخه انسان د ژغورلو او له هغه څخه د تیښتې د چارې په توګه تعبیروي او لیکي:

د بشـــر د میلونونو نســـلونو، خپګانونو، امیدونو، ویرې، اضـــطرابونو، دردونو انعکاس د هغه فریادونه دي چې پرلـه پسـې توګه یې ورته عذاب او رنځ ورکړی دی، خیام هڅه کوي په خپلو ترانوکې په خپل خاص ســـبک او ژبه دا ټول مشـــکلات معنا ګانې او مجهولات څرګند او بې پروا حل کړي، هغه د عصـــباني او زهر لرونکو خنداوو لاندې د مینې او فلســـفي مسایل بیانوي او بیا ورته د حل محسوسه او عقلي لاره ګوري([2]).

د خیام شـــخصـــیت لکه څنګه چې ترمخه مو وویل په خپل وخت کې څو ابعاده لري.ریاضـــي پوه دی، نجوم پوه دی او له نورو متداوله علومو ســره هم سراو کار لري.

خو په فلسـفي لحاظ د هغه د افکارو څرکونه په نورو فکري جریاناتو کې هم لېدلی شو، په دي معنا چې (ورته عوامل، ورته قضایاوې رامنځ ته کوي).

د خیام افکار په ځانګړي توګه د ټولو لویو فلاسـفه وو او شـاعرانو په افکارو کې پیدا کیږي، خو په هرحال له هغو هر یو هم د خیام له هغو ټولو څخه ترمخه دی، د خیام ســپینه څېره له هرڅه زیات هغه د یو فیلســوف او

1. همدغه اثر ۲۵ مخ.
2. همدغه اثر، ۲۶ مخ.

لوی شاعر د لوکرسیوس اپیکور، گوته، شکپیر او شوپن هاور په څېر پېژني([1]).

(په ډېره زړوتیا او بې باکۍ او بې رحمه منطق سره د خپل عصر ټولې فکري بد مرغۍ او دستوري فلسفې غندي....).

خیام په خپلو رباعیاتوکې (د خپلو نورو آثارو په پرتله) ټولې پېښونې بل خوا پرېږدي، ځکه په دې ترانوکې چې د هغه روحي ټپونه وو هیڅکله د خپل چاپېریال د قوانینو او چنجي خوړلو احساسونو د بار لاندې نه ځي، لکه برعکس د منطق له مخې په هغو ټولو افکارو ملنډې وهي، د چاپېریال د موهوماتو او خرافاتو سره د خیام جنګ د هغه په ټولو ترانو کې څرګند دي او د هغه ټولې ملنډې او د زهر ډکې خنداوې د وخت فقهیانو او زاهدانو ته متوجه دي او په دومره زبردستۍ د هغو دماغ مسمومول چې مثال نه لري، خیام په هغه دنیا کې په ټولو مسایلو باندې ملنډې وهي او په شک ورته ګوري او دغه ډول مسایل د(ګویند)په کلمه پیل کوي وایي:

ګویند بهشت وحور عین خواهد بود

ګویند مرا بهشت باخورخوش است

ګویند مراکه د وزخی باشد مست([2])

خیام په دې عقیده دی چې انسان په دې نړۍ کې د خپل سرنوشت بندي دی، خیام انسان د طبیعت په وړاندې بې وسه بولي او د هغه اراده هم بې وسه، نوموړی یوه اوچت قدرت ته قایل دی او داسې فکرکوي چې

[1].ترانه های خیام، صادق هدایت ۲۷ مخ.
[2].همدغه اثر (۲۹او ۳۰ )مخونه.

نېکي او بدي، غم او ښــادي د تقديرکار نه دی، انســان په دې چاپيريال کې ميلمه دی او د ده عمر د باد او اوبو په څېر په تګ کې دی يو پوه ليکي:

د انسان هستي هغه جام ته ورته ده چې عقل ورته آفرين وايي خو د د هر کوزه ګر د هغه لطيف جام په ډير قهر ســـره په ځمکه غورځوي، په زړه پورې ده چې ان انســان نه راضــي کيږي، چې دهغې پيالې ټوټې چې ســره تړلې دي ، بيلې شــي خو دغه ټولې نازنينې څېرې د مرګ د قهرجن قوت له خوا له منځه ځي.

د انسان د هستۍ ذات په ټول چاپيريال کې تيت دی، هغه بنفشه چې د ويالې په غاړه را ټوکېدلی او د کوزې د غاړې يا لاســـتې، د فرښـــتو خالد معشوقو په غاړه د عاشقانو لاس دی.

د خيام په عقيده د کايناتو او دونيا معما په هيڅ ډول حقيقت ته نه يو رســـېدلی، د دې ځمکې اخوا ته چې موږ يې پر مخ ژوند کوو نه ســـعادت شته او نه عقوبت، تير او راتلونکی دوه نيستۍ دي او موږ د دوه نيستيوتر منځ چې د دوه دنياوو پوله ده ژوندی يو انسان بايد څه وکړي؟يوه لاره لري او هغه دا چې د هرې شيبې نه خوند واخلي او د ګټې په اخيستلوکې تلوار وکړي، خيام په نظر د شنو او تازه کروندو په څنګ کې د سپوږمۍ په رڼا کې چې د ارغواني شــرابو په جام کې زرګونه ســيوري منعکس کيږي، د جنګ زړه وړونکی آهنګ ښکلي ساقيان او نوي غوړيدلي ګلونه، د ژوندانه حقيقت دی، چې د يوه ډاروونکي خوب په څېر د انسان له ذهنه تيريږي.

د هدايت په قول:

د خیام د فکریوه ځانګړنه دا ده چې هر وخت د غم، مصیبت، نیستئ او مرګ سره مخامخ دی او په همدغه حال کې چې خوښي او خوشحالئ ته رابلنه کوي نو د خوښئ کلمه یې په ستونې کې بندیږي([1]).

نوموړی وایي:

دوزخ شـــــوری زرنـــج بـــیـــهـــوده مـــاســـــت
فـــردوس دمـــی زوقـــت اســـــوده ی مـــاســـــت([2])

خیام د ښــکلا جمال او ښــایســت لیوال دی، په هرڅه کې ښــکلا او ښـایسـت، مسـتي او شـراب آهنګ او منظره غوره بولي، بدي او خوښــي د خپل بې ځایه رنځ او یوه شـیبه ښــه او خوشـحال حالت مظاهربولي خو کله چې د همدغه افکارو لړۍ د غني خان ســـمندر ته ورته ســـیندکې او د کهکشـــان په څېر پراخه فکري دنیا کې ګورو هلته یې هم په بل ډول لېدلی شو، د غني خان په اشعارو کې ځای په ځای د خیام یادونه شوې ده او ځای په ځای په کې د معمول نظم پرخلاف ســـرغړاوی لیدلی شـــو خو د زمان عنصر په کې ډېر پیاوړی او څرګند دی.

## غني خان له موړ سره:

موړ ترمخه د عمر خیام د ژوند او افکارو په باب څه نا څه وویل او په دې پوه شو چې خیام د پنځمې هجري پیړۍ د مناسباتو په شته والي کې منځ ته راغلی، د هغه وخت د موسسو سره مخامخ شوی، عکس العمل یې

[1]. ترانه های خیام هدایت صادق ۳۴ مخ.
[2]. همدغه اثر۱۵ مخ.

ښــودلی دی او د خپل خاص فکري طرز پلوشــې یې په خپلو رباعیاتو کې ځلولي دي، خو غني له موږ سره دی.

غني زموږ د دوران او ملي آزادۍ ښونکو مبارزو او غورځنګونو د دوران د یوې خاصې زمانې مقطع محصول دی، د هغه د افکارو اتموسفیر د همدغه زمان او د هغه له چاپیریال څخه جوړ شــوی او د ده په شــعر او شاعري کې اثر ښندلی دی.

غني خان د هند په لویه وچه باندې د انګریزۍ استعمار د لاسبرۍ په شرایطوکې راپورته شوی، هغه په خپل حساس ذهن د انګریزي استعمار له خوا د خپل ولس، خلکو، تحقیر، ســپکاوی، رټنه او ټیل وهنه لېدلې چې یې سم له ځانه سره دغې خاورې ته راوړې وه.

او له هرڅه ترمخه انګریزي استعمار له خوا سپکاوی، ټیل وهنه او زندان تیرونه یې د خپلې مبارزې کورنۍ په تیره د خپل مبارز پلار او پر ځان احساس کړی دی او بیا یې د یوه باغروره انسان په څېر پېټ او ځرګند عکس العمل ښودلی دی، په دې ډول ده چې ویلي شو:

غني خان سره له دې چې زموږ د زمانې او زموږ د پیړۍ ډیر اوچت او بې مثاله شاعر دی خو د دې یادونه هم ضرور ده چې د هغه شخصیت هم څوبعدونه او خواوې لري، هغه د خپل وخت ســیاســت پوه دی، د خپل وخت سرلښکر دی، د خپل دوران او زموږ د دوران متفکر او فلسفي دی.

شاعر او هنرمند دی او په شعر او هنر کې د اوچت او ډیر اعلی تخیل ښتن دی، د هغه شــعر واقعاً او په ربښــتنې معنا شــعر دی، چې دې برخه کې به وروسته نورې خبرې هم وکړو.

ترکومه ځایه پورې چې د غني خان شــعر او هنر ښــکلی او رنګین دی، د هغه شخصـي ژوند او مشخص کړه وړه همداسـې رنګین او د خوند له شیبو ډک دي، هغه یو شـاعردی، خو داسـې شـاعر نه دی چې په ژورو الفاظو ګړېږي او پرې شعر وایي.

د معمول چاپېریال د مسخره نظم او د بې خونده روزګار او د (خرګي جهان)د ټولنې پر خلاف د هغه تمرد او سرغړاوی د هغه شعرته زیات ځه ورکړي دي.

دلته سره له دې چې د هغه په شخصي ژوندانه باندې زیاتوځه ویلو ته اړه نه شـته خو د جناب پاچاخان د ځو لیکونو د ځو کرښـونه د هغه آزاد او سرشاره او مست طبیعت اندازه لګولی شو چې لیکي:

سامبرتې سنټرل جیل احمد آباد

۲۴ر۵ر۱۹۳۵

(غني جانه! د هر چا ښـه والی او بدوالی د ځان دپاره دی، که چېرې یو سـړی ښــه شــي نو هغه ته به فایده وي او که چېري بد شــي نو هغه به په تکلیف کې وي)([1]).

غني جان!دا خو ډېره د خوشـالۍ خبره ده چې د ګاندهي جی په صــلاح او مشورې سره ته بنګال ته روان یې، زه له تا نه ډېرخوشاله یم که چېرې ته د ګاندهي جي په سلا سره کار کوې، د هغه هم تا سره ډېره مینه ده، کله

[1].د خان عبدالغفار خان لیکونه، لومړی برخه، (عبدالله خدمتګار مقدمه او تعلیقات)۲۷ مخ.

نا کله هغه ما ته په خپلو خطونو کې لیکي، ما ته د بنګال نه ضـــرور په دویمه هفته یوخط لیکه.

دغه راز په بل لیک کې لیکي:

زما اراده خو تاته د خط لیکلونه وه، دا نه چې ګڼې زما تاســـره محبت نشته دی، بلکې د دې دپاره چې ته د یو عجیبه خیال او عجیبه اصول سړی یې، همیشـــه هغه کوې چې څه ســـتا زړه یې غواړي خواه که په هغه ســـتا نقصـــان هم وي، د هیچا د مشـــورې پابند او محتاج نه یې په دې وجه تا ته لیکل نه لیکل برابر دي، لیکن د هغه پدري محبت نه مجبور شـــوی تاته دا خط لیکم.([1]).

خوږه غني جانه! چې یو یو ســـړی یو طرف ته خو غلطي کوي او بل طرف ته هغه غلطي ته غلطي نه وایي، نو د هغه اصلاح مشکله ده([2]).

د دې یادښتونو څخه زموږ مطلب یوازې دا دي چې غني د ډیر سرشاره او مســـت طبیعت خاوند و، هغه د خپل چاپیریال د ټولو ناخوالو پر ضـــد سرغړاوی کړی دی، که د ښه او بد په باب ډیرنصیحتونه اوریدلي هم دي نو د هغه مست او سـرشـاره طبیعت هغه ته د فایدې اوچتولو څه انګیزه نه وه ورکړې.

له بله پلوه بنګال ته د ګاندهي جي په مشـوره سـفر او کار کول د هغه د سیاسي ژوندانه د یوې ډیرې مهمې او حساسي شیبې څرکونه را کوي چې نورې پلټنې او څیړنې ته اړه لري، دا چې لولو: (یو سـړی یو طرف ته خو غلطي کوي او بل طرف ته هغه غلطي ته غلطي نه وایي...) (۳)داسـمه ده

[1]. همدغه اثر.۲۸ مخ.
[2]. همدغه اثر. ۷۸ مخ.

په عادي او معمول ژوندکې باید ورته دقت او غور وشي، خو کله چې آزاد خیال او آزادي پرسته انسان په زندان ته ورته ماحول کې ځان له هر ډول او هاموڅخه وژغوري، نو بیا خو طبعاً هغه ته د معاش نورمونه، سنتونه او د مسخره نظم اجزاوې بریښي نه بل څه اوکېدای شي د رواني او فلسفي څېړنو په ترڅ کې دې نتیجې ته ډیرپاخه ورسېږو.

یو لیکوال د خیام په باب لیکي:

که خیام هغه څه چې په شعر کې یې ویلې دي په نثر کې یې هم ووایي، یوه شیبه وروسته به د هغه جسد د نیشاپور په دروازه کې ځوړند وای: نو ضرور او حتمي څه لیکي او د گالیله په څېر په زړه کې خپله عقیده ساتي، خو مست زړه یې آرام نه کوي او د دغو شخړو نتیجه د هغه له رباعیاتو څخه عبارت ده چې اوس زموږ په وړاندې دي[1].

خو غنې خان دوران بېل دوران دی، دی هم په هماغه موسسو ملنډې وهي هغه مسخره کوي او د هغو بې ماهیتي خلکو ته په ډاگه کوي له یوې خوا نوموړی مخ د استعمار او د هغه د تحفظ لاندې موسساتو سره مخامخ دی او له بلې خوا یې خپل افکار په اوچته شعري ژبه څرگندکړي دي.

غني خان په اشعاروکې شعرځای پرځای کله هم د ځان پرځای د خیام یادونه شوې ده، لکه هغه چې: موږ د دې خبرو په پېل کې د نمونې له پاره راوړو.

او په نورو برخو کې هم د خیام زیاتې یادونې راغلې دي، لکه د ماښام په نوم د شعر په یوه برخه کې:

---

[1].نګاه.مصطفي رحیمي ۳۲ مخ د مقالو مجموعه (۱۳۵۰ کال زمان ).

ما خو یو څاڅکی خمار کې ډوب که
جا نه جانان اوچت کړه جام
خوده بې خوده هغه سروره
چې ستا علاج دی نشه په جام کې
نا پیمانه کې د ساقي شته دی
نه په خندا کې د دلارام
خو راغله وریځه او ساز مهین شو
او په روښان روښان په تور ماښام شو
راکه چې وڅکم او لیونی شم
د نن ثواب یې ټول د خیام شو

دغه راز په دي شعر کې هم وینو:

چې مستې نه هستې جوړیږي

پوره سپوږمۍ چې دورو کېږي
ژوندیې پخیږي غم یې زیاتیږي
ډیر ارمانونه پوره او لږ نیم کړي
چرته محل یو نیم ډیري جونګړي
ستار کې شرنګ هغه د ماښام دی
سرود په سترګو کې د خیام نشته دی
د نور شغلو کې شفق غرقیږي
چې د مستې نه هستې جوړیږي

د دي یادونه ضرور ده چې ووایو البته په دي شعرونو کې یوازې د خیام یادونه او د خیام د نامه یادول مهم نه دي بلکې د تصویر له مخې هم

اهمیت لري او خاص فلســفي اظهار نظر دی او هغه په همدې فلســفي څرګندونوکې که له یوې خوا ډیروڅرګندو مثالونو ته اشاره کوي او هغه په ګوته کوي نو له بلې خوا د ژوند معما یوه انساني تیروتنه بولي.

لکه چې وایې:

ســـقراط دغـه ځـای کـې تـیـروتـلـی
ایـمـان د وخـت فـلســفـولـه یـو وړه
دغـلـتـه ورک دغـلـتـه شـوی غـنـي
زړګـی د خـپـل پـردو سـیـنـو لـه یـووړه
خـیـامـه دغـه سـتـا د مـرګ وسـاعـت
چـې خـپـل سـرور دی صـراحـو لـه یـووړه
مـنصـوره ځـکـه خـو پـردار وخـتـې
چـې د اشـنـا راز دې حـجـرو لـه یـووړه

دا ظـلـم دی زمـا جـانـانـه
چـې دې هـر ګـل خـاورې کـیـدو لـه یـووړه([1])

غني خان هم د خیام په څېر د دنیا د روزګار شـیبې په(دم غنیمت)کې ویني او حتی په ډیره اصــطلاحي معنا ورته (پتیره دنیا)وایي، د پتیروالی مفهوم په پښـتنی عامیانه فرهنګ کې ډیر دلمس وړ دی شــعر په دي ډول دی.

خـانـده نـن مـه کـوه غـمـونـه د سـبـا
بـنـه پـوهـېـږې ده پـتـیـره دا دنـیـا

---

[1].پانوس، د غني خان د شعرونو مجموعه د پیښور چاپ ۲۱۷ مخ.

د کـر وخـت کـې د غـوبـل فـکـرونـه مـه کـړه
خـوره او څښـــه حســـاب کـتـاب يـې مـه مـنـا
د تـــنـــدې لـــيـــکـــې نشـــې گـــرځـــولـــی
پـــه ويـــرونـــو پـــه ژړا پـــه واويـــلا
دا ځـوانـې بـه هـمـيشـــه نـه وي تـا ســـره
څـــه را کـــړه د يـــارانـــو پـــه رضـــا
ســـبـا بـيـا خـدای د چـرســـيـانـو مســـالـه ده
تـــريـــنـــه نشـــتـــه زوره وره مســـــلا
نـن دې زړه لـه ټـول اخـتـيـار د بـادشـــا ورکـړه
ســـبـا خـدای خـبـر چـې څـه بـه وي ســـبـا
راځـــه وخـــانـــده چـې وخـــانـــدې غـــنـــي هـم
ورلـــه نـــه ورکـوي خـونـد ځـانـلـه خـنـدا ([1] )

غني خان هم په خپل يو شـــعر او يا څوشـــعرونو کې د فرانســـوي نمايشنامه ليکوونکي دغه تصوير په بل ډول ترسيموي چې خيام: (د يو جام شرابو له پاره خپل دفتر او پټکی وپلوره....)

جـام مي مـات شـــوميخـانــه کې ليونی ترې غلی پـاڅيـد
زړه مې ډک د رنګـه يوړه دی روان کوڅو د يـار لـه

غني خان د يو لوړ او اوچت هنرمند په توګه ځانته بيله دنياجوړه کړې ده او دی په همدغه دنيا کې ژوندکوي، د همدغه محل څخه د روانې معاشرې وروسته کاروان ګوري او د هغه شاعرانه جاج لګوي، غني خان هم ځای پرځای په خپلو شـعرونو کې د انسـان د ماضـي او مستقبل په باب

[1].همدغه اثر. ۲۲۶ مخ.

خپل نظر ځرګندکړی دی، هغه نه په ماضـــي کې خوند ويني او نه هم په مستقبل کې بلکې د دغه دواړو سمندرونو تر منځ يو شيبه د خوند او رنګ شيبه ژوند بولي، هغه په همدغه فکري جريان کې او له همدې زاويې څخه په شــيخ او ملا ملنډې وهي، هغه مســخره کوي او ځان د شــاه توت هغه ځانګه بولي چې له هغې ســتار جوړ شـــي او هغه د ژوندانه ابدي ســندره وايي، او ځان د دې عيني دنيا څخه ژغوري، تيښــته کوي او د يوې شــيبې کرار په لټه کې کېږي.

د مثال په ډول د تلي مرګ په نوم لولو:

تلی مرګ

په لـکـهـا کـالـه اوده وي
يـو ســاعـت لـه رابـيـدار شــي
څـو لـکـهـا بـه نـور اوده وي
چـې روان د مـرګ پـه لار شــي
شــاتــه تـور يـو ســمـنـدر دی
مـخـکښـې لانـوره بـلاده
مـيـنـځ کـې يـو دشــبـنـم څـاڅـکـی
پـه غـورزنـګ لـکـه ابشــار شــي
د آدم زړه د کـتـو دی
داســې تـلـو داســې راتـلـو کـې
دی بـې خـوده شــي خـمـار شــي
وو پـکـار چـې ســاعـت ژونـدی
پـه ژړا تـيـروي
کـه دې ډيـر پـه لـيـلـی مسـت شــي

خــو آخــر بــه د مــرګ يــار شـــي
نــه پــه تــلــی مــرګ ســـتــومــان يــم
نـــه راتـــلـــونـــکـــی نـــه يـــريـــږم
زه بـــه تـــل دغـــې تـــه خـــانـــدم
کــه پــه اور شـــي کــه پــه دار شـــي
پــاتــې پــاتــې دي قــيصـــې شـــوې
د دوزخ د حســـابـــونـــو
دغـــه شـــی د مـــلا جـــان دی
زه خـــو ســـتـــا د مـــيـــنـــې يـــار
او کـــه وي چـــې ســـوزه ســـوزم
عشـــق کـــې نشـــتـــه افـــکـــارونـــه
زه څـــه شـــيـــخ مـــلا خـــو نـــه يـــم
چـــې نـــه کـــار کـــوم نـــه انـــکـــار
څـــه د ســـوو ګـــودړه نـــه يـــم
ســـاهـــو څـــانـــګـــه دشـــاه تـــوت يـــم
رانـــه جـــوړ کـــه يـــو رنـــګـــيـــن
او لـــونـــګـــيـــن غـــونـــد ې ســـتـــار
کـــه يـــو ټـــنـــګ وي کـــه زر ټـــنـــګـــه
ښـــه پـــه ســـر کـــې بـــه غـــړيـــږم
يـــو قـــطـــره ســـتـــا د دريـــاب
يـــو ښـــکـــالـــو ســـتـــا د خـــمـــار
ای زمـــا د ســـتـــرګـــو تـــوره
دا يـــو خـــو پـــکـــې واوره
دلـــتـــه ســـوی يـــمـــه ډيـــر

نــــورې پــــریــــږده پـــه قـــلار ( (1) )

نو په دې ډول په لنډه توګه ویلی شـو چې خیام د پنځمې هجري پیړۍ شــــاعراو متفکردی، خپل افکار او عقاید یې په خپلو رباعیاتو کې ځرګند کړي دي.

غني خان زموږ د پیړۍ او دوران شــــاعر دی، ده خپل افکار په خپلو شعرونو، غزلو، پلوشو او نظمونوکې ځرګند کړي دي.

خیام ته محقیقین د هندوییزم یا (د لذت د کیت)د افکارو پیرو وایي:

د غني خان په شعرونوکې کله هم د خیام د یادونې په ترڅ کې خیام ته خطاب کوي.

کله هم د ځان ځومره چې خیام د وخت د سانسور خیال ساتي، غني خان ورسره په ډیره بې باکۍ او هیڅ خیال نه ساتلو برخورد کوي.

د خیام افکارو د وخت په ټولنه کې د اوږدو مودو د فکري او رواني رنځ څخه د انســان د ژغورلو او له هغه څخه د تیښــتې د چارې په توګه را ځرګندیږي خو د غني خان په شـــعرونو کې د زمان عنصـــر ډیر پیاوړی دی، د وخـت د شـــرایطو اغیزه پـه کې بیخي ځرګنـده ده، غني خـان د انګریزي استعمار ضد ملي آزادي ښونکی غورځنګ سرلښکر مبارز او شــاعر دی، په دې ډول ده چې د غني خان په شــعرونو کې یوازې د خیام د فلسـفې افکارو سـربېره د ارتجاعي موسـسـو سـرغړاوی، وطنپرسـتی او د اســـتبداد، ارتجاع او اســـتعمار ضـــد مبارزه او په معاشـــره کې د منفي کرکترونو پر ضد احساسات هم شته او د دې په خوا کې د ټولنیزو بدمرغیو

[1] .پانوس د غني خان د شعرونو مجموعه د پیښور چاپ ۷۹ مخ.

ناخوالو ځخه د هغه د فطري او ذاتي طبيعت سره موازي يو ډول تيښته او فرار هم ځرګنديږي.

د مقام، ځان غوښتنې او اقتدار پر ضد هم خپله کرکه ځرګندوي.

غني خان يوازي فلســفي شــاعرنه دی، بلکې د فلســفې په خوا کې د اوچت تخيل او بې سارې خلاقيت ځښتن هم دی.

په مجموع کې د هرشـــاعر او هر متفکر په څېر د غني خان هنري، سياسي انقلابي او ټولنيز شخصيت کې د هغه چاپيريال سياسي غورځنګ کورنی، وخت او ټول فکتورونه خپل وو او دی.

يادونه :

دا مقاله دغني دشګو په محل کې داثر له چاپه وروسته په اثر کې ديو لړ مسايلو دلا کره کولو په خاطر ديوه سيمينار له پاره وليکل شوه. له ګران ملګري فهيم کريم نه په مننې سره چې پيدا کړې يې وه اوماته يې راواستوله.

## د غني د شګو په محل کې د اثر په باب څو نور يادښتونه

څه وخت دمخه زما د «غنی د شګو په محل کې» نومی کتاب چاپ شو، دغه آثرسره له دې چې د غني خان د ژوند او مبارزې او تفکر په بېلو بېلو خواوو رڼا اچولی او څه ناڅه د غني خان په پيژندګلوی کې نيمګړی شان مرسته کوي خو بيا به هم له نيمګړتياوو خالي نه وي. ددې اثر د خپريدو وروسته يو پوه او فاضل دوست او استاد د غنی خان د ژوند او مبارزې په باب ارزښتناکو ټکو ته متوجه کړم، زه تر هر څه لومړی د دغه استاد شکريه ادا کوم او له هغه وروسته به هڅه وکړم چې د هغه له خوا را څرګندې شوې ځينې نيمګړتياوې لږتر لږه بشپړې کړم.

له هرڅه دمخه به «غنی دشګو په محل کې» موږ تر يوه حده د غنی خان د زوکړې د کورنۍ د ماحول او شخصي ژوندانه په باب لږ څه ويلي دي خو دلته اړينه ده وو ايوچې غنی خان په کوموشرايطو کې په خپله ټولنه کې سترګې وغړولې؟ دلته د دې پرنسيپ جوتول هم په کاردی چې هنرمند ليکوال او شاعر د ټولنې هستی ده او ټولنه دخپلوخاصو اړتياوو له مخې هغه هستوي او هغه د خپل رسالت سره مخامخ کوي.

لکه څنګه چې پوهيږو هغه ټولې اړيکې چې د هنرمند ارګانيزم پکې هست کيږي، هغه ته ټاکلی شخصيت ورکوي. دا سمه ده چې شخصيت په اساسي توګه د ټولنيزچاپيريال معلول دی خو د هر چا شخصيت چې رامنځ ته شي د يوه واقعيت په نوم د شخص په عملونو کې او په دې ډول په ټولنيز چاپيريال باندې اغيزه کوی. د هنرمند شخصيت، د واقعيت او هنري آثر منځګړی دی. واقعيت جذبوي او د هنرپه توګه يې هستوي.

د يوپوه په قول: «د هنر مند په شخصيت کې ډيرعوامل اغيزمن دي چې له هغه جملې د هغه ارګانيزم، عمر، د هغه شخص برياليتوبونه او ناکامی ټولنيزحالت او د هنرمند ټولنيزه خبرتيا، او له دغه عواملو څخه دوه

عامله یعنې ټولنیزدریځ او د هنرمند ټولنیزه لیدتوګه د هغه په شخصیت کې ژوره او زیاته اغیزه لري.» ([1])

خو موږ چې کله د غني خان د «پلوشو» آثر، د «پانوس» آثر، او د «پنجرې چغار» او نور آثار لولو نو طبعاً له هغه سره زموږ چلند له یوه هنري او ادبي شخصیت سره زموږ چلند دی خوکله چې د غني خان د شعرونو او په مجموع کې په هنراو هنري لیدتوګه او د هغه په آزاد خیالی، وطنپرستی، هیومانیزم، عدالت خوښونې امید او خپګان او ټولو ابعادو څه وایو، نو مختلف عوامل چې د هغه د ژوند او زوکړې په پیل کې او وروسته د هغه په ټولنه او په مجموع کې په ټول هند کې منځ ته راغلی وو، له پامه نه شو غورځولی.

## ټولنیز- اقتصادي چاپیریال:

غني خان موږ په مجرده توګه یوازې د شعر له لارې نه شو مطالعه کولی بلکې کله چې د هغه د هنر او خلاقیت په باب او د هغه د سیاسې مبارزې او له مبارزې څخه د هغه د حماسي او وطنپرستانه روح په باب څه وایو. نود سوسیالوژیک تاریخی پس منظر او په هغه کې د تاریخي سیاسي حوادثو په باب لږڅه ووایو او دغه راز د هند دنیمې وچې د فرهنګي فضا په باب څه ویل هم په دې برخه کې ضروري بریښي.

بریتانوي استعمار له هره پلوه د هند په نیمه وچه او په تیره د پښتنو په سیمه ډیره ژوره او ناوړه اغیزه وکړه. په ۱۸۵۰کال کې د پیښور، کوهاټ هزاره، دیره جات او بنو سیمې له اداري پلوه د پنجاب برخې وګڼلې شوې.

---

[1]- جامعه شناسی هنر. دکتور ا.ج، آریان پور- ۱۷۵مخ. ګوندی مطبعه- ۱۳۶۴ش.

د ديره جاتو او بنو ضلعې چې د ډپټي کمشنرانو په وسيله اداره کيدلې د پنجاب د ډويژن پورې وتړل شوې.

په ۱۸۹۳ع کال کې د ډيورنډ کړغيړن تش په نامه تړون لاسليک شو، د دې تش په نامه تړون له مخې د لومړي ځل له پاره پښتانه په شکلي لحاظ يو له بله سره جلاشوی. دغه تړون د پښتنو د اکثريت ارادې پرخلاف عمل و. د دغه تړون نه وروسته د انګليس پرضد د پېښور او پښتنو قبايلوکرکه په دومره ژوره توګه راوپاريده چې په ۱۹۰۲ع کال کې په پېښورکې د برتانوي هند وايسرا مجبور شو اعلان کړي چې حکومت په قبايلي سيموکې هيڅ ډول مداخله نه کوی. په ۱۹۰۱ع کې انګليسانو د شمال غربي سرحدي ايالت په نوم ځانګړی ايالت منځ ته راووړ، پرته له دې چې د پښتنو د ملي هويت مفهوم پکې څرګند شي. د پښتنو د ملي هويت پرخلاف عمل يې ترسره کړ.

د شلمې پيړۍ په سرکې په لره پښتونخوا کې د پښتنو د ملي آزادي بښونکي غورځنګ رامنځ ته کيدل او ورځ په ورځ پياوړتيا تر هرڅه زيات دغه د اهميت وړ ټکی څرګند کړ. په ۱۹۱۲ع کال خان عبدالغفار خان د ترنګزو د حاجی صاحب سره يو ځای د آزادو ښوونځيو په جوړولو پيل وکړ. دې غورځنګ چې د ماهيت له مخې يې استعماري ضد او انګليس ضدخصلت درلود، د پښتنو د توأميت او ويشل شويو او ټوټه ټوټه شويو ضلعو، رياستونو او ايجنسيو باندې د ويشل شويو پښتني سيمو د يوځای کيدو او د ملي خپلواکۍ دپاره له مبارزې څخه عبارت و، ډير ژريې په ټولو پښتنی سيمو او ان په قبايلي سيموکې د پښتنو ملاتړځانته حاصل کړو. د پښتنو زيار کښې پرګنې، وطن پرست روحانيون، کوچني ځمکه وال او په ضلعوکې زيارکښ بزګران د باچا خان يا د خدايي خدمتګارو د غورځنګ ترشا ودريدل.

د انګلیس استعمار د پښتنو په حساسه او ستراتیژیکه سیمه کې خپل معنویات له لاسه ورکړل، او د ټولو ظلمونو، بی رحمیو، او قساوتونو سره سره یې له هیڅ ډول روحي شکنجې او عذاب څخه هم ډډه ونه کړه.

د شلمې پیړۍ په شلمو او دیرشموکلونوکې دسرحدي صوبې په سیمو کې د کانګرس سره یوځای د پښتنوآزادي ښنونکی غورځنګ پیاوړی شو. دا غورځنګ دومره پراخ شو چې کله په ۱۹۳۵ او ۱۹۳۷ع کال کې انتخابات وشول او بالغ سړی پکی د رأی حق نه درلود، یوازې د انګلیسي قانون له مخی هغه کسانو رأی ورکولی شو چې ټاکلې ځمکه او شتمني یې درلوده او په طبقاتي لحاظ د ټولنیزاعتبارخاوندان وو. دوی په څنګ کې د پانګولې ټولنې په شریانونوکې هم خپل حرکت ګړندی کړ، په دغه کلونو کې د پښتنو په سیموکې پانګوالي مناسبات را وټوکیدل. د پښتنوپه سیمو کې نژدی له ۲۰ څخه تر ۳۰پورې صنعتي تصدۍ منځ ته راغلې چې هرې یوې یې نژدې (۲۰) تنه کارګران لرل. په صوبه سرحدکې د دغه کارګرانو شمیر نژدې (۱۵۰۰)تنو ته رسیده. تر ټولوستره کارخانه په همدغه وخت کې د هندوانو له خوا په مردان ضلع کې د «شوګرمیلز» په نوم جوړه شوې ده.

په څلویښتمه لسیزه کې زیات پښتانه روښانفکران راخرګند شول. او آن په آزادو پښتنو سیمو کې د روښانفکر قشر د پیدا کیدو جریان منځ ته راغی، د دغه قشر د پیدا کیدو سره سم ښوونځي او مدرسي منځ ته راغلې، اوپه دې ډول روښانفکري فرهنګي جریان له سیاسي جریان سره هم غبرګ شو.

«غنی خان د لومړۍ نړیوالې جګړې په پیل کې یعنې په ۱۹۱۶ع کال کې د لرې پښتونخوا د اتمانزو د خوازیخیلو په قبیله کې زیږیدلی دی، هغه

په داسې کورنۍ کې زیږېدلی چې سرنوشت یې د برتانوي استعمار د ماتې او د هند د نیمې وچې له آزادۍ سره نه شلیدونکی پیوندلري.

په دې ډول ویلی شو چې غنی خان د خپل وخت او زمان د نړۍ د ستر سرمایه دارۍ بحران په شرایطوکې را پورته شو، د هغه ټولنه چې له یوې خوا د سیاسي بحران سره مخامخ وه او له بلې خوا په اقتصادي لحاظ د پښتنې ټولنې زاړه قبیلوي فیوډالي مناسبات هم د ننني عواملو او هم له بیروني فشارونو له مخې د له منځه تلو او په جبري توګه د شړیدو په حال کې وو، دومره د تړلې پانګوالۍ د بیرحمانه عمل سره مخامخ وو.

**غني خان او د هند فرهنګي چاپیریال:**

غني خان د یو مبارز او هنرمند په توګه له هندي فرهنګ څخه زیات متأثر دی او دغه اغیزه د هغه د شعرونو په متضادو اړخونو یعني د ژوند د نفې او اثبات په برخه کې وینو. نو ځکه ضرور ده چې لږ تر لږه ددغه دوالیزم په باب خبرې وکړو:

د علمي ټولنپوهنې بنسټ ایښودونکی د خپلو ژورنالستیکي فعالیتونو په ترڅ کې په خپل وخت کې د استعمار په باب زیاتې مقالې لیکلي دي او له هغه جملې یې د هند په باب زیات څه لیکلي دي.

یاد پوه په آسیا کې د استعمار ویجاړوونکو اعمالو په تیره د هند په لرغوني سنتي ټولنه کې ډیرو ناوړو چلندونو ته ګوته نیسې او هغه په ډاګه کوي. نوموړی هغه بدبختۍ چې په هندباندې د برتانوی استعمار له خوا نازله شو د هند د ټول تیرتاریخ د بدمرغیو په پرتله لویه او ستره بولي لیکي: «خو هیڅوک ددغه حقیقت په حقانیت کې، شک او شبهه نه کوي چې هغه بد مرغي چې د برتانوي استعمار په دوران کې په هندوستان باندې تحمیل شوه

په حقيقت کې بل ډول بدمرغي ده، دا بدبختي د هغه بدبختيو په پرتله چې هندوستان په ټولو تيرو دورانونوکې تحمل کړې وه دومره درنه او ستره ده چې نه شوکولی د هغه د ژورتيا جاج ولګوو.»

نوموړی د خپل تحليل په تعقيب زياتوي او د آسيايي استبداد وهلې ټولنې په شرايطوکې دغه ډول استبدادي ناخوالو ته اشاره کوي زياتوی: «زه دلته د اروپايي ظالمانه استبداد په باب خبری نه کوم، هغه استبداد چې تخم يې د برتانيا د شرقي هند کمپنۍ د آسيايي استبداد په شرايطوکې وکاره. ([1])

برتانوي استعمار په هندي ټولنه باندې د سختو مادي او معنوي ګذارونو سبب شو، تر هرڅه دمخه دغه استعماري استبداد د هند د لرغوني ټولنې مادي بنسټ ونړاوه، او هغه يې متزلزله کړ، دا کار د دې سبب هم شو چې په فکری نظم کې چې له کلونو او پيړيو او دورانونو راهيسې د هند په لرغونې ټولنه کې موجود وو، هغه هم متزلزله او نسبتاً بې بنياده او بې بنسټه کړي. د نړۍ د زيارکښانو مشر په نوموړی مقاله کې زياتوي: «..... له بلې خوا انګلستان د هندوستاني ټولنې اساسي بنسټ ويجاړ کړ. او تراوسه يې د اصلاحاتو او نويو تحولاتو د منځ ته راوړلو له پاره هيڅ ډول هڅه نه ده کړې. د لرغونې دنيا له لاسه ورکول، د نوې نړۍ له لاس ته راوړلو پرته د هندوستان د اوسنيو اوسيدونکو بدمرغيو ته ډير له غم نه ډک خصلت وربښلی دی....» ([2])

---

[1]- پيرامون استعمار. (۲۰)مخ.
[2]- مارکس انګلس، پيرامون استعمار. (۲۸)مخ.

دا سمه خبره ده، برتانوي استعمار د هندیانو له امید او هیلو ډکه نړۍ ویجاړه کړه، د نوي د جوړیدو تکل یې هڅو و نه کړ، د هندي ټولنې له پاره په معنوي لحاظ دغه نړۍ له غم، خپګان او تراژیدیو څخه ډکه وه.

هندي هنر او فرهنګ، په خپله بومي ټولنه کې ژورې ریښې لري، د دغه فرهنګ څپې ډیرې له پخوا د دغه ټولنې په فکري سمندرکي روانې وې، کله یې هم څپې پورته کیدلې او کله یې هم ارامه شکل درلوده، کله یې هم داسې ځانګړنې پیدا کړې چې ګواکی له خپل اصلي سیرڅخه یې تغییرکړی خو په هرحال هروخت یې خپل کرکتر ساتلی دی او د ژوند پاتې کیدو متره پکې هر وخت موجوده وه.

په دې ډول ټولنه کې: «چې د بهرنیو یرغلګرو د لاس لاندې وه، هر وخت په کې دا هڅه هم محسوسه او موجوده وه چې د اوسني ناوړه حالت د هیرولو په خاطر د تیر دوران خوبونه او خیالونه ژوندي وساتي او د تیر عظمت د یاد ته راوړلو په خاطرځانته تسل ورکړي، خو دا ډیره د ساده توب لوبه ده، چې متأسفانه په هندکې پرې موږ مشغول یو....» ([1])

د دې قضیې یو بل مخ هم موجود دی، په دی معنا لکه څنګه چې مارکس د دغه ډول روحي تأثریادونه کوي او جراهرلعل نهرو هم د هغه په څېر د دې یادونه کوي چې د استعمار ځپلې ټولنې انسان د دې ډیاره چې خپل اوسنی رنځ او بدمرغي هیره کړي نو تیر دوران خوب او خیال را ژوندی کوي. د دې خبرې بل مخ یاد دې دیالکتیکي قضیې بله کلیه دا هم ده چې وایي: «یوبل شی چې موږ هندیانو ته د بحث وړ دی دا دی چې فکر کوو چې هر څومره چې موږ له ډیرو خواوو سقوط کړی او وروسته پاتې یو خو بیا هم له روحي پلوه ستریو، او په نورو تقدم لرو.

[1]ـ کشف هند ج ۱ـ (۱۳۴)مخ.

روحي عظمت او یا بل هر ډول عظمت نشي کولی، په نه خپلواکۍ او نه امکاناتو یا لوړه اوبد مرغۍ کې موجود وي.» ([1])

څرګنده ده چې برتانوي استعمار په خپلوټولو وسایلو سره د هند د لرغونې ټولنې بنسټ ونړاوه او د نوي جوړیدو هیڅ ډول هڅه ونه شوه. برتانوي استعمار د آسیا په دغه لرغونې ټولنه کې د هغه درې اداري سیستمونو یعنې: «مالیاتي، اداري، اوحربي » څخه د هند د اولسونو د لوټلوله پاره بشپړه ګټه واخیسته خو د «فوايد عامې» اداري ته یې هډو پام ونه کړ. دې پیښوڅه منځ ته راوړل، یوازې د اوږدې مودې له پاره یې د هند د اولسونو د ژوندانه په اتموسفیرکې داسې د غم وریځ ایجاد کړه چې هره ورځ که د غم باران هم اوري، هغه یې په سنت او رسم بدل کړی دی. کارل مارکس دغه حالت په ډاګه کوي او په بل ځای کې لیکي:

«موږ باید له یاده ونه باسو چې دغه له وړتیا څخه محروم ژوند، بې حرکته او د ګیاه په ډول ژوند د هستۍ دغه بې فعالیته او پاسیف شکل له بلې خوا په خپل مخالف قطب کې د وحشي ورانوونکو، په پټو سترګو او بې پیزوانه قوتونو د را پورته کیدو سبب شو. په هندوستان کې یې آن له وژنې او قتل څخه مذهبي دود جوړکړ. موږباید له یاده ونه باسو چې دغه کوچنی کلیوالي جمعیتونو په خپل پیکر باندې د اختلافاتو سره چې د مختلفو کاستونو سره یې د مریي توب ټاپه درلوده چې دوی د دې پرځای چې انسان د پیښو او واقعاتو د فرمانبردار مقام ته لوړ کړي. برعکس یې د همدغه پیښواو واقعاتو مریې کړ چې دوی د ټولنې دا خپلسری یا (خود په خودۍ) تکامل په ازلي نه بدلیدونکی طبیعي قسمت بدل کړ. په همدې ډول د طبیعت قهرجن ګیت ترې جوړکړ. د دغه ګیت کوچنی والی او ذلت په خاص ډول په دې

---

[1]ـ کشف هندږ (۱۳۵)مخ.

حقیقت کې راڅرګندیږي چې انسان دغه د طبیعت بادار او حکمران په ډیر اطاعت او احترام سره د «شیادي» او د «ساباالا» په نوم غواته ګونډه وهي.» ([1])

خو له دې ټولو نادودو او ناکردیو سره، او د برتانوي استعمار د ټولو بې رحمیو سره بیا هم د هند ټولنه مړه نه شوه. سره له دې چې هلته د ژوند د یو ډول نفې او یأس او غمجن روح لاسبرى وي، له بلې خوا هر ډول زورګیرته یي په یو ډول «آرام شرافت» او «زړورتیا» سره ځواب ویلى دى د هندي فرهنګ اصلي جوهر مړ نه شو، بلکې پرڅاى پاتې شو او د منفي او خشره ګیاوو په خوا کې یې مثبت او ارزښتناک نیالګي هم زرغون کړل، او د تاریخي منطق له مخې یي باید زرغون کړى واى خو دا خبره هم موږ ته په دې برخه کې اصولي کړئ لاس ته راوړى چې وایي: دا خو پداسې برخه کې هرڅومره هم چې دى د زړې نړئ دله منځه تلو منظره زموږ د شخصی احساس دپاره له غمه ډکه دى، موږ له تاریخي پلوه حق لرو چې له ګویټه سره یو آواز شو چې وایي:

«که غمونوکې خوښي ده،

نوڅوک چمتو ووچې له هغه رنځ وګالي، ایا په کروړونو،کلونو ژوند، تیمور لنګ له خاورو سره برابر نه کړ.

له بله پلوه په دیالکتیکي لحاظ د هند په لرغوني فرهنګ کې د انګلیسانیانو د ټولو استعماري ورانیو سره بیا هم د روحي تأثر په خوا کې د مقاومت روح هم لیدلی شو، او دا روح د ټول تاریخ په اوږدو کې ژوندى و او دی. نهرو لیکي: «ځینې خلکو تصور کړى چې هندي تفکر او فرهنګ اساساً د ژوند په

---

[1]- مارکس انګلس پیرامون استعمار. (۲۸)مخ.

نفې کولو متکی دی، نه په منلو او د هغه په تائیدکې، فکر کوم چې دا دواړه په بېلابېلودرجو سره په ټولو مذهبونو او لرغونو فرهنګونو کې موجود دی خو زما په نظر هندي فرهنګ په هرحال هیڅ کله د ژوندپه نفې کولو ټینګار نه کاوه، البته ځینې هندي فلسفي داسې نظریات وړاندې کوي خو داسې جوتیږي چې دغه تائید د مسیحیت په بنسټ په هندي فلسفه کې لږ دی....» ([1])

اوس راځو په دې برخه کې ددغه ډول فرهنګي چاپیریال او اثبات د متضادو خواوو د اغیزو کلي نتیجو ته:

د مخه مو وویل چې د غني خان د کورنۍ سرنوشت د هند دنیمې وچې د آزادۍ له سرنوشت سره کلکې اړیکې لري او له کومه ځایه چې د هند د ټولنې فرهنګ او په هغه باندې د برتانوي استعماربې رحمانه یرغلونو په نتیجه کې څه نوې فکري پدیدې منځ ته راغلې، د هند په فرهنګ او هنرباندې او د هند په سترو هنرمندانو یې هم اغیزه کړې او له بله پلوه غني خان د خپل زلمیتوب، زده کړې او زیاتو وختونوکې د هند د نیمې وچې د ستر آزادي خوا او مفکر انسان جواهر لعل نهرو ډیرې نژدې اړیکې درلودې د دې ټولو تأثیرات د غني خان په هنر او هنري خلاقیت کې هم لیدلی شو.

د برتانوي استعمار ټول ناوړه او انساني ضد عملونو د هند اولسونو ته له مادي ویجاړتیاوو سربیره فکري او رواني ویجاړۍ هم سوغات راوړې.

دا سمه ده چې په هند کې د انګلیس د استعماري امپراتورۍ دوران د مادي او فکري خرابۍ دوران دی او د نړۍ د ستر ښوونکي په قول چې «په

[1]- کشف هند. (۱۲۶)مخ.

هندکې د برتانوي استعمار د حکمرانۍ د تاریخ پاڼې د ورانیو پرته د بل هیڅ شي په باب خبرې نه کوي.»

په هندکې د انګلیسي بورژوازۍ د خلکو په هرډول مذهبي مقدساتو یرغل وکړ، هغو د اودیسا او بنګال په معبدونو کې د زیارت کوونکو څخه د عوایدو د لاس ته راوړلو په خاطر، وژنه، قتل، او همدارنګه فحشا د جګیر ناوت په معبد کې په مسلک بدله نه کړه؟....»

له دې څه پوهیدای شو.

غني خان د یو مبارز هنرمند او شاعر په توګه دغه اتموسفیر او فرهنګي فضا څخه متأثر دی خو په دې منطق سره چې په هغه باندې د دغو حوادثو یأس، خپګان او روحي عذاب اثر نه دی کړی، بلکې د آزادۍ ښنونکي غورځنګ د یومخکښ په توګه ددغه فضا د بدلولو په خاطر مقاومت او مبارزه کوي.

که موږ د هغه په شعر او هنر کې نسبتاً تأثر او روحي ناامیدي وینو نو له هغه زیات په کې امید، هیله، آرزو، خوشبیني او په راتلونکي باندې ایمان او باور هم وینو، او دا باور د هغه په حماسي شعرونوکې ډیرڅرګنده ده.

یـا بـه دا بـې نـنـګـه مـلـک بـاغ عـدن کـړم
یـا بـه کـړم د پښــتـنـو کـوڅـې ویـجـاړې
یـا بـه: یـا خو بـه دې ســیـال کړمـه وطنـه د جهان
یابه ســتا په پښـوکې توري خاورې کړم دا ځان
نریمـه پښــتون یم تـاتـه یـادې افســانې زمـا
ای زمـا وطــنــه! د لالــونــوخــزانــې زمـا

او یا خو هغه له دغو موضوعګانو څخه ژورو فلسفي خواو ته داخلیږي او د نمونې له پاره د پیدایش په نوم شعرلیکي:

پیدایش

او ما ځان له ساز که پخپله جوړ
د خپل خوب نه د خپل خیال نه
د خپل غم نه د مستۍ نه
د خپل تال نه د خپل قال نه
او ما ځان له یار که په خپله جوړ
د خپل سوز نه د ارمان نه
د خوبونو د رنګونو نه
او ما ځان له ژوند که پخپله جوړ
د خندا نه خوشالۍ نه
د وصال نه د خمار نه
د بهار نه دلولۍ نه
او ما ځان له غم که پخپله جوړ
د امید نه د رڼا نه
د سپرلي د زیړو ګلونونه
د غمونو نه د سودا نه
د ژوند نه د مستۍ نه
د لالونونه د ځوانۍ نه

**غني خان او د هغه طبقاتي دریځ:**

غني خان د خپل وخت، زمان، ټولني او شرايطو شاعر دی او په دې ډول جانبدار شاعر هم دی، غني خان په خپل شعر کې هم د دې پلوی نه دی چې «که چا پر يو مخ په څپېړه ووهلې نو بل هم ورته ونيسه» بلکې د سياسي عمل په څير په شعرکې هم دده پلوی دريځ ښه څرګند دی.

په دې معناچې غني خان د خپلي طبقي نماينده شاعر دی، سره له دې چې نوموړی د خپل طبقاتي او اجتماعي بنسټ له مخې د پښتنو د سترې خانې کورنۍ پورې مربوط دی خو د هغه د وخت شرايط په هند کې د ټرلې بورژوازۍ پر ضد، د انګريزي استعمار په وړاندې او په پښتنو سيموکې همدغه شان او په دغه سيمو کې د آزادۍ غوښتونکي جنبش را پورته کيدل او د فيوداليته مناسباتو او قبايلي روابطو په وړاندې د راديکال بورژوازي وده، او آزادۍ غوښتونکی تمايالات د وخت ليکوال او شاعر ته څرګند لوری ورکړی.

غني خان هم په خپل ټول قوت او شعري خلاقيت سره د فيوداليته مناسباتو په وړاندې کرکه ښئ، او د دغه مناسباتو د ډيرو عمده نماينده موسسوڅخه د مثال په توګه هم څان او دخانۍ مناسبات غندي او هم ملا اوشيخ چې د فيودالي مناسباتو نماينده قشر دی.

د مثال په توګه:

خان راخيستی دی ملاپسې څوباړي
خپل کور سم کړه څه پردي غمونه ژاړې
بل ته وايي د حرص وباسه غاښونه
او په خپله سوان په لاس تيروې داړې
تل وطن پخپله وران کړې بل بد نام کړې

ملايـان دې کړل قـارغـان خوارې خراړې
چې پـه خپلـه پـه پيســـه قـام خرخوې تـه
بيـا پـه کوم مخ پـه ملا کوې پيشـــاړې
چې پـه خپلـه دې مخ کـال کې نـه يې وينځلی
بـل تـه مـه وايـه زړګـيـه چـې پـواړې
تـه اول د صـــاحـب پريږده ســـلامونـه
بيـا پـه ده ســـرســـايـه پريږده پـه ولاړې
د غني نصـيحت واوره اوس ځان سـم کړه
خولې لـه نـه راځي بيـا بيـا توکلې لاړې

او يا د خان په نوم بل شعر چې وايي:

عـجـيـبـه دې ده خـانـي، عـجـيـبـه دې ده ځـوانـي
ای پښـــتونـه! پوه دې نـه شـــوم پـه وراني پـه وداني
دا دې لانوی هنر دی چې خپـل ورور وژنې بې هيڅـه
پيرنګي تـه خوتينـګ نـه يې چې يې کړلې پيزواني
چې پټکی يې پرېږي وي، پـه حجره کې دی زمری وي
نـاســـت د مرچو وي پـه ښټـه د ځـان نـهويني ثـاني
وايـي پـلار مـې بـهـادر او نيـکـه مـې ســـکـنـدر و
چې د ځان تپوس ترې وکړې، بس هين هين وي اماني

پـه غريـب همســـايـه نر دی، يـا پـه ښـځـه زورور دی
د جنګ وخت کې پټ کورناســـت وي، خود جنګ وي ارماني
غني نـه د دوی دوا شـــتـه نـه طبيـب ورلـه ورتلی شـــي
د خـدای قهر پرې لګيـاوي چې زر زريې کړي فـاني

او دغه ډول شیخ ته خطاب کوي:

زړه دې ډک دی د خـپـل ځـانـه
داســـې ډک یــې د نـــیــکــونـــه
پـــه کـــې ځـــای نشـــتـــه د یـــار
لـــــکـــــه ډک دمــــړو خـــــار
دواړه ســـــتـــرګـــې دې ړنـــدې دي
تـــل آئـــیـــنـــه کـــې ځـــان تـــه ګـــورې
د بـــل بـــد د ځـــان ښـــــه ویـــنـــې
دیـــار نـــه ویـــنـــې ســــنــګـــار.... الـــخ

دغه راز د غني خان په شعرونوکې داسې زیاتې نمونې شته چې هغه په کې د جاګیردارۍ مناسباتو ټولې ناوړې موسسې غندلي دي، د غني خان وطنپرستانه احساس دومره پیاوړی دی چې هیڅکله د خان او استثمارګر خان پروا نه ساتي. غني د هغه اقتدار او قدرت چې د خلکو په څټ سوروي ورسره سخت مخالفت کوي او په هغه ملنډې وهي.

چـــرتـــه غـــټ خـــرتـــه پـــه شـــاکــې
دا دســـــرو لالـــونـــه کـــتـــه
ســــــفــــارش ورتـــــه دا وکــــړه
صــــیـــب زمـــوږه لـــه بـــابـــتـــه
وی پــــام کـــوه ددلـــــه خــــره
غـــنـــی ونـــه وی پـــه لـــتـــه

خو د غني خان په شعرونوکې د هغه د طبقاتي دريځ د څرګندوالي ډېرې نمونې شته. هغه د خپلې طبقې او په مجموع کې د خپل آزادي غوښتونکي اولس شاعردی. د ترلې بورژوازي استعماري قوتونو سره سخته دښمنی لري. او ددغه طبقې نماينده هم داسې سوداګربولي چې په لاس يې تيغ وي او پر سر يې قرآن نيولی دی، د غني طبقه د پښتنو د ملي توأميت او استقلال، آزادي اوخپلواکۍ غوښتونکې ده، او د همدې له پاره مبارزه کوي او جنګيږي. د هغه طبقه د هند د هغه وخت د اګاه او بيدارۍ آزادي غوښتونکې طبقې سره ګډې ګټې او خواوې لري.

## غنی او پاتريو تيزم:

لکه چې څوځو واره مو دا خبره کړې، غني هم په طبقاتي لحاظ(په خپل وخت کې) او هم په فکري او معنوي لحاظ استعماري ضد او پاکستاني ضد آزادي پرست شاعر دی. هغه يوازې د خپل وطن په غرونو، سيندونو، ديرو او حجرو مين نه بلکې په خپل ملی هويت او پخپلوخلکو مين دی. هغه د خپل وطن د غريب بيوزلي او خان او هر چا دپاره آزادي غواړي.

غني خان د خپلو وطنپرستانه احساساتو په ملتيا په خپل شعرکې هڅه کوي خپل اولس ته د هغه قوت او عظمت ورښيي. او په دې ډول په هغه کې خپل پښتنی غرور را ژوندی کوي، هغه د وطن آزادۍ ته را وهڅوي، او په دغه ډول ده چې له وطنپرستانه احساساتو سره د هغه انقلابي او حماسي روح يوځای کيږي او د حماسې په هستولوکې نوموړی ډيرښه ځليږي.

دا سمه خبره ده چې د هغه حماسي اړخ د هغه په بل ډول فکري اړخونو برتري پيدا کوي. سمه ده چې کله کله د خيام نوم يادوي او د هغه ستاينه کوي او يا خيام ته ورته شعرونه لوی خو د غني زمان، مبارزه آزادي

غوښتنه او وطنپرستي ددې سبب کيږي چې د هغه پاتريوتيک او حماسي اړخ ډير اوچت وي. په دې برخه کې ددې خبرې يادول هم ضروري ده چې غني خان د خپل وخت داسې شاعر دی چې د هغه شعر راپاڅوونکې او ويښوونکې ځانګړنه لري. د هغه حماسي او وطنپرستانه شعرونوتل د زلموجوش راوپیښ کړی او د آزادۍ غوښتلو د مبارزې ميدان ته يې لوی او واړه رابللي دي.

د جنډې په نوم ترانه د مثال په توګه راوړو:

سـرمې لـوګـی شـه لـه تـاسـترګـې مې
شـونـډې مـې خـاورې سـتـا د يـار شـه
قـربـان ځـلـمـی لـه تـانـه قـطـار قـطـار شـه
تـه دې خـزان کـې يـو ګـل د بـهـار يـې
دې تـوره شـپـه کـې تـه يـو زيری د سـارا يـې
تـه دبـهـار خـوب د کـلـي وران يـې
تـه يـو تصـويـر د پښـتـون د ارمـان يـې
تـه د پښـتـون د نـامـوس او د نـنـګ نښـه
تـه د پښـتـون د سـپـين ږيـري مـلـنـګ نښـه
تـه يـې زمـوږ د دې صـبـر د جـنـګ نښـه
تـه يـو ګـوره د پښـتـون د مـيـړانـې
تـه يـو تصـويـر د پښـتـون د ارمـان يـې
تـه يـې د مـيـنـې او د زور او د طـاقـت قصـه
تـه د شـهـيـد د مسـتـۍ او شـوکـت قصـه
تـه د پښـتـون د يـو خـيـال او د نـيـت قصـه
تـه يـو آواز د مـظـلـوم پـه آسـمـان يـې
تـه د بـهـار خـوب د کـلـي وران يـې

تــه دمــردۍ نــرتــوب رنــګـیــن داســــتـــان یــې
تـــه یـــو تصــــــویــر دپښـــــتـــون د ارمـــان یـــې
پـاس بــه دې و پــړ قــوم زه پــه حصـــــار نښـــــې
ســـرمې لوګی شــــه لـه تـاســـترګې ځـار نښـــې
یــا بــه تــه یــې پــه خـیـبـر یــا زه پــه دار نښــــې
تـــه د بـــهـــار خـــوب د ګـــلـــي وران یـــې
تـــه یـــو تصــــــویــر د پښـــــتـــون د ارمـــان یـــې

او دا هم د غني خان یو ډیر رنګین او ښکلی شعر چې د هغه ژوره وطنپالنه تری جوتیږي:

مــالــیــدلــي د فــرنــګ ښـــــکــلــي جــیــزونــه
چې دلانـدې ترې غورځنـګ و هي ســــینـدونـه
مـــالــــیـــدلـــي مـــحــــلـــونـــه د لــــنــــدن دي
جــیــنــکــۍ مســـــتـــې آزادې ګــــلـــبــدن دي
مــالیـدلـي د اټلـي ښـــیســـتـــه ښـــــارونــه
ســـره یې انګور ســـره یې شـــراب او ســـره ګلونـه
مــالـیـدلـي د پـیـرس ښــــاپـیـرۍ ښـــکـلـې
پــه کـردار ګـفـتـار خـوږې لـکـه بـلـبـلـې
مــالــیــدلــي امــریــکــه کــې دي ښـــــارونــه
چــې وریــځــو تــه یــې رســــــي مــکــانــونــه
مـــالــــیـــدلـــي تـــاج مـــحـــل غـــوټـــۍ دګـــلـــو
د ډهـلـي ښـــــکـلـي ښـــــارونــه د مـغـلـو
خـــوچـــې وویـــنـــم زه خـــپـــل دخـــټـــو کـــور
رانـــه هیر شــــي محلونـــه ښـــیســـتـــه نور

دا نـری تـنـګـې کـوڅـې زمـا د کـلـي
ورتـه څـه وي د دنیـا ښـــارونـه ښـــکلي؟

**غني او هیومانیزم:**

د غني په اشعاروکې څومره چې د انسان او انسانیت له دښمنانو سره مخامخ کیږو، دومره د انسان او انسانیت په باب او د انسان سره د مینې په باب هم مخامخ کیږو.

د غني په اشعاروکې ځای پرځای د انسان یادونه کیږي، انسان د غني په شعرونوکې ځان بیامومی، او انسان د غنی په شعرونو کې بیرته ځانته مراجعه کوي اوکله کله هم د غني په شعرونوکې انسان او انسانیت مرکزي نقطه ګرځي، لکه په دې شعرکې:

او یا د دې شعر یوه برخه چې وایي:

ای زمـــا بـــچـــیـــه!
یـار ژړلو لـه صـــحرا ښـــه ده
تخـت د رقیـب نـه دی ښـــه
تـــکـورې دلـیـلـی ښـــه ده
دوســـت د یزیـد ښـــه نـه دی
شـــهـیـد د کـربـلا ښـــه دی
واک چـــې یـــې د بـل وي
وزیری نــه جیلخـانــه ښـــه ده

موږ د غني خان په شعري خصوصیاتو کې هیومانیزم او انسان دوستي د هغه د مبارز او انقلابي کرکتر جز بولو، په دې معنا چې د هغه په وړاندې د هغه د ټولنې د انسان سپکاوی او کوچنی کیدل، د انسان وژنه او شکنجه او په انسان باندی ظلم او استبداد او استحصال د هغه په حساس او فلسفي ذهن باندی ژوره اغیزه کوي، او هغه دې ته رابولي چې خپل «زه» د ټولنې د «زما» سره یوځای کړي، او د انسان له پاره د ذلت او پستئ ژوند وغندي، ویې رټي او د هغه په وړاندې عکس العمل وښیي. غني خان هیومانست او عدالت پسند شاعر دی.

**د ننگ او غیرت د ټولنې شاعر:**

د غني خان شعر د ننگ او غیرت د ټولنې، د مردئ او عیارئ د ټولنې شعر هم دی.هغه سره له دی چې د نویو پانگوالی مناسباتو سره آشنا او له هغه اغیزمن دی خو د خپلې ټولنې له مثبتوکرکترونو د پښتنو د ننگ او غیرت، میړانې او پت، مبارزې او نه تسلیمیدو سره هم آشنا دی او له هغه په ژوره توگه دفاع کوي. په دې اساس ده چې د هغه په شعرکې د نورو ځانگړنو په خوا کې دا خصوصیت هم ښه جوت دی، باید ووایو چې د شاعر ننگ او غیرت او پښتنواله یو عمده جهت لري او دغه جهت یې په دې خاطر ژوندی او ځرگندساتلی چې د آزادئ غوښتنې مبارزې ته پرې خپل ویده قوم راپاڅوي.

باید دا خبره هم یاده کړو چې غني د خپلې ټولنې د یو بل ټولنیز عنصر ښخه هم کار اخلي او هغه د پیغور مفهوم دی، هغه دا مفهوم هم د خپل هدف له پاره د یوې وسیلي په توگه کاروي لکه:

مچ د زمری سـترګی شـکولی ماشـی د اوبن وینه
خدایه ج! ســتا دا عجیبه دنیا توره ده که ســپینه
مږلســوګیدړو ببر شــیر پـه بونـدۍ چرګـه کړ
سپور شغال په پړانګ دی دغرڅو وښکار له ځینه
پریوځی چواړی تـه ځان ګانړه پـه رتۍ زروکړی
ښــکلی ســتـا د ګوتو جوړه ځوانــه نــازنینـه

ناســته ده د ډم د لندن لور په ســرو وریښــمو کې
لور دلوی شــیرشــاه لور یی په لاس دی لوله ځینه

مست مغروره سر د پښتون ټیټ سترګی یی ښکته دی
شــرم داســی شــرم چې شــرمونه شــرموینه

په دې ډول خپل پورتنی بحث راټولوو:

د غني خان د مبارز شخصیت او هنرمند شخصیت د ټولنې په داسې شرایطوکې مطالعه کولی شو چې له یوې خوا استعماري نظام مسلط دی.

د استعماري نظام ټولې ناشونې او بې رحمۍ خپل اوج ته رسیدلی او له بله پلوه د فیودالیته ټولنې بنسټ د تړلي پانګوالې مناسباتو په اثر پرته له دې چې نوي مناسبات ایجاد شي، د سخت بحران سره مخامخ کیږي.

- نوی رادیکال، آزادي غوښتونکي او توأمیت غوښتونکي پښتني پانګوالي مناسبات په لومړني شکل را بهرکیږي او د هند د مترقي عناصرو سره خپلې اړیکې ایجادوي.

- د هند د نیمي وچې روشنفکر قشر د برتانوي استعمار د پرله پسې استبدادځخه له یوې خوا او د هند د لرغوني ټولنې د عنعنوي ټولنې د روحي نهیلی ځخه له بلې خوا متأثردی.
- غني خان که د یوې خوا د پښتون ملت د تشکل نماینده شاعر دی یعنی د داسې دوران چې په هغه کې پښتنی بورژوازي قوتونه د پښتنو د آزادۍ او ملی هویت جنډه پورته کوي.
- د غني خان په شعرونوکې رواني تیښته او فرار هم لیدل کیږي خو ځرنګه چې نوموړی په عملي ډول د آزادۍ غوښتونکي غورځنګ شاعر دی، نوحماسي او انقلابي اړخ یې ترټولو پیاوړی دی.
- د غني خان په شعرونوکې انسان او انسانیت سره مینه او عشق هم مرکزي نقطه ده او د پښتنې ټولنې د مثبتو کرکټرونو اغیزه هم په کې شته دی.

**د غني خان او عمر خیام د فکري جریانونو د پرتلنې په باب**

د «غني د شګو په محل کې» اثرپه وروستۍ برخه کې په ضمني توګه د خیام د افکارو یادونه هم شوې ده، د دغې برخې په باب زما ځینو دوستانو له ما ځخه ددغې پرتلنې په هکله د زیاتو خبرو او بحث غوښتنه وکړه ځکه خو ددغې لیکنې کښلو ته هم اړ شوم. زما په هغه کتاب کې هیڅکله دغه دوه متفکرین سره یو ډول او ورته مقایسه شوي نه دي. د اثر په یوه برخه کې راغلي دي:

«په دې بحث کې موږ ددې قصد او تکل نه لرو چې ځوک د چا سره پرتله کړو او ددې تکل هم نه لرو چې په دې او هغه فکري طرز باندې نقد اوکرتیک وکړو....»

په بل ځای کې زیاته شوې ده: «له بله پلوه د خیام له شخصي ژوند ځخه زیات او ځرګندآثار نه دي را پاتې. د هغه فلسفي عقایدو په نجوم ریاضیاتو د هغه په نورو علمي تحقیقاتو انعکاس نه دی کړی بلکی یوازې او یوازې په رباعیاتوکې هغه خپل عقاید په ځرګنده او یا نا ځرګنده توګه د

وخت د سخت مذهبي سانسور سره څرګندکړی او متعصبوکسانو د هغه په وړاندې عکس العمل هم ښودلی دی....» ([1])

له پورته ټکوڅخه جوتیږي چې موږ د پرتلنې مسأله نه ده مطرح کړې او که مطرح شوې هم وي نو ضمني شکل لري او د دې دپاره هم چې مسأله د یومکتب او مسلک په رڼا کې ښه روښانه شي. کله چې موږ غني خان یادوو، زموږ مطلب تري ترهرڅه دمخه د یوه مبارز او آزدیخوا شاعر یادونه ده، او له دې هم انکار نه شوکولای چې عمرخیام هم د خپل وخت یو مبارز و، په دې معناچې د عمر خیام له پاره د مبارزې دایره ډیره تنګه وه، هغه یوازې د علم او تجربې له لارې مبارزه کړې او د وخت دلاسبرې ایدیولوژۍ پرضد یې کرکه ښودلې ده. خیام یو نجوم پوه، ریاضی پوه او شاعر و او هغه د ګالیله په څېرد علم او معرفت په خاطر مبارزه کړې ده.

احسان طبري لیکي: «په دې ډول د خیام دوران داسې زمانه وه چې په هغه کې یوزاې د اشرافو نمایندګان او د زور د خاوندانو له هیبت نه ډک هیأتونه په چارو کې د بري وسیله وه. په داسې له قهره ډک او بې رحمه دوران کې د یو ظریف حکیم سرنوشت روښانه او څرګند و.» ([2])

نوموړی د خیام په باب زیاتوي:

«ریاضي پوه او خفه (تریو) منجم چې په ظاهرکې د ضرورت له مخې د حنفیت پیر وو، په دغه(خپلو) زړه وړونکو او له سوز و ګدازه ډکو شعرونو کې رنځیدلی او په ژوند او ښکلا باندی مین انسان او عاشق، مسلکي او ښکلاپرسته انسان او شکاک او ژور متفکر و. د هغه مسایلو عظمت او کلیت

[1]- غنی د شګو په محل کې (۷۷- او – ۷۸) مخونه.
[2]- برخی بر رسیها وجنبش های اجتمای در ایرن (۲۱۱)مخ.

چې د انسان او د هغه د عقل او معرفت او سرنوشت او د ژوند د تکالیفو په باب مطرح کیږي. دغه رباعیات یې د نسلونو او پیړیو له پاره نوې او تازه ساتلي دي.

په دې باب سره له دې چې خیام مبتکر او مبدع متفکر نه دی خو د داسې جامع، شیوا او بلیغ بیان لرونکی دی. دغه فلسفه چې په تمامه معنا سره په تقدیر او د انسان په مجبوریت (فاتالیزم) شکاکیت او بدبینۍ او د لذت د کیت تبلیغ کوي، په ټوله معنا د عصرد لاسبري مذهب ضد وه چې دعوی یې درلوده ټول حقایق یې کشف کړي دي او شرعي عدالت او الهي قوانین یې وړاندې کړي او د انسان تکلیف یې څرګندکړی دی، نور څه کار نشته، پرته له دې چې ګناهګار او خرابکار معلوم شي، یوپه اورکې وسوزي او بل له نعمتونوڅخه ګټه واخلي. د حنفي او حنبلي فقهاوو له سادګۍ ډک ځوابونه چې د انسان د ژوند غوره سوالونو ته یې ورکول خیام یې نه خوشالاوه، بلکې هغه د بشرله درده ډکه زړه نغمه د خپل جادویي طنبور سره غږوله. د خیام فلسفه په مشخص دوران کی، مترقي فلسفه، او د مقاومت مظهر او د پوهانو دغوره روحي اپوزیسیون مظهروو، په هغه دوران کې پوهان او د عباسي او سلجوقي اشرافیت پرضد و.» ([1])

د پورتنیوڅوټکو په رڼاکې باید دا هم ووایو چې د عمرخیام له پاره د خپل وخت د فعالیت دایره ډیره تنګه او کوچنۍ وه. د هغه په شرایطو کې یوازې د علم او پوهې په خاطر مبارزه، مبارزه ګڼلی شو، خو د غني خان د ژوند په شرایطو کې د مبارزې ضد استعماري او ضد انګلیسي خصوصیت ډیر پیاوړی او څرګندیږي.

---

[1]ـ (۲۱۲ـ ۲۱۳) مخونه.

موږ د عمرخیام د مبارز کرکترڅخه انکار نه شوکولای او نه هم په ټاکلي مواردو کې مطلق حکم کولای شوبلکې په دې برخه کې اړه ده ټول شیان نسبي وپلټو او په نسبي ډول یې مطالعه کړو.

# ماته یو دریاب د نور را

**[دویم ټوک]**

((زه ویلای شم چې غني د فن نه زیات د سبا شاعر او فیلسوف دی چې څومره وخت تیریږي او سبا په نن بدلیږي، د هر تن انسان به دده دفن په دونیا کې نوې موندنې کوي.لیرې نه ده چې موږ او وخت به غني د اسپینوزا، ټیګور، تولستوی، ولتر او د نورو نړیوالو ادبي مفکرینو په کتار کې وشمیرو.)) جنون ۸۲ مخ

## لومړی څپرکی

### الف: دغني دافکارو فلسفي اړخونه

په تیرو دوه درې لسیزو کې دغني خان په اثارو او افکارو باندې زیاتو څیړونکو او لیکوالو لیکنې کړې او خپل اندونه یې وړاندې کړي دي، خو په دې ټولو اثارو کې دوه درې اثره ډیر دپام وړ بریښي. یو ((درنګ اونور شاعر)) په نوم رساله اوبل ((فلسفه دجنون اودجانان)) په نوم رساله ده.پاتې دې نه وي چې په انګریزي ژبه دانګلیسي شاعر کیت اودغني د اشعارو

پټلیزه څیړنه چې شازیه بابر لیکی دی هم ډېر دپام وړ اثر دی. خو په پښتو کښل شویو دواړو څیړنو کې ګډې او شریکې نقطې شته خو د دواړو شننې او د اظهار ډولونه یوله بله توپیر لري.

د((رنګ او نور شاعر)) رساله سره له دې چې ډیرو اساسي ټکو ته اشارې کوي خو د رسالې ژبه تر زیاته حده د اردو اوعربۍ ژبو دګړنو ګډوله ده. د دې پرځای چې د شاعر د شعرونو او کلام پوهیدنه اسانه کړي نوره یې هم ستونزمنه کړې ده. په دې رساله کې د اساسي ټکي په توګه لیکوال په دې باوردی چې د شلمې پیړۍ زیاتره مفکرین، پوهان، او لیکوال د اګزستانسیا یزم نه اغیزمن بولي. له بلې خوا د ساینس او د علم د پرمختګ له امله د لویدیځې نړۍ انسان له معنویت نه لیری کړی دی.لیکوال دلویدیځ او ختیځ مدنیتونو کې د را لوی شوي انسان د نصبالعین توپیر نه دی کړی. هغه لیکي: (( دلته د فلسفیانه فکر لرونکی که څه هم د وجودیت له فلسفې متاثرښکاري خو د ژور مذهبي لاشعور د روحاني قدرونو څخه نورو شرقي روایتونو او د ژوند او کایناتو په باب له دشرقي تصور انداز د مغرب ځینې په ډیرو خبرو کې ممتاز کړی دی.)) [1]

د دې پر ځای چې څیړونکي د شرقي اوغربي تمدنونو په بهیرکې د انسان وده او تکامل ددغه دواړو مدنیتونو په اصلي نسج اوجوړښت کې وپلټي، د شرقي انسان لید لوری یوازې په مذهبي لاشعور کې را لنډوي او د عظیم تصوفي اومعنوي جریان اغیزې چې په مذاهبو کې هم ژوري ریښې لري له یاده ویستلي دي. یا دا چې تصوف اومذهب یو نه جلا کیدونکی جزء اویا دمذهب زیرنده بولي.حال داچې دتصوف او عرفان او د دین او مذهب سره

---

۱۰داکتر راج وي شاه خټك ۰ درنګ اونور شاعر ۰ یونیورستي پبلشرز:۲۰۱۳۰پېښور مخ ۸۹

د هغو توپیر ډېر غور او دقت په کار دی. یاد لیکوال د غني خان د شاعرانه افکارو په باب لیکي:

(( د غني خان د شاعرۍ منفرد انداز هم هغه دی په کومه کې چې هغه د ځان په لټون د ذات او وجود په ژورو کې ګرځي. د غني خان نزدې نزدې ټوله شاعري د وجودیت د خپل مخصوص فلسفیانه انداز فکر شاعري ده.)) 1

د څېړونکي په باور په لټون نومي نظم کې تر ډیره حده یو وجودي اصالت باندې تکیه ده.غني خان دخپل ژوند، عقایدو، هیلو او وجود د هڅو یادونه کوي، خو لیکوال ژر په دې خبره تمرکز کوي چې غني خان د لویدیځې نړۍ د اګزستانسیالیستي فلسفې چې د کيڼ لاسو لکه سارتر او هایدګر او نورو له خوا وړاندې شوه معتقد نه بلکې د رسالې د لیکوال په باور د تصوف د روایتي فلسفې وجودي دی، که څه هم په نظم باندې د شهود کیفیت او رنګ خور دی خو غني خان د خپل فکر په رڼا کې د باور تر بریده رسیږي.

دلته د دوه فکري ښوونځیو یعني شرقي تصوف او د لویدیځې نړۍ د وجودي اصالت خبره را منځ ته شوه، چې دمسالې دښې روښانتیا له پاره اړینه ده چې یوه شیبه ماضي ته ستانه شو.

د زیاترو ژورو فلسفي پوهانو په باور غربي انسان او شرقي متصوف دواړه د علوي مقام د ترلاسه کولو په نیت د(( پرومته)) ایدیال تعقیبوي. په دې معنا چې دواړه انسانان خپل برخلیك ته نه تسلیمیږي بلکې ورسره ډغره وهي هیڅ ډول بهرنی ځواك نه مني او د هر ډول سیاسي اومذهبي ځواکونو په مقابل کې سر غړاوی کوي. په یوازې سر او په واحد فردیت سره هڅه

۱.همدا اثر ۹۰ مخ

کوي چې په خپله د ژوند او هستی معنا پیدا کړي اویا یې هسته کړي. دواړه د معنا ایجادوونکي دي او دواړه په دې هڅه کې دي چې هم معنا ایجاد کړي، هم ځان جوړ کړي او ځان یا خپل انساني وجود بیا هست کړي. خو د رنسانس له دور نه وروسته لویدیځ انسان دماشین اوصنعتي ودې په جال کې را گیر شو، یوازې دمادې قدرت په لټه کې شو. د لاسبرۍ په لټه او د باداری په لټه کې شو. لویدیځ انسان په خپل تن او وجود کې د رب النوع قدرت ولید او ویني خو صوفي د دې له پاره چې یاد قدرت مقام ته ځان ورسوي نوخپل ځان پالونکی شعور قرباني کوي. غربي انسان د ځان پالونکي شعور مریي گرځي.هغه دځان پالونکي شعور قربانۍ ته چمتو نه دی.ځان پالونکی شعور د غربي انسان لارښود او رهبر دی. د لویدیځې نړۍ انسان چې کله د خپل مقام په اړوند فکر کوي. یوازې د قدرت او لارښوونې امر ونهې او مطلقې لاسبرۍ په فکر کې دی چې څرنگه خپل تمایلات عملي کړي اومطلقې لاسبرۍ ته ورسیږي.خو صوفي دغه قدرت د((شتون)) په مقوله کې گوري چې غربي انسان یې د((لرلو)) په مقوله کې گوري. یعنې (شتون یا بودن اولرل یا داشتن )٠ صوفي د رواني سلامتۍ په لورگام اخلي خو غربي انسان د قدرت غوښتنې او د ځان پردې کیدنې په لور مطلق قدرت غواړي.

دلته ځان پالونکی شعورخپل نقش لوبوي. دا شعور په خپل ماهیت کې یو بت پرسته شعور دی چې غربي انسان یې تابع کړي مگر صوفي اوشرقي انسان دغه بوتان ماتوي. له همدې امله په نتیجه کې غربي انسان بت پالونکي اوشرقي صوفي بت ماتوونکی دی.

په پایله کې په شرقي تمدن کې چې صوفي ددغه تمدن غوره استازی دی. دا پیام را کوي چې صوفي د اصالت وجودي فلسفې په څیر له خپله ځانه پیل کوي اوخپل بت اوځان پالونکي شعور له منځه وړي اویا یې نفې کوي.

نو له دې امله د شرقي صوفي  او د وجودي اصالت باوري فيلسوف ګډې خواوي لري چې د غني خان په اشعارو او افکارو کې يې هم ليدلای شو او په هغه کې  انعکاس کوي.د رنګ او نور د رسالې ليکوال د شاعر د وجودي اصالت په برخه کې د شاعر اوږده نظم  باندي حساب کوي  او هغه مثال را وړي.

لټون:

غرمه د اوړي

لکه شپه دژمي

یو خاموشي

او قلاری خور دی

دکوړکوړکو ګوګو

اوچوپ چاپ عالم هو

وخت پښه نيولې

په رکاب سور دی

دونيا دې خپل زړګي ته غوږ نيولی

دمرګ اوژوند حساب کتاب اوري

فضا کې ګډيو مسکې توب شان دی

لکه په خوب کې څوك رباب اوري

اوزه یوازې

په خیالونو کې ډوب

دخپل ارمان

تلاش کې ګرځمه

یو ورک

مجبوره

مسافر

یم روان

په مځکه پروت

په اسمان ګرځمه

ما دې هم خپل ژړګي ته غوږ نیولی

دژوند څه وجه څه نساب لټوم

درد له اومرګ له څه سبب ګورم

ابد کې خپل دهوش حباب لټوم

داولې ولې ؟

په دریاب کې ورك

جام کې شراب

اوپه شرابو کې

په سور کتاب کې

دجومات دتاخ

زه مرگ اوژوند له

یو تړون گورم

چپه چپتیا

اوخاموشي

کې زه

شرنگ دستار

دتال مضمون گورم

چاپیره رنگ کې

شنو کمترو کې

ځان له جواب دخپل ژوندون گورم

زه لیونی یم،لیونی یم،ربنتیا

په میخانه کې اپلاتون ګورم

ځانته چې سترګې مې ور واړولې

بس

مرګ

اونیش

اووینمه

زه لیونی یم لیونی  یم ربنتیا

دمرګ په سترګو کې ژوندون ګورم

غرمه داوړي

لکه شپه دژمي

یو خاموشی

یو قلاری خور دی

چرته کې لرې

یو بخری

دنور

ستوری ؟

که لرې دصحرا اور دی

ماته وړوکو

پلوشو

کې وایې

که غر دی لوی

په سر یې لار خو شته

څه ؟

که ژوندون

یو ورك

ساعت دی

دهوش

یو ابدي

دده دلدار خو شته

زړګیه ځان ټګې که ما ټګې

څنګه ځان خلاص دهر جنجاله کړې

زړګیه ! ای ټګه زړګیه زما

ځان کې مشغول اومور.خوشحاله کړې

خو ستا نه منم

غرقیږمه

سم په ربنتیا

لیونی کیږمه

داضطراب په تور دریاب کې زه

اوس سرسرې یم بیا ډوبیږمه

په تورو ورو کې بیا ورکیږمه

د لته په خپل اور کې سوزیږمه

په ژوندون تورې خاورې کیږمه

په خپلو وینو کې ډوبیږمه

غرمه داوړي

لکه شپه دژمي

یو خاموشی یو قلاری خور دی

چرته کې لرې

یو بڅرې دنور

ستوري كه لرې دصحرا اور دی

ماته وړوكو پلوشو كې وايي

كه غر دی لوی په سر يې لار خو شته

كه ژوندون يو ورك ساعت دی دهوش

يو ابدي دده دلدار خو شته۰

هماغه ډول چې فرانسوي ليكوال اوفيلسوف ژان پل سارتر دانسان وجوديت دهغه پر ماهيت مقدم بولي ـدلته هم شاعر له خپله ځانه پيل كوي ـدنړۍ اوكايناتو درک اوپوهاوی دخپل وجود اودخپل زړه له درزا پيل كوي.

همدا راز دپيدايش په شاعر كې دا څرگندونه لاپسې روښانه ده.

**ب: پيدايش**

او ما ځان له ساز كه په خپله جوړ

دخپل خوب نه دخپل خيال نه

دخپل غم نه دمستۍ نه

دخپل تول نه دخپل تال نه

اوما ځان له يار كه په خپله جوړ

دخپل سوز نه دارمان نه

دخوبونو نه د رنگونو نه

دگلونو نه دخزان نه

اوما ځان له غم که پخپله جوړ

د خندا نه دخوشحالی نه

دوصال نه دخمار نه

دبهار نه دلولی نه

اوما ځان له ژوند که په خپله جوړ

دامید نه درڼا نه

دتیارونه دښیرو نه

دغمونو نه دسودا نه

دژوندون نه دمستی نه

اوما ځان له مرگ که په خپله جوړ

دسپرلي دزیړو گلونو نه

دلالونو نه دځوانی نه ۴۶۱

ترمخه یاد شوي دواړه خیړونکي او لیکوال هم د((نور اورنگ شاعر )) د رسالې لیکوال اوهم ((دجنون اودجانان دفلسفې ))درسالې لیکوال د غني خان د وجودي باورونو تایید کوي خو د فلسفه دجنون اودجانان د رسالې

یوبشپړوونکی عنصر دا برېښي چې هغه درسالي په پایله کې په دې خبره هم ټینګارکوي چې زموږ دسیمي فرهنګ اومدنیت دهند دلویې وچې سره پیوند لري، دا مدنیت یو معنوي اوروحاني هغه دی، سره له دې چې لیکوال اسلامي عنصر په کې برجسته کوي، خو د ویل دورانت په نظر هند په خپله د مدنیتونو زانګو ده، تصوف او عرفان څه د زردشتیزم، هندي فلسفې بودیزم او د هند د اصلي مدنیت هسته ده چې اسلامي مدنیت باندې یې متقابل اغیزکړی دی. له دې امله ده که غني خان د وجودي اصالت نه اغیزمن دی نو په فلسفیانه طرز کې د تصوف نه هم اغیزمن دی، البته د ده تصوف کوم بیاباني او درویشي جریان ته ورته نه دی. او نه خو تارک دونیا دی بلکې انسانیت محور او د تفکر او عقایدو له مخې تصوف دی چې ښکلاییز یا استیتیکي عنصر یا اړخونه یې ډېر پیاوړي دي.

کله چې د وجودي اصالت یادونه کوو د یاد شاعر په اشعارو کې ډیر داسې اشعار اونظمونه شته چې ددې خبرې مصداق کیدای شي. دلټون نظم چې تر مخه یې یادونه وشوه دا خبره ترې جوتیږي چې شاعر د وجود په تقدم باوري دی. د وجود تقدم یوازې دانسان په برخه کې صدق کوي چې په دواړوفکري برخویعنې مادي او ایدیالي اګزستانسیالیستانوکي ګډېکی دی.

سارتر وایي: اګزستانسیالیستان په دوه ډلو ویشل کیږي: لومړۍ ډله هغه مسیحي اګزستانسیالیستان دي چې یاسپرس،ګابریل مارسل کاتولیک د مذهب پلویان له دغه ډلې شمیرم.

دویمه ډله: هغه غیر مذهبي اګزستنسیالیستان دي لکه هایدګر، او فرانسوي اګزستانسیالیستان اوزه خپله له دې ډلې یم.

سارتر زیاتوي چې د دواړو ډلو ترمنځ ګډه وجهه داده چې ټول په دې باور دي چې وجود پر ماهیت مقدم دی. یا د فلسفې په بل عبارت، فلسفه باید له درون ګرایي( سوبژکتیویزم ) نه پیل کړو.

یاد فیلسوف مساله په دې ډول څیړي: یو انځور ګر چې غواړي یوه تابلو رسم کړي.تر هغه وخته چې دسپینې تابلو په خوا کې ناست دی رنګ، قلم، او بورس اونور وسایل ورسره دي په ذهن کې یې یوه تابلو شته خو دهغه هنري تابلو لا واقعیت ته نه ده راغلې، دلته د تابلو ماهیت شته خو وجود یې نشته خوکله چې تابلو رسم اوجوړه شوه نو وجود پیدا کوي په دې اساس په تابلوباندې دهغې ماهیت تر مخه دی ځکه چې ماهیت یې درسام په ذهن کې موجود وو.

انسان هغه موجود دی، چې دی خلق شوی دی خو کله چې هست شوی نور دی په خپله ځان خپل جوړوي، دې (انسان )دی چې ژوند جوړوي خو دده شتون اوموجودیت دهغه د ټولوتخلیقاتوترمخه دی، په دې لړکې پورتنی شعر د دې ادعا ښه ثبوت کیدای شي.

همدارنګه دیاد یوه په باور د هر څه وجود دیو شي د ذاتي صفاتو او ځانګړنو له حقیقت نه عبارت دی، څه که خارجي وجود ولري اوکه نه.

د اګزستانسایالیزم دښوونځي د اصولو له مخې د انسان هغه ټولو هستونو او ایجاداتو پرخلاف چې شته او د ټولو هستوونکو اوجوړوونکو پرخلاف چې پوهیږي چې څه غواړي جوړ یې کړي، له ځانه سره دشیانو طرحه لري. او بیا یې جوړوي. انسان نړۍ ته راغی نو انسان دی چې انسانیت او انساني صفات په خپله اراده، غوراوي، سلیقه اوخپل انتخاب جوړوي. پایله دا چې انسان د خپل ځان هستوونکی دی. یعنې په خپله همدغه موجود (انسان)خپله

را تلونکی جوړوي. دا ښوونځی ( وجودي اصالت) انسان ته دلته په ستره برتری قایل دی. وجودي اصالت دانسان ستره اوزیاته ستاینه کوي.او په ستر رسالت باندې ورته قایل دی. په دې هم باور لري چې د انسان وجود واجب الوجود جوړ کړ، خوعظمتونه، ښکلا، ښیگڼې او انسانیتونه پخپله انسان هستوي.

له بلې خوا داگزستانسیالستانو په باور بشر په ازادۍ محکوم دی. بشر ازاد دی. دا ځکه چې ځان يې نه دی هست کړی بلکې هست شوی دی، نو ازاد دی، کله چې یې په نړۍ کې قدم کیښود، دټولو کارونو مسوول په خپله دی.

دا چې یو انسان دخپل انسانیت جوړوونکی دی نو انسان ته دوه ډوله احساس پیدا کیږي. یو دجدي مسوولیت احساس اوبله سخته ویره اوترهه. په وجودي فلسفه کې دمسوولیت احساس، ترهه او ډار د انسان له پاره بنسټیزې گړنې دي.

دا چې انسان دخپل انسانیت دجوړولو مسوولیت په غاړه لري، نو دخپلې راتلونکې دجوړولو ستر مسوولیت هم په غاړه لري، په واقعیت کې دا پیښنه د هغه له ازادۍ سره تړاو لري، همدارنگه دانسان ترهه اواندیښنه په دې کې متبلوره ده چې هیڅ ډول ارامي اوکراري نه لري.

سارتر وايي هغه څوک چې په خپله ترهه اوندیښنه نه پوهیږي چې ستونزه یې څه ده، نو د هغه ترهه منفي اومبتذله ده خو زه دهغه چا ترهه اواندیښنه وایم چې دیو ملت، یوې ټولنې یو شمیرکسانو یوې کورنۍ برخلیک دهغه پر غاړه دی. او وینې چې پریکړې اوکارونه دهغه په برخلیک اوپه ټول کې د هغه په غاړه دی، قاطع اومطلق اغیزکوي.

په وجودي فلسفه کې انسان یوازې او ناامیده، نهیلی ګڼل شوی دی، باور داسې دی چې انسان دطبعیت برخه نه بلکې له طبعیت نه ګوښی دی.انسان له یوه بله جنسه دی. په دې دښته کې یوازې سرګردانه دی چې نه دهغه له جنسه ده او نه د هغه له پاره جوړه شوې ده. په داسې حال کې چې هر څوک دخپل ځان مسوول دی دا چې انسان دتاریخ له مسیر یا طبعیت اویا دجبر تابع نه وو نو له جبر، قضا اوتقدیر له سخاوت نه بې برخې دی چې د نهیلي منبع یې هم په دې کې ده.

## ج:.فلسفه دجنو ن اودجانان په څه خبرې کوي ؟

فلسفه دجنون او د جانان د لیکوال سید عابد جان لیکنه ده چې په سلو مخونوکې د غني خان د فلسفي تفکر او ایدیال په باب کښل شوې ده. په دې رساله کې په درې مهمو موضوعاتو بحث کيږي چې عبارت دي له: لیونی او فلسفه، د لیوني فلسفه اولیونی او د فلسفې تاریخ.

داسې جوتيږي چې لیکوال د هګل ددیالکتیکي مېتود یعنې تیز، انتې تیز اوسنتیز پر بنسټ خپل بحث ته دوام ورکړی دی.

په لومړي بحث کې لیکوال هڅه کوي چې دغني خان د فلسفي تفکر بنیاد د پښتنې ټولنیزو۔ اقتصادي اوکلتوري مناسباتو کې وپلټي او د هغو پر بنیاد یې توجیه کړي. نوموړی دهګل په دې خبره استناد کوي چې وايي:

(( هیګل په ګوته کړې ده چې هره فلسفه دخپل وخت او هغه اولس په کومه کې چې هغه مینځ ته راځي، درياستي اوحکومتي شکل، اخلاقیاتو او صلاحیتونو، عادتونو، خواهشاتو، مذهب، ټولنیز ژوند او داخلي اوخارجي ژوند همعصره وي. دا وینا په خپل ځای خو په دې کې هم شك نشته، چې د فلسفې ځینې مسالې ابدي هم دي. دغه مسالې د زمان اومکان دقید نه ازادې

دي. د بېلګي په توګه، دجهان د وحدت مساله عقلي اوحسي مساله او د ازادئ مساله، د هر فلسفيانه فکر هغه موضوعات دي چې په یوه خاصه معنا کې ورته مونږ ابدي مسالې وایو.))[1]

د غني خان د فلسفي تفکر د پيژندني له پاره او د بلې هرې فلسفې د فکري ليد توګي د پيژندنې له پاره اړینه ده چې د نوموړي متفکر ټولنیز فرهنګي چاپيريال د وخت پيښې او تاريخ څخه خبرتيا تر لاسه شي. د متفکريا فلسفې په اړوند د همدغه مناسباتو په اډانه کې کلي نتايج تر لاسه کيدلای شي.

په دويمه مساله کې چې د ليوني فلسفه نوميږي په پیل کې دګيلګاميش د اسطورې یوه برخه راوړي چې ليکوال غواړي ددغه اسطوري په بنياد د شاعر په کلام کې د مرګ او ژوند مساله وڅيړي او د انساني موجود هغه اشتياق او رغبت چې د ژوند په باب له انسان سره شته دی هغې ته اسطوروي بنسټ کيږدي.ليکوال غواړي د غني خان د فلسفي ليدتوګي د اساسي مسالي په توګه د مرګ اوحيات مساله وڅيړي. د مرګ اوحيات مساله په اساطيرالاولين کې اساسي هغه ده اود یونګ(کارل ګوستاویونګ) او ميرچا الياده د ليکنو اوڅيړنو په استناد د ادیانو د رامنځ ته کيدو لومړنی تهداب هم ګڼل شوی دی.یا په بل عبارت دا مساله ددې سبب شوې ده چې انسان یا بشریت دځان دخوندي توب له پاره دژغورنې فرهنګ ایجاد کړی او یاپه دې ډول ځان رضا کړي چې بيا حيات شته.

ددې اسطورې په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

(( دمرګ ويرې را اخيستی او د اب حيات په لټون سرګردانه سر وهلی او بر وهلی ګلګامش زرګونه کاله وړاندې دخاورو برخه جوړه شوې اوتش

٢٧مخ ٠فلسفه دجنون اودجانان.

نوم يې پاتې دى. د نن او ګيلګامش تر مينځ انسان يو اوږود سفر کړى دى، په دې اوږده سفرکې بنې ادم په ډيرڅه برى موندلى دى او خپل ډير خواهشات يې سرته رسولي دي. له ډيرو ضرورتونو خلاص شو او د خپل عقل په جادو لګيا دى فطرت مسخر کوي، لکه د مارغانو په هوا الوزي او د سپوږمۍ سيلونه کوي. دسمندر په تل کې ملغلرې لټوي، په زرګونه ميله ليرې ناست د يوبل غږ اوري او عکس وينې. دخپل عقل اوفکر په زور د ختيو ګوډاګى انسان ځان د پيريانو او ديوانو نه لوى قدرت وګرځاوه خو زرګونه کاله تيرشول او زرګونه به نور هم تير شي او سره د خپل قدرت او طاقت انسان ونه شول کړاى چې مرګ له ماتې ورکړي. اوراتلونکى انسان به ونه کړاى شي چې اب حيات تيار کړي او ابدي شي. د انسان عقل د مرګ د ديو په مقابل کې بيوسه اولا چاره دى اولا چاره به وي. دا ومې ژړل ځکه چې اوس به ديو راشي اوتا به وخوري. )) [1]. فلسفه دجنون اودجانان

خو ليکوال د دې تحليل اوشننې په پاى کې دې پايلې ته رسيږي او وايي چې دليوني فلسفې ځواب دې ټولو پوښتنو ته د هغه په جمالياتي تصوف چې غني ورته د جنون اوجانان فلسفه وايي، موندل کيږي، چې ورکې غنې موضوعي اومعروضي عينيت له يو بل سره تړي اوځان ابدي کوي.

په دې برخه کې ليکوال د فلسفې په دروني جوړښت يا درونې توانايي شخصيت هم تينګار کوي اودمسايلو ځواب په هغه کې ګوري.

ليکوال دګلګاميش اسطوره مطرح کوي چې دا د انسان لاسبري اودطبعيت په وړاندې د انسان د بري څرګندوى ده. همدا مساله د پرومته اوزيوس په اسطوره کې هم په لږ توپير سره بيانيږي خو دروني اسايش اودروني سکون

---

۱.(۲) ۳۴ مخ

زیاتره د شرقي تصوف یا فسلفې پورې اړوند دی چې لیکوال یې وروسته مطرح کوي. په دې ډول یو تناقض ته رسیږو او ستونزه پرځای پاتې کیږي. په دې معنا چې دډیرو اوبیلابیلو مسایلو طرح موږ نتیجې ته نه رسوي بلکې دا به ښه وي چې یو وار د انسان اوطبعیت ستونزه بیا د انسان او مرګ ستونزه او بیا د انسان دروني او د نننې وس اوغوښتنې فارمولبندي شي اوبیا د غني خان فلسفیانه اشعارو باندې تکیه وشي خو دا کار د هرلیکوال د ځیرنیزې سلیقې اوسبک او د شننې له طریقې اومېتود سره هم تړاو لري.

په دریېم پړاو کې چې دسنتیز پړاو دی.لیکوال نتیجه ګیري او د طرحې ترکیب ته رسیږي.نوموړی هڅه کوي چې دغه فلسفي تفکرات دلویدیځې فلسفې پربنیاد حل او وڅیړي خو په پای کې دسهروردي او ابن عربي نظریاتو ته راځي. او د هغو په روښنایي اورڼا کې دغني افکارو ته اشاره کوي. داسمه ده خو باید ووایو چې ابن عربي داسلامي تصوف دلویدیځې ځانګې سرلاری اومخکښ دی، حال دا چې دتصوف اوعرفان یوه لویه زمینه د هند په لویه وچه کې ده، او له اسلام څخه دمخه افکارو اوعقایدو کې خپلې ریښې لري. لیکوال په پای کې لیکي:

(( غني د انساني فلسفیانه قدرونو هغه څه رااخیستي دي چې دهغه منطق قبول کړي او د هغه له فکره سره یې سمون خوړلی دی. دغه غني دخپل فکرپه رنګ کې لړلي اوله ډیرو نویو اقدارو سره یې د انسان د فکر او فلسفې د تاریخ برخه جوړه کړي ده......))[1]

ځیرونکي په ډیرې ژورتیا سره یوه اهمه مساله څیړلې او هغه د وجودي اصالت د فلسفې په بنیاد دوه پوښتنې دي:

۵۹ مخ۰ فلسفه دجنون اودجانان

يوه پوښتنه داده چې كه دانسان ځواكمني او قدرت دهغه په دننه يا باطن كې ده نو دا قدرت له كومه له انسان سره مل شو؟ ايا دا قدرت په انسان كې د خلقت له مخې هست شوی دی اوكه معروضي يا خارجي سرچينه لري چې دانسان په داخل كې ددغه قوت سبب كيږي.

بله پوښتنه داده چې كه دبيروني يا بهرني قوت نفی مطرح نه وي نو د دغه بهرني يا معروضي قوت حقيقت څه دی؟ ايا مطلق ماهيت لري اوكه نسبي، په بهركې څه ډول او دانسان په باطن كې څه ډول دی؟

د وجودي اصالت د فلسفې پلار كيركه گارد وايي:

(( د هغه روح اثبات چې مسيحيت يې په لټه كی دی په بهرنيو قوتونو باندې په سترگې پټولو سره چې د روح رڼا په كې له مخه رسوخ كړی وو، امكان نه پيدا كوي خو ددغه بهرنيو قوتونو سره دانسان دځانگړې رابطې د بيا جوړونې او هغه رڼا ته په پام سره چې له دننني يا باطني دونيا نه را پيدا كيږي. د معنويت له اسرارو ډك اثرات دي چې واقعيت ته روح وركوي او هغه پياوړی كوي. موږ يوازې له همدې لارې كولای شو معنويت كشف او ثابت كړو .)) [1]

د غني خان د فكر او اند په اړوند ددې پوښتنو ځواب په استيتيكي يا ښكلاييز عرفان اوتصوف كې دی. ليكوال په ټينگه باور لري چې شاعر يو وجودي اصالت ته قايل دی. او د دغه وجودي اصالت په بنسټ هغه يو مطلق ذات ته د عرفان اوتصوف په اصولو قايل دی.شاعر دانسان اومطلقه ذات اړيكې د عرفاني او ښكلاييز بنسټ له مخې گوري.

---

۲.غلام صابر ۰كی ير كگارد واقبال (ترجمه فارسي دكتر محمد بقايي ماكان ) ياد آوران: چاپ اول ۱۳۸۸ ۰ مخ ۱۲۶

د ابن عربي دا خبره دلته د غني خان د افکارو په برخه کې سرخوري چې وايي: ((خدای ښکلی دی اوښکلا یې خوښیږي. ))

غني په کراتو یو مفهوم کاروي، هغه دجانان مفهوم دی. دا د مطلق ذات له پاره دغني غوره شوې مفهوم دی. دغه جانان دغني له پاره ابدي ښکلا ده. غني په انسان کې دجانان ځیره ویني، چې دخلقت لومړۍ اسطورې یا د بابا آدم اسطورې ته ارجاع کیږي. انسان ته د یو کوچني خدای درجه ورکوي، چې په وجودي لحاظ په خپل ځان باندې د انسان باور ټینګولو معنا لري.

د غني په فلسفي نظام کې دځان او انسان په ګډون او اصالت ټینګارکوي. چې په شرقي فرهنګ کې څه نوی ایډیا نه ده. په شرقي صوفیانه ادب کې چې له اسلام نه وروسته له اسلامي فرهنګ سره امتزاج پیدا کړی دغه انساني وجودیت ښکاره اوځلانده دی.کله چې غني د وجود مفهوم را اخلي یو ډول صوفیانه او عارفانه مصداق لري. د صوفیانو او عارفانو په نظر دا یو برتر او علوي وجود دی. صوفیان په خپل سیر او نفس کې د دغه علوي یا ترانسندنتال موجودیت اثبات په لټه کې دي.

د دې کرښو لیکوونکي ته د فلسفه دجنون او د جانان د لیکوال دا خبره ډیره په زړه پورې او پرې باندې د ټینګار وړ بریښي چې وايي:

(( زه ویلای شم چې غني د فن نه زیات د سبا شاعر او فیلسوف دی چې ځومره وخت تیریږي او سبا په نن بدلیږي، د هر تن انسان به دده دفن په دونیا کې نوې موندنې کوي.لیرې نه ده چې موږ او وخت به غني د اسپینوزا، ټیګور، تولستوی، ولتر او د نورو نړیوالو ادبي مفکرینو په کتار کې وشمیرو.)) جنون ۸۲ مخ

♦♦♦

فلسفه دجنون او د جانان په زړه پورې رساله ده. په پښتو ژبه کې ددغه ډول لیکنو ډیر کمی محسوس دی. له بلې خوا لیکوال هم د شاعر او مفکر غني خان د افکارو ډیرو اساسي اوبنیادي مسالو ته پام را اړولی دی. دغه رنگه د لویدیځې فلسفې په رڼاکې په زړه پورې مسایلو په بنیاد یې هڅه کړې چې د غني افکار د پوهیدنې وړ وگرځوی خو دځو ټکو یادول اړین بریښي:

۱. لیکوال هڅه کړې چې مسایل په ډیر کوټلي ډول وړاندې کړي. دا د دې له پاره چې د غني افکار د پوهیدنې وړ شي خو لړ څه نورې شننې ته هم اړتیا لیدل کیږي. هسې خو هم فلسفي شننه پیچلې وي خو دلویدیځو افکارو له سیستمونوڅخه یو هغه دبنسټ په توگه نه دی ټاکل شوی چې د هغه په اساس یې دغه فلسفي افکار څیړلي وای. البته د دې دلیل به داوي چې د غني په افکارو کې د بیلابیلو ښوونځیو اغیزې شته. دمثال په توگه که موږ له یوی خوا دهگل یادونه کوو اوبیا دکانت اوبیا هایدگر ته ځو نو په واقعیت کې دا درې بیلابیل فکري سیستمونه دي، او موږ نه شوکولی دا درې واړه سره گډ کړو. البته د لیکوال دا خبره سمه ده چې د فلسفې ځینې پرنسیپونه عام اوپرځای دي.

۲.په اثرکې سره له دې چې دگلگامش اسطوره ډیره اساسي اوپه زړه پورې ده خو دا د پرومته او زیوس سره نږدیوالي لري، د دغه افکارو لوری د تعقل او تجربې معرفت په لور کې دی. حال دا چې غني خان په خپل اشعاروکې په اشراقیت هم تکیه کوي له بلې خوا زموږ شاعر شرقي هغه دی. موږ په ختیځ کې زیات داسې فکري سیستمونه لرو چې دهغو پر بستر دخپل فلسفي شاعر شننه وکړو. مطلب دا چې موږ تر زیاته حده د شرقي فلسفې افکارو او یا هندي اسلامي تمدن څخه اغیزمن یو، د دې تمدن اصلي

زړی معنويت اوتصوفي اوعرفاني ليدتوګه ده. که په لويديځ کې د انسان ستونزه فلسفې مطرح کړې نو په ختيزکې تصوف اوعرفان مطرح کړې ده. بايد ددې دوه فکرې ليدتوګو يو څه توپير وشي.

۳. فلسفه دجنون اودجانان په اثرکې لکه څنګه چې ادعا شوې ده، دشاعر ټولنيز اوفرهنګي چاپيريال اوپيښې نه دي فورمول بندې شوي، په دې لړ کې هندي فرهنګ چې د پښتون کرکتر هم په کې څيړل کيدای شي. ازادي غوښتنه، د ملا پر ضد د شاعر کرکه، عمر خيام او د هدونيزم فکري تګ لاره چې غني خان يې په بار بار يادونه کوي، شانتي نکيتن اوټاګور او داسې نور زيات مسايلو ته لږه اشاره شوې ده. دا کيدای شي له دې امله وي چې په فلسفي شننه کې په جزياتو بحث ناشونی دی خو لږ څه توضيح اړينه وه. له بلې خوا د ليوني کلمه زياته تکرار شوې ده. دا کلمه دوه تعبيرونه لرلای شي. يو مثبت اوبل يې منفي سره له دې چې په خپله غني خان څو څو ځايه په خپلو کلامونو کې د شعري نوم په توګه هم کارولې ده. دا يوه خبره، مثبت جهت يې دادی چې په ټولنه کې زياتره د خارق العاده استعداد خاوندان چې دنبوغ اوعبقريت خاوند وي د ليوني خطاب ورته کيدای شي چې البته غني خان دخپل برتر استعداد يادونه نه کوي بلکې نور کسان يې توجيه کوي ـ بله داچې غني ددې له پاره چې ترخه حقايق ووايي اودټولنې دموخذې اوسنتونو پرده وشلوي نو منصورې کرکتر خپلوي اوبيا دليونې په نوم هستونه کوي ـ

### د.غني خان، شرقي تمدن او فلسفي ليدتوګه

د غني خان په شعر کې ډير داسې څه شته چې په ساده مخامخ کيدنې او لوستلو سره کيدای شي پيچلي و بريښي. سبب دا دی چې غني د خپل وخت، خپل فرهنګي چاپيريال او شاعرانه احساس او پوهاوی(معرفت) خاوند دی.

دا به ناسمه وي چې غني په مجرد ډول دهغه ددوران له پېښو او د هغه د زلميتوب، د کورني او ټولنيز چاپيريال، د هند د نيمې وچې له پراخه فلسفي ارزښتنو اوپښتني فرهنگ ، د پښتنې ټولنې دعمده پوښتنو له مطالعې پرته مطالعه کړو.

کله چې غني خان په نفسياتي او ارواييي لحاظ له خپله ځانه را ووځي او خپل چاپيريال ويني، نو سملاسي د هغه عمده او اساسي پوښتنو ته فکر کيږي، د خلقت او د کايناتو او د هغه لوی ذات سره مخاطب کيږي. دا د نوموړي هغه عام اوجامع اعتقاد څرگندوي چې د شرق په فلسفي تفکرکې ژورې ريښې لري. غني چې په لومړي سرکې د مذهبي مدرسې طالب العلم پاتې شوی له هر چا نه زيات په مذهبي مسايلو احاطه لري. نوموړی په دغه فلسفي اعتقاد کې((ملا)) د دغه پېښې د يو کاذب او دروغجن او ډاروو نکي مفسر په توگه لوڅوي.د هغه د اشعارو په کلياتو کې د ملا او ريا او تظاهرپه باب او د ناپوه واعظانو په اړوند ډير څه شته او ويلي يې دي. د غني د فلسفي ليد توگه په عموميت کې د يو شرقي متفکر او شاعرليد توگه ده چې د معنويت پر ستنو ولاړه ده. کله چې شرقې فلسفي تفکر ته ځغلند نظر اچوو هگل ددغه فلسفي تفکر په اړوند وايي:

((د شرقي فلسفي گړنه په ځانگړې توگه په هغه دوران اوسيمه کې راپورته او اطلاق کيږي، په کومه کې چې دختيز لويوالي، عموميت او د لويي وچې حد او قلمرو او محدوديت پيژندل کيږي، يا هغه ځای اوسيمه چې روح په کې په ذهني توگه حکم چلوي. ))(۱)

د هگل په باور سره په منځنيو پيړيو کې دغه سترو عقايدو او افکارو چې په معنويت ولاړ ول، لومړی ايتاليي ته لار وکړه، دې عقايدو په لا ادرې فلسفه کې نفوذ وکړچې غربي روح د لايتناهي تفکر سره تر فشارلاندي

ونيسي. دا لړۍ تر دې اندازې پرمخ ولاړه چې کليسا یو وار بیا بریالۍ شوه چې تله په خپله ګټه درنه کړي. په نتیجه کي لاهوت په پريکنده توګه لاسبرى کړي.د هګل په نظر هغه څه چې موږ يي دشرقي فلسفې په نوم پيژنو، په دقيق ډول د هماغه مذهبي تفکر لاره ده اوپه کلي توګه دنړۍ په اړوند پوهه اواستنباط په رقيانو پورې اړه لري، د مذهب په اړوند دشرقي تصور ځيرنه له فلاسفه و سره زيات ورته والی لري، دا سم دم په هماغه ډول چې مذهبي فلسفه ده خو ددې په څنګ کې واقعي علت هم څرګند وي.

هګل دشرقي اولويديځ تفکر توپير په دې کې ويني چې په يونان اوروم او مسيحيت کې د فردي ازادۍ مفهوم نفوذ کوي او په فردي اسطوره وي او مسيحي عقايدوکې را څرګنديږي خو په شرقي مذهب کې دا برعکس ده، په شرق کې د فاعليت عنصر نه دی جوت شوی، له همدي امله مذهبي تصورات نه فردي کيږي، هغه مثال راوړي چې په شرق کې هم فردي اشکال لکه ((برهما))، (( ويشنو)) او(( شيوا)) شته خوله کومه ځايه چې دفردي ازادۍ عنصرغايب دی نو فرديت واقعي نه بلکې سطحي بڼه لري. او په نتیجه کي د لاتناهيت او ناپايه اوبې اندازې والی رامنځ ته کيږي.( ۲)

دلته دېوې بلې مساءلي لږ روښانتيا هم اړينه ده اوهغه ددين ،فلسفې اوعرفان يا تصوف توپيرونه دي .په دې برخه کې زموږ په فرهنګې حوزه کې دڅيړنې تاريخ په عمده توګه داسلامي اوزردشتي سننو دڅيړنې سره تړاو لري.سره له دې چې دغه عرفاني اوفلسفي سنتونه بېلابېل ماهيتونه اوجوړښتونه لري خو تر هر څه تر مخه دا حقيقت را په ډاګه کوي چې ياد سنن خپل اعتبار لري. يوله بله سره رابطه لري. په بل عبارت دروحې عالم پيغامونه دي چې په بهرنۍ بڼه کې له يوبله جلا دي خو په دروني يا دنني ماهيت کې يوله بله سره پيوند لري. د فکري سنتونو په دروني وحدت باندې تاءکيدپه حقيقت کې ددې فرهنګي حوزې دوتلو متفکرينو اوايليت

شخصيتونو خاصه ځانګړنه ده.په همامغه اندازه چې دتطبيقي ادبياتو هر ځيرونكى پوهيږي، ځينې ډېر ښكلي اوعالي تجليات يا ((د اديانو متعالي يو والى)) د سيمي د ژبو په تصوفي اشعارو كې پيدا كيږي.

يوه ډيره مهمه مساله ددېني فلسفي افكارو دځيرنې په بهير كې چې ځاى ځاى را برسيره كيږي خو داختلاف اوشننې په اړوند لږ څه ويل كيږي هغه دشريعت اوتصوف ټكر دى. دغني خان په اشعارو كې ملا پر نورو نظرونو سربيره دشريعت سمبول هم دى. چې دعرفاني افكارو تر بريدونو لاندې دى اودا تر پايه يوه دايمي اوپرله پسې شخړه ده.د موضوع دلا روښانتيا له پاره اړينه ده چې لږ څه دادوه مفهومه واضح كړو.

شريعت ددين لاره ده.د روهي صيب په قول شريعت هغه لاره ده چې سړى جنت ته رسوي اوطريقت هغه لاره ده چې سړى خداى ته رسوي. نسفي وايي: يوه شه چې شريعت دپيغمبرانو وينا ده اوطريقت دانبياوو عمل دى.اوحقيقت دانبياوو ليد.ابن عربي وايي: شريعت هغه څرګند سنت دى چې رسولانو يې دخداى تعالي په امر راوړى ،داسې نوى پيدا شوى سنت چې خداى ته دنږديوالى طريق ښى. شريعت ددين پر ظواهرو حساب كوي.كله كله دا ظاهري احكام هم دجمود تر بريده پر مخ لاړ شي دازاد تفكر كولو لاره بنده شي په اسلامي نړۍ كې فلسفه هم دا ستونزه لري، په دې معنا چې فلاسفه وو پيړۍ، پيړۍ دارسطو اوافلاطون داثارو په تعبير اوتفسير تېرې كړې خو يواځينى فكري لاره چې دشخصي تجربې لاره ده اودشخصي تجربو په اساس پرمخ ځي هغه دصوفي لاره ده.صوفي د صدق او اخلاص لاره پر مخ بيايي فقيه او متشرع د ديني ارشاداتو او ظواهرو ته پناه وړي خو صوفي ځان ته رجوع كړې او د شخصي تجربي لاره يې غوره كړې ده.

په زیاترو تصوفي اوعرفاني متونو کې دواړه مفاهیم دشریعت اوطریقت په نوم یاد شوي سره له دې چې صوفیان اودطریقت خاوندان له شریعت نه پیل کوي خو یو وخت وروسته دواړه خپلې لارې جلا کوي.له غیر اسلامي یا د اسلام نه د مخه فکري اثارو کې جوتیږي چې تصوف د خپل ژوند د دوام له پاره شریعت لومړی منزل گرځولی خو ددې دواړو لارې ځکه جلا دي چې یوه دعبادت لاره ده اوبله د شخصي تجربې لاره ده. د یو شاعر په قول چې وایي :

حـــرم جـــویـــان دری را مـــی پـــرســـــتـــنـــد
فــقــیــهـــان دفــتــرې را مـــی پـــرســـــتـــنـــد
بـــرافـــگـــن پـــرده تـــا مـــعـــلـــوم گـــردد
کـــه یـــاران دیـــگـــرې را مـــی پـــرســـــتـــنـــد

غني هم دخپل شاعرانه خیال په دونیا کې نه یوازې چې خپله فکر کوي بلکې اوریدونکی اولوستونکی هم فکر کولو ته را بولي :

موږ د غني خان په کلام کې هم یو ډول داسې لایتناهي معنویت سره مخامخ کیږوچې هغه د شرقي تفکر او شرقي فلسفي نماینده گي کوي. د غني د کلام یوه ځانگړنه دا هم ده چې د هغه وینا ډیره ژوره اوپیچلې ده ځکه خو د هغه تر مرگ وخته پورې زیاتو لوستونکو د هغه دکلام سره مینه نه ښودله په اصطلاح دهغه په کلام دخواصو د کلام په توگه د لوړ تفکر او اندیشې نه مالامال و. ( ۳)

خوکله چې الوهیت او د کایناتو دصانع خبره مطرح ده. هغه ترهرچا زیات په دې مساله کې ژور معتقد انسان دی. او د هغه اعتقاد تر دې حده ژور پر مخ ځې چې د ناچله، میکانیکي او بازاري اعتقاد چې له دین څخه د دکان

جوړوونکو له خوا وړاندې کیږي ورسره نه پخلا کیدونکی دی.غني ددین په ټیکه دارانو باندې سخت په غصه کیږي او هغوئ رټي. دلته د جنت په شعر لړڅه تم کیږو:

## جنت

ستا د رحمت څه حد هم شته دی؟ ای بې حسابه ای بې پایانه
ستا خیشت او مینه څوک شي تللی، د سترګو پټه روک د ارمانه
د ملا سترګې د قهره ډکې راته قصې کوي د درد او زور
د جانان شونډې د کوکو وربې، وې راشه وګوره جنت کې اور
مرګ بلې سترګې او خوري پنجې راته خوزی لحد، نیست او عدم
شیطان، ملا، دواړه په یو آواز وئ، ستا ګناه ډیره ده او رحمت کم
مشرک ولاړ همسا په لاس، قبا په وُلې دستار په سر
لاټو وزرې د بلبل ایښی، ښایي شهباز ته د ایلم سر
ښاپیرک مشردی د کاروان، د رڼا خیشت او سنګار لټئ
سامری ژاړي د زروبت کې ژوندون مستي او خمار لټئ
ګونګټ د سوټو په ډیرئ پورته، زیری لولکی ته د نور بیان کئ
چینجی د خاورې په ممبر بره، قیصې د حورو او د آسمان کئ
څکه په چغو زه د جماته لاړم په لورې د میخانې
دی خپلو سترګو ډوب کړم تاله کړم هم شرابي کړم هم لیونی
خو چې په بدو او بدرنګو خپل لکه د سکور لوګی او اور شمه
چې سُر او تال مې تیاره فنا کړي د بې وسئ فریاد ژړ

ســتا خیشــت او مینه څوک شــی تللی، ای بې حســابه ای بې پایانه

پورتنې دجنت په نوم نظم ته که فلسفي نظم ووایو فکرکوم غلطې به مونه وي کړي. فلسفي شاعر دخپل مطلب د اظهار له پاره دشعر فورم غوره کړی دی لکه په نورو فرهنگونوکې چې ډېرو لیکوالو اوفلاسفه و دخپل فلسفي تفکرد وړاندې کولو له پاره ډرامه (ننداره) نظم او داستان غوره بللی دی. په پورتني نظم کې به د قافيي او وزن ځینې ستونزې وي خو د اندیښنې او تفکر له مخې هغه ډېر ژور او اوچت دی. په دې نظم کې تصویر او تخییل کم رنگه خو د فکر ژوروالی په کې زیات دی. دا مفاهیم دپام وړ دي چې وايي:

ای بې حسابه ای بې پایانه

دښایست اودمینې تول

له سترګو پټ اوله ارمانه ورک

د ملا قهره چې یوازې د درد او زور کیسې کوي

خو د جانان شونډې د کوکو وږې، چې وايي په جنت کې اور ووینه.

ملا یوازې په دې ټینګار کوي چې دمرگ بلې سترگې اوخورې پنجې خوځي، لحد، نیست اوعدم شیطان، ملا دواړه په یو اواز وايي چې ای خدایه تاته دګناه په مقیاس ستا رحمت ډېر لږ دې ـ

دشاعر په کلام کې دخلقت د اسطورې په ترڅ کې دخیراو شر د تناسب په باب هم پوښتنه را پورته کوي د غني مخاطب په شعر کې لوی ذات دی. هغه په ډاګه د خدایي او الوهیت ناسم تفسیر چې د ملا له خوا ورکول کیږي،

په ډاګه کوي، او د شعر په یوه برخه کې د شیطان او ملا سره یو شان مخامخ کیږي. دا ځکه چې دبې علمه اوله دین څخه دناخبره ملا نړۍ ډیره محدوده ده. تنګه ده اوپه نورو باندې یې هم تنګول غواړي. شیطان په دې تنګ فکرۍ کې د ملا لاشعوري ملګري دی. ملا په شیطان لعنت وایي خو په واقعیت کې هغه څه چې دبشر او اشرف المخلوقات پر ضد دی هغه ترسره کوي. یعنې دخدای رحمت محدود وي. دخدای په خدایي کې حدود پیدا کوي. د هغه رحمت کې کمښت جوتوي. او د وزخ اوجنت یوازې دخپل تفسیر له مخې څرګندوي نه هغه ډول چې دخدای له خوا ویل شوی دی.

دشعر وروستۍ برخه په کلکه اوترخه ژبه دملا اوشیطان دواړو له پاره هغه سمبولونه کاروي چې په کلتوري لحاظ په پښتني ټولنه کې دطفیلي اوطف طفیلي حیوان له پاره استعمالیږي.

دشعر وروستۍ برخه:

یعنې ښاپیرك او د کاروان مشري، د زرو په بت کې د سامري ژړا، ګونګټ د مرداریو د ډیریو پر سر، چنجی دخاورې په ممبر، د حورو کیسې کوي نو ځکه غنې خان له جماته تښتي اومیخانې ته درومي په داسې مهال کې سر او تال کې تیاري فنا کړي. د بې وسۍ فریاد ژړا اوشور په حالت کې خدای ته وایي: چې ای لویه ذاته ستا ښایست او مینه څوك تللی شي؟

چې سُراو تال مې تیاره فنا کړي د بې وسۍفریاد ژړا او شورشمه

نوځان ته وایم تاته واو روم دا د مجبوره زړګي بهانه

ستا خیشت او مینه څوک شی تللی، ای بې حسابه ای بې پایانه

انسان داسطورو له لارې انساني فرهنګ دایجاد پړاو ته داخل شو، په دې پړاو کې انسان نړۍ او طبعیت په یو ډول لارو چارو ایل کړل، بیا یې دیوډول ارباب النوعیت له دریځه طبیعي شیان او پدیدې تجرید کړي، او په دې ډول اسطورې را منځ ته شوې د خدایت او خدای پرستۍ د مفکورې او بیا د وحدانیت د ایډیي د نزول او د رامنځ ته کیدلو په اثر دځمکې پرمخ د روح تاریخ او د معنا تاریخ پیل شو. د اسطورې په پیل سره انسان دخیراو شراو سپنتا وناسپنتا روا او ناروا په اخلاقي اوحقوقي معنا سره رامنځ ته شو او حیواني ژوند انساني او تولنیز هغه ته داخل شو، فرهنګ رامنځ ته شو.

دخلقت په اسطوره کې چې په یهودیت او مسیحیت کې راغلي دي، یوه سرنوشت جوړوونکې برخه لري چې وایي: خدای ادم یا لومړنی انسان د یو تکلیف او یو انتخاب سره مخامخ کړ. هغه ته وویل شول چې د پوهې او د معرفت د ونې میوه ونه خوري خو ادم دخپلې جوړې یا ((حوا ))په وسوسې او د شیطان په نفوذ سره له دې امرنه سرغړاوي وکړ. او د پوهاوي د ونې میوه یې وخوړله. سترګې یې بیرته شوې. دهغه دروني سترګې بیرته شوې اوکله چې یې ځان ته وکتل ګوري چې بربنډ دی نو د شرم احساس ورته پیدا شو. داچې دغه بربنډ ذات دشرم اوګناه سره مخامخ کیږي نوله همدغه ټکي د انسان تاریخ پیل کیږي. انسان په خپله ستونزه اوګناه باندې خبرتیا پیدا کوي او ګناه یعنې له تکلیف نه سرغړونه یا د شرع له حکم نه چې خدای فرمایلي دي سرغړونه ده. په بل عبارت دا د انسان د داسې اخلاقي موجود په توګه چې په نیك وبدخبردی د تاریخ پیل دی.(۴)

دا چې انسان په لومړي وار د خدای له امره سرغړونه کوي او خدای پرې منت کوي او په دغه لومړۍ ګناه سره له جنت نه رابهرکیږي او دا چې ادم ځمکې ته راځي نو هغه سوله چې په ازل کې په پورتني عالم اوکښتني عالم

کې برقراره وه خپل ځای د نیکۍ اوبدۍ جګړې ته پرېږدي او د ادم د زامنویا زوزاد دژوند کولود ماجرا تاریخ پیل کیږي....

له بلې خوا د کارل ګوستایونګ نظر په دې اړوند دغني خان دفلسفي تفکر بنه راسپړنه کوي: ګوستاویونګ له یوې بلې زاویي ځینې مسایل څیړي.

په دې معنا چې یونګ د دغه ډول راسپړنې له پاره په لرغونو اساطیرو تکیه کوي او د دې په خوا کې په ((مزامیر)) داوود او((عهدعتقیق))استناد کوي.نوموړي دهندې اساطیرو افسانوهم زیاته څیړنه کړې ده اوپه دی باور لري. البته نوموړي دغه باور په سایکالوژۍ کې د علمي څیړنو له مخې تر لاسه کړی دی. د یونګ په وینا رب النوع د انسان په روان کې ځای لري. یونګ داسې متعصبانه لید توګه چې ګویا رب النوع دانسان له موجودیت څخه بهر دی یوه غیر اصولي لیدتوګه بولي.

د هغه په باور رب النوع له دې امله دانسان په وجود کې ځای لري چې د رب النوع تصویر د اروا پوهنې په ژبه د افکارو یوه پیچلې ټولګه ده چې ارکیتاپیي(Archetypal)خصلت لري او یوه ټاکلي اندازه انرژي پرې لګیدلې ده چې دغه ایدیه په انسان لاسبرې شي. د انسان روح باید په فې نفسه توګه د رب النوع سره د ارتباط پیداکولو وس ولري. یعنې د ارتباط او سازش قوه او د رب النوع تصویردی چې د سایکالوژې باندې د پوهې له لارې اړیکې ټینګیږي خو دا چې صانع څه دی؟ ځواب ورکوي چې صانع د انسان د روح ډیر ژور اوبې واسطې محرمیت دی.

که ګورو چې عین مفکوره په شرقي تصوف کې هم موجوده ده کوم چې یونګ یي((مودبانه الحاد)) هم بولي.

اوس نو که صانع د انسان د روح په ډیرو ژورو بې واسطه محرمیتونوکې ځای لري نو لږ تر لږه د راواپوهنې له مخې په هماغه ناآگاه ضمیریا تحت الشعور کې یې ځای نیولی دی. د رب النوع ځانګړنې هماغه انسان ډوله ځانګړنې دي. څرنګه چې بشریت همیشه په بدلون کې دی نوصانع هم په تکامل کې دی او په بېلا بېلو ډولونو ظاهرکیږي، دغه بدلون د بشریت له بدلون سره یو ځای پر مخ ځي.(۵)

د تورات په پنځم باب کې لولو: (( دا دی د آدم د پیدایښت کتاب، هغه ورځ چې خدای آدم پیدا کړ نو خدای ته یې ورته ( یو شان) جوړ کړ. نر او ماده یې جوړه کړه او هغو ته یې برکت ورکړ او د آدم نوم یې پرې کیښود. د هغوی دخلقت په ورځ....)) (۶)

اوس راځو دغني دګوګل شعر ته اوپه غور یې لولو.

ګوګل

دې ګـوګـل کــې مــې دنــنــه
هــم دوزخ دی هــم جــنــت
دې کــې قــهــر اوغضـــب دی
دې کــې رحــم اوراحــت
دې کـې پـروت یـو ســمـنـد ردی
د نشـــې او د خـــمـــار
دې کـې پـروت یـو تـهـتـریـن دی
د لـــمـــبـــو او د ازار
د ســـپـــرلـــي او د خـــنـــدا

چې يو اف يې تور لحدکړي
د خندا ډکه دونيا

دې کې دومره شجاعت دی
چې دکل جهان مرگونه
يو نظر کې تار په تار
لکه باد اوړي بوسونه
چې په يره باندې راشي
زړه تري غټ دی دمنړك
داسې رپي داسې ټبنتي
داوبو څاڅکی تري کلك
اوچې کلك شي داسې کلك
لکه کانی د پولاد
نه پرې زر توري اثر که
نه پرې زر كاله فرياد
دې گوگل کې مې دننه
هم دونيا ده هم قيامت
داهم لاره هم كاروان دی
هم تدبير دی هم قسمت
پروت په دې کې ټول داستان دی
د جزا او د سزا
خور په دې کې لوی جهان دی
د وصال او د وفا
دا هم باغ دی هم خزان دی
هم بلبل دی هم بهار

دی کې سـره نیـازبین ګلونـه
او د شـنـو اوبـو شـرار
دا هـم زهـر هـم زقـوم دي
هـم ګـبـیـن دی هـم نـبـات
دا هـم تـور دمـرګ ښـادر دی
هـم چـیـنـه ده د حـیـات
ده کې پروت داسـې شـراب دي
چـې یـو ښـاڅـکـی د هـغـې
پـه بـدمسـتـه او سـر شـاره
کـړي دا واړه فـرشـتـې
دی چـې ځـي پـه بـره درومـي
شـي جـبـریـل ورتـه حـیـران
چـې پـه بـدو بـانـدې راشـي
امـان وغـواړي شـیـطـان
عـجـیـبـه دې یـم جـوړ کـړی
ای زمـا خـدایـه عـجـیـبـه
بـې د تـانـه نـور د هـر څـه
د هـمـه یـم مـرکـبـه
دا د اور او نـور دریـاب
دومـره لـوی لـکـه اسـمـان
دومـره وړوکـی لـکـه ښـاڅـکـی
دومـره لـنـډ لـکـه یـو ان
دا قـبـه دسـوز اوسـاز
ولـې ولـې څـه لـه څـه لـه؟
خـیـشـت اوغـم راز ونـیـاز

ولــې ولــې څــه لــه څـلــه ؟

اوس نو چې کله د غني خان شعر ته راځو هغه په عمومیت کې انسان او انسانیت د ټول و ښیګڼو او بدیومرکز او اصلي هسته بولي.دخیر او شر مبدا او منشا هم دغه موجود بولي او دا مفاهیم او عبارات خو ډیر واضح او د شرقي تصوف او یا صوفي سره سر خوري. همدارنګه په پورتني شعر کې شاعر مور. ته دانسان وجودي اصالت دانسان دوجود تقدم دهغه ازادي او ترهه را جوتوي.

په ګوګل کې دننه د وزخ او جنت قهر او غضب، نشه او خمار د لمبو او د ازار، د لمبو ازار سپرلي خندا، د کل جهان مرګونه اویا:

داوبــو څــاڅــکــی تــرې کـلــك
اوچــې کـلــك شـــي داســـې کـلـك
لـــکـــه کـــانـــی د پـــولاد
نـــه پـــرې زر تـــوري اڅـــرکــه
نـــه پـــرې زرکـــالـــه فـــريـــاد
دې ګـــوګـــل کـــې مـــې دنـــنـــه
هـــم دونـــيـــا ده هـــم قـــيـــامـــت
داهـــم لاره هـــم کـــاروان دی
هـــم تـــدبـــيـــر دی هـــم قســـمـــت

غني خان دغه موجود دټول داستان مبدا اومنشا بولي.جزا اوسزا خوهم زهر او هم زقوم. او د ټولو ښیګڼو اوبدیو تجمع ده:

داهم تور دمرګ څـادر دی هم چینــه ده دحیـات
ده کـــې پـــروت داســـې شـــراب دي

چې یو ښاخکی دهغې
په بدمسته اوسرشاره
کړي دا واړه فرشتې
دی چې ځي په بره درومي
شي جبریل ورته حیران
چې په بدو باندې راشي
امان وغواړي شیطان
عجیبه دې یم جوړ کړی
ای زما خدایه عجیبه
بې دتانه نور دهرڅه
دهمه یم مرکبه

نو دا له یوې خوا د غني خان ژور فلسفي افکار روښانه کوي اوله بلې خوا د هغه د افکارو ژوروالی په ډاگه کوي.

په وروستي شعرکې چې دسوال اوځواب ترسرلیك لاندې راغلی دی. ډیر ښه اوڅرگند عارفانه تعریفونه لري.

سوال ځواب د لیونی او ملا
لیونیه ! مکه څه ده؟
ملا! کور د یوعاشق دی
کوټنئ دی که ډیری
د همو رب خالق دی
لیونیه! ایمان څه دی؟
ملا! دا دی پوخ گمان
د یوخوب په زړه لیده دي

د وصــــلــــونــــو دجــــانــــان
لــــیــــونــــیــــه! جــــنــــت څــــه دی؟
مــــلا! ســــتــــا جــــنــــت پــــیــــتــــي ده
او زمــــا جــــنــــت وصــــال دی
یــــو خــــمــــار یــــوه مســــتــــي ده
لــــیــــونــــیــــه! حــــوره څــــه ده؟
مــــلا! لــــهــــر د خــــمــــار دی
یــــوه کــــرښــــه ده شــــفــــق ده
د خــــنــــدا بــــرېــــبــــرکــــئ ده
شــــه څــــه ده؟
مــــلا! دا پــــه ســــیــــل واتــــه دي
د مســــتــــئ رنــــګــــیــــن مــــحــــل کــــې
دا واتــــه نــــنــــواتــــه دي
لــــیــــونــــیــــه! چــــه لــــمــــونــــځ څــــه دی؟
مــــلا! خــــاورې ښــــکــــلــــول دي
د جــــانــــان کــــوڅــــی تــــه تــــلــــل دي
د امــــیــــد ارمــــان کــــیــــدل دي
لــــیــــونــــیــــه! ســــجــــده څــــه ده؟
مــــلا! ځــــان خــــاورې کــــول دي
د مســــتــــئ د ګــــلــــوهــــار
د یــــار پښــــوکــــې اچــــول دي
لــــیــــونــــیــــه! ژونــــدون څــــه دی؟
مــــلا! زه یــــمــــه ژونــــدون
دا زمــــا د خــــوب لــــیــــده دي
د ســــبــــا او د پــــرون

لــیــونــیــه! وصـــــال څــه دی؟
مــلا! ښـــیـســـــت کــې ډوبــیــده دي
دا پـــه ســــــتـــوروګـــډیـــده دي
پــه ســـپــوږمــی کــې خــوریــده دي
لــیــونــیــه! حســــن څـــه دی؟
مـــلا! لـــهـــر د خـــمـــار دی
یو موســـکی موســکی شـــان خیـال دی
یـــو نـــری د رڼـــا تـــاردی
لــیــونــیــه! تــه یــې څــوک؟
مـــلا! زه د چـــا ارمـــان
زه یـــوګـــل د چـــا د ګـــوتـــو
پـــروت پـــه ښــــوکــې د جـــانـــان

د غني په کلیاتوکې کوم سیستماتیك فلسفي تفکرسره نه مخامخ کیږو، بلکې هغه موږ پروبلماتیك هغه ته رابولي، دا دوه شیان سره توپیرلري. هغه څه چې په سیستم بدل شوي وي او منظمه سیستماتیکه اډانه ولري، هغه انسان تحجر او دوګماتیزم ته رابولي. د هغه د تفکر ژوروالی په خپله هغه لویه پانګه ده چې په بیلا بیلو وختونوکې یې خپل نظرمطرح کړی دی او ستونزه یې وړاندې کړې ده چې لوستونکی فکر کولو ته را وبولي نو په دې اساس د هغه دغه فکري سلسلې ته موږ یو ډول پروبلماتیکه فکري څرګندونه ویلی شو.

یادښتونه:

۱.ګیورګ ویلهلم فریدریش هګل، تاریخ فلسفه، (ترجمه دکتر زیبا جبلي)، سخنرانیهای هګل ) تهران، ۱۳۸۷، ص۲۱۶.

۲.ګیورګ ویلهلم فریدریش هګل، تاریخ فلسفه، (ترجمه دکتر زیبا جبلي )، سخنرانیهای هګل ) تهران، ۱۳۸۷ ص۲۱۶.

3.Abdul Ghani Khan and Johan Keats. Written by .ShaziaBabar.Pashto Academy. University of Peshawar.

۴.عرفان ورندي در شعر حافظ داریوش اشوري، (۵۱مخ).

۵. یونگ وخدایان، ۱۰۴ مخ.

۶.عهد عتیق، پنځم باب.

۷.دغني کلیات، دکابل چاپ.

((زما مرشد ماته يواځې يوه قاعده را وښوده،
ماته يې وويل:((ته له بهر نه هغه ډېر دننې جزء
ته ورننوځه)) همدا ماته قاعده اوقانون شو.للا
کشميري عارفه،

د دکتر سید حسین نصر د((اسلام وتنگناهای انسان متجدد)) له اثر نه.

## دويم څپرکی

## په عرفاني دونيا کې د غني ځای

### الف: تصوف او عرفان

د غني د اشعارو ټول لوستونکي په دې باب يوه خوله دي چې غني فلسفي شاعر دی. ځينې خو هغه د(( ليوني فلسفي ))په نوم هم يادوي. په وروستيو وختونو کې دهغه په ادرس دصوفي کلمه هم کارول کيږي. زما په نظر که د صوفي دکلمې په کارولوکې له لږ تاءمل نه کار واخيستل شي، بده به نه وي. د عرفاني تمايلاتو په اړوند داسې ډيرڅه شته چې بايد پرې وويل شي. د خپلې خبرې د تصديق له پاره داسې شننه په کار ده چې د هغه شعرونه له عرفاني زاويي تول و ترازو کړو. د دې کار له پاره به بده نه وي چې لومړی د تصوف او عرفان توپير وکړو اوبيا په عرفان کې د شاعر ځای او مقام وپيژنو.

تصوف: عرفاني اصطلاح ده.د زهد او د دونيوي چارو د ترك په معنا کارول کيږي.په اصطلاح کې د دونيا له مينې د زړه پاکول او د ظاهرجوړښت دی. د اولسي خلکو په ژبه کې صوفي هغه چاته هم ويل کيږي چې لږڅه ذاهد او پرهيزگاره وي، د شيخ و امام په معنا هم کارول کيږي خو دا مفهوم دصوفي د اصلي کلمي له مفهوم نه ليرې دی.

عرفان د الهی علوموېوه پوهنه ده چې د هغه موضوع د حق او د حق د نومونو اوصفاتوپېژندنه ده چې اهل الله د حق د پیژندنې له پاره غوره کړې ده. په دوه ډوله ترسره کیږي چې یوخاص ډول د عالمانوله خوا اوبل د باطن د تصفیې له لارې ترسره کیږي. د دې پوهنې او ادراك اشراقي اړخ پیاوړی دی. له عرفاني پلوه د وجودي جهان پوهیدنه چې د رياضت او د نفس د تزکیې له لارې او یا په زړه باندې د حقیقت ځلیدنه ده، منطق او استدلال په کې نقش نه لري.

د عرفاني تجاربوپه پوهیدنې سره د بشریت په تاریخ کې درې پوښتنې مطرح دي:

۱. ایا ټولي عرفاني تجربي یو له بله سره ورته والی لري؟ ایاپه ټولوځایونو، وختونو او فرهنګونوکې عرفاني افکاریو ډول دي؟ ایا سره له دې چې د عرفاني افکارو په اړوند ځینې توپیرونه شته، ګډې خواوې هم لري او که نه؟

۲.ایا عرفاني تجارب عیني Objective دي اوکه نه؟

۳.که دا تجربې عیني دي نوڅرنګه دي؟[1]

د جیمزپه وینا د عارف ستربری په دې کې دی چې د فرد اومطلق ترمنځ په خنډونواو موانعو غلبه کوي.په دې معناچې هم هندي عارف، هم نو افلاطوني پوه، هم مسیحي عارف او هم اسلامي عارف غواړي چې له مطلق سره یو ځای شي. له خپل وحدت نه خبرتیا اومعرفت پیدا کړي، دې کې شك

۱محمد رضا فشاهي ، اندیشیدن فلسفي واندیشیدن الهی –عرفاني ، نشر باران ،سویدن،سا ل ۱۳۸۹ ص ۱۶۰

نشته چې دا یو ګډ، عام او مشترک دود دی چې په ډېر کړاو او سختۍ سره د دیني، اقلیم په توپیرونوکې بدلون مومي.

ریشارد موریس باک د یو اروا پوه په توګه ددغه ځانګړنوشمیرزیات بولي.

۱.باطنې یا دروني رڼا

۲.معنوي اعتلا

۳.اشراق

۴.ابدي احساس

۵.دمرګ له ویرې ژغورنه

۶.دګناه له احساس نه ژغورنه

۷.ناڅاپي او سملاسي ځانګړنه[1]

موړ.کولی شو دا ځانګړنې د و.ت.ستیس د یو نظرله مخې په یو چوکاټ کې بیان کړو. دمثال په توګه د حضرت عیسی اوازونه چې کاتولیک عارف یې د لیدلو او اوریدلو دعوه کوي خو نه دکالي(kali ) نښاني چې هندي عارف یې د لیدو مدعي دي. نه هم هغه غږونه چې سقراط او ژاندارک او نورو اوریدلي او یا اوري، هیڅ یو یې هم عرفاني پدیدي نه دي.داځکه چې ډېرڅرګند اومهم عرفاني حالات غیرحسي(non -sensuel) ځانګړنې

۲۰.همدغه اثر ۰

لري.له بلې خوا مشاهدې او اوريدني د محسوساتو ځانګړني لري خو عرفاني حالات غيرحسي ماهيت لري.

په يو بل عبارت ((انفسي عرفان)) دحسي اشکالو يا محسوسو اشکالونه بې برخي دي خو افاقي عرفان کولی شوحسي يا محسوس وبولو.دا ځکه چې د يو ډول حسي او واقعي بدلون محصول دی.

په دې ټولو سربيره عرفاني حالت يوازې((خيال))يا خيالي صورت هم نه دی بلکې په دقيق ډول بصري اوحسي درک دی: انفسي عرفان داکهارت ژان وان رويسبروک(jean van Ruysbroeck1381-1293) اونورو عارفانو په نظر دشکل اومحتوی نه بې برخي دي.

په اوپانيشادونوکې په کيهاني خبرتيا اونښانو يا علايمو ټينګار شوی دی. پر دې سربيره کله هم ددې دواړو د پيوند په اړوند خبرې شوي دي.

د بيلګې په توګه په هندي عرفان کې د پتنګ مشاهده او په مسيحي عرفان کې د مريم ظهور سره له دې چې دواړه فرهنګونه يعنې اروپايي اوهندي فرهنګونه توپيرلري خو پورتني دواړه حالتونه له محسوسو صورتونوڅخه ګڼل کيږي. په همدې سبب د عرفان له حدودو بهر موقعيت لري. هندي، مسيحي او اسلامي عارفان ټول دنښانو او يا رمزونو، غږونو او عرفاني تجربو ترمنځ توپيرونو ته قايل دي. ان داسې حالات لکه وجد، جذبه، يا خلسه، شور او بې خودي هم سره له دې چې دعرفاني تجربو سره نږدې پيوند لري خو د هر عرفاني جريان لازمي جزء نه دی. دا ځکه چې خلسه او د هغې څرنګوالی د عارفانو د شخصيت له جوړښت او د يوبل سره په توپير لرلو کې سيده اړيکي لري. په همدې اساس عرفان په نړيوال فرهنګ کې په دوه ډولو ويشل کيږي.

یو عاطفي عارفان او پرشوره عارفان دي لکه، شمس تبریزي، مولوي اونور.

دویمه ډله هغه عارفان دي چې په خپل ځان کې غرق دي چې دخپلو احساساتو او عواطفو د مهارولو وس لري.لکه بودا، اکهارت، محمد غزالي اونور.

انگلیسي فیلسوف (و.ت استیس) وایي چې د حقیقي عارفانو کار د خپل شخصي احوال پټ ساتل دي........ځینې عارفان په خپل روایت سره د لومړي شخص ضمیر(زه)کارولو نه ډډه کوي اوداسې گڼني او عبارات لکه ((عارفان وایي )) یا داسې روایت دی او داسې نور مثالونه. په هرحال په عرفاني پوهه کې اساسي اولومړنی شرط دا دی چې د دروني یعنې باطني او بیروني احساس ترمنځ توپیر وشي او د دې ډول څرگندونو پسې ویلی شو چې عرفاني تجربې کولی شو په دوه ډولو وویشو.

۱.شیبه یې یا لنډ مهالې یا راتلونکې( spontaneous) تجربې.

۲.د زده کولو وړ یا اکتسابيacquis تجربې.

شیبه یې معمولا افاقي وي اواکتسابي تجربي معمولا انفسي وي.

افاقي عارف خپل جسماني حواس په کار اچوي.د خارجي شیانو(واقعي اوملموس) کثرت او تعدد لکه اسمان، سیند، کور، ونه، الوتونکي او نورې چارې په عارفانه لید بدلوي. په دې معنا چې واحد یا احد یا وحدت پکې تجلي کوي او هغه ویني.

انفسي عارف بالعکس د ظاهري حواسو په چوپ کولو اوخپه کولو سره او دحسي او لمس وړتصاویرو په حذف کولو او همدارنگه د ضمیرله صفحې

د افکارو او تصوراتو پاکولو سره د خپل ذات ژورو ته رسيږي او د دې ادعا کوي چې په خپل سير وسفر کې يې سکوت اوسکون چې په حقيقي واحدپوهېدنه ده، موندلې ده. په افاقي تجربوکې که د واحد درک په کثرت کې د وحدت د وجود واحد درک وي نو په بدل کې انفسي تجربو کې د کثرت او تعدد پرته يوازې((واحد وجود)) لري.

پردې سربيره که افاقي تجربې، شيبه يې يا امدني(راتلونکي وي نو په بدل کې انفسي تجربې د سير و سلوک په لړکې له کلونو وروسته لاس ته راځي. يا په بل عبارت انفسي عرفان د فرديت د انحلال په معنا دی اوپه دې ډول تجربوکې نه کثرشته اونه تمايز.

دا پيښنه نه يوازې په ناسوتي عرفان کې چې فلوطين ډوله عرفاني لاره ده، موجوده ده. بلکې په مسلمانوعارفانوکې لکه حلاج او ابن عربي کې يې هم ليدلی شو. اسلامي عارفان هم دمسيحيانو په اندازه او ان له هغو زيات د خالق او مخلوق ترمنځ په توپيرونو ټينګار کوي سبب يې دادی چې هغوئ حلول يو ډول بدعت بولي او د وحدت مسالي ته په کې اشاره کوي.

د اروپايي او اسيايي عرفان يوتوپير په دې کې دی چې د اروپايي عرفان شخصيت تل د عقل، برهان او عشق او عرفان ترمنځ په شخړه کې سر ګردانه دي. ان اکهارت چې د هر اروپايي عارف په نسبت هندي عرفان ته نږدی دی بيا هم عقل اومنطق ته وخت اوميدان ورکوي.

له دې نسبتا اوږدې شننې وروسته د غني افکارو ته رسيږو. دې کې شك نشته چې غني خان کوم اکتسابي عارف اوصوفي نه وو اونه دی او نه د کوم طريقت او پيشوا پيرو دی چې له هغه يې لاس نيوکه کړې وي او د

نورو مسلکي مدعي عارفانو په څیر دی د تصوف اوعرفان لاره نیولې وي خو دې کې شك نشته چې هغه دعرفان اواشراق ډېره مزه څښلې ده.

۱. غني شاعر دی، شاعر د الهام او اشراق سره سرو کارلري.

۲.د هغه شعرونه د پښتو ادب له نورو اشعارو نه یوڅه توپیرلري، په دې معنا چې د غني په اشعاروکې یوعرفاني ملال یو ډول مرموز ښکلا ییز احساس، او په یو ډول داسې مونیزم باور چې د هستۍ کلیت بیانوي، موجود دی.

۳.غني په خپلو اشعارو کې په هماغه اندازه چې دخیام لیوال دی، دمنصور حلاج سخت ستایونکی دی. د منصور کړنه او نعره د یو ایډیال په توګه نمانځي.

۴.غني د شرقي فرهنګ مولود دی.یاپه بل عبارت ددغه معنویت یوتاج دار دی. عرفاني او اشراقي درك، پوهه او الهامونه د هغه د ټولنیز تحت الشعور اواز هم دی.

۵.غني خان په خپلو اشعارو کې د متشرع ملایانو برخلاف سخت د واحد ذات سره د وصل او د کایناتو د وحدت لیوال او لیدونکی دی. هغه دملا د مېتود اولارې له مخې واحد ذات د جومات اوکعبې په کنجونوکې نه ویني، بلکې په خپل افاق او انفس کې یې ویني.

۶. غني خان د یو شرقي فیلسوف او متفکرشاعرپه توګه د وجودي وحدت باوري دی.

**ب:غني او د خلقت د داستان یادونه:**

غني په لاندې شعرکې د خلقت اسطورې یادونه کوي او په هغه کې انسان د یو مرکزي کرکتر په توګه را اخلي د اور په نوم شعر ته تم کېږو:

اور

زما خټه چې خوشته کړه
په څه اور یې ابته کړه
چې یې نه وژنم وریتیږم
چې یې وژنم لا لمبه کړه
نور همه یې دځان جوړ کړم
د شیطان یې یوه ذره کړه
څومره زه چې ورنږدې وم
دومره غټه یې پرده کړه
چې جنت وته روان شوم
دوزخ لیري دروازه کړه
چې دوزخ ته ورنږدې شوم
چا بچې نعره کړه
خدای دې ورک کړه دزړه اوره
تا د ژوند ورکه مزه کړه[1]

دلته د انسان دختې لمدول او د هغه جوړښت د بابا آدم خلقت ته اشاره ده. هغه په دې خټه کې د یو اور دځای کیدو یا شتون خبره کوي. اور چې په اساطیروکې د پوهې، علم او معرفت سمبول هم دی. په لرغوني یوناني اساطیرو کې پرومیتیوس له زیوس نه اور راپټ کړ.بشریت ته یې ارمغان

۱.غني خان ·لټون ·خیبر بازار پېښور ·کال ۲۰۱۱ ·مخ ۴۹۰

راوړ. هغه دا خبره هم کوي چې((نور همه یې دځان جوړ کړم ))٠ دا د دې عبارت سره سرخوري چې انسان د ځمکې پر مخ دخدای استازی اوخلیفه دی. عارفان په دې باور دي چې خدای تعالی د خپل ذات او قدرت د ښودلو له پاره انسان خلق کړ خو له دې سره سره یې شیطان یا نوس او یا اماره نوس هم په انسان کې ورځای کړ. په همدې وجه دانسان اودخدای تر منځ پرده جوړه شوه. که انسان د نیکو اعمالو په وجه دجنت پریکړه وکړه خو د دوزخ دروازه ورته هم خلاصه شوه٠ دا ځکه چې په انسان کې هغه دوه گونې خصلت سر راپورته کړ.نو دلته دی چې شاعر دمعرفت اوپوهې په وړاندې اعتراض کوي. دا ځکه چې د وصال مانع اوخنډونه هم له ځانه سره لري. د غني خان پورتنی شعر د دغه ډول عرفاني اوفلسفي بحث نه مالامال دی. بله ډېره عمده مساله دغني په شاعرۍ کې د منصور بیا ظهور دی. داسې بریښې چې دا یوه سمبولیك ظهور هم دی. یو د شاعر د وخت د موجوده شرایطو اوناخوالو په وړاندې اعتراض دی، د دې خبري بل دلیل دا هم دی چې دمنصور ظهور د بغداد د استبدادي خلافت په وړاندې یو بغاوت وو او له بلې خوا تر اشراقې اغیز لاندې د منصور د اسطورې توضیح او تشریح هم ده.

**ج:منصور د اسلامي نړۍ قرباني عارف دغني ایډیال شخصیت:**

د منصورپه باب په دې لوی نظم کې د شاعر په عرفاني باورونو ښه پوهیدی شو.

**منصور**

منصـــــور یو لیونی وه دمعشـــوق اداب یې هېر کړه
منصــــور یو لیونی وه دمســـتۍ شــراب یې ډېر کړه

وې مســتي دا زمـا نــه ده دجـانــان دســترگو نور دی
زمـا دخـولـي خــبـرې هـم تــورات اوهـم زبــور دی
دارنــگ زمـا دســـترگـو نــه دی، رنــگ دی دجـانــان
دا شـــرنگ زما ســـينه کې دښـــپو شـــرنگ دی دجانان
مـنصـــور چـيـرتــه لـيـدلــی د مــخ نــور وه دجـانــان
دا مســت چې پرې منصــور شــو دا ســرور وه دجانان
وی دحســـن ارمـانـي نــه يم زه دحســـن ســـمـنـدر يم
زه مســـت لـيونـی نــه يم زه مســـتي دبـحـروبـر يم
دا رنــگ زمـا دســـترگـو نــه دی، رنــگ دی دجـانــان
دا شـــرنگ زما ســـينه کې دښـــپو شـــرنگ دی دجانان
عــالـمــه راشـــــی واوری چــې زه نــور او زه رڼـا يـم
زه گـل يم زه بـلـبـل يم زه وصـــال زه مـحـبـوبـا يم
منصــــور خو پخوا ډوب شـــو دا تش نور دی دجـانــان
دا نــه دی منصــور نــه دی دا ســرور دی دجـانــان
خبر پرې مليـان شـــو وی منصـــور ځـانتـه الله وايي
دا کـفـر دا غـرور چــې يــې هـرچـا تــه بـر مـلا وايــي
وې کافر دې شي سنگسار دې شي چې پليت نه شي جهان

بــادشــــاه دلـيــونــو يــې ځــولـنـوکـې کــه روان
منصــــور وې خلقــه واوری چې زه نور او زه رڼـا يم

زه گـل يم زه بلبـل يم، زه وصـــــال زه محبوبـا يم[1]

۱ ۰غني خان لټون ۴۶۶مخ

د ډېرو نورو زیاتو مثالونو په خوا کې د منصور حلاج اسطوره د غني د عرفاني ذوق په اړوند ډېرڅه را سپړي. دپښتو ژبې شاعرانو وخت په وخت د سربښندنې، میړانې، قربانۍ، بغاوت او وحدت دیوه روښانه مثال په توګه منصور مثال راوړې اوجوته کړې یې ده.

رحمان بابا وایي:

ما چې خپل معراج ددار له پاسه ولید
د منصور په څېر ریښتیني وینا وایم
دمنصور اوزما هومره تفاوت دی
چې ناري یې کړې په جهر زه خفیا یم

غني ته منصور دربښتینوالي اوصداقت سمبول دی، منصور داسې مېړه دی چې خپله خبره په جهر وایي اوپه ډاګه یې وایي. دغني په عقیده منصور یو عاشق دی او د وحدت او یووالي په لار کې دهر ډول قربانۍ دورکولو پروا نه کوي.

عارف چې د اړتیا له مخې له جدایي، انفراد او تکثیرڅخه رنځ وړي، دعشق او شور په برکت د خپل تن قواوې له بېلابېلو اغراضو تر لاسه کوي او د یواځېني معشوق په لور پام کوي.

حلاج دعباسیانو د خلافت په دوران کې ژوند کاوه. دعباسیانو دخلافت وروستی خلیفه (مقتدر بالله) اتلسم خلیفه وو. دهغه په دوران کې فیوډالي مناسباتو د خلافت په ټوله ساحه کې وده وکړه. ظلم، استثمار شدت اوبې عدالتۍ زور واخیست. دمؤرخینو په قول مقتدر دټولو بحرانونو، ګډوډیو سبب وو اوپه دې ډول یې دخلافت دسقوط عوامل برابر کړل.

هندوشاه مورخ لیکي:((کله چې مقتدر دواك په گدی کښېناست، ددیارلسو کالووو، اوله هغه وروسته یې څلرویشت کاله اویوه میاشت پاچایي وکړه. څرنگه چې په کوچنیوالي کې خلیفه شو، نو ښځې، مور اونور مزدوران پرې واکمن ول. ددولت کارونه ددغه جماعت دتدبیرونو له مخې کېدل او هغه په مزو او چړچو بوخت وو. مملکتونه ترې خرابېدل اوخزانه یې تشېدله.))

وایي چې مقتدر په خپل دربار کې یوولس زره خصي شوي خدمتگاران درلودل. مقتدر یو افسانه یي ماڼۍ هم جوړه کړه چې دسرو اوسپینو زرو یوه ونه یې په یوه ډنډ کې درولې وه.ونې اتلس څانگې درلودې او د ډنډ په هره څنډه کې پنځلس سواره اومجسمې په یوه ښکلي انداز ولاړې وې چې دحرکت اوجنگ په میدان کې یې ښوولې.

د مقتدر دربار د دسیسو او توطیو مرکز وو. څاه کیندنې اویو بل ته دسیسه جوړول، غارت اوچورچپاول، بډې او رشوت او سیاسي ترورونه د دربار ورځېني مصروفیت وو. دهېواد په اداره کې دمقتدر بې کفایتي ددې سبب شوه چې وزیران دخلافت له دغوخړو اوبوماهي ونیسي اوتر هغو چې کولی شي بډې واخلي اوتالان وکړي. ان تر دې چې ددولت مقامونه په مزایده یا معامله کې اچول کېدل اوپه پیسو پلورل کېدل او هر چاچې ډېرې پیسې ورکولې حاکم کیدلو.

په ۳۰۷ هجري کال دبغداد خلکو دخوراکي موادو دکمښت له کبله پاڅون وکړ اوزیات شمېر دولتي ودانۍ وسوځېدلې. شورشیانو زندانونه بیرته کړل. بندیان یې ازاد کړل. مقتدر خلیفه په سریع السیره بېړۍ کې سپور اوبیرته راستون شو امر یې ورکړ چې انبارونه (گودامونه) بیرته اوغنم اوجوار په ارزانه بیه وپلوري.

په ۳۰۸هجري کې د موصل په ښار کې خوراك پلورونکو او موچیانو اعتصاب وکړ او د موچیانو په بازار کې اور ولګېد. هرڅه وسوځېدل. د موصل والي دخلکو ځپل پیل کړل، خو هغوۍ جنګ ته ملا وتړله. لار یې ونیوله او د فاع ته چمتو شول.

منصور حلاج په همداسې یو وخت کې ظهور وکړ. په داسې حالاتوکې چې ټولوباسوادوکسانو قاضیانو، مامورانو، عالمانو اوروحانیونود((هو صیب ویلو)) پرته بل کار نه کاوه. دمنصورحلاج د((اَنّاَلْحَقٌ))یوه کاري اواغېزمن اعتراض پورته شو. [1]

لوی ماسینیون دمنصور په هکله لیکي:

انساني شور او هیجان هرڅومره چې ستر او شدید وي د ژوند د منحني په اوج باندې ور زیاتیږي. د ژوند منحني د دوه محورونو په واټن کې یوپربل عمودي رامنځ ته کیږي. افقي محور د زمان د تېرېدو ښکارندوی دی او عمودي محور دژوند دپیښو ښکارندوی دی. هره پېښه دژوند په ډګرکې یو مقام لري او په خپله خوښه او د اړتیا له مخې دعمودي محور په اوږدو کې یوه نقطه اشغالوي. دژوند منحني د ټولو نقطو له یوځای کېدو څخه ترلاسه کیږي. دسترو شخصیتونو دژوند منحني سره له دې چې خپله نړۍ بدلوي د دوی له مرګ وروسته هم دوام پیداکوي، لکه عیسایي، نصراني او محمد (ص) عربي په مورد کې هم دا خبره صدق کوي.[2]

لویي ماسینیون دحلاج په اړه یوازې د هغه په مذهبي بغاوت او عقیده باندې تأمل کوي، د هغه ټولنیز بنسټ،مناسبات اوعوامل نه څېړي.

---

۵۰ــ حلاج، میرعلي فطروس، ص )۱۳۷
6ــ لوی ماسینیون ۱۷ مخ

حلاج وايي: دمهر او مینې کولو حقیقت، هغه څه دي چې د دلدار په خوا کې وي. له خپلوصفاتو تېر شي او د هغه په صفاتو متصف شي. له دې خبرې جوتېږي، چې منصورحلاج په عربي ژبه عبادت کاوه، د شخصیت د اتحاد دا برخه يې حس کړې ده. دحلاج په ضمیرکې دا خبره ډېره ژر روښانه شوې ده چې د یوه زړه له پاره دوه دلبران دالله تعالی نه خوښېږي.

حلاج دخپل ژوند په یوه پړاو کې سفرونه پیل کړل، دې سفرونو دهغه په فکر او عقیده کې ستر بدلون راووست. عزم يې وکړ چې د اسلام له قلمرو څخه بهرملکونه وګوري چې له دېوال څخه اخوا جوج او ماجوج بلل کېدل. وايي چې هغوی دمحمدي شفاعت څخه بهرول.

د دې پرېکړې پسې د هندوستان د هندوانو، د ماني او بودایانو په پیروانو پسې او همدارنګه ماوراءالنهر ته يې سفرونه وکړل. نوموړي دغه سفرد سمندرله لارې پیل کړ او په هندوستان کې د سند دریاب له لارې پر مخ ولاړ او له ملتان څخه کشمیر ته ورسېد. یعنې هغه ښار چې اهوازې کاروانیان په پرله پسې توګه ځینې اوبدلې پارچې او شالونه هلته راوړل او د هغو پرځای به يې ښکلي چیني کاغذونه، بغداد ته وړل. (وروسته دحلاج شاګردانو دخپل استاد اثار په همدغه کاغذونو لیکل)منصورحلاج په کشمیرکې د همدې کاروانیانو سره ملګری شو او له هغو سره د پېچلو او تاو راتاوو لارو دشمال ختیز په لور تر تورفان یا چین پورې پر مخ ولاړ.[1]

کله چې منصور حلاج له مکې بغداد ته راستون شو. ډېرحیران شو. یعنې ويې غوښتل چې په اسلامي شریعت کې ځان ملامت وبولي چې دفتوی خاوند شي. بیا يې په خپل کور کې کوچنۍ کعبه جوړه کړه. دشپې به يې په

[1] ـ منصور حلاج ۳۱

هديره کې د ابن خليل د قبر ترڅنګ عبادت کولو او د ورځې به يې په هره کوڅه او لاره کې په زړه پورې او ناويلي خبرې کولې. ډېر سرشار اوپه شور و وجد کې وو، خو حکيمانه خبرې به يې کولي نه د لېونيانو په څېر. په چېغو به يې ويل:

((ای مسلمانانو !ما له خدايه مړ وغواړئ! نه مې له ځانه سره ارام پرېږدي چې په هغه پورې زړه وتړم اونه مې له نفس نه جلا کوي چې له هغه خلاص شم. دا داسې ناز او عشوه ده چې زه يې وس نه لرم)).[1]

په هرحال غني خان د منصور له برخليک نه پوره خبرتيا لري.هغه په دې پوه دی چې منصور د مستئ شراب(سمبوليک عبارت) پر ځان ډېرکړل. له خپله ځانه را بهر شو. هغه هرخوند، رنګ، مستي، نور او رڼا د يوه واجب الوجود له ذاته وليدله. دکثرت حالت يې نفې کړ او د وحدت سره د وصال يا وصلت درجې ته ورسيد. په خپل تن او روان کې يې هغه څه وليدل چې د يوه نور اورڼا حيثيت لري.منصور ځان نفی کړ.له خپل موجوديته تيرشو. غني وايي: منصور خو پخوا ډوب شو او په شعرکې هم دا حالت په پوره انداز سره انځوروي.

د غني خان له دې دواړو نظمونو له تخليق اوهستونې جوتيږي چې په غني کې د اکتسابي عرفان نه بلکې د نظري او ذوقي عرفان شوراوجذبه موجوده ده. ځيني کسان وايي چې: هغه هم کله چې به دموسيقۍ يو په زړه پورې سوراو تال واوريده او يا به يې دهغه دطبعې مطابق شعر واوريده په شور اوجذبه کې به ورسره را تللو او له خپله ځانه به ور سره بهرکيدلو.

---

[1]ــ هماغه اثرمخ

هغه په یوه نازک عبارت سره په همدې اشعارو کې د متشرع ملایانو او حقیقي عارفانو تر منځ خط باسي.(( ړوند ملا، غلی لکه مار وخوت)) د عرفاني ادبیاتوپه لړکې تر نیوکې لاندې راغلی خو د منصورپه لاره او روش کې ولې مرگ ته عبادت کیږي، د مرگ د مینې کار جوړیږي. دا ځکه چې دمرگ په وسیله هغه پرده لوییږي او وصلت حاصلیږي.

## منصور

خیشـــت یې په اســـمان لټوه زړه کې یې گلزار وخوت
ځــه خو یې لیـدلي وو ځـکـه خو پــه دار وخـوت
ټول بهــار بهــار وخوت مــا پــه صـــحرا گــانو کوت
مـیـنــه زه،مـیـنــه تــه مـنـځ کــې دا پـرده دڅــه ؟
راشـــه خلقه ښـــکل مې کړئ زړه کې مې دلدار وخوت
مــا دمینې تخــت کــه هیرخیشـــــت لــه دجــانــان دمخ
غـلــی ورتــه ړونـد مــلا غـلـی لـکـه مـار وخـوت
مرگ به مې تنها کړې نور مرگ به مې نزدې کړې نور
مرگ نــه عبــادت شــــوجوړ مرگ دمینې کــار وخوت
نـــه وه لیونی منصـــور خود کې وو،خوشـــحـــالــه وه
ځــه خو یې لیـدلي وو، ځـکــه خو پــه دار وخـوت [1]

دآدم په نظم کې هم همدا خط تعقیبیږي.که یوې خواته عرفاني اوصوفیانه یادونې کوي نو له بلې خوا د مذهب اوکیت جامد نصوص بیانوي. د((حرم په بام دمستی ترانه)) اویا د (( وصال په شپه دنفلونو بهانه)) دوه مشخصې لارې جوتوي.

۱.غني،لټون ۴۶۷۰

د((ژوند په ککوکې د مرگ تصویر)) او د((مرگ په سلگوکې دژوند تعبیر)) دوه استقامتونه برجسته کوي، چې یو د عرفان او عارف موحد لاره ده. او بله دمتشرع ملا لاره ده.

خوپه نظم کې دا دواړه حالته د شاعر په عرفاني فکرسره د انسان په وجود کې را برسیره کیږي اوپه هغه کې شتون لري. انسان دی چې د دې دواړو حالتونو تر منځ د((نوسان)) په حالت کې تگ راتگ کوي چې یوه خوا باید غوره کړي. یا باید د حرم په بام دمستۍ ترانه ووایي او د منصور د خوب په ځیر د رښا وصال ته ورسیږي. یا دې د وصال په شپه دنفلونو بهانه کوي.

**آدم**

عـجـیـبـه مـې وجـود لا عـجـب مـې ځـیـگـر
څـه بې تـوکـه بې تـولـه دا سـتـرگې اوسـر
یـا پـه بـام دحـرم دمـسـتـۍ تـرانـه
یـا پـه شـپـه دوصـال دنـفـلـونـو بـانـه
یـا مـوسـی تـه قـیـصـې دفـرعـون دمـحـل
یـا فـرعـون تـه بـیـان دابـد داجـل
یـا دغـم دبـي بـي نـه سـرور غـوښـتـل
بـت خـانـه کـې پـړقـونـه دطـور غـوښـتـل
کـلـه روح د مـجـنـون اوسـاقـي اوپـیـالـه
کـلـه سـرد خـیـام او ژړا اوصـحـرا
کـلـه خـوب دمـنـصـور د رڼـا د وصـال
کـلـه شـوق دحـبشـي دکـوکـۍ اودخـیـال
کـلـه ډوب بـې پـایـانـه کـوهـی د غـم
کـلـه هـره پـیـالـه کـې صـنـم صـنـم

یا د ژوند په ککوکې د مرګ تصویر
یا د مرګ سلګوکې د ژوند تعبیر
یا پیغام د فراق په خندا کې د یار
یا امید د وصال په ژړا کې د یار
یا دجیل کوتګۍ کې خوبونه دکور
او ایروکې ارمان د رڼا او د اور
دا بیخوده دماغ بې کماله وجود
پجارې د مندر او شوق د درود
هم غلام دښایست هم مریې د وفا
هم دریاب دتېرې هم مستي او رڼا
بې ارامه ارمان بې قراره نظر
څه بې توکه اوبې توله دا سترګې او سر
یا په بام د حرم دمستۍ ترانه

**د: د بني آدم قصیده:**

په نوم نظم کې غني خان د معمول په توګه آدم چې د ((انسان)) سمبول دی،د دوه متضادوعناصرو ترکیب بولي.خیراو شر، ګناه او ثواب، رحماني او شیطاني ښکلا او بدرنګي، تورتم او روښنایي، ترکیب دی. د نظم محتوا بیا هم د پیدایښت افساني ته رجعت کوي چې که له یوې خوا انسان له ګنده ډک دی نوله بلې خوا ګلونه لري. دا پوښتنه ورسره طرح کوي چې د څه له پاره او د چا په ګوتو جوړ شوې دی؟

په ابراهیمي ادیانو کې دا مساله ډېره په زړه پورې او ژوره څېړل شوې ده. خدای پرښتو ته وویل چې غواړم په ځمکه کې خپل ځای ناستی وټاکم. خدای

چې د اسلام او ابراهیمي ادیانو له نظره ډېرمتعالي موجود دی، نو پرښتو ته انسان د((خپل ځای ناستي په توګه ورپیژني)).د انسان رسالت له همدغه ځایه پیژندل کیږي چې هغه د خدای استازی دی خو پرښتې اعتراض کوي وایي: ای خدایه! بیا غواړې چې پرځمکه وینې وبهیږي؟( دا ځکه چې د اساطیرو له مخې د مخه هم داسې موجودات وو چې د یوبل وینې یې بهولې.)

خوخدای په ځواب کې وایي:(( زه په هغه څه پوهیږم چې تاسوپرې نه پوهیږۍ.)) له هغه وروسته خدای دانسان په هستولو پیل کوي.له همدغه ځایه سمبول اورمز هم پیل کیږي چې ډیر ژور شیان او مفاهیم په هغه کې بیانیږي. خدای دځمکې له مخه ډیره خرابه او بویناکه خاوره غوره کوي. نه یو ډیرعالي موجود یا شی یا ماده. په قران پاک کې درې ځایه راغلي دي چې انسان له څه نه هست شوی دی؟.((صلصال کالفخار(رسوب شوې خاوره) بل ځای کې وایي(حماءمسنون نه جوړ دی) یعنې له بوینا کې او چټلې خاورې. او په بل ځای کې وایي چې له طین(ختې) مې جوړکړ.))[1]

خوپه دغه ختّه یا خاوره کې چې انسان یې ترې جوړ او خپل روح یې په کې ځای کړ. یوازی روح، نه وینه نه بل څه.

په بشري فرهنګ او تمدن کې د پستۍ او ذلت سمبول همدا مرداره او بویناکه ختّه ده خو له بلې خوا ډیرعالي او متعالي اشرف موجود په کې روح دی، انسان چې د خدای استازی دی، د مردارې اوبوینا کې ختې نه جوړدی،خدای عالي ترین ذات او روح یې ډېر اوچت او scendent tran متعالي دي.

---

۱.۰علي شریعتي ۰ انسان ۰چاپ:انتشارات الهام: تهران۰ کال ۰ ۱۳۵۶ مخ۲۱

په دې اساس انسان له دوه متضادو عناصرو یعنې بویناکې خټې او عالي روح نه جوړ دی نوانسان یو دوه بعدي موجود دی، د والیزم یا ثنویت لري. نور ټول موجودات یو بعد لري. دانسان یو بعد د تعفن او پستۍ تمایل لري. اوخصلت اوماهیت یې د رسوب کولو او توقف تمایل لري.د مثال په توګه کله چې سیندبهیږي نو روسوبي خاوره تل ته ځي او هلته پاتې کیږي. د انسان په خټه کې راحت غوښتنه او تنبلي او لټي هم ځای لري خو بل بعد یې روح دی. یا د(مذهبي کتابونو په تعبیر) دتعالي یا ترانسیندینتال تمایل لري، نو د صعود او پورته تللو او عروج په لور ډېرعالي تصورلري. یا د دغه دوه متضادو خواوو شخړه په دایمي او ابدي توګه د انسان په وجود کې شته ترهغه چې یوباید غوره اوخپل کړي.

خوخدای انسان ته ورزده کوي: نومونه یا اسماء الحسنی! خدای پرښتو ته امرکوي چې انسان ته سجده وکړي. هغوی وایي: موږ له اوره پیدا یو او دی له بویناکې خټې پیدا دی خو خدای وایي: زه په هغه څه پوهیږم چې تاسې پرې نه پوهیږئ، نو بیا له پرښتو د نومونو پوښتنه کوي. پرښتې پرې نه پوهیږي.له انسانه پوښتنه کوي.انسان ځواب وایي نو پرښتې په دې ازموینه کې پاتې راځي.نتیجه دا چې انسان په هغه څه پوهیږي چې شیطان او پرښتې پرې نه پوهیږي. انسان په دې ازمایښت کې خپله برترۍ ثابتوي. جوتیږي چې د وجود اصالت په علم اوپوهه کې دی نه په اصل اونژاد کې.

غني خان ستراو متفکرشاعر د ژور فکر او عقایدو خاوند په خپلو ټولو اشعارو کې په انسان او د هغه په وجودي اصالت متمرکز دی. د هغه په کلام کې د والیزم(ثنویت) له سر نه تر پایه د انسان له وجوده سرچینه اخلي او تر پایه په دې خط کې درومي.

**انسان ته:**

بنې ادم ته قصیده

لـوی شـــې ګـوډاګـیـه او ټـوپـونـو نــه دې ځـار شـــم
ای د ګـنـده ډکـه دګـلـونـو نــه دې ځـار شـــم
جـوړکـړې دچـا ګـوتـو شـــولـې جـوړ دڅـه لـه پـاره؟
ځـار دې د قـلـمـه دحـرفـونـو نــه دې ځـارشـــم
یـو پـوکـی د بـاد یـې څـه درنـګ اوجـنـګ خـبـرې کـړې
ای دســـحـرخـوبـه دخـوبـونـو نــه دې ځـار شـــم
حســـن دې ایجـاد کړو مشـــغولا دې ځـان لـه جوړه کړه
ځـار دې لـه مســـتۍ نـه د ســـازونو نـه دې ځـارشـــم
علم دې دخیـال دی خیـال دې خوب او خوب دې خیـال دی
دومـره غـټـوغـټـوکـتـابـونـو نــه دې ځـار شـــم
پوه په ســود او زیان د ســود او زیان به چیرې ته نه شـــي
ځـاردې لـه خـنـدا نـه د ویـرونـو نـه دې ځـار شـــم
دوه ګړۍ ژونـدون لـه دې څو قسـمـه نخرې جوړې کړې
ځـار دې د ســجـدو لـه تـکـبـیـرونـو نـه دې ځـار شـــم
ســتورو او ســپوږمۍ ســره د راز او نیـاز خبرې کړې
ای دخـاورو ګـلـه د رنـګـونـو نــه دې ځـار شـــم
کـوم دتـیـارو کـور تـه مســـافـره! ســتـرګـي ځـي
ځـار دې دمـانـو، د مـحـلـونـو نــه دې ځـار شـــم
ګـوتـې دې اســمـان تـه او پـاپـۍ دې ډوبـې خـټـو کـې
لـوی شـــیـګـو ډاګـیـه! د ټـوپـونـو نــه دې ځـار شـــم[1]

۱.لټون۷۰۱

د شاعرانه عرفان چې هغه ته ((ذوقي یا د نظري)) عرفان ځانګړنې هم وايي په دې اصل ولاړ دی چې سیستماتیک نظري بنسټونه نه لري.

د عرفان په باب داسې استدلال هم کیږي چې دا ډول عرفان هیڅ ډول ترتیب او بنسټ نه لري. له استدالال نه بې زاره دی.ځان قلبي وارداتو ته سپاري.عارف هرڅه چې یې زړه غواړي وايي. د دغه شاعرانوکلام اواشعار د هیڅ ډول اصولو پیروي نه کوي.بلکې له یو اخلاقي درس نه بل ته تیریږي.

په عرفاني شاعرۍ کې چې د دغه مکتب عرفاني شاعرانه روح خپل اوج ته رسیږي او د شعر د باورکولواومعتقدکولو له قدرت نه ګټه اخلي. د شعر د باوري کولو دغه قوت یوشعري انتقال دی چې د استدلال او منطق له لارې نه ترلاسه کیږي.

په تصوف کې یوځرګند او ډېر په زړه پورې عنصر حماسي او شاعرانه روح دی چې کیدای شي د بودايي رهبانیت او یا د اریايي زردشتي روح اغیزه وي. په فارسي ادبیاتوکې دغه روح(حماسي شاعرانه) لومړی وار د بایزید بسطامي له خوا هست شو او وروسته یې په ټولو ادبي اثاروکې نفوذ پیدا کړ چې د ذاهدانه ترهې ځای عشق نیسي او په عشق کې اوج ته رسیږي. البته د دغه صوفیانه حماسي اړخ د((هبوط)) له پیښې سره تړاو لري چې خدايي روح د آدم په تن کې ځایول کیږي. د روح دغه سفر حماسه او بیرته خپل اصل ته په ورستنیدلو بدلیږي.دغه تاءویل چې د لومړیوصوفي عارفانو په اثاروکې ځلیږي په درېیمه اوڅلورمه هجري پیړیو کې په بصره، بغداد اوشام کې دمنصورحلاج دعشق په حماسه اوسربښندنه پای ته رسیږي.دا یي ډېرستر مثال دی. د ادم د روح د هبوط اسطوره د انسان حماسه ده چې دخدای په حضور کې یوه پیښه ده او په ادبیاتوکې یې ځای نیولی دی.

دلته دغني خان په دې شعرونو او نظمونوکې د انسان د يوازيتوب او د هغه د روح حماسه په ښه او شاعرانه ډول تمثيلېږي.په اگاهي او خبرتيا سره د خلقت او د کايناتو دپيدايښت او د جانان ننداره کوي. شاعر د انسان له دريځه ځان يوازې احساسوي، همدارنگه د جبر او اختيار مساله مطرح کوي. وايي چې د ځمکې لايق نه وم نو اسمان ته دې ولې بللم.

عشق هغه موضوع ده چې تل د غني په اشعارو کې را ځليږي. د هغه شور او جذبه وجد او هيجان د ښکلا په لور له همدې ټکي پيل کيږي.

يوازيتوب د انسان يوه عمده ځانگړنه ده. په وجودي فلسفه کې دانسان يوازې والی ترزياته حده دغني په اشعارو کې په عارفانه بيان سره ځای لري. د الکيس کارل خبره ده چې وايي: انسان په هماغه اندازه چې له ځانه د بهرجهان په ننداره دی او پام ورته کوي نو له خپله ځانه ليري کيږي. او خپل حقيقت يې له ياده وځي. ))

خوغني خان په دې مطلب هم له هرچا ښه پوهيږي چې وايي :

په جومات کې مې ونه موند په مکه کې رانه ورک شـــو
خدای مې زړه کې را پيدا شـــوچې مې مخ ديار کړو ښـــکل

**هـ: د غني جانان:**

شاعر په را وروسته نظم کې هم له شك نه پيل کوي، خو دا ديکارتي شك نه دی. دا د قبلي او جانان ترمنځ دوه زړه توب دی چې ډېر ژر د لويو عارفانو په څير يقين ته رسيږي. شاعر ډېر ژر دې ته را گرځي چې کله خلايق هست شول نو دخالق تجلي وليدل شوه٠ هغه وايي زه(انسان)هم په داسې حال کې چې هم نيشه وم او هم مې شکر باسلو د جانان د مخ په ننداره

پروت وم خو اوس چې زه(انسان)د یوازیتوب په سمندرکې لاهو یم نوپوښتنه را پیدا شي چې څرنگه د یوازیتوب له دې برزخ او یا د یوازیتو ب د دې بې پایابه سمندرنه پورې وتلی شم؟ دا عذاب له کومه ځایه له ما سره مل شو.څرنگه په ځمکه کې یوازې پاتې شوم چې کله مې په ځمکه کې د پاتې کیدو وړتیا نه درلوده نو ولې دې اسمان ته وغوښتم.غني (انسان) چې کله د خپل تعادل اوله خپل عرف نه ووځي اوله خپله ځانه را بهر شي. د درك اومعرفت لوړ پړاو سره وصل شي نو بیا په دې ((خره جهان کې ))چې د غني خان دې شعرته چې وایي:

دســـینـد لــه ســـپینو شـــگونــه مې جوړکړلو محــل
دې تـول خـرگـي جـهـان ورتــه حـیـران حـیـران کـتـل

**جانان**

کـلــه مـخ پــه قـبـلــه کـړم کـلــه مـخ کـړم وجـانــان تــه
هیڅ پــه فرق یې پوه نــه شـــوم ربــه خیر مې کړې ایمــان تــه
هغــه ورځ چې خلق پیـدا شـــو دخــالق پــه تجلی شـــو
زه وم پروت مخمور، مشـــکور پــه ســـجده مخ دجـانــان تــه
اوس زمــا پــه بـیـکســـی کې دمســـتــی لــمـغـړې ویـنـي
چې زه دځمکې قــابـل نــه وم ولې تــا بوتلم اســـمــان تــه
دخـبـرو یـې څـوک نشـــتــه، غـنـي ځــان ســـره گـونـبـږي
لــیـونــی یـې هـلــه بـولــي چــې یــې وگــوري جــانــان تــه[1]

---

[1] لڼون ۱۶۹۹

**حال د غني:**

د حال زما په نظم کې هم دا فکري خط پر مخ ځي. شاعر له یوازیوالي او گوښې والي فریاد کوي. د هیلو او امیدونو د برباد شویو امیدونو خبره بیا را اخلي. د انسان ژوند په یوازیتوب کې ((برزخي)) ژوند ته ورته دی. دهیلو او امیدونوځرك ورته لکه سراب دی. ځواني اوعمر په کې خاوري کیږي. خوبالاخره هغه په دې وس پیدا کوي چې له خپل شور او فریاد نه دا حقیقت ووایي چې:

په جومات کې مې ونه موند په مکه کې رانه ورک شو
خدای مې زړه کې را پیدا شوچې مې مخ د یار کړو ښکل

**زما حال ټول شعر په لاندې ډول دی:**

هیڅ دعشق له غمه نه دي برابر غمونه کل
چې دیار فراق دې ووی دغه دي دخدای وهل
چې مې زړه د ایرو ډېر شو د قارون خزانه څه کړم
چې لالی مې خواکې نشته څه کړم گل څه کړم بلبل
چې دونیا یې شي برباده اخرت به یې څوک ښه کا
چې د زړه پېښې مې شوې شلې څه به کړم دامید زغل
زه په طمعو طمعو وسوم په ځوانی مې ځان کړو خاورې
چې هیڅ چا زغملی نه شو هغه ما په ځان زغمل
بې جانانه جنت څه کړم ؟ بې وطنه بادشاه څه وي ؟
یا به ځان پسې لاهوکړم یا به یې کړم دپټکي گل
په جومات کې مې ونه موند په مکه کې رانه ورک شو
خدای مې زړه کې را پیدا شو چې مې مخ دیار کړو ښکل

غنـي بـد پـه ژړا ښـــکـاري، کنـې ده بـه وو جـوړ کړی
په ســيلاب د ســوخت داوښـــکو اباســين دریاب یو بل [1]

۱۹۳۰ اتمانزي

ددې بحث په پای کې به بده نه وي چې دسوریايي فیلسوف اوپوه علي احمد سعید په خبرو دا بحث پای ته ورسوو. هغه په دې خبرو کې هم د شعر د ارزښت یادونه کوي او هم په شعر کې هغه جادويي خصلت چې د ناپیژندل شوې نړۍ په پیژندلوکې له انسان سره مرسته کوي، پام را اړوي.

ادونیس لیکي: شعر په موږکې له نورو سره په اړېکه کې د ښکلا له پلوه ډېره زیاته علاقه، مینه، پیوند او انسانیت ایجادوي. دا ځکه چې دحقیقت له اړخه د حقیقت د کشف ډېر زیات قدرت لري، همدارنګه دحقیقت او جوهر د بل بعد په کشف کې هم ډیر پیاوړی دی. حقیقت دې بعد ته اړتیا لري، نه یوازې له دې امله چې له هغه سره یو شان او واحد اومتحدشي. بلکې د وحدت له پاره هم.بل پردی والی یې دا دی چې زما حقیقت ماته را څرګندوي او ما له هغه سره اشنا کوي. شعر ددغه فردیتونو دلیدلو امکان را منځ ته کوي.په داسې حال کې چې پرله پسې هستونه اونوې هستونه یا تخلیق موږ په یو نړیوال انساني یو والي کې له سره اعاده کوي. په دې خوب کې چې بشپړه بیداري ده، انسان په وروزګلوی سره دنړۍ د بدلون له پاره کارکوي چې دهراکلیتوس خبره تکرار شي:

---

۱. لټون ۶۸۸

((انسانان په خوب کې په ورورګلویزه توګه هڅه کوي چې ښه دونيا جوړه کړي .))[1]

**و: غنې خان ملاچرګك يا د سير وسلوك مرغه:**

غني خان په خپلو اشعارو کې دالوتونکو، خزنده اوحيواناتو په اړوند يو لړ طنزيه اومزاحيه شعرونه هم لري. د دغه طنزونو شاته ژوره معنا هم پرته ده. په دې شعرونوکې اساطيرو او عرفاني مسايلو ته هم اشاره شويده خو دا ټولې څرګندونې د غني د هستوونکي فکرپه انداز او د هغه د مشخص نظر تابع دي.د غني خان په اشعاروکې يو شعر دملاچرګك په نوم هم شته چې د شعر پيل، منځ او پای د پوره غور او دقت وړ دي. د دې له پاره چې د شعرمحتوا ته داخل شو اړه ده چې د ملا چرګك په هکله د افسانو په بنياد څه ووايو.

په عرفاني او تصوفي فرهنګ کې د ملا چرګك تعبيراو تفسير ډيرځله راغلي او يادونه يې شوی ده خو د غني په شعر کې ملا چرګك سمبول هم او اسطوره وي مرغه هم دی. ملاچرګك مشهور مرغه دی چې د سر له پاسه د ارې په څير قرقره لري. دا د سليمان دمرغه په نوم هم ياديږي.په کلاسيك عرفاني ادب کې بيلابيلې معناوې او د مختلفو حالاتو او شيانو کنايه اوسمبول دی.په منطق الطيرکې د سير وسلوك کنايه ده اوهم په سلوك کې د سيمرغ په لورد مرغانو لاربښود دی.

---

۱.ادونيس .(علي احمد سعيد )تبوف وسورريالیزم . (ترجمه حبيباله عباسي ) چاپ تهران: سخن سال ۱۳۸۵ ص ۲۲۱

مــرحــبــا ای هُــد هُــد هــادي شـــــده
درحــقــیــقــت پــیــك هــر وادی شـــــده
ای بــه ســـرحــد ســـبــا ســـیــر تــو خــوش
بــا ســـلــیــمــان مــنــطــق الــطــیــرخــوش

مشهور اشراقي فیلسوف اوعارف شهاب الدین سهروردي وایي:

کله چې هُد هُد یا ملا چرګك د بومانو په منځ کې د لاروي په څیر د هغو په تم ځای کې نزول وکړ. ملا چرګك په زیات بصیرت لرلو مشهور دی، بومان په ورځ ړانده وي چې په عرب افسانو کې هم زیاته مشهوره کیسه ده.

د سهروردي په اثارو کې راغلي چې هُدهُد په خپل سیرکې پرمخ ولاړ یعني الهام اوزموږ پر سر لمر شو.کله چې د سیورې غاړې ته ورسید هیولا لا هم غوښتل چې له صورت نه لیرې اوګوښې شي. دلیل دادې چې لمر او تورتم هیولا اوصورت غواړي.

د غني خان د ملا چرګك په شعر کې د سلیمان او ملکه سبا ذکر هم شوی دی.دا په اسلامي تمدن او فرهنګ کې مشهوره کیسه ده چې په ځانګړي توګه په عرفانې برخه کې دتمثیل له پاره راوړل کیږي. په فارسې ادب کې عطار نیشاپوري څو ځایه یادونه کړې ده او په دې اړوند اشعار لري خو د غني خان د ملا چرګك شعر توپیر له هغو سره په دې کې دی چې دی ملا چرګك د پښتنې فرهنګ په چوکات کې تمثیلوي او د هغه عرفاني پیغام را برسیره کوي.

د پښتو د کلاسیك عرفاني ادب نامتو شاعرمیرزا خان انصاري هم څوځایه یادونه کړي ده.

دا گـویـا هُـد هُـد چـې راغـی لــه ســـبـا
ومشـــــتـــاق تـــه یـــې ووی لـــه هـــبـا
ده عــجــب دحــال پـــه ژبـــه ځــواب ورکــه
راشــــــه راشـــــه بـــلـــی بـــلـــې مـــرحـــبـا
کــل جــهــان لـــه مـــحـــبـتـــه پـــیـدا شـــوی
دا ربنـــــتـــیـــنــی عشــــق د کــل جــهــان ابــا
دغـــافــلـــونــاپـــوهــي تـــوره تـــیـــاره شــــوه
د عـــارفـــو فـــهـــم ســـــپـــیـن لـــکـــه صـــبـا

(۲۳-۲۴)

د ملا چرګك عرفاني داستان حضرت سلیمان پیغمبر ته ورګرځي چې په بیت المقدس کې د انس اوجن پرندو او چرندو پادشاه وو او په هرڅه یې فرمان چلیده. سلیمان خپل قوم توحید ته را بللومرغان او ځاروي خزندې اوځرندې د هغه تر فرمان لاندې وي. وایي چې یوه ورځ سلیمان ټولې پرندې را وغوښتلې چې دسلیمان د تخت له پاسه چتر جوړ کړي.پرندو چترجوړ کړ او د لمر مخه یې ونیوله خو په دغه ورځ ملاچرګك نه وو، د هغه ځای تش وو.له هماغه تش ځایه د لمرڅاڅکی په سلیمان ولګیده٠ سلیمان د ملاچرګك د غیابت په باب وپوښتل. ملاچرګك وروسته حاضر شو او په ادب یې وویل:چې زه یوه نوی خبره او نوی پیغام لرم. زه په یمن کې وم٠ دیمن په خلکو یوه ښځه یا ملکه حکومت کوي.هغه دلمر پرستش کوي. اولسونه یې فرمان وړي، سلیمان ملاچرګك ته وویل چې ته به زما فرمان ملکې ته یوسې او د هغې پر تخت به یې واچوې. هغه هوکړه رقعه یې په مښوکه کې ونیوله او د ملکه سبا پر تخت یې وغورځوله په رقعه کې لیکلي وو چې توحید ومنه الله یو ذات دی. پیراون وحدانیت ته راوبوله. ملکې سبا

له خپلو سلاکارانو سره مشوره وکړه٠ دجنګ پر خرابۍ يې غور وکړ. پريکړه يې وکړه چې بايد سليمان وازمويل شي چې که پادشاه وي سوغات به واخلي اوکه پيغمبر وي نو سوغات به رد کړي. کسان يې له سوغات سره سليمان ته واستول٠ سليمان سوغات رد کړ او ورته ويې ويل زه الله پاك د بحر و بر پادشاه کړی يم. وچه اولنده، پرنده اوڅرنده زما په اختيار کې دي. د سوغات وړ.ی نه يم. ملکه سبا د دې خبر په اوريدو روانيږ.ي او ترمخه چې ورسيږ.ي جنيانو د ملکې تخت د سليمان په امر د سليمان دربار ته وړي وي، ملکه په ورتګ سره خپل تخت ويني اوحيرت کوي په سليمان ايمان را وړي او ورسره واده کوي. ملاچرګك د دې وساطت لوی ريبار او لوی استازی دی. دغه اسطوره په تفصيل سره په قران او نورو مذهبي کتابونو کې راغلي دي.

خو لکه چې په سرکې مو وويل د غني خان دا شعر دا پورته کيسه هم کوي او نوره کيسه هم لري. لومړی به دشعر يوه برخه ولولو.

ملاچرګک

زيـــــړ دې کـــــمـــــيــــس دی
خــــــړ د خښـــــــتـــــګ دی
شـــــمــــلـــــه دې نـــيـــغـــه ده
اوکــــــوټ دې بــــــرګ دی
ټــــولـــــه ورځ کـــــن کـــــن
پـــــه ځـــــان مــــيـــنـــه
چـــا خــــوار چـــنـــجـــي پســــې
کـــــنـــــده کـــــويـــــنـــــه
نــــمــــايشــــــي شـــــان يـــــي

کـــړې د نــــخـــرو الـــوتـــه
د مشـــــروټـــو نـــه ډک
ســـــتـــا قـــدمـــونـــه، کـــاتـــه
پـــخـــې پـــخـــې دې ســــتـــرګـــې
دې د (پښـــــتـــو) پـــه شــــان
پـــه دریـــنـــجـــه دریـــنـــجـــه تـــلـــه
دې د تـــتـــو پـــه شـــــان

۱.داسې بریښي چې د ملاچرګك د شعر لومړۍ برخه یوه کنایه اوطنز دی. موږ په دې شننه کې ورور ورو او قدم په قدم ددغه موجود پيژندنې ته ورنیږدې کیږو اوپه پای کې یي په سترګو وینو. د دې طنزکرکتر دغني خان د برداشت او د شرایطو په چوکاټ کې د هغه درك اوعرفاني پوهه ده. دا کرکتر مرغه نه دی بلکې دمرغه په وجود اوکړنه کې دیو موجود تمثیل دی. داسې کرکتر دی چې د ملاچرګك په څیر ټوپونه وهل یي عادت دی. د دغه کرکتر ترسیم د هغه دکمیس اوخښتګ نه پیل کیږي. انساني ټولنه له رنګینیو ډکه ده. کسان هم د پرندو او څرندو دحرکاتو په تمثیل کې ترسیم کیدای شي، داسې چې ټولې چارې یې نخره بازۍ ته ورته وي. هغه په دې طنز کې خپل یو دوست هم له پامه نه باسي (پښتو) او د هغه ونه او قدهم ورته مثال راوړي.ملاچرګك چې کله په ځمکه کښیني نو درینجکي او ټوپونه وهي او د هغو یادونه کوي چې یابو او ټټو ته ورته دي خو له دې ځایه وروسته د ملاچرګك اسطوره وي نقش هم یادوي.

د ســـــلـــيـــمـــان ع دلالـــــې؟
نـــوم او صـــــافـــه د امـــام؟
یـــو خـــوا قـــبـــا او تســـــپـــې ؟
بـــل خـــوا پـــيـــالـــه او خـــيـــام؟

یـو خــوا ســـپــین روبــی مــلــک
مــریـــی د رســـم او قـــانـــون؟
بـــل خـــوا د مـــیـــنـــې دلال
بـــنـدي د رســـم او افســـون!
یـــوخـــوا تـــنـــګـــی تـــاریـــکـــي
د بـــل د خـــیـــال ســـــودا
د بـــال او بـــچ ســـــودا
د ځـــان او مـــال ســـــودا
بـــل خـــوا د بـــل پـــه مـــیـــنـــه
ځـــان او نـــامـــوس ورکـــول
پـــټ شـــابـــاشـــي لـــه د زړه
د خـــار جـــلـــوس ورکـــول
یـــو خـــوا د بـــل ســـتـــرګـــو کـــې
د درنـــــیـــــدو تـــــالاش
بـــل خـــوا د مـــاتـــو څـــانـــګـــو
د الـــــوتـــــو تـــــالاش
زبـــرګ او مـــعـــقـــول پـــخـــڼـــیـــه
پـــکـــه پـــه ســـر مـــلا
تـــا کـــې ښـــکـــاریـــږي مـــاتـــه
د ژونـــد عـــجـــبـــه قصـــه

۲.په دویمه برخه کې چې پورته شعرکې یې مفکوره حرکت کوي.ملا چرګك ته ورته کرکتر لږ څه روښانوي. د سلیمان (ع) او د ملکه سبا ترمنځ اړیکو تینګولو ته اشاره کوي. د دې موجود له نوم سره د ملا کلمه هم وصل ده.د امام په څیرملا او قبا لري خو د خیام په څیر پیاله هم پورته کوي. که له یوې

خوا د ثواب په لار ګام اخلي له ګناه نه هم خالي نه دی او د سرغړاوې او نافرمانۍ جوګه هم دی، خیام د بغاوت رمز دی. دا کرکتر د ملکۍ او د قوم د مشرۍ دعوه ګیر هم دی یعنې چې لاربنوونه کوي، امر ونهې کوي. کوم چې د خدای ځانګړنه ده. په ظاهر کې د قانون ساتنه هم کوي چې د قانون ماتوونکی هم دی. متضاد اوجنجالي ترکیب لري. په دې موجود کې چې د ملا قبا او تسبیح لري د امامت دعوه هم کوي. د مشرۍ او رهبرۍ دعوه هم کوي. سخت پرځان مین دی.د خپل ځان او خپلې کورنۍ په غم کې دی خو د خپلو ګټو د ساتلو له پاره دلالي هم کوي. د زورګیرو او ځانه پورته خلکو خیال هم ساتي د هغه له سترګو نه د اطاعت او کړنو امر او دستور اخلي. د ځان د ساتلو له پاره په خپل ننګ او ناموس هم اړ نه دی. د دې په خوا کې چې د بل په سترګو کې دځان په نسبت امر لولي او د اطاعت له پاره یې متې را نغاړلي دا هڅه هم کوي چې د مقابل لوري په ذهن او دماغ کې ځان د یوې مقربې خیرې په توګه را پیژندل غواړي. لاس نیوی او چاپلوسي او جګې جګې یې دنده وي خو د خپل حقارت د پټولو له پاره دا هڅه هم کوي چې څرنګه والوزي. ددې ټولو هڅو په ترڅ کې دا ملاچرګک دی. بزرګ دی.د ولایت مقام لري. د ولایت او روحانیت دعوه هم کوي او د ملایي پګړۍ هم پر سر کوي خو انساني روح د هغه په تن کې کښته پورته کیږي هغه چې دروند امانت په اوږو اخلي او د شیطان د وسوسې ښکار هم دی خو شاعر د همدې شعر په درېیمه برخه کې په ملاچرګک کې بل داستان لولي او دا دهغه عجبه کیسه ده.

چــه کــلــه تــه والــوزې
(مــلــکــه ســبــا) وویــنــم
د بــحــر و بــر بــادشــاه
وړې شــــان جــونــې تــه

قــربــانــوي خــوشـــحــالـــي
د غـــم مـــیـــرمـــنـــې تـــه
د ګـــل خـــنـــدا وویـــنـــم
د لـــولـــکـــۍ پـــرواز
د مـــحـــمـــود ورېږ ســـتـــرګـــې
مـــعـصـــومـــه څُـــلـــه د ایـــاز
زه د آدم د جـــورېـښـــت
پـــه وجـــه راز پـــوه شـــوم
پـــه خـــپـــل انـــجـــام پـــوه شـــوم
پـــه خـــپـــل آغـــاز پـــوه شـــوم

۳.شاعر د ملاچرګك په شعرکې دهغه په الوتلو کې دملکه سبا تصویر ذهن ته راوړي اودده په وسیله دبحر وبر پادشاه یعنې سلیمان دهمدغه موجود په څیره کې دمحمود او ایاز یعنې دسلطان محمود او ایاز مریي عرفاني کیسه یاد ته راوري چې څرنګه محمود د دونیا ټوله ښکلا د ایاز په سترګوکې لیده. دا مینه په اسطوره بدله شوه خو دشاعر په وروستیو بیتونو کې جوتیږي چې وایي ادم چې کله الله پاك له ختو جوړ کړ په دې کې یو راز وو. د دې راز څرګنددی. الله پاك دخپل شتون اوځان ښودلو له پاره انسان هست کړ. انسان د دې له پاره نړۍ ته راغی چې خدای خپله څیره اوخپل قدرت وښایي نو د الله خلیفه دی. دځمکې پر سر د انسان د راتلو او د هغه د فنا راز ټول په انسان کې دی. مینه، عشق او د قدرت لیوالتیا او د هغه د((من)) اوانانیت موجودیت په انسان کې د خدای د موجودیت رازونه منعکسوي.

د غني خان ملاچرګك هم یو پرنده نه ده.بلکې انسان دی. هغه انساني روح دی چې دثواب اوګناه ترمنځ واټن کې سرګردانه دی.

## دربيم خپركى
## غني خان او ښكلا پېژندنه

غني وايي:

چې دا روح مې په ښــــكـار ووځي درنگونو پــه خوبونو
كــه نور نــه وي د تيرو زه رنـگيـنـي نـورونــه جوړ كړم
چې دښــــايســــت شــم زه ليوالــه دصـــحرا هره ذره كې
پــه زرهـاوو بوســـتـانونــه پــه لـكـهـا گلونــه جوړ كړم
دا چې تــه، تـه يې اودا تـه يې، دا چې ســتـا مســـتې رڼا ده
دايــم زه يــم دا بــس زه يــم،دا زمــا ژړا خــنــدا ده
دمــلاخــبــرې پــريــږده مــامــلــه ســــتـا اوزمــا ده

داداســـتـــان دلوړې نـــه دی دا قصـــــه دعشـــق اوســـــاه ده
دا زمـــا بې ســــره ژونـد کې پټ ســـــتـا حســــن اوکمـال دی
دا زمـــا کمزورې ســــــترګې ســـــتـــا د زورجــاه وجلال دی

(۱ـ ۵۶۳)

**الف.غني اوښکلا پېژندنه:**

یوه مساله چې دغني خان په نړۍ لید کې پرې لړه او یا په څنګ ځینې نظرشوی دی. د غني خان د ښکلا پېژندنې یا استیتیک موضوع ده.په یوه رساله کې غني خان د رنګ او نور شاعر ګڼل شوی دی او په یوبل ځای کې هغه د مینې او لیونتوب شاعرګڼل شوی. نورو هم ځای ځای په دې هکله څیړنې کړي دي خو د غني خان دغه استیتیک احساس په تسلسل سره لږڅیړل شوی یا د دې احساس ریښوته لږه پاملرنه شوې ده.

غني خان د شعر او ادب په ډګرکې ساده هستوونکی نه دی. هغه په یوڅه خپل فکر او حواس متمرکز کوي. په خپل چاپیریال اوطبعیت نظر اچوي خو هغه څه په کې ګوري چې نور یې له لیدلو بې وسه دي. په ښکارندوکې هغه دوه ډوله ښکلا ویني، یوه هغه ظاهري ښکلا ده چې د شهود په دونیا کې خپل موجودیت له ځانه ظاهروي.بله هغه ښکلا ده چې د شاعر حواس نه بلکې دروني او باطني دونیا یې د پوهیدنې حکم کوي. ځینې کسان په دې باوردي چې دا د غني خان یو خاص او د هغه دروني شخصیت پورې اړونده یکي یوائینی لید دی چې د ښکلا په باب یې لري. یا یې د هغه د فطرت زیږنده بولي. دا سمه ده چې په هستونه کې د هستوونکي ((خلاق فردیت)) رول لري خو له عامو فکري ښو او نورمونو هم نه شومنکریدلای.

د ښکلا پیژندنې مسالې ان له لرغونو زمانو د فیلسوفانو ذهن بوخت ساتلی دی. په لرغوني یونان کې د اکثرو فیلسوفانو له خوا مطرح شوې ده.په رنسانس او له هغه را وروسته پیریوکې د ښکلا پیژندنې مسایل مطرح شوي او پرې بحث شوی دی. کانت او هګل په دې اړوند ډېر په زړه پورې او هر اړخیزه نظریات وړاندې کړي دي.په دې لړ کې د غني خان د استیتیکي احساس درا سپړنې له پاره به بې ځایه نه وي چې لږ تر لږه په دغو کلاسیکو نظریاتو تم شو.

په لرغوني یونان کې افلاطون دسقراط د بیانیو په تعقیب خپل اندونه را ټول کړل. د افلاظون دمیلمستیا په خبرو اترو کې چې ډېره مهمه ګڼل کیږي، له ښکلا سره له یوې ځانګړې زاویې مخامخ کیږو. د یاد فیلسوف په دې مکالمو کې ښکلا علت نه بلکې معلول دی.هغه څو وارې ښکلا دعشق (اروس Eros) نتیجه بولي. د افلاطون په عقیده ښکلا په دواړو خواو کې د اروس یعنې شهواني اوربښتیني عشق څخه نه زیږیږي.کله چې وایو: (( د ښکلا پیژندنه ستونزمن کار دی ستایلي یې نه شو. بلکې یوازې ښکلی اروس د ستاینې وړ دی. موږ هڅه کوو چې هغه دښکلي په توګه خوښ کړو. )) (۴-۵۹)

افلاطون د میلمه پال یعنې اګاتون له خولې ښکلا له نیکی(د شرضد) سره یو ډول انګیري، په دې برخه کې سقراط د یوې ښځې چې دیوتیما نومیږي مثال راوړي.هغه وایي چې دا میرمن د عشق او مینې په برخه کې زما استاده وه او کرامات یې هم درلودل چې له هغه جملې یو دا وو چې د وبا بلایي د لسوکلونوله پاره د اتن له خلکو لیرې وساتله. سقراط له دې خبرو وروسته د ښکلا په باب د تیما خبره را نقلوي.دا د هغه څه پرخلاف وو چې سړی فکرکاوه، د عشق هدف پخپله ښکلا نه ده.بلکې د ښکلا ګټور توب دی. هغه دا خبره هم توضیح کوي چې ښکلا او د هغې د ګټور توب له پاره

هڅه له ابدیت سره تړاو لري. هغه څوک چې د عشق په لار کې ټول پړاوونه وهي.په دغو پړاوونو کې د ښکلا د زیاتو مواردو سره اشنا کیږي. بالاخره((د لارې په پای کې)) له ډېرې حیرانوونکي ښکلا سره مخامخ کیږي چې هغه ابدي او تلپاتې هستي ده، نه منځ ته راځي اونه له منځه ځي.

غني په عارفانه احساس سره  هم دغه ډول ښکلا انځوروي.

مینه اوحسن

ســـــتوري تــه اســـمــان کــې یـوه ورځ ووی هـلال
خـدای آدم لــه مـیـنــه ورکـړه مـوږ لــه تـش جـمـال
زه بـه پـه خنـدا ورکړم دا خپـل ښـــایســـت دکمـال
مــالــه کـه یوځــاځکي مینـه راکړي څوک پـه ســوال
مـیـنـه حـقـیـقـت حســـن ســـایـه دحـقـیـقـت ده
حســـن لــه زوال شـــتــه مـیـنــه نــه لــري زوال

(۱-۴۴۴)

غني خان نه یوازې د یوه شاعر په حیث د ښکلا له مسالې سره تماس نیسي بلکې هغه د یوه هنرمند په توګه چې هم په رسامۍ کې استاد دی اوهم د شهود او وجود د عالم په باره کې پوهه لري، اوهم په موسیقۍ پوهیږي.دا ټول ددې سبب کیږي چې د هغه ښکلاییز درک اوپوهه هم یو بنسټ پیدا کړي. غني که له یوې خوا د ټیګور د شانتي نکیتن (دارالامان ) شاګرد دی نو له بلې خوا د هند د لویي وچې د((بودایي مدنیت)) دخصوصیاتو او کیفیاتو نه ډېراغیزمن دي.د لویدیځې نړۍ تمدن یې په خپل عمر او ځوانۍ کې تجربه کړی دی. غني خان دګوتم بودهه په باره کې وایي:

گوتم بودهه رښتیا ویل چې:(پیداشوې نو پناه شوې)

دا داسې جوارې ده، هر یو داو یې دی تاوان،

یا لس کاله یا شل افته کې تېرکړې

اخیر یې چیرته تورو تارخانو ته کړي روان

لږ عیش، لږه ځواني، مال محبوبه بس دا وایه

بس یو خیام خبر وو نور ړانده دي شاعران

د غني د ښکلا پیژندنې احساس له هغه څه ډېر وړاندې او پیاوړی اوڅو اړخیزه دی چې فکرکیږي.

د فلوطین مشهور اثرچې انیاءدونه نومیږي د هنراو ښکلا په باب افکارو کې په زړه پورې بحثونه مطرح کړي دي. دغو بحثونو په اسلامي عرفان هم ژورې اغیزې کړي دي خو د فلوطین انیاءدونو شپږمه او اتمه رساله او پنځم انیاءید چې د معقولې ښکلا یا د پوهیدنې وړ بحث دی، په شپږمه رساله کې راغلي دي. په دې رسالوکې هغه څه موجود دي چې خلک ځانته را جلبوي او د هغه حضور د یو بل په نسبت اودکل په نسبت داجزاوو تناسب دی چې د ښکلا د موجودیت سبب کیږي. د ښکلو رنگونو په زیاتولو سره د دې سبب کیږي چې یو شی زموږ په نظر ښکلی راشي خو فلوطین دغه تعریف نا بشپړبولي:

لومړی دا چې دا ښکلا د مرکبو مواردو پورې منحصره کیږي او په نتیجه کې په ډیرو برخو کې ډېر ښکلي نه بلل کیږي. ان تر دې چې واحد اواز یا یو رنگ اوساده هم کیدای شي ډیر ښکلي وي. له بلې خوا د ستورو ډک

اسمان چې په هغه کې ګڼ ستوري موجود وي، تناسب نه لري خو ښکلا لري.برسیره پردې ځینې ځیرې پرته له دې چې دهغو په تناسب کې کوم بدلون راشي کله ښکلې بریښي او کله نا ښکلې، نوڅنګه ویلی شوچې د ښکلا په افکارو کې دتناسب پلټنه وکړو.(۴-۷۰)

فلوطین تناسب یوې خواته کوي او دا پوښتنه را منځ ته کوي چې د ښکلا علت اوسبب څه دی؟ هغه وایي زموږ روح او یا نفس(( دخپل طبعیت په اساس له معقول اوحقیقي وجود سره تعلق لري. )) نو هر کله چې له یو شي سره مخامخ شي چې ورسره اشنا دی نو هغه یې خوښیږي. په حرکت او ټوپونو راځي او له هغه څه چې خپله یې لري، په یاد راوړي. ))نو مساله دا ده چې د ښکلا اومحسوسوښکلو شیانو او معقولو ښکلو شیانو ترمنځ کوم ډول ورته والی موجود دی؟

غني هم نه یوازې د یوه شاعر په توګه د ښکلا له مسالې سره تماس نیسي بلکې هغه دیوه هنرمند په توګه چې د شهود او وجود دعالم په باب معرفت لري.ټول ددې سبب دي چې د هغه ښکلاییز درک اوپوهه هم متعالي بنسټ ولري.غني په خپل شعرکې دوه مفاهیمه په متعالي توګه پرستش کوي اوپالنه یې کوي چې یوه مینه ده اوبل ښکلا اوحسن.د غني ښکلا ییزه پوهه هم د فلوطین د نظر له مخې په شهوداتو کې نه ایساریږي بلکې وړاندې ځي. هغه وایي:

سپوږمی مسکۍ شوه وی دا تول دڅه کړي
مینه کې مړه څوک تلل نه کوي
په سور بهار کې دګلونو حساب
خانده مستیږه اوچړچې کوه
ددې لکها سوالونو یودی ځواب

ځــه کښـــــیـنــه گــوډ دي دبــاغــچــې کــوه
د زړه وطــن کــې دســــــر لاره نشـــــتــه
د فــــکـــرجـــال بـــه څـــه کـــړي
د یــار حســـــاب لــه خـپلــه یـاره نشـــتـه
ســپوږمۍ مســکۍ شــوه وی دا تول دڅه کړې
مــیـنـــه کــې مـړه څـوک تــلــل نــه کــوي

یاد مفکر او شاعر د ښکلا د یو سمبول په ژبه وایي چې(( مینه کې مړه څوک تلل نه کوي.)) هغه دوه قلمروه په گوته کوي.سر او زړه.د غني هدف له زړه نه د تن او وجود هغه مرکز نه دی چې ټول جسامت ته وینه ورکوي. بلکې سر د عقل سمبول او ښه ده او زړه د عارفانو او صوفیانو د اشراقي پوهې مرکز یا د روح او روان نښانه ده.هغه د ښکلا څرکونه له همدې زاویې ویني. شاعر په یو بل شعرکې د افلاطون په څیر د ښکلا پیژندلو ته د ارزښتونو او گټورتوب معیار هم نه هیروي.

پاتې دي نه وي چې د کارل گوستاویونگ په نظر ټول هنرمندان په خپل شخصیت کې او د خپل ژوند په طرز کې یو ډیر ابتدایي اړخ هم لري. یا د هنرمند په ناخود اگاه کې یو پټ اوپیچلی حالت موجود دی او داکوم نوی کشف هم نه دی.گنوستیکانو داسې تصور کولو او دې حالت ته یې پلروما ویل. دا د کمال او تعالي داسې یو حالت دی چې په هغه کې اضداد لکه هو او نه، شپه اوورځ او نور سره یو ځای کیږي. )) (۷-۱۷۱)

دې شننې ته ورته حالت موږ د غني خان په اشعارو کې زیات وینو :

ای د لیونیانو نیکه

ای د لیونیانو نیکه لمونځ ښه که مستي ښه ده؟
حسن جوړېدل ښه دي که حسن پرستي ښه ده؟
وی ښه ده مستي ښه ده خو زړه پاک لکه اینه غواړي
دا دریاب هضمول دسمندر هومره سینه غواړي
حسن جوړېدل دبنده عشق دکمال دی
تور د غم دریاب کې سور خمار د وصال دی
او ای زما بچیه! دجانان یې مینه لا ښه ده
نوم یې ښکلی لا ښه دی جلوه یې رنګینه لا ښه ده
ای د لیونیانو نیکه مار ښه که ملا ښه دی ؟
تن مې ډک له زهرو که زړه مې دبلا ښه دی؟
ای زما بچیه وی ډېران لره انګار ښه دی
مړی له پیشو ښه ده، چینډخې له ښامار ښه دی
تا له لیونتوب ښه دی مستي ښه ده صحرا ښه ده
چا له طاعون ښه دی چا له سوری دمولا ښه دی
داد دونیا رنګ دی دا دونیا رنګینه لا ښه ده
زیره ښه ده توره ښه ده تکه سپینه لا ښه ده
ای د لیونیانو نیکه حسن که وفا ښه ده
برخه دمجنون ښه ده هم برخه دلیلی ښه ده
ښه ده فقیرې نیکه که ښه ډېره دونیا ښه ده
ګل د صنوبر ښه دی که کلا د محبوبا ښه ده
وی ای زما بچیه! سور عقاب له دغره سرښه دی
ګل د صنوبر له ښه او ګل له صنوبر ښه دی
جام له قلاری او سمندر له طوفان خوند کوي
سترګو له مستي خوند کړي او زړه له ارمان خوندکوي
نوای زما بچیه! فقیري ښه ده دونیا ښه ده

تخـت دسـلیمـان ښـه دی جونګړه دعیسی ښـه ده
مشـره لـیونـیـه وزیـرې کـه جـیـلـخـانـه ښـه ده
ښه مې خپـل لروکی دی کـه قرض توپخـانـه ښـه ده
ای زمـا بـچـیـه! یـار ژړلـو لـه صـحـرا ښـه ده
تخـت د رقیـب نـه دی ښـه ټکوری د لیلی ښـه دی
دوسـت د یزید ښـه نـه دی شـهید د کربلا ښـه دی
واک چې یې د بـل وي ددی نـر نـه زنـانـه ښـه ده
او ای زمـا بـچـیـه وزیـری نـه جـیـلـخـانـه ښـه ده

(۵۴۱- )

په دې پورته شعر کې اخلاقي فضیلت د ښکلا پیژندنې یوه برخه ګرځي. هغه دوه متضاد شیان را اخلي، یو ردوي او بل خوښوي اوپه دې ډول دغه د نفي او اثبات طریقې ته تر اخیره رسیږي. هغه په دې ډول محاوره کې دا جوتوي چې کوم څه فضیلت لري اوکوم څه فضیلت نه لري. هغه څه چې د ټولني د ارزښتونو په بنیاد د پوهې او درک په بنسټ فضیلت نه لري هغه ښکلي هم نه دي، په یوه تصویر او شاعرانه انځورکې دوه متضاد عناصریو د بل په څنګ کې ږدي. دا د غني خان د دیالکتیکي تفکر یوه طریقه ده.

دغني په ښکلا پیژندنه کې د انسان زړه باید یولوي سمندر وي.دا سمندر باید پاک وي، لکه هنداره داسې، په دې لړکې د((حسن جوړېدل د بنده د عشق د کمال دی.)) حسن او ښکلا په پاک زړه کتل کیږي او سنجول کیږي. د رنګ او نور شاعر د رسالې لیکوال هم لیکي:

((د غني خان جمالياتي (منظور يې ښکلاييز يا استيتيکي ) ادراک کله کله هغه له مجازه ډېر ليرې دحقيقت تر بامه رسوي.د هغه قوي تصور چې(( د اب وگل)) د مجازي حسن نه پورته دی نو د عشق يو داسې منزل ته د رسيدو هڅه شروع کړي چې دحقيقي حسن نه پورته شي، دحقيقي حسن سره د وحدت يو مقام شي. هغه د خپل وجود د فنا په راز خبر شي او د معرفت ترحدونو ورننېږدې شي. په دغه مقام چې د زړه سترگې بينا شي نو ټول کاينات د ازلي حسن يو اکايي شي. د تيارې او د رڼا فرق ورک شي او دخپل رساعشق له کيفيته هغه دوجود په هره اشاره کې يوعلامتويني او د دغه علامت د ابدي ښايست داسې پرده شي چې پورې ترې عاشق ته د عشق مقام هم بريښي او د ښايست رازونه هم. ))(۳- ۳۴)

افلاطون هم هغه څه ښکلي بولي چې د روح اوجسم له هم غږۍ سره مرسته کوي، وايي: ښکلا هغه څه دي چې گټوره وي او هرڅه چې زيانمنوونکي دي((ناوړه))دي. ښه والی، اخلاقي خصلت لري او له افلاطون وروسته له هغه څه چې د هنر او اخلاقياتو مناسبت په دې ډول ټاکي نو د حقيقت سره د هغه رابطې ته پام ساتي اوپه دې اړوند د((مُثل )) له نظريي گټه اخلي.په دې عقيده دي چې يوازې ښکلاخپله حقيقي هستي لري.)) (۶-۱۳ )

حسن

اوه تـــپـــوس دحســـــــن مـــکـــوه
ســــــمـــنـــدر شــــــي څـوک تـلـلـی
څـوک ســـــپـوږمـۍ شـــــي رانـيـولـي
څـوک زهـرا شـــــي ښــــــکـلـولـی
حســــن پلار دمينې اومور د عشـــق
پکې پټ دي ټول ســـپين اوتور دعشـــق

دده دخیـال نظر همـه زور دعشـــق
په سـرو شـونډو بلوي ښـکلي اوردعشـق

خو د غني نظر تر زیاته حده د فلوطین نظر ته ورته دی، دا ځکه چې د فلوطین نظر یوعرفاني نظر دی د هغه عرفاني نظر هم په شرق او هم په لویدیځ فرهنګ سیوری اچولی دی.

فلوطین په دې باور دی چې د محسوسو شیانو ښکلا پیژندنه د هغو په ګټورتوب کې ده چې د ښکلا له ایدیي نه یې اخلي، ښکلی جسم د بهرې او یاګټې له لارې شکل او بڼه پیدا کوي او له خدایي صورو څخه منځ ته راځي، خپل موجودیت پیدا کوي. هغه وایي:چې له محسوسې ښکلا پرته یو ډول بله ښکلاهم شته چې زموږ په حسي ادراک کې ځای نه نیسي یعنې په سترګو نه لیدل کیږي او په غوږونو نه اوریدل کیږي. دا حقیقي ښکلا یا معنوي او روحاني ښکلا ده.له همدې ځایه فلوطین داسې نتیجه اخلي او خپل بحث ته دوام ورکوي خو تر مخه چې د فلوطین بحث ته ولاړ شو د غني خان دشعر څونمونې لولو:

یا دا چې:

نشـــته دی د ژوند دخوب تعبیر جهان کې نشـــته دی
ســـترګي دې کړه پورتـه دآســـمان پـه تمـاشـــا
خدای مکه کې نشـــته دمنصـــور له خولې مې واورېده
لاړشــــه لـیـونـیـه شــــه دځـان پـه تـمـاشـــا

د فلوطین په باور(( ښکلا دانسان له روح سره تړاو لري. بدرنګي او ناوړتیا چې د انسان په روح کې ورزیاتیږي نو روح ککړوي. ښکلا د روح هماغه رښتینی ژوند دی او که انساني روح یا نفس له ځانه سره یوازې پاتې شي.

له ناوړتیا وو خلاصون مومي. په همدي دلیل ټول فضیلتونه د پاکۍ او سپیڅلتیا په کلمه کې دي. ))

یا وایي: ښکلا او نیکي دواړه یو بل ته ورته دي.له همدې ځایه موږ ته اخلاقي او په حقیقت کې عرفاني دنده په غاړه را لویږي. ښکلا او نیکي ته په رسیدو او تر لاسه کیدو له پاره باید مطلقې ښکلا ته پام وکړو اودخپل دننه (درون ) سالک شو. په خپلو دروني سترګو سره د نړۍمنظر ته وګورو. که چیرې روح ځان ښکلی نه کړي نو ښکلا به ونه **ویني**.که ددې عرفاني بحث نه را بهر شو او د نړۍ او کایناتو ښکلا ته فکر وکړو داسې ټکي ته رسیږو چې د فلوطین رساله پرې پای ته رسیږي.))خو په هرحال ښکلا په معقول جهان کې ده.یعنې د پوهیدو وړ ده البته زموږ د حسي درک پورې اړه لري.

فلوطین بیا هنرونه پریږدي او د طبیعي ښکلا په باب خبره کوي.په همدې ټکي کې بیا دروني ښکلا ته وررسیږي چې ثابته کړي چې په طبعیت کې هم د ښکلا ((معقول صورت ))شته خو هغه ښکلا چې په روح کې ده ډیر ځله با ارزښته ده. فلوطین وایي: (( کله چې موږ دخپل ځان پورې اړه لرو ښکلي یوخو کله چې په پردۍ هستۍ کې ګام ږدو نو ناوړه کیږو.کله چې ځان پیژنو ښکلي یو او که ځان ونه پیژنو نو ناوړه یو. په دې اساس ښکلا په هغه پورته موجود کې ده او له هغه ځایه راځي. )) (۴- ۷۱ )

چې دا روح مې په ښـــکار ووځي درنګونو په خوبونو
کــه نورنــه وي د تیرو زه رنګیني نورونــه جوړ کړم
چې د ښــایســت شـم زه لیواله دصــحرا هره ذره کې
پــه زرهـاوو بوســتـانونـه پـه لکهـا ګلونـه جوړ کړم
دا چې ته، ته یې اودا ته یې، دا چې ســتا مســتې رڼا ده

دایـم زه یـم دا بـس زه یـم، دا زمـا ژړا خـنـدا ده
دمـلا خـبـرې پـریـږده مـامـلـه سـتـا اوزمـا ده
دا داســتان دلوږې نه دی دا قصــه دعشــق اوســاه ده
دا زما بې ســره ژوند کې پټ ســتا حســن اوکمال دی
دا زمـا کمزورې ســترګې ســتـا دزورجـاه وجلال دی

غني خان د خپلوشاعرانه هستونو په ترڅ کې څوځایه دعلامه اقبال شعرونه پښتو ته را اړولي دي چې یوه نمونه یې داده:

میلاد ادم

(شعر د اقبال دی)

عشــق کړه چیغـه چې پیدا شــو لیونی ځیګر پیدا شــو
حســن ورپیـد د وېرې چـې د تـول نـظـر پـیـدا شــو
یـوچـیـغـه لـه دې خـاورې د ازل تـیـارو تـه ولاړه
ای پردوکې پټو واورو پرده ســوز شــرر پیـدا شــو
او فطرت حیران خفـه شــوچې د دې خـاورې مجبور یې
ځانله جوړونکی ورانه وونکی، ځان لیدونکی ســرپیدا شــو

کی یر ککارد وایي: (( هغه څه چې زموږ باطن ژوند کې پیښیږي د هغو پوهیدو سره باید د کلیت په لور ولاړ شو چې هغه زموږ((خودي)) یا ځان دی او بیا د یو لوی کلیت په لور چې هغه بشري نوع ده اوبیا دکلیت په لور چې دمطلق مثال دی. )) (۵ ـ۱۰۷ )

شازیه بابر په خپل اثرکې چې د( Abdul Ghani Khan & Johan Keats) تر عنوان لاندې یې په انګریزي لیکلی دی، بریښي او د اثر له

محتوا نه جوتیږي چې دغه اثر تر اوسه د غني خان  په هکله ډیره ښه پرتلیزه څیړنه ده. لیکواله د ښکلا اوطبعیت مفهوم تر سرخط لاندي لیکي:

غني او کیت لکه چې ترمخه یادونه وشوه، دواړه د طبعیت او ښکلا مینان دي. د ټولو رومانتیکو شاعرانو په څیر دوی هم له طبعیت سره مینه لري. دوې د رومانتیکوشاعرانو په څیر نه یوازې د طبیعت بیروني ښکلاخوښوي بلکې دوی خپل دروني او باطني احساس هم په هغه کې بیانوي. هغه  نه یوازې له طبعیت نه الهام اخیستلوبلکې طبعیت په هغې کې سترروول درلود. طبعیت داسې وسیله وه چې د هغې دروني احساس په کې ښکاره کیږي. د دوی د ذهن او د طبعیت بیروني ښکلا تر منځ اړیکو شاعر ته یوه لیدتوگه ورکړې وه. پر دې سربیره طبعیت دوی ته دومره الهام ورکړی وو چې دوی ته یې د لید داسې وس ورپه برخه شوی وو چې د دوی له تخیل سره یې اړیکه درلوده. دوی احساس کاوه چې دا ټول طبعیت داسې وړانگې او شعاوې لري چې هغه دالوهیت له لورې راځي.که څوک ډاډه نه وي چې دا دخدای له لورې راځي نو داسې احساس ورته پیدا کیږي چې دا د یو سپیڅلي ځواک په وړاندې د حرمت یو احساس دی. دا د ښکلا او طبعیت ترمنځ ډیره مهمه اړیکه ده چې د دواړوهم دکیت او هم دغني له پاره ده))

(۲۶۷-۹)

د همدغه اثرلیکواله په څنگځنې توگه د غني خان اودکیت دښکلا پیژندنې ترمنځ یو باریکه توپیر را په گوته کوي.لیکي:

((هغه ښکلاچې غني ورسره ډېره زیاته مینه لري هغه دروني یا دننني ښکلا ده.نقادان اکثر فکر کوي، هغه ښکلا چې کیت ستایله یوه تیریدونکی، موقت او نا پایداره هغه ده چې د پیراو ښکلا یې بولي. له دغه کیت ډوله مفهوم نه

اکثر داسې نتیجه اخیستل کیږي چې دا ډول ښکلا تیریدونی او پای ته رسیدونکې ده.ښکلا د مینې کولو وړه ده. دا ځکه چې مري او دوام نه کوي، د خوند او لذت بنسټ اوجوهر دی، او دا بیت یې د مثال له پاره راوړي:

هغه د ښکلا سره تن په تن شخړه کوي، ښکلا چې باید ومري او لذت یې چې لاس یې په خوله ایښې، ورسره وداع کوي.)) (۹-۲۸۷)

خو دا ټول هغه څه نه دي چې کیت پرې دملکوتي یا باطني ښکلا په توګه باور درلود.دEndymoin د اوږده شعري بیان په پای کې قهرمان (Endy moin)دجنت له حقیقت سره مخالفت کوي. په دې ډول ملکوتي عشق له ځمکني هغه نه جلاکوي.

کیت د غني په څیرپه دې باور دی چې انسان کولی شي داسې الوهیت ته ورسیږي(لکه د غني دروني ښکلا) چې د ژوند په یوحالت کې خپله خودي له لاسه ورکړي.

دلته دیوې بلې خبرې بیا ځلي را پورته کول هم اړین بریښي اوهغه دغني په روح اوروان د دارالامان یا شانتي نکیتن اودټیګوریزم اغیز دی. په دې هکله په پښتونخوا کې چاپ شویو اثارو کې څه یادونه نشته.کیدای شي د ټیګور او هندي فرهنګ یادونه یو ډول تابوګڼل شوي وي خو په دې کې هیڅ شک اوشبه نشته چې دغني خان استیتیکي احساس دفلوطین پر نظر سربیره له هندي روح نه هم اغیزمنې دي او د هغه پر سر کې د ټیګور له لید توګې زیاته اغیزه په کې لیدلای شو.

## د ټیګور ښکلا :

د ټیگور په نړۍ لیدکې له طبعیت څخه دښکلا کمال انساني کمال ته رسیږي.یعني کامل انسان د هغه په نظر هغه څوک دی چې په کلیت کې پوهه لري،کلیت ته رسیږي یا په کل بدلیږي. دکامل انسان په اړوند د ټیگور نظر د دې سبب شو چې خپله ټیگور په یوه نړیوال معنوي ښوونکي او استاد بدل کړي. داسې بریښي چې په ټولو فکري او معنوي فعالیتونوکې هغه ته دیوې بې واسطې شهود له لارې لاربښوونه کیږي چې هغه د کلیت او وحدت د فلسفې پر لور پر مخ بیایي، ټیگور په ټول ژوندکې دطبعیت لیوال وو.

دغني خان یو شعر هم داسې ورته مضمون لري :

دوه مینو سترگو کې رنگونه په سوونو
ماته یې جهان ډک کړو دگلونو دنورونو
گوټ یې دشرابو دجنت په جهان راکړو
خوب کې ژوندون راغی ،شو ژوندون ډک دخوبونو
سپینې دسپوږمۍ درنا لپې ډکې ډکې
ونوستې تا خاورو کې زما په قدمونو
رب دې راته وښود پټ دمینې په رازونو کې
وادې چول خولې کې زما ستورې په پنډونو
ساز دحورو اورم ستا دحسن په سازونو کې
ماته دې رب وښود پټ دمینې په رازونو کې

(۲- ۲۳۷)کلیات

د ټیګور په عقیده((دا نړۍ خپله بڼه د انسان د درک اوپوهې په قالب کې ویني. همدارنګه د انسان د ذهن اوحواسو پورې محدوده پاتې کیږي. دا داسې نړۍ ده لکه میلمنه، بلکې نه دا چې خپلوانه ده.کله چې ټوله نړۍ په خپله زموږ په تن او وجود بدلیږي اوزموږ د عواطفو په قلمرو کې ځای نیسي نو زموږ پرله پسې مینه اونفرت، خوند او رنځ ویره اوحیرانتیا پر هغې اغیزکوي او زموږ د شخصیت په یوه برخه بدلیږي. )) (۱۰- ۱۱۱)م

د ټیګور د ښکلا پیژندنې مفکوره ددوه ایدیو سره پیوند لري یعنې ښکلا او حقیقت. حقیقت د ټیګور په باور هماغه دروني یا دننني حقیقت دی چې شاعر پرې حساب کوي او د کیټز په مشهور شعرکې هم ترسیم شوی((ښکلا د حقیقت موسکا ده، هغه مهال چې حقیقت خپله څېره په بې زنګه هېنداره کې ویني.))

غني خان هم دساز په نظم کې دا مفکوره په دقت سره وړاندې کوي وایي:

زه یو مست شان لیونتوب یم
دهوا په اس سوریږم
که یو رنګ دیار دسترګو
شل رنګونه شم ګډیږم
دا زه څه له ولې جوړ شوم
خبر نه یم نه پوهیږم
ولې سوز شم ولې ساز شم
یو اواز یم چې غړیږم
دزړه پټو تارخانو ته

یــو شـــــغـلــه یــم چــې کــوزیــږم
یــو ســـرور یــم چــې شـــرنــگـیــږم
یــو خــمــار یــمــه مســـتــیــږم
چــې پــه رگ رگ کــې دې اور شـــم
یــو لـــمــبـــه یـــم چـــې رپـــیـــږم
دا زه نــور یــم چــې پــړقــیــږم
کــه ســـرور یــم چــې ســـوزیــږم
مســــتـــول کـــوم مســــتـــیـــږم
پــه خــنــدا کـــې مـــې ژړا ده
پــه خـفـه ســتــرگـو خــنــدیــږم
وایـــه وایـــه لــــیـــونـــیـــه
ولـــې ژاړې چـــې ژړیـــږم
اوچـــې پــــړق داتـــڼ واچـــوم
ســـتـــا پـــه ویـــنـــه کـــې گـــډیــږم
دازه تـــش دخـــیـــال دوکـــه یـــم
کــه یــو خــیشـــت یــم چــې خــوریــږم
کــه یــو مســـت د بــادنــیــلــی یــم
پــه فــکــرونــو کـــې ځــغــلــیــږم
کــه دتــال اوشـــرنـــگ نـــه جـــوړه
یــو دوعــا یــم چــې قــبــلــیــږم

کلیات (۲- ۴۸۸)

کله چې پورتنی نظم د ټیگور له نظر له شاعرانه او بشکلا ییزسره پرتله کوو، د ټیگور د نظریو خوند، مزه اوبوی له ځانه سره لري.

ټیګور په واقعي وحدت باندې چې مظاهر یې تنوع لري باور لري، هر انسان یو ځانګړې اوجلا کیفیت لري چې هغه د الهي شخصیت یوه برخه ده. ټیګور یو وخت په ۱۹۳۰ کال د انشتاین سره په خبرو کې د نړۍ او کایناتو حقیقت د بشري حقیقت په توګه ترسیم کړ، وېې ویل:

ښکلا د وجود کل سره د بشپړې هم غږۍ ارمان دی اوپه حقیقت کې د کلي روح ډېرکامل درک دی.

ټیګور په دې باور وو چې کله انسان له نړۍ سره په خپلو اړیکو خبر نه وي نو په یوه زندان کې اوسي چې دیوالونه یې له هغه سره پردي دي. اوکله چې په هر څه کې پرله پسې او دوامداره روح ووینې نو بیا ازادۍ ته رسیږي دا ځکه چې له هغه وروسته بشپړې جهاني معنا ته چې په هغه کې هست شوی کشف کوي، دا وخت دی چې ځان په کامل حقیقت کې مومي او د تمامیت سره د هغه هم غږي ټینګیږي.

## ب.غني ښکلا او رنګونه:

ښه دی په رنګونو کې زړګیه دځوانۍ رنګ
مرګ وغم له ورکي د ژوندون جاودانۍ رنګ

(

(۲ـ۶۲۲)

د غني خان په یوه سیمینارکې یوه سیاست پوه چې له غني خان سره ډېر نږدې پاتې شوی وو، په خپله یوه وینا کې وایي: غني یومتفکر و، هغه یولړ ډېر ژور نظریات هم درلودل، یوه نظریه یې ددې سیمي د تمدن په باب ده. هغه په دې باور وو چې د پښتنو یا افغانانو جغرافیه داسې ده چې په دې کې

يو شليدون يا مقاطعه راغلې ده. کله چې زور ګير اوحمله اور راغلي دي. زموږ تمدني بهير يي شلولی دی. د دې سيمې خلکو نږدې دوه زره کاله د مخه يو مدنيت درلود چې په هغه کې هنرونو ډيره وده کړې وه. په دې تمدن کې تقريبا تر سلو پورې رنګونه پيژندل کيدل. هغه د يورسام او هنرمند، د مجسمه جوړوونکي او موسيقار په توګه په دې ښکلو هنرونو ډير ښه پوهيده. هغه وايي چې پښتنو يا د دې سيمې په خلکوکې هنر ډيرپرمخ تللی وو. دوی د ګوتم بده(بودا) ډير انځورونه جوړ کړل.دا ځکه چې دوی اوريدلي وو چې بودا سوله دوست، انسان دوست دی، متفکردی، او داسې نور نو دده ډير تصويرونه يې کښلي وو خو کله چې سپين هونان راغلل زموږ تمدن يې ويجاړ کړ. اوس له هغو رنګونو نه زموږ په ژبه کې له لسو نه زياتو رنګونو نومونو څخه پرته نور نشته.

رنګ او رنګونه يو بل فکتور دی چې په ښکلا پيژندنه کې زيات رول لري. همداسبب دی چې په شعر او کيسه کې هم دسمبول اونښانې په توګه کارول کيږي. په رنګ يا د رنګ په اثر تصويرجوړيدای شي او د انسان له ذهن سره ارتباط اونښلون جوړيدای شي. د يوڅه ياد ته راتللو په خوا کې ان د زمان په ډيرو ليرې تنګ اوتورتمو کوڅوکې له نورو څه سره اړيکه نيسي.داسې حالت په ذهن اوروان کې بدلون راولي.يو مشخص چاپيريال راښئ او هغه د سترګو په وړاندې په مخ کې ږدي. په دې اساس له لرغونو زمانو راهيسې دټولنيزځان ناخبري شعور له مخې هر يو رنګ په خپل ذات کې د يوڅه سمبول او يو څه ياد ته راوړونکی دی.

د مثال په توګه سره او شنه رنګونه د خوښئ رنګونه دي. زيړ، خړ او تور رنګونه ساړه او بې روحه رنګونه چې غم اوخپګان تداعي کوي او هغوئ بيا په ذهن کې را ژوندي کوي. البته دا ځانګړنې هم دفرهنګ آدابو، رسوماو جغرافيوي چاپيريال او د ولسونو د رواني ځانګړنو پورې اړه

لري. د فرهنگونو او مدنیتونو د ظهور او ټینګښت په بهیر کې وده کوي. دمثال په توګه دجهالت په دوره کې اعرابو، شین رنګ چې د لوړ و ځایونو او یا ځړ ځایونو نښه وه، د هر رنګ په نسبت یې زیات خوښولو.کیدای شي ددې لامل به دا وو چې اعراب په لویو دښتو کي هستوګن وو.په بدل کې یې له سور رنګ نه کرکه درلوده.هغوی سور رنګ (السنه الحمراء)د وچکالۍ او سره مرګ په معنا دمرګ ډیر بد شکل باله اوسور باد یې هم ډیر ناوړه باله. په دې اساس د رنګونود معناووپیژندل اودهغو اغیز د افرادو د روحي حالاتو په بیان کې له ډیرو زمانو راهیسې موجود وو. نن ورځ هر رنګ د اروا پوهنې له نظره اهمیت لري او هر یو یې د ټاکلو رواني خصوصیاتو بیانوونکی دی. دغه اصطلاحات او کلمات د مفهومي معنا سربیره بصرې معناوې هم لري او د رنګینو کلماتو کارول داسې وسیله ده چې شاعرانه تصاویر په کې عینیت پیدا کوي.د شعري تصاویرو د اجزاوو په منځ کې د کشف او تفسیر د اړیکو له پاره وسیله هم ده.

همدا ډول ابي، زیړ، سور او شین اصلي رنګونه دي.دغه څلور رنګونه رواني لومړیتوب او غوره والی لري چې څلور اصلي رنګونه نومیږي. هریو رنګ په یوازي والي او کله هم د یو بل رنګ په خوا کې په جسم، روح او د شخصیت په روان باندې سیده اغیز لري. اروا پوهانو یو لړځیړنې کړي او نتایجو ته رسیدلي دي یعني دا چې هر یو رنګ اغیزمن قدرت لري.

سپین رنګ په خپل مثبت مفهوم سره داسې معنا لري لکه رڼا، سپیڅلتوب، معصومیت خو په منفي معناکې د مرګ، وحشت او فوق طبیعي عناصرو سمبول دی. سپین رنګ په منفي معنا د ماتم لباس وو چې د غزنویانو په دوره کې کاریده. د پښتو ژبې وتلی او بې جوړې شاعر غني خان هم سپین رنګ د ملا رنګ او د ریا رنګ بولي. داسې بریښي چې سپین ویښتان د شاعرانو په اشعارو کې په همدې معنا دی. د زیړ سمبول هم دوه خواوې

لري. په منځنیو پیریوکې زیړ، طلایي رنګ د میني نښه ده او کمرنګه زیړ رنګ، د ویر او ماتم رنګ دی. د((سان)) په نوم یو پوه د سره رنګ ځانګړنې په دې ډول شمیري.(( دا رنګ نوی ژوند او نوی پیل له ځانه سره تعبیروي. هلې ځلې، قدرت، استقامت، جسماني قوت د دې رنګ خاصې ځانګړنې دي. سور رنګ د ژوند، قدرت قربانۍ او مینې سمبول دی.شین رنګ درنګونو ډېر مطلق ارامونکی رنګ ګڼل کیږي . په هیڅ ډول داسې انعکاس نه لري چې ښادي، رنځ او یا ویره دې ولري او په هیڅ لوري حرکت نه کوي بلکې ارام، ساکن او له ځانه خوشاله دی.

کله چې شاعر، لیکوال د تېر زمان په تشریح او د ځوانۍ په یاد کې څه وایي د خوشحالۍ او د مثبتې معنا له پاره ترې کار اخلي او کله چې اوس مهال او جاري حالت توصیفوي نو مخاطب د سړو او بې روحه اوپه منفي معنا رنګونو سره مخامخ کوي.د دې کار د اړتیا ټکی په دې کې دی چې خاص رنګ، شین یا زیړ نه دی بلکې په دې ځای کې د خاصو ځانګړنو نه په کار اخیستنې سره یو څه القا کوي، متن یې په اصطلاحاتو رنګینوي. غني خان په خپل یو نظم کې رنګونه دا ډول انځوري:

رنګونه

سپین سره مې نه لګي
سپین دی دریا رنګ
سپین دی دکفن رنګ
سپین دی دفنا رنګ
سپین دی دتګی دستار
سپینې دسپي سترګې دي
سپین یې جال اوسپین یې دام

سپین دی دملا رنګ
تور دی دشیطان لباس
توره دانکار توره
تورې دغم سترګې دي
تور دی د بلا رنګ
تورې دې د مرګ پنجې
تورې دباو دارې دي
توره دماتم جرګ
تور دی دژړا رنګ
سور دی دګلاب او دوصال اودخمار رنګ
سره ده دځوانۍ نشه
سور دی دبهار رنګ
سور دی دپالنګ رنګ او دخوبونو ددلدار رنګ
سور تورو غمونو کې
دحسن اورنیا رنګ
شنې دغنې سترګې دي
شین دی د وفا رنګ
شین دچمنونو اوفصلونو او طرا رنګ
شنه د امید پانه ده شین دی دسبا رنګ
شین دی دسپرلي دخوشحالو اودخندا رنګ

(۲-۶۲۳)

غني خان د زیاترو شاعرانو په پرتله په خپلو هستونو کې رنګونه زیات کاروي. رنګ نه یوازې د یوې نښې اوسمبول په توګه بلکې د یو انځور له

پاره هم.هغه تل د سپوږمۍ څاڅکي ته رنګ ورکوي، د سهار شبنم ته ښکلا وربخښسي او د نور دریاب او د نور او رڼا د سمندر ستاینه کوي.بیا همدغه ښکلا دخپل کلام دپګړۍ ول کوي.لکه په دې بیتونوکې.

زه یو مســـت شــان لیونتوب یم دهوا په اس ســوربږم
که یو رنګ د یار د ســـترګوشـــل رنګونه شــم ګډیږم
دا زه څــه لــه ولې جوړ شـــوم خبر نــه یم نــه پوهیږم

( ۴۸۸-۲)

دلته د یار د سترګو یو رنګ په شلو رنګونو بدلوي.دا ښکلا هم هاغه ښکلا ده چې مظاهریې په بیروني طبعیت کې لیدل کیږي خو بنیاد او اساس یې د شاعر په باطن کې دي. هغه د طبعیت لیوال دی.په طبعیت کې هغه د رنګونودښکلا له لارې خپله دونیا جوړوي.شاعردغه ښکلا هم دمنې په پاڼ ریژکوي او هم یې دطبعیت په ځواني کې.شاعرد پسرلي او د پسرلي شین شوبو او سرو ګلونو لیوال دی او د رنګونو په ژبه خبرې کوي.

سپرلی

بـیـا ســـپـرلـی راغـی بـیـا یـې پـیـغـام راوړو
غــنــي د رنــګـــونـــو او ګـــلـــونـــو او رڼـــا
شـــوســـاقـي مســـکـی ډک یـې جـام راوړو
د مســــتــــی ځـــوانـــی اوخـــنـــدا
یـــو ســـبـــا راغـــی یـــوه شـــپـــه لاړه
د تـــیـــارو ویـــریـــدو او ارمـــان
یـــو زیـــړی ګـــل مـــې مـــاښـــام ولـــیـــده
ســـلامـــونـــه یـــې کـــول دجـــانـــان

دا دماغ زما چیری نه مني
چې دګل خالق به سفرکړي جوړ
ځنګه خوړې به پرې زما کړیکي لګي
چا چې ماله نرګس اودلبرکړه جوړ
دا شینکی چمن دا ګلونه سره
دا مست مست شاني مستانه مابنام

(۱-۲۵۳)

انندا۔ کی ۔ کوماراس وامي(۱۸۷۷-۱۹۴۷)هندي فیلسوف رمزپالنه یا سمبولیزم د تصاویروله لارې دتفکر هنربولي. داسې هنر چې په ځانګړي توګه په وروستیودرې سوه کلونو کې له انسانانو ورک شوی دی. کوماراس وامي د اریک فروم او بیلي په نظریاتوکې پلټنه کوي او د هغو د اثارو له عناوینو او له هېرې شوې ژبې نه هم جوتیږي. یعنې دا چې ژبه یې له یاده وتلی او د سمبولیزم له ورکې ژبې نه داسې ښکاري چې د اروپوهنې له مخې دغه نشتون یا کمښت، په ځان ناخبری پورې محدود نه بلکې په خبرتیا پورې اړه لري چې پر عکس داژبه لا تر اوسه له رمزونو نه ډکه ده.)) (۸- ۱۰ )

اریک فروم په دې هکله هغه د احساس او لمس وړ شیان چې په سترګو لیدل کیږي دهغو پیژندنه د پنځوحواسو له لارې توضیح کوي:

د یاد پوه په نظر: معمولا هغه څه چې د یو څه مظهر وي او یا د بل شي ښکارنده وي، سمبول یې بولوخو دا تعریف لږ ګنګ دی یعنې کله چې ځینې حسي سمبولونه لکه د لیدلو، اوریدلو بویولو او لمس کولو له لارې ګورو او

د یو بل شي(( دنمایش له پاره)) پرې غور کوو ایا د یو بل شی د ښودلو یا دعاطفي حالاتو او تجربیاتو او د انساني افکارو له پاره کارول شوي وي نومساله به په زړه پورې وي.په دې برخه کې دیو ډول سمبولونو سره مخامخ یو چې زموږ له وجوده بهر واقع دی او دا دا سې یوه څرګندونه ده چې زموږ دروني احساس راښئ. سمبولیکه ژبه په همدې اساس داسې ژبه ده چې د انسان دروني احساسات، د حسي تجربیاتوپه توګه توصیفوی، دې ته ورته ده چې د داسې کار په ترسره کیدو مشغول وو. یا ورته واقعه ورته په مادي دونیا کې پیښه شوې وي. په سمبولیکه ژبه کې بیروني دونیا د دنني دونیا مظهر ده.زموږ په روح او ذهن کې که سمبول د یو بل شي نماینده او مظهر وبولو نو دا مهم سوال به مطرح شي چې دسمبول اوهغه شی چې سمبول یې مظهرو ځانګړې رابطه څه ده؟))

غني خان په ټول قوت سره خپل کلام ته دحسې او بصرې سمبولونوبیان ورکوي. په لوړه سطحه کې چې هم په کې تخیل اوهم په کې تفکر عالي پوړیو ته پورته کوي او په هغو کې خپل هدف بیانوي او یوه ورکه ژبه بیا راژوندۍ کوي . لوستونکي هم فکرکولو ته را بولي.

جانان

دوه مینو سترګو کې رنګونه په سوونو
ماته یې جهان ډک کړو دګلونو دنورونو
ګوټ یې د شرابو دجنت په جهان راکړو
خوب کې ژوندون راغی شو ژوندون ډک دخوبونو
سپینې دسپوږمۍ درنا لپې ډکې ډکې
ونوستې تا خاوروکې زما په قدمونو
رب دې را ته وښود پټ دمینې په رازونو

وادي چول خولۍ کې زما ستورې په پندونو
ساز د حورو اورم ستا دحسن په سازونو
ماته دي رب وښود پټ دمینې په رازونو

(۱- ۲۳۷)

یا

زه یو تور د تیارې سیورى ته دځمکې اسمان نور
بې کنار دریاب د رنګ ته زه یوڅاڅکى د سرور
ته ژوندون دکل ژوندون یې زه د مرګ لمحه ناکام

(۱ ـ ۲۳۲ )

په شعرکې هم لکه په نورو ادبي رمزي ژانرونوکې شاعرد هغه څه دښوولو له پاره چې د واقعیت اومحسوساتو څخه بهر دي، هغو ته درسیدو اوپوهیدو له پاره له واقعیت اومحسوساتو پیل کوي، خو تر هغه چې دکلماتو مجازي معناچې د هغو شیانو اومحسوسو واقعیتونوحقیقي مدلول ده.په قرینه کې مشخص اومحدود دی، په نتیجه کې د اثر ابهام ته کمښت ورکوي.نه شو کولای شعر یوازې یوه رمزي ښکارنده وګڼوخوکله چې دا قرینه نه وي نو معنی یې پټه اوشعرپیچلی کیږي.همدا د پیچلتیاځانګړنه ده چې د سمبولیستوشاعرانو شعر یو لوری ټاکي.

اوس چې د غني خان د استیتیکي یا ښکلاییزې پیژندنې لیدلوري ته پام کوو او خپلې خبرې را ټولوو د غني خان د شعر د نص او متن له مخې د هغه

ښکلاییز لید د شاعر د دروني، عاطفي او خیالي معرفت محصول ګڼلی شو. د شاعردرک یو اشراقي درک دی. د شاعر ښکلاییزه پوهه که په طبعیت کې ظاهره شوې وي، د طبعیت او ښکارندو او مظاهرو ښکلا د یوې متعالي ښکلا مظهر ده.د هغه درک لکه دصوفیانو او مشهورو عارفانو په څیر دی. شاعر محسوسات په هغه ډول نه ویني لکه چې نور یې ویني. هغه یې د دروني اوباطني رڼا چې د هغه په سراو زړه کې د بلې شوې رڼا په وړانګو کې ویني. دا هغه وړانګې دې چې محسوساتو ته را غځیږي.

یادښتونه:


۱.خان عبدالغني خان، د غني کلیات، د قومونو او قبایلو وزارت، د نشراتو ریاست،کابل، کال: ۱۳۶۴.

۲.غني خان، لټون، ترتیب او تدوین، زبیرحسرت، یونیورستي بک ایجنسي، کال: ۲۰۱۱.

۳.داکترراج ولیشاه خټک، د رنګ او نور شاعر غني خان، یونیورستي بک ایجنسي: ۲۰۱۳.

۴.بابک احمدي، حقیقت و زیبایي(درسهای فلسفه ی هنر)، نشرمرکز: ۱۳۷۴.

۵.غلام صابر، کی یرکګاردو اقبال، (فیلسوفان عشق)ترجمه دکترمحمد بقایي ماکان: ۱۳۸۸.

۶.مقدمه ی بر زیبا شناسي هګل،(ترجمه محمود عبادیان ) کال: ۱۹۷۶.

۷.کارل گوستاویونګ، تحلیل رءویا،(ترجمه رضا رضایي)،نشر افکار،۱۳۸۲.

۸.تقي پور نامداریان، رمز و داستانهای رمزي در ادب فارسي، شرکت انتشارات علمي فرهنګي:چاپ سوم ۱۳۶۸.

۹. Shazia Babar. Abdul Ghani Khan & Johan KeatsPashto Academ ,University of Peshawar.2005.p 267.

۱۰ـ جهانبګلو ،رامین ـروح هند ،کال : ۱۳۸۹تهران ـ ۱۱مخ

## څلورم څپرکی

# غني خان اوټيګور

دټيګور ثنا (ترجمه )

ســـتــا پــه يو ىږي بــه زه زر ډيوه ګۍ بلې کړم
څومره مزه ســـتــا دکور کوڅــه کې چراغــان کوي
ســـتــا دخولې ديو ټکي بــه زر ســـازونــه جوړ کړمــه
هر ټکی د ســـاز بــه ســـتــا دخيشـــت ميني بيان کوي
زه به چرې ور د زړه مســـتۍ ســـرور ته بند نه کړم
مينــه خوشـــحالۍ کې رڼـا ســـتــا درڼـا شـــان کوي
ســـتــا رنګين شـــراب د قســـماقســـمه خمارونو ډک
دې خــاورين جـامګوټي کې زرهــاقســـمه دوران کوي
مــالــه دصـــوفي پــه فقيرۍ کې وصـــال نشـــتــه دی
مــاتــه دســـاقي ســـترګې خبرې دجــانــان کوي

( ۵۹۹-۱)

غني خان او رابندراناتهه ټيګور دواړه د هند د نيمې وچې او د استعمار د دوران با احساسه شاعران او هنرمندان دي. کله نا کله په يو لوی شاعر او هنرمند يا د ليکوال په اثارو کې د خپل دوران او د خلکو غوښتنې تبلور او انعکاس کوي. د دواړو په برخه کې دا فرضيه صدق کوي. ټيګور د هند د نيمې وچې د هندي او بنګالي اولس نماينده اواز پاتې شوی دی او غنې خان هم د هند د نيمې وچې د پښتون اولس نماينده چيغه او اعتراض و. له بله

پلوه غني خان هغه زلمې وو چې د ټیګور د پلار په ښوونځي شانتي نیکیتن کې شامل او هلته یې هم زده کړه وکړه.

په شپیتمو کلونو کې کله چې خان عبدالغني خان د شهید داکتر نجیب الله په بلنه د علومو اکادیمي د افتخاري غړیتوب د دیپلوم د ترلاسه کولو له پاره کابل ته راغلي وو. د دې کرښو لیکوال ترې د((شانتي نیکیتن)) د ښوونځي په باب وپوښتل، هغه په ځواب کې وویل:

زه او اندراګاندي چې کله په ((شانتي نیکیتن))یا (دارالامان ) کې شامل شو. سهار به ورتللو.هلته څوکۍ نه وې. موږ به په پسخو کښیناستلو.په اولو ورځوکې موږ داسې احساس کولوچې دا نور له کالج نه بیروني خلک سم په ځمکه درومي او موږ هوایي یو یا سرچپه روان یوخو له څو ورځو نه وروسته زما دا تصور بیخي بدل شو، او هغه داسې چې دبیرون وګړو په باب به مې فکر کولو چې ددوی پښې پورته او پرسرپه ځمکه روان دي. هدف دا چې شانتي نیکیتن د انسانیت په اړوند زموږ تصور کاملا را بدل کړ. او موږ یې د انسان او د هغه د لویي اوعظمت په باب فکر ته اړ ایستو.

دا څو جملې یوه خاطره وه. په دې موخه چې که لږ څه غني خان اوټیګور سره پرتله کړو.

رابندراناتهه ټاګور ستر هندي فیلسوف، شاعر، دراماتیست، ښوونکی، مقاله لیکوال او ډېرمشهور رسام یا انځورګر وو.د هغه فلسفه د ژوند د هغه د ایدیالونو، نذرانو، هیواد پالنې او طبعیت پالنې پر بنسټ ولاړه ده.

همدارنګه هغه یو ایدیال فیلسوف ووخو د ناتورالیزم، پراګماتیزم او فردیت په اړوند افکارو د هغه په فلسفه کې انعکاس کړی دی. هغه ارزښتونه چې د هغه د ژوندانه په مستغني جریان کې مرسته کوي په دې ډول دي.

البته دا به مشکله وي خو دې کې شک نشته چې څه نا څه غني خان له دغه ښوونځي او د هندي فرهنګ له هغه ملال نه چې د دغه تمدن په ژورو کې شته اغيزمن وو.

د ټيګور په باور تمدن زموږ دخپلي ((دارما )) يا دانسان دکمال معنا لري، دا چې په لويديځه نړۍ کې يې تمدن بولي په حقيقت کې دهغه هدف څه دی؟ که له ځانه وپوښتو زموږ په فرهنګ کې د انسان د کمال له مفهوم سره يو معادله ګڼنه ده.ټيګور د بشر مذهب په اثرکې ليکي :

(( زما له پاره دين په داسې اندازه د لمس وړ دی چې د هغه په اړوند د خبروکولو حق نه لرم.که د خدای د پيژندلو وس لرم يا دخدای ديدار را ته پېرزو شوی وي نو دغه ملاقات يا ليدنه په نړۍ کې زما په برخه شوې ده. په انسانانوکې په ونو او الوتونکو کې په ځناورو کې او له هغه سره اړيکه په اسمان کې احساسوم.په هوا اوبو او هرځای کې يې احساسوم، داسې چې کله هم ټوله نړۍ له ما سره خبرې او راز و نياز کوي.))

رابندراناته ټيګور د( 1861-1941 )کلونو ترمنځ ژوندکړی او غني خان د( 1914-1996)کلونو ترمنځ ژوند کړی دی. موږ د ټيګور د بندي توب او د استعمار سره د مبارزو په اړوند لږ پوهيږو خو غني خان داسې ځوان وو چې د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په لار کې يې زندانونه هم تير کړي دي.

**الف.ټيګور يو ارمان پالونکی وو:**

ټيګورپه دې باور وو چې انسان بايد((نهايي حقيقت))وپيژني.هغه حقيقت انسان ازادوي. له نړيوال مريتوب نه يې ژغوري.له اسارت نه يې ژغوري. د هغه په اړوند تجربه په نړۍ کې له وهم اوترهې ډکه مايا ده.هغه فکر کولو چې نړۍ دحقيقت او دوکې او توهم دواړو ځای دی.

د ټاګورپه نظر انسان دونيا ته د زيات شمير ځواکمنی اوژمنو سره راځي. د انسان په فزيکي اړتياوو کې زيات څه ورزياتيږي. دغه ښيګڼې دبشري شخصيت بې حده ظرفيتونه او هستونې لري.په دې ډول پريوتو کې د انسان راتلونکی وده کوي. د اضافي ښيګڼو ظرفيت په خپله د انسان په مذهب، روحانيت، معنوي او اخلاقي فعاليتونو کې متمرکز او راټوليږي.هغه د يو ايدياليست يا ارمان پالي په توګه د حقايقو، ارزښتونو او فضيلتونو وفاداره ملاتړی دی. د ټيګور د ويناوو له مخې ((د هنر له لارې انسان کولی شي د ژوند تماميت تجربه کړي.ښکلي هنر هيڅ نه دی بلکې د روح او د نظم او دسپلين دروني پوهيدنه او روښنايي ده، هغه وايي چې رغبت د انسان برخليک پاکولی شي.( ۴)

د غني خان په افکاروکې هم داسې ډير څه وينو چې هغه يې د ويلو له پاره لري. د غني په فکر او اندکې يو ډول دواليزم هم وينو، که له يوې خوا هغه انسان اشراف مخلوقات بولي نو له بلې خوا زيات په ثنويت باندې باوري دی.هغه په انسان کې اهوارايي او اهريمني ځانګړنو ته اشاره کوي. د انسانيت په محور کې د انسان نيمګړي ارمانونه ارزوي او د البرت کامو په څير يې ((سيزيف)) ډوله محکوم بولي چې د ناوړو پر ضد مبارزه او اعتراض وکړي.دغه اعتراض د انسان دبرخليک يوه برخه ګرځي.د انسان ارمانونه او هيلې زياتې او بې پايه بولي خو د دې ارمانونو پوره کيدل يوه دايمي شخړه ده. غني خان وايي:

عجبه فلسفه

ما خپل زړه لاس کې را غونډ که
توري شپې اوغم له يوړه
دماښام تياره کې ورک که

دســـــبـــا شـــــبـــنـــم لـــه یـــوړه
اوس یـــو زه یـــم یـــو ارمـــان دی
دجـــانـــــان دشـــــان قصـــــــه ده
وړوکـــــی گـــــل اولـــــوی خـــزان دی
یـــو امـــیـــد یـــو تـــلـــوســـــه ده
مـــا مـــرگـــي تـــه شـــــروع کـــړې
د ژونـــدون د خـــیشـــــت قـــیصـــــه ده
دجـــــنـــــون اودجـــــانـــــان دا
څـــه عـــجـــبـــه فـــلـســـــفـــه ده

(۱-۳۵۲)

هغه په زیاتو شعرونو کې خپل فلسفي تفکربیانوي.شاعردخدای په وړاندې د یو انسان په توگه دریز.ي د رنگ، قوم اومذهب توپیریوې خواته بړدي. د رب النوع په وجود کې دونیا ویني اویا بالعکس.

غني په خپل عرفاني لید سره کاینات ټول د لوي ذات مظاهربولي.شاعر د انسانیت کمال د متعالیي ذات په پیژندنه کی بولي. پر دې باورې دی چې هغه درونې رڼا چې په یوه تن کې روښانه شې د انسانیت خو اته درومي خو که روښانه نه شي په انسان کې حیواني اژدها هم پرته ده چې انسان د وحشت اوحیوانیت په لور اړوي.

صحرا

زه پـــتـــنـــگ ســـــتـــا پـــه رڼـــا یـــم
مـــیـــن ســـــتـــا پـــه تـــورو نـــه یـــم

که کــافــر کــه مســـــلـــمــان يــم
يــمـــه ســـــتـــا دنـــورو نـــه يـــم
زمـــا وارِه کـــمــــزورئ دي
جـــورِی ســـتـــا ســـتـــا دکـمـالـــه
تـــيـــاره ځـــکـــه شـــولـــه تـــوره
چـــې شـــــوه ورکـــه لـــه هـــلالـــه
چـــې تـــا ورک کـــړمـــه حـــيـــوان شـــــم
چـــې تـــا وويـــنـــم انســـــان شـــــم

(۳)۳۵۸مخ

ټيگور وايي: طبعيت او انسان دواړه ديوسترځواک له خوا هست شوي دي. د طبعيت اوانسان ترمنځ يوه ټينگه رابطه موجوده ده. په دې اساس انسان بايد داسې طبيعي عمل وکړي چې دلوي اوعالي ځواک حضور اوشتون په خپل تن اووجود کې احساس کړي.

د غني خان په افکارو او اثارو کې هم هيومانيزم په ډېره لوړه کچه انعکاس کوي. هيومانيزم د غني د افکارو يو مرکزي اصل هم دی.غني د انسان او بشريت له دريځه هرڅه گوري چې البته په همدې اثر کې په دې اړوند زياتې خبرې لرو. همدا راز غني د ا اصل را برسيره کوي چې وايي:

کـــعـــبـــه جـــوړه ابـــراهـــيـــم کـــړه
زه جـــــوړ کـــــړی يـــــم الله
وايـــه څـوک لـوی شـــو اوچــت شـــو
وايــــــه وايـــــه ای مــــــلا

غني دوزخ اوجنت هم د انسان د لید له زاویې ګورې وایي:

د ادم دنظر تول دی
که دا تور دی که دا سپین
د ادم د ژبې خیال دی
دا سپلمۍ او انګبین
دا اواز زما دګوتو
پوست مړوند ښکلی مهین

یا داچې:

دا زما خودۍ جوړکړی
د اوبو شراب رنګین

)

(۲۰۷-۱)

غني د دعا په نوم یو شعرکې وایي:

چې کوم ځای کې فریاد نه اورم دکوندو
ماشومان یا په ټکرو پسې په منډو
چې کوم ځای کې نه مذهب شته نه قانون
نه عشقونه، نه وصلونه، نه بیلتون
چې کوم ځای کې که بادشاه وي که ملنګ
یو یې تخت او یو یې تاج یو یې پالنګ
چې کوم ځای مال، اولاد، دوستي بې کاره
چې کوم ځای کې نه کاروان شته اونه لاره

ســــتـړې ســــتـرګــې مــې کــړې پـټــې یــا الله
زمــا خــوښـــه نــه ده ســـتــا وړه دونــیــا

نو همداسې که د غني کلام او فکري دونیا وپلټو هغه په تهذیبي لحاظ هم د لویدیځ مدنیت نه او هم د شرقي عرفان اوتصوف نه اغیزمن دی، انسان له دې دوه زاویو د معرفت مرکز او محراق بولي.د بشر دوستۍ او هیومانزم ریښي یې هم ژورې دي.

ټیګور وایي طبعیت یو ستر استاد او لاربنود دی چي له انسان سره دوښمن نه دی. طبعیت د مور په څیر یو ډول سخاوت، ترحم او مهرباني لري. په دې اساس هغه زده کړې یعنې ښوونې روزنې چې له طبعیت څخه خپله لاره بدلوي، تنکیو ماشومانو ته نا ویلي زیان رسوي.

((انسان بایدخپلې اړیکې له طبعیت سره د هغه دیو ملګري په توګه جوړې کړي چې نور ترې پند واخلي.))

د غني په اند او باورونو کې د طبعیت یوخاص اغیز لیدلی شو. هغه سره له دې چې د رومانتسیزم نه ډیر اغیزمن دی خو د یوه انځورګر او شاعر په توګه تل د طبعیت او د هغه د سرشاره شان او عظمت ستاینه کوي.هغه طبعیت د دې له پاره ستایي چې خپل احساس په کې بیان کړي.دهغه خیال او تصور کیدای شي ساده پرتلنه وي خو ډیر زړه وړونکې ده.بالعکس په هغه کې موږ ربنتینواله اوصداقت وینو کومه چې په طبعیت کې موجود دی.

زمـــا زړه دخـــوشـــــحـــالـــۍ تـــازه چـــمـــن وو
چـــارچـــاپـــیـــره تـــرې بـــاغـــچـــه دیـــاســـــمـــیـــنـــو
دلـــتـــه زرکـــې هـــلـــتـــه ســـــوي بـــورا ګـــان وو

یـوخـوا گـوټ کـې پـه خـنـدا شــــینـکـي طـوطـیـان وو
وی پـــه مـــیـــنـــځ کـــې فـــوارې د امـــیـــدونـــو
د یـــارانـــو د دوســـــتـــانـــوښـــایـســـــتــه نـجـونـــو
څـوک بــه تــرې تــرمــې تــرمــې لاړې لــه تـیـزی نــه
څـوک بــه پـورتــه قـدرې شـــــو دخـپـلــه ځـای نــه
عــرض داچــې هــر هــر طــرف تــه خــوشـــــحــالـي وه
خـــوشـــــحـــالـــي کـــه خـــوشـــــحـــالـــي وه مـــالـــي وه
څـــه خـــبـــر ووم چـــې خـــزان مـــې بـــربـــاد کـــړي
دا زمـــا هـــمـــیـــش حـــیـــران زړه بـــه دا ښـــــاد کـــړي

(۶۶۵-۱ )

غني د سپوږمۍ، د بوډۍ ټال او د ګلونو په لیدو کې د جانان ښکلا ویني. د طبعیت ښکلا د هغه واقعیتونو په لورچې له متعالي امرنه راځي، بیایي. په دې برخه کې د ټیګور او غني د افکارو تر منځ دا ورته والی روښانه کیږي چې دواړه د داسې ښکلا لیوال دي چې مظاهر یې په طبعیت او درک یې د انسان په دننه کې د احساس سبب دی.

ټیګور یو ستر شاعر او هیواد پال و. د هغه لیکنې د هیواد پالنې له ارزښتونو ډکې دي. هغه د ازادۍ غوښتونکي غورځنګ سره یو ځای شوچې خپل هیواد د بهرنیو له لاسبرۍ او جغ نه ازاد کړي.ملي خدمات، د وطنپرستي احساس او نذراني او داسې نورې روزنې، د هغه په لیکنو کې منعکسې شوې.

Jana Gana Mana Adlii Nayak Jai Hai.

دا ډېره مشهوره ملي سندره ده چې د يووالي او تواءميت يو ډيرپياوړی احساس ليږدوي.

پاتريوتيزم هغه څه دي چې د غني فکر او بيان ترې مالامال دی.د غني سرودونه او تراني د پاتريوتيزم يو ډير روښانه اوځرګند دی.شاعر د هند په نيمه وچه کې د نړۍ د نورو سترو استعمارضد مبارزينو په څيرکلونه په زندانونو کې تيرکړي دي.کلونه يې ځوانان هڅولي چې په يو تنظيم کې يې د هيواد او خلکو دخپلواکۍ په موخه په يوه ليکه کې ودروي او د شعر او کلام په برخه کې د شاعر مشهور شعر د هر افغان اوپښتو ژبې ياد دی چې وايي:

ای زمـــا وطـــنـــه دلالـــونـــو خـــزانـــې زمـــا
ســـتـــا هـره دره کـې دي دتـورو نښـــانـې زمـــا

يا دا چې وايې:

خـــوږ دی مـــاتـــه مـــلـــک زمـــا
خـــوږ تـــر کـــل جـــهـــان
زه بـــه ځـــم پـــه جـــنـــګ دقـــام
زه چـــې شـــمـــه ځـــوان

هغه که په لويديځ کې هم وو، د پښتو د شاړو او سپيرو کوڅو يادونه کوي او وايي:

خــو چــې وويــنــمــه خــپــل دختــوکــور
ورتــه څــه دي ددونـيـا ښـــارونــه ښـــکلـي

يا داچې:

کــه خــازې شـــــنې مــې پــه قبـر وې ولاړې
کــه غــلام مــړ وم را ځــی تــوکــی پــر لاړې
کــه پــه خـپـلـو ویـنـو نــه وم لــمـبـیـدلــی
پــه مــا مــه پــلــیــتــوی دجــومــات غــاړې

د غني پاتریوتیزم یوازې د خپل هیواد د طبعیت ستاینه نه بلکي د وطن د انسان د سرنوشت سره ناپایه مینه ده. په دې باب په یوه بله برخه کې هر اړخیزه یادونه شته.

رابندراناته ټیگور د یوې نړۍ د خلقت او یووالي ډیر ستر لیوال وو، د هغه په عقیده د یوواحد فرهنگ په منځ کې رنگ، مذهب او تنوع د وخت د سوله ییز او گډ نړیوال ژوند له پاره اړتیا بولي. په دې باور دی چې ځان غوښتنه له یاده وویستل شي او یو نړیوال فرهنگ ایجاد کړو چې بنسټ یې په مینه، ملگرتیا او رغبت او دوه اړخیزه پوهاوي ولاړ وي.د نړۍ وطني احساس د هغه په لیکنو او هنري انځورگریو کې ځای نیولی دی.ټیگور د نړیوالتوب احساس، درسونه اوعزایم چې په ټوله نړۍ کې ستایل کیږي د یو واحد جهان له پاره هست کړي دي.

غني خان هم د ټیگور په څیر د نړۍ د خلقت او یووالي ستر لیوال دی. هغه په نړۍ کې د گډ اوسوله ییز ژوند ارماني دی خو غني تر زیاته بریده د خپل اولس او فرهنگ عاشق دی.که نړیوالتوب گوري هغه هم له یوې عرفاني لیدتوگی گوري. د شاعر په نړیوالتوب کې هغه د اولس موجودیت او هستي ډیره ژوره ده، له بله پلوه غني هم د ټیگور په څیر د نړۍ نظام یو واحد او عرفاني نظام ویني، په دې نظام کې د ژبې رنگ، مذهب اونژاد توپیریو بې معنا هغه دی. هغه هم نړۍ یو واحد مظهر بولي.

باچا

بادشاهي دجهان څه کی؟
ځان له ولې زیاتی غم؟
د انصاف تلل مشکل دي
څه به ډېر کړې څه به کم
داسې تخت به څه کړي څه کړې
چې پری شپه اوورځې ژاړې

اوپه پای کې وايي:

ددې ظلم په کټوی دی
ربه بل کیبرده برغولی
ماله راکړه څوګلونه
یو نیازبین شانتې جانان
بادشاهي هغو له ورکه
چې زغملی یې شي زور
چې په لاس لکه قصاب وي
په خصلت لکه منګور
چې خپل ځان ته شي کولي
قرباني د ورور دوینې
هم هضمولی هم خوړی شي
دغریب دغوښو سپینې
تاج وړلی هغه سرشي
چې وژل لکه وبا کړي

(۱-۲۴۰ )

د غني نړیوالتوب یو ډول وحدانیت یا مونیزم دی چې په شرقي عرفان کې ډیرڅرگند دی.

د ټیگور فلسفه په ډاگه کوي چې هغه دکلمې په واقعي معنا یو ویدانتیست وو. په یو لوی ځواک چې براهمایي بولي، عقیده درلوده.هغه د نړۍ یو تنوع او رنگارنگی کې یو ډول یووالی وموند.په روحاني یووالي کې د انسانانو تر منځ اړیکې باید داسې اړیکې وي لکه د عشق او لذت ترمنځ اړیکې.هغه باور درلود چې دواړه یعنې د خدای حضور او د ټولو روحاني مسایلو ترمنځ حضور.

په دې اساس هغه وایي:((دا به غیر شخصي ټول حقیقي عناصر رد نه کړي.)) هغه په دې مفهوم باور درلود چې وایې:((براهما په ټول موجودیت سره(( حضور لري))، حقیقي نجات او ژغور هغه وخت عملي کیږي چې کله فردیت د براهما حضور په خپل تن کې وپیژني. ټیگور د یو اناندیو گایو مهربانه ملگری او مرید وو.

د ویدانتا په بنسټ یو متعالي ذات موجود دی چې په بشپړه توگه د انساني درک اوپوهې څخه لوړ دی.(لکه نو افلاطوني احد) یوازې دسلب له مخې د هغه په باب خبرې کولی شو. په ودایي افکارو کې لولو(( چې هغه په خپله عین جهان دی، هغه هر هغه څه دي چې شتون لري او وي به.)) (یا په بل عبارت هرڅه چې دي برهمن دی.) (۱۲۲-۳ )

په اسلامي فرهنگ کې هم داسې باورونه شته چې اسلامي صوفیان له دغه ډول افکارو نه اغیزمن وو، وایي چې بایزید بسطامي افکار د هندي او

ویدانتایي افکارو پورې مربوط بولي. یو شمیر کسانو هڅه کړې ده چې د حلاج انالحق د ویدانتا د پلویانو پورې اړوند بولي، ځیني نورو بیا د منځنۍ اسیا او د پښتنوجغرافیه او نږدې فرهنګي اړیکي د دې افکارو داغیزو دلیل بللی دی.

په هرصورت موږ د غني خان په افکارو کې ویدانتایي حکم نه کوو او دا مورد هم نشته خو د دې نه انکار نه شوکولای چې شاعر غني په ډېره موثره توګه له اسلامي تصوفي او عرفاني اثارو نه اغیزمن دی. هغه په یو ډول یووالي او وحدانیت باوري دی. هغه طبعیت او شتون د متعالي امر مظهر بولي. منصور د هغه ایدیال شخصیت دی چې ډېرځله یې په اشعارو کې ستایلی دی.

د غني خان دا دوعاییه شعر په خپل عمق یا ژوروالي کې مساله ښه روښانه کوي، څرګنده خبره ده چې د هغه جانان کوم مادي اوفزیکي او د لیدو وړ څه نه دي. د هغه جانان متعالي امر دی، وایي:

ســـترګو دجـانـا ن کې زمـا ښـــکلي جهـانونـه دي
وادې خـلـه دونـیـا زه وړی ســـتـا ددونـیـا نـه یـم
ګوره دفقیرکچکول کې تـاج دســـکنـدر دی پروت
زه یـم دســـخـیـانـو، د شـــومـانـو ګدا نـه یـم
زه یــې پــه غــرور درنــه دمـیـنــې پــه نــوم غـواړم
زه ملنـګ بې نیـازه ســـتـا د ویر واویلا نـه یمـه
یو د ســـپوږمۍ څـاڅکی درنـه تیـک لـه دیـار غواړم
زه یــم دخـــالـــونـــو دلالـــونـــو ګـــدا نـــه یـــم
هغـه مســـتي غواړم چې یې مرګ نـه شـــي وژلی
زه دې دغـــمـــونـــو دبـــیـــګـــا اوســـبـــا نـــه یـــم

او تشـــــه دونیـاګۍ کـه دې بخښـــې نو ای امیره!
ســــتـا شـــوه ســـتـا دونیا زه وړی ســـتـا ددونیـا نـه یم

د غني جهان په شعرکې دوه استقامتونه پيدا کوي، يو مادي جهان دی اوبل هغه معنوي جهان چې فکرکوي د هغه معنويت يوه برخه ده او د هغه له پاره هغه مستي غواړي چې مرګ يې وژلي نه شي.هغه ابدي او جاودانه دونيا ده چې دمتعالي امر پورې اړه لري.

يا داچې:

د انســــان دعـــقـــلــه لـــيــرې
د انســــان نــــه پــــورې بـــره
څــه خــو شـــتــه دی چــې ځـلـيـړي
زمـــا هـــوش کـــې ډېـــوه بـلـــه
کــه ســـاقـــي کــه ګــل کــه جـام دی
کــه ګــل فـــام کــه ګـــل انــدام دی
کــه مـــنصـــور دی کــه امـــام دی
کـــه جـــانــــان مــــاه تـــمــــام دی
ټـــول پـــه يـــو پـــړي تـــړلـــي
د فـــطـــرت داســـــې نـــظـــام دی
خـــزان پـــنـــډ د تـــخـــم ورکـــړي
پـــانـــې يـــوســـــي چـــې دګـــلـــه
څــه خــو شـــتــه دی چــې ځـلـيـړي
زمـــا هـــوش کـــې ډېـــوه بـلـــه

( ۱-۶۱۱)

د غني خان او د ټيګور د ژوند حالات او زمان که لږڅه توپيرلري خو په داسې يو واحد جهان کې اوسيدلي دي چې دواړه په يو ډول د ډولونو له هندي مدنيت نه اغيزمن دي، د دوی په تفکر او رومان کې د ښکلا، عشق، مينې، او انسان په اړوند ورته عناصر شته.

غني خان که له يوې خوا دپښتني فرهنګ طلايه دار دی نو له بلې خوا په درک او تيز ذهن يې د لويديځ مدنيت، بريتانيا يورپ او امريکا هم ليدلی دی خو د هندي فرهنګ اغيزچې د اسيا يو وتلی او لرغونی فرهنګ دی ژورې ريښې په خپل ځای پاتې دي.د ټيګور او غني دواړو په اثارو کې يو ډول ملال او غمګيني وينو. دواړه د سولې، دروني پاکی اوسپيڅلتيا ليوال دي.

غني په يو ډېرښکلي نظم کې چې ګاندهي او شاعر نوميږي، د هند او د نړۍ د ډير ستر شخصيت مهاتما ګاندهي په تن او روان کې د انساني ښکلا يوه تابلو ترسيموي چې د شاعر په باب پورته ويل شوی درک ترې ښه جوتيږي.

هغه ټولې خبرې چې د مخه د ټيګور او د غني په باب وشوې، د غني خان دا يو نظم يې ښه نمونه او د نظر مصداق کيدی شي.

**ګاندهی اوشاعر**

گـانـدهي کې دصــــفـت څـه ځـای مې ونــه مونـد
مــخ يــې مــخ نــه دی ، بــدن يــې بــدن نــه دی
دده بريت خو کونډه دار، ســـترگې ســـرې نه دي
پــه وجود کې خو هيڅ ځــای يې دديـدن نــه دی
پــه ده ولــې د دونـيـا ســـــتـرگــې خــوږيــږي
اولـــه ده نـــه ولـــې هـــر ظـــالـم ويـــريــږي

غني :

چــونــه گــچ نـــه وي قـــبـــرونـــه دغـــازيـــانـــو
نـــه څـــوک پـــيـــژنـــي ســـــقـــي دشـــــهـــيـدانـــو
نـــه لـيـلـــي وه ښـــاپـيـری نـــه ايـاز ســـپـيـن وه
نـــه علــي(رض) تش پــه جـوســــه شــــاه مـردان وه
ډېـر پـه خــارو کــې لــوغـړيـږي پـادشـــاهـي کـړي
ډېـــر تـــاجـونـــه دي پـــر ســـــر دمـــاشــــومـــانـــو
لـــــړزوي اســــــمـــــان ژړا دفـــــقـــــيـــــرانـــــو
چې يې ســــر پــه ســـجـده پروت وه فرشـــتـه وه
چې يې ســــر پــه غـرور پورتــه کـه شـــيـطـان وه
چــې پــخـپـلــه دازغـــو تـــاج څـــوک پـــه ســـــر کـــه
هــغــه ســـــر لــه زيـب دی تـاج دبـادشـــاهـانـو
دا بـــدرنـــگـــه بـــې صـــــفـــتـــه ځـنـــاور وه
غـم خــدای ورکـړو خـدای پــه ده ډېـر مـهـربـان وه
ده تــه يې وښـــولــه مســـتي خپلــه هر شـــي کې
کـــه وه کـــانـــی کــــه وه بـــوټـــی ،کـــه انســــان وه

ده کې مېنه دهر شي دژوند پيدا کړه
ده کې ترس په زبون حال دمظلومانو
ديی پيدا کړو بې پروا دنوم ناموس
څه به نوم وي څه ناموس دغلامانو
نه طاقت دڅه لري نه پوځ نه توپې
دده زور دی تش صاف زړه دصاف گويانو
محبت دخدای صفت دزړه طاقت دی
هر طاقت غلام د دې د غلامانو
دده مېنې ښايست کې پټ بدرنګ وجود کړو
څه که لاندې دګلونو پروت ډېران وه

(کليات ۲۸ مخ )

# پنځم څپرکی

## الف: انسان د غني او نیچه په افکارو کې

د انسان په اړوند د غني خان ایدیال او فکر نیچه ته ورته دی. نیچه انسان مخاطب کوي وايي:

(( له چنجي نه دې انسان ته تکامل کړی دی خو تر اوسه لا هم زیات د چنجې ځانګړنې په تا کې موندل کیږي، یوه ورځ بیزو، وې او اوس هم د بیزوګانو نه بد تر یې. ))

د نیچه اعتراض په انسان باندې د هغه دحیواني غرایزو، خوندونو او لذتونو د لټولو په بنسټ دی خو هغه د انسان کرامت اوعظمت هم نه هیروي. غني خان هم دا باور په خپلو شعرونو کې څرګند کړی دی.

د غني خان د یو اوږده نظم محتوی هم دې ته ورته ده :

**ربه!**

ای پـه ښـــایســــت مینـه جوړوونکی دګلاب ربـه!
ســـتا ښـــکلی دونیا شـــوه د ځاروي اودقصـــاب ربه!
ای چې د ماشـوم سـترګې دې جوړې کړې دګل په شـان
وړوکی اوخوږې خوږې خبرې د بلبـل پـه شـــــان
زړه یې پـاک لـه بـدو د هرخیـال او د ازاره پـاک
پـاک لـکـه شـــبـنـم وو دګـنـاهـه او د ازاره پـاک
تـاچې چـالـه ټیـټ دفرښـــتو ښـــکلي ســـرونـه کړل
تـاچې دچـا ســـترګو لـه جوړ ســـتوري اوګلونـه کړل
تـاچې دچـا حســـن لـه دخپلو ســـترګو نور ورکړو
تـاچې لـه خپـل ځـانـه چـا لـه مینـه اوســـرور ورکړو
هـغـه مـحـبـوبـا ســـتـا ادم نـه دی ادم خـور دی
اښـــیســـتـه ګلاب ســـتـا ګلاب نـه دی اور دی اور دی
هغه ســتا د لاس ګلاب پروت په وینو کې ســمســور دی
ســـتـا خـلـیـفـه ربـه! ادم نـه دی ادم خـور دی
تـاچي چـا لـه جوړه کړه دحســـن اوګلزار قیصـــه
ورکړه مشـــغـولا لـه دې دمینـې اودلـدار قیصـــه
تاچې چا له ســـتورې اوســـپوږمۍ اوماښـــام جوړ کړلو
تـاچې چـا لـه مینـه اومســـتي اوخرام جوړ کړلو
ســـترګې یی دي پټې هغـه نن دزهرو پینې څښـــي
ســـتا په نامه ربه! نن ســـړی دســـړو ویني څښـــي

۶۱۰ مخ

نيچه وايي:

(( له وحشته ډک يوې ناڅاپي روښنايي ته ګورم، وينم چې زما په شاوخوا کې څيرووڼکي منډې وهي او زه يې په منځ کې يم. د انسان ډېرزيات تحرک دځمکې په بيدياوو، په ښارجوړولو، د هيوادونو په جوړولو، پرله پسې جګړو او د ميړيانو په څير د پانګې په راټولولو اوبيا د هغې په له منځه وړلو کې دی. انسانانو له يوبل نه ګډه وډه ځغاسته او د يو بل تېر ويستل او پايمالول زده کړل.انسانان په بدمرغيو کې فرياد اوپه خوښۍ کې د خوښۍ اوازونه کوي، دا ټول د هماغه حيواني ذات اوځانګړنو دوام دی چې په ده کې دوام کوي. )) ( ۵۵-۲)

غني وايي:

وګـوره انســـــان تــه چــې بــادشـــــاه دځـنــاورو دی
دی کــه ډېر زور وکړي وتی نــه شـــي دخپـل ځـانــه
دی لــه خپـل وجوده لــه فطرتــه لويـدای نــه شـــي
ســــل ځـلــه کــه جـمـع کـړي کـلـونــه د ايـرانــه
دی دخـپـلــه ځـانــه دجـهـانــه ورکـيـدای نــه شـــي
کــلــه دمـنـبـر نــه تــاو شـــــي کــلــه دجــانــانــه
څــه وکړي غـريـب دا پــه لـکـهــاوو کلا ګــانو بـنـد
دی کـه ډير زور وکړي وتی نـه شـــي لـه خپل ځـانـه

)

(۱-۳۷۶

نیچه چې کله په انسان او د هغه په کړنو او اعمالو تمرکز کوي، انسان له حیوانه یوه نیزه را ټیټ بولي. هغه په دې باور دی چې حیوانات د لږ وخت له پاره یا په ټاکلي موسم کې د یوځای کیدو(جنسي یو والي) شوق لري خو نیچه انسان داسې حیوان بولي چې دا پوله یې ړنګه کړې ده. دا ځکه چې انسان تل د خوند او لذت پسې سرګردانه دی.نیچه په ملنډو وايي: انسان په یوه شیبه کې د حیوانیت له پولې اوړي چې جنسي اړیکه ټینګه کړي. له دې امله جنسي شهوت کولی شي( ځینې حیوانات په مشخص موسم کې نه) بلکې په هره شیبه کې پر هغه غالب شي.

خو د نیچه نتیجه ګیري بیا په زړه پوري ده، دوګماتیکه نه ده، بلکې ځینې تحلیلي بنسټونه لري او همدا پدیده د انسان کیدلو محرکه قوه بولي:

انسان تل دخوند او لذت د سرچینو په لټه کې دی او له کومه ځایه چې په نړۍ کې د پرله پسې ارضا امکانات نشته نو د جسمي ارضا میدان روحي او انفسي ارضا ته پریږدي او انتقال کوي، همدا انتقال دی چې د هغه فکر هڅوي او انسان یې له حیوان نه جلا اوعاقل موجود جوړ کړی دی.

په زړه پورې خبره داده چې دنیچه همدې فکري خط هغه داروایوهنې په پلار بدل کړ، زیګموند فروید نیچه خپل ښوونکی اوستاد او لارښود وباله. زیګموند فروید د نیچه د افکارو په دوام پوښتې چې که انسان تل دجنسي جاذبې په ډګرکې پاتې وای نوکوم اوڅه سبب به وای چې دپوهې په لاس ته راوړلو، کار اوجوړښتونو ته لاس واچوي؟

دې مسالې ته د فروید ځواب له نبوغ نه ډک وو، فروید داسې باور درلود چې که په رښتیا انسان په خپل حال پریښودل شي د جسمي او جنسي اړتیاوو د ارضا پرته به د بل څه په لټه کې نه وي. له دغه ډول ژوندانه څخه

((محروميت ))به ددې سبب شي چې  انسان له حيواني ژونده را وګرځوي. يوازې د تربيت او روزنې په مرسته انسان زده کړه کوي  او د پوهې، هنر او جوړښتونو کې د لذت احساس کوي.

د انسان په اړونددا تصوير د معاصرې اروا‌پوهنې په وسيله وړاندې شوی دی.اصلي هدف يې د انسان د روحي تعادل او انډول جوړول دي.پاتې دې نه وي چې د روحي انډول تامين د مادي او معنوي عروج او ارتقا لومړی شرط دی.

په دې اساس وينوچې د(( داروين دتيوري)) فلسفې بيان نه يوازې انسان او بشر((بيزو)) وګڼله بلکې د نيچه د تيز اوچالاک ذهن له مخې يې د انسان او انسانيت  نه ډېر ښه درک را منځ ته کړ.

خو له کومه ځايه چې انسان ته په دې مادي نړۍ کې د خوند او لذت سرچينې لږې لاس ته ورځي نو تخيل ته پناه وړي، د تخيل له لارې دلذت احساس ته لاسرسی پيداکوي،همدغه انګيزه ده چې دانسان اوحيوان ترمنځ يو ستر توپير را منځ ته کيږي.

حيوان يوازې په حال زمانه يا اوس مهال کې ژوندکوي،له ماضي اومستقبل نه ناخبره دی، په دې اړوند کوم تصور هم نه لري خو د انسان تصور چې د اوسمهال نه تير او راتلونکي ته پام کوي. له راتلونکي نه دهغه انتظار د دې سبب کيږي چې له اوسمهال نه خوند وانه اخلي نو يو څه تجربه کوي چې تراوسه هيڅ يوحيوان په هغه نه دی پوهيدلی چې هغه د((نه زغم)) احساس دی.

انسان له دغه نه زغم يا بې زغمی نه د تيښتې له پاره ديو داسې مشغوليت پسې ګرځي چې هيجان را وپاروي اوکه هغه پيدا نه کړي نو بيا هستونه او

تخلیق کوي.دا بهیر دوه عمده شکلونه لري چې یوه لوبه اوبل هنري تخلیق دی.

په دې ډول نیچه د هنر له سر نه د تقدس تاج لیري کوي او هغه په مریي او مزودور بدلوي چې د خپل بادار یعني انسان وخت ښه تیر او کسالت یې له منځه یوسي خوبیا هم وایي دا کوم ټيټ مقام نه دی، که دا خبره په پام کې ونیسوچې د هنر دنده د انسان ژوندی اوخوشاله ساتل دي او دخلاقیت هستول او هغه وینو هیجاني کول او را پارول دي چې د انسان په مغز او ذهن کې جریان لري.

نیچه په خپلو افکارو کې په مدرنه نړۍ کې دوه ډګرونه یعنې((هنري خلاقیت)) او اروا پوهنه په نوي بنسټ ایجاد کړه. هغه په دې اند دی چې د هغه په فلسفي افکارو کې هغه څه نشته چې د مخه وو. ټول مفاهیم او ارزښتونه له خپله ځایه سقوط کوي اوپه بل جهان اوبله فضا کې نوی اوتازه مقام پیدا کوي، له دې امله ده چې د نیچه د افکارو پرته د مدرن جهان او مدرنیته پو هیدنه ممکنه نه ده.

نیچه د زبرځواک انسان کړنه کې انسان پالنه تشریح کوي، هغه چې د زبر انسان ګړنه په فلسفه کې را پورته کړه په دې خبره ټینګارکوي چې ځواکمن انسان یوازې په انساني فضایلو سره له نورو توپیر لري اودجسمي وس له نظره هیڅ ډول برتري نه لري اونه هم توپیر لري. په دې اساس چې لږ تر لږه په تیرو لسو زرو کلونو کې د انسان په هوس اوعقل کې کوم بدلون نه دی راغلی، هغه په داسې مهال کې خپله تیوري مطرح کړه چې داروین د نظریاتو له مخې انسان دبیزو تر سطحې را ټیټ شو، دې نظریاتو په خرافاتو او موهوماتو، باندې ګوذار وکړ. نیچه دا پوښتنه را ولاړوي چې که فرض کړو خدای نشته چې موږ په رښتیا بیزو یو او د طبعیت زیږنده یوخو دشعور

نه برخورداره یو نو اوس باید وګورو چې که شعور لرو نو ددونیا په کومه سطحه کې ولاړیو.؟

غني خان هم په خپلو اشعارو کې په انسان متمرکز دی، تل د انسان ښه خویونه د هغه له حیواني غریزو سره خوا په خوا ږدي خو که له یوې خوا انسان د ارزښتونو هستوونکی بولي نو د هغه له حیواني انګیزو نه هم بې خبره نه دی. د غني خان انسان دهغه ځپل شویو امیالو نه وروسته یو لوی ذات ته مراجعه کوي او د هغه سره په وصال کې نړۍ او کاینات، ښکلا او کمال ویني. د غني دوه شعرونه دي:

**بنده**

بـــنـــده بــدلــیــږي داســـې بــدلــیــږي
لـــکـــه بـــدل شـــــي چـــې وخـــت دکـــال
کلــه یو حســـن شـــي یو ســـوز اوخوب شـــي
کــلــه مـجـنـون شـــي یـو لـیـونـتـوب شـــي
کــلــه فـریـاد ســـلـګـۍ کــلـه نـرتـوب شـــي
کــلــه ســـیـنــه دســـقـراط کــلـه خـرتـوب شـــي

)

(۱-۵۳۴

نوې بلا

کــلــه کــلــه را پــیــداشـــي یــوه دارنــګــې بــلا
ژبــه ښـــکلې اوپســـتــه ســـر یې ډک وي درنــا
ســـپین ګمبـت کې دجومـات،دي پراتـه لات ومنـات

دا پــه شــــکــل ادم ذات پــه هــډ ویـنــه اژدهــا
دده دا شــــیـریـن گـفـتــار،کـفـر کـفـر او انــکــار
پروت یې زړه تــه دی زنــار دده هوش توره لمبــه
دغــه ښــکلي ســپین صـــورت  مقبره ده دنفرت
دغــه پنـد او نصـــیحـت دی د زهرو پتــاســـه
دا د لال دی د تــیــارو، دســـــکروټـو دســــکرو
دغـو ســـپـیـنـو مـنــارو کــې اورونــه دي زرهــا
دا پــه شـــکــل فـرشـــــتــه، ده بــلا تــوره بــلا
هم افـت دی هم وبـا، غني خـدای دي ترې ســــاتـه

(۵۳۷-۱ )

## هیومانیزم غني او انسان:

خو پر دې نظرونو او باورونو برسیره غني یو ستر هیومانیست هم دی خو د هیومانیزم په کلاسیکه او تیوریکه معنا نه، بلکې باید یادونه وکړوچې د شاعر نظر په دې برخه کې یوازې په یوه استقامت کې نه دی، بلکې له څو زاویو د هیومانیزم په اړوند څرګندونې لري.

هیومانیزم د مدرنیزم د دوران بشرپالنه ده چې د اروپا د رنسانس محصول ده. یاپه بل عبارت دکلیسا اومنځنیو پیړیو دسکولاستیکي تحجر په وړاندې کله چې د بشري تمدن د پرمختګ په بهیرکې انسان د پیښو او کایناتو مرکز او محراق ګرځي نو د هیومانیزم فکري او فلسفي ښوونځي یو وار بیا د یوناني اساطیروله بستر نه سر راپورته کوي. په فلسفه، ادبیاتو او نورو هنرونو کې انعکاس کوي. وروسته د شعر او ادبیاتو په بیلابیلو فکري

جریانونو کې هم ځلیږي خو د دې په څنګ کې پاتې دي نه وي چې د ختیزې نړۍ په فرهنګونو اوبیلابیلو فکري ښوونځیو په تېره تصوف اوعرفان کې انسان محوري یو څرګند اوځلانده ځای اومقام لري.

د غني خان شعر او هنر ته په غور کتلو سره دا خبره ښه جوتیږي چې دهغه په افکاروکې دهیومانیزم د دواړو یا دوشویو فکري بهیرونو اویوډول فکري او اروایو هنیزه تلاقي یا مخامخ کیدنه موجوده ده.هیومانیزم داسې یو فکري ښوونځی دی چې اساسي موخه یې په نړۍ کې د انسان ژغورنه او د انسان اعتلا ده. انسان شریف موجود بولي او هغه اصول چې طرحه کوي دانسان اصلي اړتیاوو ته چې د انسان نوعیت جوړوي ځواب وایي.

په مدرنه نړۍ کې د رنسانس نه وروسته څلور جریانونه دهیومانیزم مدعیان دي.

دلویدیځې نړۍ لیبرالیزم

دکارل مارکس نظریه

وجودي اصالت یا اګزستانسیالیزم

اوعرفان اوتصوف دمذهب په بنه کې

لیبرالیزم په تاریخي لحاظ ځان دهیومانیزم د فلسفې او فرهنګ اصلي وارث بولي.لیبرالیزم هیومانیزم یو پرله پسې او متداوم جریان بولي چې د لرغوني یونان نه پیل او په معاصره اروپا کې خپل کمال ته ورسید.

د لویدیځې نړۍ یا لویدیځ تمدن هیومانیزم د یوناني اساطیرو په بنسټ سر راپورته کړ. په لرغوني یوناني اساطیرو کې خدیان په خاص مېتولوژیک

لید او نظر سره یو تضاد په ډاگه کوي چې دځمکې اواسمان ترمنځ یا د خدایانو او د انسانانو ترمنځ یو رقابت ښی، ارباب الانواع په پرلپسې توگه د انسانانو په وړاندې خنډونه ایجادوي.جهالت ناپوهي، نه معرفت، پستي کمزورتیا او انسان په اسارت کې ساتل یې اساسي موخه اوپیام دی، هڅه کوي په ځمکه باندې دانسان د حاکمیت اوقدرت مخه ونیسي او له دې نه ډار لري.داسې انگیرل کیږي چې هر انسان چې د سترې گناه مرتکب کیږي او هغو چې دخدایانو امر پرځای نه کړ، په ډېر ستر عذاب اخته شول. سیزیف، پرومته او نورې اسطورې ددې خبرې مثالونه دي.

په واقعیت کې د انسان او د ارباب الانواعو جگړه چې په اساطیرو کې یې انعکاس کړی دی د طبعیت د قهرجنو قوتونو په وړاندې او د دغه قوتونو د ایل کولو او د انسان دحاکمیت او لاسبری له پاره استعاره ده خو له رنسانس نه وروسته نویو هیومانیستانو لکه دیدرو، ولتر او ان فویرباخ او مارکس داسې و انگیرله چې اسطوروې نړۍ یا مېتولوژیکه شخړه دمادې اوطبیعي جهان انعکاس دی او له معنوي او قدسي نړۍ او د سترو شرقي ادیانو په وجود کې روانه شخړه دهماغه مادي نړۍ سره ورته والی لري. په شرقي مذاهبوکې دانسان اړیکه د اهورا مزدا، راما، تایو او ژغورونکي پلار مسیح د انسان او زیوس له اړیکې سره پرتله کیږي خو ځینې فلاسفه د دې دواړو ترمنځ تناقض ویني او داسې انگیري چې که په لرغونواساطیرو کې پرومته له خدایانو اور غلا کوي، او انساني نړۍ ته یې راوړي او د دې گناه له امله په لوی کړاو محکوم کیږي نو په شرقي ادیانوکې شیطان یا ابلیس مقربه ملکه ده چې د خدای له خوا رټل کیږي او د لعنت وړ گرځي، دا ځکه چې د خدای امرنه مني چې د ادم پښو ته ولویږي، په دې پرتلنه کې داور پرځای نور اورڼا ده. خدایي نور دخدای امر دی او د یوناني اساطیرو الهام

اخيستني او پر هماغه اساس د زيوس پرعکس چې انسان دطبعيت له مرييتوب نه ژغوري.

په دې اساس د بورژوازي ليبراليزم اومارکسيزم دواړو د يوناني اساطيرو نه الهام اخلي او هيومانيزم هم په هماغه بنست مطرح کوي.خو اگزستيانسيا ليزم د دوه يادو شويو جريانونو نه زيات دهيومانيزم ادعا کوي. سارتر وايي: (( اگزستيانسياليزم په خپله هيومانيزم دی. )

د سارتر په باور انسان دخپل ځان هستوونکی دی او د يوه ليکوال په قول چې وايي:((انسان دانسان راتلونکې ده)) يعنې ترمخه يې دپيدايښت اټکل نه وو شوی. په دې اساس په ټولو فلسفي ښوونځيوکې وجودي اصالت انسان ته په ستر امتياز قايل دی.

لکه په دې مشهور شعر کې چې دمخه مو هم را اخيستې وو چې وايي :

اومـا ځـان لـه ســاز کـه پـخـپـلـه جـوړ
دخـپـل خـوب نـه دخـپـل خـيـال نـه
اومـا ځـان لـه مـرگ کـه پـخـپـلـه جـوړ
دســپـرلـي دزيـړو گـلـونـو نـه
دلالـونـو نـه دځـوانـۍ نـه

خو بل جريان مذهبي جريان دی چې له عرفان او تصوف نه الهام اخلي. دا جريان انسان په اعلی حدکې پرهيزگارۍ او ايثار ته را بولي.ټول مذهبونه د انسان د خلقت د فلسفې او د انسان دپيدايښت نه پيل کوي. مشهور عارف شيخ محی الدين عربي کامل انسان د خدای خليفه بولي.

په سترو شرقي مکتبونو کې انسان دنړۍ اوکايناتو له خدای سره اړيکي لري.په زردشتيزم کې انسان د اهورا مزدا ملګری وملاتړی دی.او ان د خلقت په ستره معرکه کې له انسان سره دنيکۍ په برې کې د انګره مينو(د سپنتامينو ضد يا اهريمن يا ناوړه اوبد خصلت ) په وړاندې مرسته کوي.

د وحدت وجود په عرفاني جريانونو کې چې په سرکې يې په ټولو هندي مذهبونو کې دخدای، انسان او عشق درې واړه يوه پيښه را منځ ته کوي چې د هستۍ نړۍ له سره جوړه کړي.انسان اوخدای په دې مذهب کې داسې سره شريک دي چې منطقي جلاوالی يې ممکن نه دی،زموږ دسترو صوفيانو اوعارفانو په اثارو کې هم داسې بريښني او مثالونه يې زيات دي.

د غني يوشعر:

ټول جهان خاموش وو يو ادم و چې ګويانه شو
مينې داسې يوړو بې خبره دخپل ځانه شو
وې، زرلکها سوالونه، ژوند جواب يمه دټولو
زه يو مقصد نه يم، خو باب يمه دټولو
زه کله مراد، کله ارمان کله غرور يمه
زه تنګ اوتکور يم، زه شراب يمه دټولو
زه کامل کمال، زه سر رباب يمه دټولو
دا چې ته يې ای جانانه، دا چې ستا هستي رڼا ده
دا زما مينه ارمان دی، دا زما ژړا خندا ده
دملا خبرې خوشې معامله ستا اوزما ده
دا داستان د لوړې نه دی دا قصه دعشق اوساه ده
د زما ورکی پټ راز ستا دحسن اوکمال دی
دا زما کمزوری سترګې ستا دښايست جاه وجلال دی

**عرفان**

انســـان نه ده تشـــه خاوره چې په خاورو کې شـــي خاورې
دې کې ســـاز یو ابدي دی که لږ چپ شـوې ته به یې واورې

**ماخذونه:**

١.غني خان، لټون، یونیورستي بک ایجنسي، پېښور، ٢٠١١.

٢.فاضل غیبي، فلسفه مدرن وایران، چاپ اول، پیام خ (محل چاپ مالوم نه دی)کال،١٣٩٠.

٣.قاسم کاکایي، وحدت وجود، به روایت ابن عربي واکهارت، ١٣٨٥.

SWASTIK

4.http://www.preservearticles.com/201105086343/philosophy-of-rabindranath-tagore.html

## شپږم څپرکی

## ملا او غني خان

د غني خان د ژوند له مطالعې جوتیږي چې هغه په ډېره تنکۍ ځوانۍ او زلمیتوب کې دیني او مذهبي زده کړې کړي دي. هغه په اتمانزو کې ښوونځی ولوست، ارومرو چې عربي او فارسي ژبې یې هم دغلته زده کړې وې. د دې زده کړو له برکته د هغه ذهن او فکر د دیني او مذهبي مسایلو په درك ښه وس پیدا کړ. هغه د خدای د وحدانیت پیغمبر، قران، ژوند، مرگ، دوزخ اوجنت په باب ښه ژوره پوهه ترلاسه کړه. په دې لړکې یې د دین او

الهی احکامو دروغجن مفسر ته هم پام واوښت. دا لامل شو چې د الهي مشیت او د هغه د کون و فیکون څخه د ناسم پوهاوي د تبلیغونکي ځیره په خپلو شعرونو روښانه کړي.

دغني خان یو ملګري یادونه ده چې استاد بینوا هم په اوسني لیکوال کې را اخیستې ده، وایي:

(( په هغو ورځو کې دباچا خان دا خیال و، چې د غني نه یو لوی اسلامي عالم جوړ کړي نو ځکه غني خان اوه کاله د عربي مروج علوم ولوستل په تیره یې بیا د قران تفسیرونه (مسلم، بخاري،احسن المسایل)(اسلامي قانون) او(بلوغ المرام)تقریبا ټول یې یاد وو او عربي ژبه یې دخپلې پښتو په شان روانه ویله.))

وایي چې یوځل د هند د دیوبند د اسلامي مدرسې یو مولانا دې ازاد ښوونځي ته راغلی و، غني خان د ټولو شاګردانو مخ کې ودرید او شل دقیقي یې په فصیحه عربي ژبه وینا وکړه.مولانا پوښتنه وکړه چې دا هلک عرب دی؟)) باچا خان موسکی شو ویې ویل: نه! دا زما زوی سوچه اشنغری پښتون دی.)) (۸۷۸۰۱)

د غني خان په شعرونو کې ملا یوسمبول دی. د جهالت او تاریك اندۍ سمبول.د ښکلا ضد او د بدرنګۍ سمبول او په نهایت کې د معرفت ضد سمبول. دوه حقیقته د ملا په اړوند د یادونې وړ دي چې د غني په شعرونو کې ډیر ځرګند دي.

یو د پښتنو د ازادۍ سره دوښمني او د پردیو په خدمت کې کیدل دي. چې په همدې اساس د ملا کردار په دواړو کې ډیرځرګند دی.

له بلي خوا ملا په ښکاره کې د خلکو د پوهاوي او هغو ته د لارښوونې مدعي دي چې په سطحي او ابتدايي پوهه نه شي کولای د خلکو پوهه لوړه یوسي بلکې نور هم د خلکو د جهالت سبب کیږي یا دده جهالت ټولنې ته انتقالیږي.

دریم دا چې ملا په پښتني ټولنه کې د ټولنیز – اقتصادي دریځ په لحاظ په ډیره ټیټه سطحه کې موقعیت لري، او درلود یې خو ځیني عوامل اوسببونه وو چې ملا ته یې د لښکرو په سرکې ځای ورکړی دی.

ځلورم، د پښتنو په تاریخ کې ان د مغلو له دوران راهیسې ملا د دربار او پردیوحاکمانو په خدمت کې شو. د بایزید روښان پر ضد د اخون درویزه دریځ اوبیا دخوشحال خان پرضد د ملا میانور پروپیګنډه او تبلیغ چې په سوات نامه کې یې مفصل تفسیرشته، همدارنګه د خدايي خدمتګارو پر ضدچې سرخپوش یې د بلشویکانوسره ورته تبلیغول، ښه مثالونه دي. پردیو حاکمانو د ملي ازادۍ او خپلواکۍ د مبارزینو پر ضد له ډیرو وسایلو کاراخیست چې یوه عمده وسیله یې د دین او مذهب له سپیڅلي نامه ګټه اخیستل وو چې د دې کار له پاره بیا هم ملا وسیله شوې ده.ملا د دربارونو د جیره خور په توګه کردار تر سره کړي دی.د انګریزي استعمار د لاسبرۍ په مهال هم انګریزانو تر هرڅه د مخه د پښتنو د فرهنګ په اړه څیړنه وکړه او له څیړنې وروسته یې ملا په خپل لاس کې ونیو.

البته په دې کې استثنا هم شته، په ټول کې هر ملا د استعمار په خدمت کې نه بلکې ډیر پیاوړي اومبارز عالمان هم وو چې هغوی بیا په دې کټیګورۍ کې نه شو شمیرلی.

خو په هر صورت بیرته خپلې خبرې ته ورګرځو او هغه دا چې دا خبره ځو دلیلونه لري، یو دا چې په پښتني ټولنه کې په تاریخي لحاظ ملا دځمکې او جایداد خاوند نه وو (په تاریخي اوقومي لحاظ) هغه زیاتره وخت د کلیوالو او کورونو ځخه د راټول شوي ټوك اومړۍ په وسیله تغذیه کیدلو، له بلې خوا سخت فزیکي او جسماني کار کولو ته هم برابر نه وو، په نوموړي باندې د جومات د لومړیو ورځو لوږه او د بل مړۍ ته سترګې وازې پاتې کیدل د دې سبب شوې چې تل وږی پاتې شي او د((پټې لوږې)) حقارت دهغه دشخصیت برخه وګرځي.

د ملا پوهه او درك داسې جوړیږي چې زیات په تاریخ او د خپل هیواد په جغرافیه اګاه نه وي او باور هم پرې نه لري بلکې هغه دملت اوقوم پرضدد امه(امت)د مفهوم لیوال دی او د اُمّه یا امت مفهوم یو ډول مذهبي بین المللیت بني. سره له دې چې دا یوه سپیڅلې انګیزه ده خو د ظالموحکامو اومستبدینو له خوا د ملتونو د مریې کولوله پاره یې د یو دام حیثیت غوره کړ. په همدې اساس ملا ته ازادي او حاکمیت هم دومره ارزښت نه لري چې موږ یې په معاصر تاریخ کې ژوندي مثالونه لرو.

د دې خبرې یو ژوندی مثال د تېرې پیړۍ په اتیایمه لسیزه کې د یوه مذهبي – افراطي ګوند له خوا له پاکستان سره د کانفدراسیون طرح منل شوې وه. غوښتل یې چې په مذهبي ایدیولوژیك بنسټ د افغانستان او پاکستان کانفدراسیون جوړ کړي چې د فقید داکتر نجیب الله شهید له خوا په شدت سره وغندل اومحکوم شو.

بل مثال یې د ګوانتانامو ماتې زولنې د اثر د لیکوال(بدرالزمان بدر)یوه کیسه ده چې په خپل یاد کتاب کې یې درج کړې ده چې کله د کونړ د جمیل الرحمان سلفي وراره چې یو وخت د اسلامي ګوند غړې وو او وروسته یې جلا تنظیم

جوړ کړ. په افغانستان کې د مجاهدینو د راتګ په درشل کې ای اس ای ته یوه طرح ورکړې وه ۰ په دې ډول چې افغانستان باید په کوچنیو ایالتونو وویشل شي. د مجاهدینو قوماندانان دې د هغو اداره وکړي اوپه مجموع کې دې د افغانستان د ایالاتو اداره د پاکستان له خوا ترکنترول لاندي وي. دا کتاب نور ډیرحقایق هم رسوا کوي چې البته ددې مقالي له حوصلي بهر دي.

د هند دنیمې وچې د ازادۍ نه وروسته د پښتنو ازادي بخښوونکی غورځنګ د ملا تېر د ملا او د هغه د ایدیولوژۍ پر اثر مات شو، ان دا چې د انګریزانو له خوا د دې له پاره چې د پښتنو ازادۍ وننګوي نو د پاکستان په ګټه یې رای ورکولو په مهال د هندوانو ګرنګ د قران پاك په خوا کې کیښود، حال داچې دین او مذهب د پاکې عقیدې او باور بنسټ دی، نه د هیواد دخپلواکۍ او خودمختارۍ د ارزښتونو له پاره بنسټ. د صدراسلام په مهال یهودو او مسلمانانو یوځای ژوند کاوه.

له بلې خوا پښتون ملا د ژورې دېني اومذهبي – اسلامي پوهې څښتن نه دی. بلکې د سطحي معلوماتو او مسایلو تکراروونکي دی.هغه چا یاکسانو چې له مدرسه یي زده کړو زیاته ګټه تر لاسه کړي هغوی بیا له دې دایرې څخه وتلي اومشهور عالمان بلل شوي دي چې د هیواد، خلکو اوخپلواکۍ علمبرداران ګڼل شوي دي. البته په دې بحث کې زموږ خبره دسطحي اولږ معرفته ملا په باب ده.

همدارنګه ملا او د هغه پورې اړوند ځواك تل د مدرنیزم او پرمختګ په وړاندې دریدلی دی.

خو له بلې خوا غني خان چې د یو ډول اشراقي پوهې خاوند هم دی. د همدغه پوهې بنیاد په عرفان کې دی.عرفان او مذهبي دوګماتیزم سره دومره ځنګ نه لګوي.

غني خان د یوه شاعر او فلسفي په توګه چې له یوې خوا د ژورې پوهې او صلاحیت خاوند دی نو ملا د جهالت، ناپوهۍ، سمبول بولي په یو شعر کې ګورو.

**الف.غنې څه وايي؟ :**

غنې خان ملا مخاطب کوي او ورته وايي چې ته دخدای په کور کې دبت سفیرېې. د دې خطاب او استنتاج دلایل په دې کې دی چې ملا او د هغه کوچنیوالي څخه د محرومیت او عقدو په بنیاد د ګېډې او خپل ځان سره افراطي مینه لري. پیسې، خوراك، حلوا، پیټي داسې څه دي چې ملا له خپل جسم او وجود نه بت جوړوي یا د یاد شوي شوق د بت دجوړېدو سبب کیږي نو د دې له پاره چې د هغه په روح او روان کې خدايي جذبه را وپاریږي او په شور او جذبه اذان اداء کړي په اذان کې خپل ژور عاطفي او انساني خدايي جذبه نه شي ورځای کولی، دا ځکه چې د غني په باور د اذان کولو په مها ل هم دخپلې ګیډې په غم کې دی.

هم دا شان د ملا سترګې د جنت په تصور کې په حورو او ښځو سرې دي. د میلو او عیاشۍ د ځای په توګه یې په ذهن کې ژوندۍ ساتي. په ذهن کې له جنته پاریس جوړوي.د شاتو او شیدو ویالي ویني. هلته چې د فیرنۍ او حلوا کیسې وي نو بس یوازې د مادي نعمتونو داستان په ذهن کې پالي. خدايي جنون او عشق په ملا کې نشته. یوازې څربې حورې، بربنډې

حورې، د شهوتو او ځان مړولو مکان په توګه د جنت تصور له ځانه سره لري او پرې فکرکوي.

خو بالمقابل غني خان په خپل شعر کې د جنت واقعي او ریښتینی تصویر لري.دا تصویر د هغه په ژوره اشراقي پوهه کې نغښتی دی. هلته چې انسانیت تعالي پیداکوي. د شور اوجذبې او سکر ترعالي حده لوړیږي.په هرڅه کې ښکلا ویني او د هغه ښکلا یو داسې نور او رڼا ته ورته وي چې د هغې په درك او پوهیدنې سره انسان خپل ځان او هستي په یولوی دریاب کې محوه بولي.

خو د جاهل بې ضمیره او ناپوهه ملا درك څه دی؟ دا په خپله د غني په شعرکې جوتیږي وایي چې د دونیا د مزو لټول. د حورو په سترګو کې د ډموخندا لیدل لکه په اسمان کې دډیران وړمه لټول دي خو غني وایي چې ملایوازې خیټه پیژني. مستي اوجانان نه پیژني.مردي اومیړانه اوپه ډګرکې له ځانه تیریدل نه پیژني.یوازې ببره ږیره وسیله بولي. ټول شعر په دې ډول دی.

جنت

ډوډۍ غـــړپ مـــلا، جـــنـــتـــی مـــلا
حـــلـــوا قـــب مـــلا، ولایـــتـــي مـــلا
پـــه پـــیســـو قـــربـــان اوســـتـــی مـــلا
د پـــولاو پـــه شـــوق خـــوري پـــیـــتـــي مـــلا
دا بـــې عشـــقـــه، بـــې جـــوشـــه او مـــړآذان
دا چـــلـــي دمـــاغ او ارزان ضـــمـــیـــر
د دې ســـپـــین دســـتـــار د تـــوهـــین یـــې تـــه

په دې کور د خدای کې د بت سفير
ماته وايې چې ځه چې جنت ته ځو
ستا جنت ستا د لوړې ارمان دی
ستا جنت د خوراک او د ښځو ډک
ستا جنت نيم پيرس نيم طهران دی
ستا جنت کې درياب دشوروا روان
پيمانې د فيرنۍ نه بر پورې دی
ستا جنت کې جنون او تالاش نشته
ستا جنت کې څربې حورې دي
ستا جنت کې نه سوز نه ارمان شته دی
غټې خيټې، لمدې، سپورې شونډې دي
ستا جنت کې غوښتل او بيلل نشته
واړه حورې، رضا او بربنډې دی
ستا جنت د جنون بې خبره ژوند
ستا جنت يو اوښيار شان تصوير د ځان
ستا جنت د شهوت او د تندې ډک
ستا جنت ستا د لوړې د تاو امکان
ډوډۍ غړپ ملا، جنتي ملا
په پيسو قربان، اوستي ملا
راشه واوره ته چې جنت څه دی
د غني جنت، د غني ملا
ته په جنت کې مزې د دنيا لټې
د حورو سترګو کې د ډمو خندا لټې
ته په آسمان کې وږمه د ډيران لټې
او په تيرو کې سپوږمۍ له مکان لټې

لیونی نــه شـــوې تــه خمــار او مســـتي نــه پيژنــې
مســـتانــه نــه شـــوې دلربــا پرســـتي نــه پيژنــې
تــا د دنــيــا دپــاره مــيــنــه د جــانــان ورکــړه
مــجــنــون پــه بــيــعــه، بــيــخــودي د جــانــان ورکــړه
لاس دې کــه اوږد بــادشـــاهــي لاړه فــقــيرشـــولــې
يــا زمــا خــان وې يــا د ګُــنــډو رنــډو پــيرشـــولــې
ټولــه خيټــه شـــوې مســـتې او جــانــان نــه پيژنــې
ټولــه ږيره ږيره شـــوې مردي او ميــدان نـــه پيژنــې
زمــا اميره! تــالي ځــټ او ټکرى خور شـــوې زمــا
زمــا ســـرداره! تــه مړى وظيفــه خور شـــوې زمــا

(۱۲۴-۲)

**ب.جنت:**

د جنت شعر د غني خان نيمه عرفاني اوسمبوليک اثر دی. په دې شعرکې لومړی لوی او مطلق ذات توصيفوي. د هغه لا محدود او لايتناهي قدرت تشريح کوي، او د شاعر دا عقيده په کې حرکت کوي چې دغه ذات او دا قدرت د ملا او شيطان په وسيله محدود شوې ده نو بيا هم په ملاسختته نيوکه کوي.

غني په خپل شعرکې د ملا دا نظرچې د لوی ذات قدرت، ترحم، مهربانۍ او د هغه د لامحدود وس په باب کوم تصوير وړاندې کوي هغه د ګونګټ، چنجي او سامري د خوسکي په انځور کې ويني. د شاعرجنت د ملا د جنت پرخلاف په انساني دونيا کې د انسان د رواني ارامۍ او د انسان د نيکمرغۍ

حالت دی.شاعر له مکاره نړۍ تیښته کوي جنون او لیونتوب غوره کوي او په دغه جنون او لیونتوب حالت کې په رسا اواز او په زغرده وایي چې زه خو هم لیونی یم او هم شرابي یم.دی تیارو ته چې ګورم زړه مې په تنګ شي، وایم چیغه وکړم چې ای لویه ربه ستا دونیا محدوده نه ده. ستا مینه هم حد نه لري، ستا کرم اومهرخو هم حد نه لري نو بیا ولې ستا سامرې دوله موجودات ستا له شیطان سره په یوه لارځي.

ســـتا د رحمت څه حد هم شـــته دی؟ ای بې حســـابه ای بې پایانه
ســتا خیشــت او مینه څوک شــي تللی، د ســترګو پټه روک د ارمانه
د ملا ســـترګې د قهره ډکې راتــه قصـــې کوي د درد او زور
د جانان شـــونډې د کوکو وږې، وئ راشـــه اوګوره جنت کې اور
مرګ بلې سترګې او خوري پنجې راته خوزی لحد، نیسـت او عدم
شـیطان، ملا، دواړه په یو آواز وئ، سـتا ګناه ډیره ده او رحمت کم
مشـــرک ولاړ همســـا پـه لاس، قبـا پـه ولي دســـتـار پـه ســـر
لاټو وزری د بلبـل ایښــی، ښـــایي شـــهبـاز تـه د ایلم ســـر
ښـــاپیرک مشـــر دی د کاروان، د رڼا خیشـــت او ســـنګار لټئ
ســـامری ژاړی د زروبـت کې ژونـدون مســـتي او خمـار لټئ
ګونګټ د ســـوټو په ډیریٔ پورته، زیری لولکي ته د نور بیان کئ
چینجی د خاورې په ممبر بره، قیصـــې د حورو او د آســـمان کئ
څـکـه پـه چـغـو زه د جـمـاتـه لاړم پـه لـورې د مـیـخـانـې
دې خپلو ســـترګو ډوب کړم تالـه کړم هم شـــرابي کړم هم لیونی
خو چه په بدو او بدرنګو خپل لکه د ســـکورلو ګی او اور شـــمه
چې سُـر او تال مې تیاره فنا کړي د بې وسـئ فریاد ژړا او شـور شـــــــــــــــــمـــــــــــــــــه
نـو ځـان تـه وایم تـاتــه واوروم دا د مـجـبـوره زړګـي بـهـانــه

ســـتاخیشـــت او مینه څوک شـــی تللی، ای بې حســـابه ای بې پایانه

(۲- ۳۴)

ملا یوازې په دې ټینگار کوي چې: دمرگ بلې سترگې او خورې پنجې خوزي. لحد، نیست او عدم دی خو د شاعر په باور مرگ انجام د هستۍ نه دی. بلکې دا هستي ابدي ده، مرگ هغه نه شي وژلي. داسې مستي غواړم چې یې مرگ نه شي وژلی.

خوشیطان او ملا، دواړه په یو آواز وایي، ستا د گناه پر مقیاس رحمت ډیر لږ دی.

پورتنی عبارات: دخلقت په اسطوره کې دخیر او شر تناسب په باب پوښتنه راپورته کوي، د غني مخاطب په شعر کې لوی ذات دی.غني په ډاگه د خدایي اوالوهیت ناسم تفسیرچې د ملا له خوا ورکول کیږي په ډاگه کوي او په یوه ځای کې د شیطان او ملا تلاقي ویني.دملامحدوده نړۍ اومحدود تفکرترسیموي. هغه چې تنگه ده اوپه نورو باندې یې هم تنگول غواړي. شیطان په دې تنگ فکرۍ کې د ملا لاشعوري ملگری دی.ملاپه شیطان لعنت وایي خو په واقعیت کې هغه څه چې د بشر او اشراف المخلوقات پرضد دی، هغه کوي، یعنې د خدای رحمت محدودوي. د خدای په خدایي کې حدود پیدا کوي. دهغه رحمت کي کمښت جوتوي او دوزخ اوجنت یوازې دخپل تفسیر له مخې څرگندوي نه هغه ډول چې دخدای له خوا ویل شوی دی.

شیطان په عرفاني ادبیاتوکې د انسان د دروني اوباطني وسوسې مثال دی.یا په بل عبارت لوامه نفس دی.ملاچې د خپل کرکتر اوخصوصیاتو او لږې

محدودې پوهې پر اساس مستغني موجود نه بلکې د خپل نفس مریی دی. د شیطان کردار ادا کوي. یا په بل عبارت شیطان پر هغه کې او هغه په شیطان کې را څرګندیږي.

د شعر وروستۍ برخه په کلکه او ترخه ژبه د ملا او شیطان دواړو له پاره هغه سمبولونه کاروي چې په کلتوري لحاظ په پښتنې ټولنه کې د طفیلي او مفت خوره حیوان له پاره استعمالیږي.

یعنې ښاپیرك او د کاروان مشري، د زرو په بت کې د سامري ژړا ده.

سامري یواسطوره وي موجود دی.کله چې موسی (ع) خپل قوم ته وویل چې واحد خدای او د هغه پیغمبري ومني نو...... د څیړونکو په باور د سلیمان(ع) له مرګه وروسته د یهودیانوملک په دوه برخو وویشل شو. جنوبې برخه یې د یهودیه چې پایتخت یې اورشلیم دی اوشمالي برخه یې سمارا چې پایتخت یې نابلس وو. په تورات کې (هوشع نبې)راغلي دي چې د دې ځای پادشاهانوخوسکی پرستش کاوه. د یوشع په (۴ او۷ ) باب کې راغلي دې ((ای اسراییله اوس خدای ته پرې ایښی یې دا ځکه چې لاره دې ورته پرې ایښې ده او دخوسکي پرستش کوۍ. ستاسې خوسکی چې دصنعتګرانو په لاس جوړ شو نو دخدای قهر به پر تاسو نازل شي. هغه خوسکی چې تاسوجوړ کړی کوچني به شي او هغه باد کرلي بږبوکی به یې وریبي. ))

د موسی قوم وویل چې موږ په خپله خوښه ددې خلاف مرتکب نه شو خو سامري موږ اړ کړو چې هغه زیورات چې له مصر نه یې راوړي وو په اور یې ویلي کړل چې کله ویلي شول له هغې یې خوسکۍ جوړ کړ چې اواز لري. سامري موږ ته وویل چې ستاسو خدای او د موسی خدای همدا

خوسکی دی. خو موسی هغو ته وايي، ای خوسکی پرستو! نه گوری چې له دې خوسکي نه هيڅ خير او شرنه ترلاسه کيږي. )) (۳-۱۲۷ )

غني خان په خپل شعر کې د ملا کردار لکه گونگټ چې د مرداريو د ډيريو پر سر ناست وي ترسيموي. يا دا چې چنجی د خاورې په ممبر د حورو کيسې کوي نو ځکه غني خان له جماته تښتي اوميخانې ته درومي په داسې مهال کې سر او تال کې تياري فنا کړي.د بې وسۍ فرياد ژړا او شور په حالت کې خدای ته وايي: چې ای لويه ذاته ستا ښايست او مينه څوك تللی شي؟

چې سُر او تال مې تياره فنا کړي د بې وسۍ فرياد ژړا او شور شمه
نو ځان ته وايم تاته واوروم دا د مجبوره زړگي بهانه
ستا خيشت او مينه څوک شي تللی، ای بې حسابه ای بې پايانه

دا سمه ده چې په پښتو ادبياتو شعر او په مجموع هنرکې د رياکارو شيخانو ملايانو او پيرانو په وړاندې لوی خوشحال خټک او بيا وروسته خان عبدالغني خان په پوره زړورتيا اوجسارت سره د ملا څيره رسوا کړې او د هغو د اعمالو پر ضد يې خپل اعتراض څرگند کړی او ان ځينې وخت يې مسخره کړې دي.

په پښتو سربيره په نورو ژبو کې په تيره فارسي کې د فارسي ژبې مشهورو کلاسيکو شاعرانو او طنز ليکوونکو هم دا څرگندونه په ډير ښه شان کړې ده.

د فارسي ژبې مشهور شاعر او طنز ليکوال عبيد زاکاني په خپلوکلياتو(شعر او طنزيه نثرونو) کې د شيخ او رياکار زاهدانو او ملا رسوا کړی دی.

د حمدالله مستوفي په قول دعربود یوي قبیلي چې زاکانیان نومیدل او د ایران قزوین ته راغلي وو هلته میشت شول.یاد شاعر په۷۷۲ کال هجري قمري وفات شوی دی.

عبید زاکاني ډول ډول شعري بڼې لکه ترجیح بند، ترکیب بند، غزل، مثنوي، قصیده اوداسې نور لري خو هغه څه چې د ریاکارو او دوه مخو په اړوند په کې ډیر قوي طنزونه دي. د هغه له قطعاتو، رباعیاتو، لطیفو، اخلاق الاشراف، رساله دلگشا، ریش نامه او نورو څخه عبارت دي. زاکاني په خپلو کلیاتو کې د وخت حاکمان، دوه مخي شیخان، ملایان او ازاهدان په کلکه مسخره کړي دي او پرې ملنډې یې وهلي دي.

د فارسي ژبې مشهور شاعر حافظ شیرازي هم په زاهد، صوفي(د ملا په معنا) او شیخ سخته حمله کوي، شیخ او محتسب یعنې د شریعت او اخلاقو ټول ساتونکي او حافظان بې برخي نه دي. څرنگه چې یاد قشر په خپل کار کې د سختې ریا او تظاهر نه کار اخلي، نو هغوی رښتیني پرهیز گاران او عابدان نه بولي. حافظ پرې حمله کوي. د شاعر په دوران کې ددغو کسانو بازار او فساد د شاعر د کرکې د هڅونې عمده سبب دی. د یوه فلسفي په وینا:

((زهد په بنیاد کې دهستۍ په نظام کې دومره ارزښت نه لري، دا ځکه چې نه شي کولای د الاهي ذات ډېره عالي ځلا څرگنده کړي. او یا د هغه دڅرگندولو هنداره وي. سره له دې چې وایي د گناه او ثواب، طاعاتو او عباداتوپه حساب کې به وشمیرل شي خو دغه حساب او کتاب د هغه کسانو له پاره دی چې د حساب او کتاب خاوندان دي. او د خپلې گټې او زیان په باب فکرکوي. )) (۴-۲۸۰ )

وايي په هغه دوران کې چی حافظ ژوند کاوه ولې داسې شاعر وزيږيد؟ دا د حيرانی وړ نه ده، دا ځکه چي د حافظ شعر په خپل دوران کې د پارسي شعر اوږد تکاملي پړاو وهلي وو. فلسفي او عارفانه غزل او شعرونه ددغه تکامل مثالونه دي.

((د حافظ د باده پرستۍ او شراب خورۍ راز په همدغه جسورانه طغيان کې دی. د هغه عمده راز د((بې خودۍ )) په لټه کې او له واقعيتونوڅخه په تيښته اود((ترخه)) روزګار په جبيره کولو اود((يوې هستۍ په انګيرنه )) کې دی. له ناوړه مادي او معنوي نړۍ نه په خلاصون کې د تنګ نظرۍ، تعصب، وينې څښني، رياکارۍ، سطحي او احمقانه روزګار نه چې شاعر يې په ينجوکې نيولی او په خپلو قيوداتو کې يې زمولي، له خپل د چاپيريال نه تيښته کوي او غواړي هغه هيرکړي، د ځان نشه کول، د خيام اوحافظ په باورونو کې ډيره ښه چاره وه. )) (۵-۴۸۲)

حافظ وايي:

بســـکـه درخرقـه ء ســـــالوس زدم لاف صـــلاح
شـــــرمســـــار رخ ســـــاقـی ومـــی رنـــگـیـنـم

●

حـافـظ درمـحـفـلـی، دردی کشـــم درمـجـلســـی
بنگر این بـازی کـه چون بـا خلق صــفـت می کنم

●

شـــراب تلخ می خواهم کـه مرد افگن بود زورش
کـه تـا یـک دم بر اســـایم زدنیـا وشـــر وشـــورش

•

باده نوشی که دران روی وریایی نبود
بهتر از زهد فروش که دران روی وریاست

•

ما شیخ وزاهد کم تر شناسیم
یاجام باده یا قصه ء کوتاه

•

زاهد مکن نصیحت شوریدگان که ما
با خاک کوی دوست به فردوس منگریم

بیدل دهلوي چې په لوی هند کې د اسلامي فرهنګ او عرفان ستره څیره او شخصیت دی،کلام یې هم ډېر ژور فلسفي او عرفاني اړخونه لري. ځای ځای د خپلې عرفاني، فلسفي نړۍ لید له زاویي د وخت په ریاکارو، بې شرمو، بې حیا او موذي ملایانو، شیخانو نیوکه کوي. استاد اسدالله حبیب په خپل اثر انسان د رنګارستان شعر بیدل کې لیکي:

((خلک تیر ایستونکي زاهدان او شیخان دوه مخي ملایان د هغه د قهر د مثلث دریېمه ضلع ده. هغوی چې د زهد او پرهیزګارۍ په قبا او ځانته د خلکو د درناوۍ په جلبولو سره د نذرانو، خیرات، صدقاتو، وقفي مالونو، خانقاو اولنګرونوله لارې د پادشاهانو په دربارونوکې ډېره وهلي اوپراته دي د هغو په باره کې وایي:

ای بسا شیخیکه ارشادش دلیل گمرهیست
غول اکثرا راه خلق از شمع ومشعل می زند

•

بـر شـــیخ د کـانـداری ریـش اســـت مسـلـم
خـرس ایـن هـمـه ســوداگـر پشــمـیـنـه نـبـاشـد

•

بـی ســحـرنـیسـت هـیـت شــیـخ از رجـوع خـلـق
این خر تـنـاسـخـسـیـت کـه گوسـالـه می شــود

•

عرفـان نصـیـب زاهـد جـنـت پرسـت نیسـت
ایـن جـوی خشــک مـغـز بـدریـا نـمـی رسـد

)

(۸۱.۶)

**ج·سوال ځواب د لیونی او ملا**

د لیوني او ملا د سوال اوځواب په نظم کې شاعر خپل فلسفي اواستیتیکي لید ځرګندوي. ملا په دې نظم کې هماغه سمبول دی چې په نورو شعرونو او نظمونو کې ویل شوی دی چې د جنت، ایمان، مکه، حوره، نشه، لمونځ، سجده، ژوندون، وصال، حسن، لیونی د چا په پښو کې د ګل په څیر پروت یعنې روحي اومعنوي مفاهیم تشریح کوي.

د شاعرلید ددې ټولو پورته یادو شویو مفاهیمو د درك لاره یو عرفاني او اشراقي هغه ده. د هغه په نظر اوباور مکه او د مکې په څیر د ختو کوټنۍ خو ډېرې دي خو اعتقاد او ایمان ددې سبب شوی چې د یوعاشق دکور په

توګه وځلیږي. عشق او محبت د دې سبب شوی چې د ختو د یوې عادي کوټنۍ نه د دې او هاغې دونیا مانۍ جوړه کړي.

هغه په ترتیب سره یو خالص او کلك اعتقاد ته ایمان وایي خو دا داسې خیال اوخوب دی چې په هغه کې د جانان سره وصال ته لاسرسی پیدا کیږي.

همدارنګه د شاعر په باور جنت رواني او روحي ارامي، له معبود سره د انسان د وصال داسې خمار او مستي ده چې انسان ته ابدیت ورکوي یا د هغه ابدیت په لټه کې چې وو هغه ته رسیږي. غني خان د استیتیك اوښکلا پیژندنې خاص او ځانګړې لاره لري. دا لاره چې د هغه د فرهنګ اوپوهې په ستنو ولاړه ده، د هغه د باطني او دروني روح په بنسټ پیژندل کیږي. یا پیژندل شوې ده. هغه مرګ انجام د هستۍ نه بولې مرګ خاورې کیدل نه بولي.

حوره د هغه په اعتقاد سره لکه دشفق کرښه یا د خندا بړ بوکۍ یا داسې رڼا چې په یوه څرك سره را برسیره کیږي، ومني.هرڅوك یې د لیدو وس نه لري. هغه نشه هم د سکر په څیر داسي یو حالت را پیژنې چې په هغې کې نا لیدلي حقایق ویني. د مستۍ رنګین محل ته چې هغه هم د انسان په طبعیت کې موجود دی تلل را تلل دي او له هغو خوند اخیستل دي.

همدارنګه د لمانځه اوسجدې تعبیر هم عرفاني ډول وړاندې کوي. د شاعر په نظر داسې تجسم دی چې انسانان او انساني روح په لوړه اوعالي سطحه کي خپل ځان د یار او جانان په پښوکې غورځول دي.په ظاهرکې لمونځ او سجده د شاعر په لید کې یو عمل او کړنه ده خو په معنویت کې د روح او د وصال هڅه ده. ژوند په خپله د معرفت او لیونتوب او د مسایلو د اظهار حالت دی.

بالاخره وصال يعني په ښايست او ښکلا کې غرقيدل دي.دا ښايست کوم فزيکي او مادي ښکلا نه بلکې د معنويت او د روح د ابديت نړۍ ده چې روح غواړي هغه ته ورسيږي. په ښکلا اوحسن مين شاعرنړۍ اوکاينات او چاپيريال کې ځانګړې ښکلا ويني. دې ښکلا ته په خپل تن کې ځای ورکوي او يا داسې چې د خپل تن دروني ښکلا په بهرکې ويني، خو شاعر دجهالت دممثل نه ځان ګوښې کوي. د جنت اوددې ټولو عرفاني مفاهيمو په وړاندې د هغه غوښتنه هم په ډاګه کوي. او وايي چې د ملا جنت يوازې پيټي يعنې د نفس او جسماني غوښتنو غم خوړل دي خو د شاعرجنت له وصال نه عبارت دی.

ليونيه! مکه څه ده؟
ملا! کور د يو عاشق دی
کوټنۍ دی کې ډيری
د همو رب خالق دی
ليونيه! ايمان څه دی؟
ملا! دا دی پوخ ګمان
د يو خوب په زړه ليده دي
د وصلونو د جانان
ليونيه! جنت څه دی؟
ملا! ستا جنت پيټي ده
او زما جنت وصال دی
يوخمار يوه مستی ده
ليونيه! حوره څه ده؟
ملا! لهر د خمار دی
يوه کرښه ده شفق ده

د خندا بربرکۍ ده
لیونیه! نشه څه ده؟
ملا! دا په سیل واته دي
د مستۍ رنګین محل کې
دا واته ننواته دي
لیونیه! چه لمونځ څه دی؟
ملا! خاورې ښکلول دي
د جانان کوڅې ته تلل دي
د امید ارمان کیدل دي
لیونیه! سجده څه ده؟
ملا! ځان خاورې کول دي
دمستۍ د ګلو هار
د یار پښو کې اچول دي
لیونیه! ژوندون څه دی؟
ملا! زه یمه ژوندون
دا زما د خوب لیده دي
د سبا او د پرون
لیونیه! وصال څه دی؟
ملا! ښیست کې ډوبیده دي
دا په ستورو ګډیده دي
په سپوږمۍ کې خوریده دي
لیونیه! حسن څه دی؟
ملا! لهر د خمار دی
یو موسکی موسکی شان خیال دی
یو نری د رڼا تار دی

لـــیـــونـــیـــه! تـــه یـــې ځـــوک؟
مـــــلا! زه د چـــــا ارمــــــان
زه یـــو ګـــل د چـــا د ګـــوتـــو
پـــروت پـــه پښـــو کـــې د جـــانـــان

-۲)

(۲۱۱

**د.داسلام په باب د شاعرلید:**

غني خان داسلام په نوم نظم کې چې په بشپړه توګه یو سیاسي نظم دی. د ملا په وړاندې خپل قوي اعتراض کوي. شاعر د هغو کسانو په وړاندې چې د اسلام دسپيځلي نامه او د هغه له احکامو نه د خپلو دونیایي ګټو په خاطر کار اخلي. په دې نظم کې مخاطب هغه سیاسي مومن دی چې ټول فکراو ذکر یې د خپل سیاسي هوس له پاره دی.داسلام اصلي نص اومحتوا یې له یاده ویستلې ده. یا په بل عبارت اسلام دهغه له پاره یوه وسیله ده چې ځرنګه خپلو موخو ته ورسیږي.

له بلې خوا په اسلامي فرهنګ کې دعارف اومتشرع ستنونزه یوه پخوانۍ هغه ده.عارف، صوفي اوملا یا متشرع، محتسب او زاهد یوله بله سره نه جوړیدونکي دی او دا له دې امله چې دلته یو تبصره اودلیل اړین دی.

اسلام

ای پـــــه اســـــلام مـــیـــنـــه
ای ســــیــــاســــي مــــومــــنــــه
نـــن چـــې اســــلام ســــتــــایـــي

ستـــــــــایـــــــه دې څـــوك پــــرون
دا هــــغـــــه مـــــخ دتـــــپـــــوس
خـــو نـــوی شــــــنـــــه پـــرونـــــه
دادعــــــــقــــــاب پـــــــنـــــــجـــــــې
دښـــــــاپــــــیـــــــرك درونـــــــــه
نــــــن دجـــــــــنـــــــت وعــــــدې
پــــــــرونـــــــــي دوزخــــــــونــــــــه
چـــاربـــــیـــــتـــــه هـــــغـــــه زړه
خـــو نـــوي دې ســــــرونـــــــه
ای پـــــه اســـــــلام شـــــــیــــــدا
ای ســـــیــــاســــــي مـــومــــنـــــه

غني خان ددغه په اصطلاح سیاسي مومن ضمیر هم برگ بولي.هغه چې د پښتون خپلواکي او هویت یې د پردیو د گټو نذرانه کړ او د جناح د خرد جال پسې ولاړ.هغه چې پرون دځان په فکر نه وو خو نن د سیاسي هدفونو د حصول له پاره په نوره دونیا کې د اسلام له پاره مبارزه کوي. لندن کعبه بولي او الهام له بله ځایه اخلي.

ســــتـرگــې دې بــرگــې بــهـر
بـــرگ دې ایـــمـــان دنـــــه
پـــرون یـــې ځـــان نـــه گـــاټـــه
نـــن دې اســــــلام گـــتـــي
پـــه خـــرخ دنـــنـــگ دپښـــــتـــون
خـــپـــل نـــنـــگ اونـــام گـــټـــې
زمـــا پـــه ویـــنـــو چـــالـــه
ایـــــران اوشــــــام گـــــټـــــې

ای پـــه اســــلام مــیــنــه
اي ســـــيـــاســـــي مــومــنــه

خوشاعر خپل قوم ته، پښتون ته، یو رسا پیغام وړاندکوي وايي: چې سترګې او ذهن خلاص کړه، دوست او دوښمن وپیژنه، اعتقاد اوپه اسلام باندې عقیده د خدای له پاره په صلیب ختل او د نمرود په کور کې د موسی له لارې ځان قربانول دي وايي:

څوك دعیســـی پــه شـــان مســـتي د دار اخلي
څـوك دنـمـرود كـالـه كـې دموســـی لار اخـلـي
څـوك درقـیـب پـه مـحـل نـوم ددلـدار اخـلـي
څوك ټول جهـان غورځوي ســترګې د یــار اخلي
غـمــاز لـږ وپـیــژنــه ایــاز لــږ وپــیــژنــه
ای د كـــــنـــــو وطـــــنــــه
ای د ړنـــــدو وطـــــنــــه

(۲-۲۲۵)

خو شاعر واقعي او ربنتيني مسلمان هيڅکه نه هيروي، هغه دمسلمان په نوم شعر کې د واقعي مسلمان انځور کاږي.واقعي مسلمان یعني چې خلاص ذهن ولرې له کینې او کدورت نه خلاص وي.عشق اومحبت یې د تن په ذره ذره کې موجود وي.

مسلمان

مسلمان هغه بنده دی
چې يې شونډې تل موسکۍ وي
سترګې ډکې د رڼا يې
له خولې يو په سل موسکۍ وي
سپين ايمان يې لکه تندر
بې له ځانه هرڅه سيزي
د جانان د در ايرو ته يې
زلفې ول په ول موسکۍ وي
چې يې زړه ډك دارام وي
لکه بيخ دسمندر وي
خوله يې ډکه دګلونو
لکه باغ دصنوبر
داسې مست داسې سرشار
لکه مينه دکافر
اراده کلکه بې کرکې
لکه څوکه دخنجر
دوجود هرڅاڅکی وينه
سره په مينه د دلبر
په سينه کې يې رڼا وي
لکه څرېکه دجوهر
په ژړا کې يې تاثير وي
په خندا کې يې اثر
مټ يې بر په هر څه بر وي
لکه مټ دسکندر
دزړه نور يې لکه شمع

پــرې اورونـــه بــل مــوســـکـــي وي
دبـــلـــبـــل دخـــولـــې اواز تـــه
دا غـــوټـــۍ دګـــل مـــوســـکـــۍ وي

-۲)

( ۲۲۸

**هه٠جنتي او دوزخي:**

خو د جنتي په شعر کې د جنت د مدعیانو او دروغجنو مبلغانو کاذبه او دروغجنه مینه رسوا کوي. هغوی چې په دونیا کې یا په ژوندونې د خپل محرومیت اوبې برخې والي عقده دجنت په خیالونو کې ګوري.له جنت نه هم د دې دونیا د نعمتونو تصویرجوړوي دشعر په ژبه پرې اعتراض کوي. شاعر د حماقت او جهالت په سمبول او د بدرنګۍ په استازي او د ښکلا دوښمن ته متوجه دی.هغه چې په تیاره ډوډۍ را لوی شوی وي یوازې خپل هوس اوخپل نفس پیژني.

شاعر د جنتي په نظم کې هم سیاست، عرفان او فلسفي پوهه ځای کړې ده. هغه د جنت په خیالي دعوه ګیرو اعتراض کوي.د هغه خصلت انتقادوي. هغه چې د ایثار او سرښندني په ارزښت اوخوند نه پوهیږي.هغه چې جنت یوازې د خپل بیولوژیکي ارګانیزم په معیارونو تصورکوي خو سکندري او قلندري د سر ورغوښتنه کوي.ځوانمردي غواړي خو د هغه مطلوب کرکتر د دغه ځوانمردۍ جوګه نه دی. په پای کې وایي چې کله شونډې خاورې شي نو د حورو ښکلول په څه کیږي او چې کولمې خاورې شي د حلوا هضمول به څنګه وشي؟

زموږ په فرهنګ کې که هر څه بدلون رامنځ ته شو، د جنت ددعوه ګیرو خصلت بدل نه شو. که پرون و او که نن دی د سرښندنې او ایثار متره او قوت نه لري. د دې له پاره چې په خپله په مزو کې پاتې شي، نو غوره بولي چې د نورو اولادونه سرونه وښیندي وسوځي خو دده په وړیا ډوډۍ را لوی شوي نازولي باندې دباد ځپیړه هم ونه لګیږي.

## جنتې ته

تــه چــې پــه جــنــت کــې مــزې ددونــيــا لــټــی
دحــورو ســـــتــرګــو کــې ددمــو خــنــدا لــټــی
تــه پــه اســـــمــان کــې وږمــې ددېــران لــټــی
تــه پــه ســـــپــوږمــۍ کــې تــیــارو لــه مــکــان لــټــی
تــه دعــاشـــــقــو عــاشـــــقــي اومســـــتــي نــه پــیــژنــې
لــیــونــی نــه یــې دلــربــا پــرســـــتــي نــه پــیــژنــې
تــا ددونــیــا لــه پــاره مــیــنــه دجــانــان ورکــړه
مــجــنــون حــلــوا کــې بــیــخــودي دبــیــابــان ورکــړه
لاس دې کړ اوږود بــادشــــاهــي لاړه فقیر شـــولــې
یــا زمــا خــان وې یــا دکــونــډو رنــډو پــیــر شـــولــې
ټول خیټــه خیټــه شـــوې مســـتې اوجــا نــان نــه پیژنې
ټولــه ږیره ږیره شـــوې مردې اومیـدان نــه پیژنــې
زمــا امیر وې، تــالي څټ او ټوکري خور شـــوې زمــا
زمــا ســـرداره تــه مریي وظیفــه خور شـــوې زمــا
قســـم پــه هغــه رب چې تــه یې دخدمت دعوه ګیر
چــې یــې دحــورو غــلــمــانــو دجــنــت دعــوه ګــیــر
تــوره را واخــلــه،خــیــټــه هــیــره کــړه مــیــدان تــه ځــه
ســـتــي پټي شـــــه پــه مســـتــۍ کور دجــانــان تــه ځــه

لنبې ډوبیږي په پیتی کې په حلوا کې یاره
جنت دې بایلود دټیپرو په سودا کې یاره
دووسي گرانه ده دلوړې نه کاکا جنتي
ټپ زمری ښه دی له څربې مړې زما جنتي
دسامري له زرو ښه ده ملنگي دموسی
دزرپرست نه یار پرست ښه دی زما جنتي
قسم دحورو په مستی اوپه خندا دیار
قسم په شرنگ اوپه نسیم اومشغولا دیار
قسم په سترگو په ښایست اوپه ځوانی ددلبر
قسم په ساز اوپه سرود اوپه ثنا دیار
ته سجدې زرو ته کړې ماته نوم دیار اخلي
شفق گنه کړې په بدل کې دگل خار اخلي
راځه چې زه درته جنون اومستي وښایمه
راځه چې زه درته محبوب پرستي وښایمه
سرداري نه کیږي دتورې دمستی نه بغیر
الله لیدی نه شي دحسن پرستی نه بغیر
سکندري قلندري دواړه سرور غواړي
دواړه مستي اوځوانمردي خندا غرور غواړي
ته خو جنت کې مزې ددونیا گوره
بربنډه حوره اوترسکونه حلوا گوره
دشاتو نهر اوکنډول دشرابو ډك
نمکین غلیمان اوښانك دکبابو ډك
یاره چې شونډې نیې (نه وي) نو حورې به په څه ښکلوم
چې کولمې خاوري شي گورگورې به په څه هضموم
(۲-۲۴۶)

**و.ملا او عبادت:**

د عبادات په شعرکې هم د ملاعبادت اعتراض کوي، دا ځکه چې هغه د زړه له تله د صداقت او رښتینوالي له مخې عبادت نه کوي، هغه خپل روح او روان له الله سره نه تړي خو صوفي او عارف په دې لار کې ځان سوځول او محوه کول غواړي. غني هم د یوه عارف په څیرد فنا او نیروانا لیوال دی. دجانان په مینه کې ځان فناکول غواړي. هغه خپل عشق یوازې په یوه ناپایه سمندرکې ډوبول غواړي خو ملا، زاهد د هغه د غوښتنې پرخلاف په ځان مینان دي او په دواړوکونوکې د خپل گټو پسې گرځي.

**عبادت**

دملا عبادت کسب
پاځېدل اوکېناستل
دحلوا په ارمانونو
تل الله کول
دملا مینه عجیبه
په پیتي مینیدل
اودحورو لمغړو ته
دخرچوکوهنیدل
دصوفي عبادت ویردی
سوځیدل اوژړېدل
درحمان رحیم دنور نه
رپېدل اوویریدل
دصوفي مینه عجیبه
دزړه گل مړاوی کول

بـې کـنـار دریـاب دحسـن
پـه کـوزه کـې بـنـدول
د زاهـد عـبـادت چـړ دی
سـوال مـنـت ژړا کـول
پـه جـنـت او دې دونـیـا کـې
د فـایـدې سـودا کـول
د زاهـد مـیـنـه عـجـبـه
پـه خـپـل ځـان مـیـنـیـدل
د ریـا سـپـې جـوتـه کـړی
دلـربـا لـه ورکـول
دغـنـي عـبـادت مـیـنـه
ځـان جـانـان کـې ورکـول
دمهینو سـترګو شـرنـګ تـه
ګـډیـدل اوخـنـدیـدل
دغـنـي مـیـنـه عـجـیـبـه
تـول بـیـلات هـیـڅ نـه ګـتـل
دا خـپـل ځـان اوجـهـان واړه
یـوخـمـار کـې ډوبـول
(۲-۲۶۱)

غني خان د(وايي ملا جان) په شعرکې د پښتنې فرهنګ او د خپلې عرفاني پوهې په بنسټ د ملا د غوښتنو او تمایلاتو یوبل تصویرهم کاږي. په زغرده اوڅرګنده توګه او په واضحه ژبه د ملا د هوس او غوښتنو څخه پرده او چتوي.دا شعر نورې شرحې اوتفسیر ته اړه نه لري، بلکې دغني په نظر د ملا کرکتر په ښه توګه ترسیموي:

وایي ملا جان

وایې ملاجـان چـه بـه جنـت کـې حورې پنـډې دي
غټې غټې، ســپينې ســپينې، مســتې او بربنـډې دي
ګوره بمبلـي تـه چې یې خُلـه د لاړو ډکـه شـــوه
ښـــانګو کې د حورو تی(الحمـدقـل هو) روکـه شـــوه
ګـوره د آشـــنـا پـه ږیـره لاړې را روانـې شــــوې
ټول شـهوت شـهوت، سترګې ورانې شوې شیطانې شوې
دا وجـود د خـاورې، دی نـه پـای جـنـتـونـو کـې
دا د خـاورې ګـل مســـت وي د خـاورې پـه ګلونو کې
خاوره به شـــي خاوره یو احســـاس او یاد به پاتې شـــي
ساز سـرور به لاړ شـي، خوشـې تشـې باد به پاتې شـي
زه بـه حورې څـه کړم چـه یې غیږ کې کینوی نشـم
غټو مســتو ســترګو ته یې په ســرو ســترګو کتی نشـم
او دا وجود که بیا شـي جوړ، شـهوت حورې شـراب وي
مســـت مســـت هلکان چې به هم ښـــکلي هم خراب وي
ګوره ملاکـي تـه دی چې لـس یـې درلـه ګیره کړي
تـه بـه ورلـه ګـورې او هـغـه بـه درلـه تیره کړي
او لونـه دې راونیســـي، لا مور درلـه پـه مخـه کړي
ټولـه خیلخـانـه بـه درلـه ګرمـه کړي اویخـه کړي
دغـه کـه جـنـت وي مـلا رب دی ورلـه بـوځـه زر
دغـه دلـه تـوب نـه زمـا زرځلـه دی خوښ ســـقر
یـا خو وجود نـه لري یو مســـت او رنګین خوب دی
حوري او غلمـان د میني خیشــــت او لیونتوب دی
یـا دا تـه چې وې کـه دا رښـــتیا ســـتـا پـه کتاب کې وي

ټول غلمان به مړه وي پښتانه به په عذاب کې وي
تاله ملاجانه رب درکړي جنتونه ډير
اوس پوه شوم چه ولې دا اوړده کوې مونځونه ډير
زه به سور دوزخ له خپل غيرت او غرور يوسمه
ځان سره به خپله حيا، خيشت او سرور يوسمه
اور وي که عذاب وي تيروم به يې لکه خان
ته همسا په لاس شړه د ښځې نه غلمان

د دې بحث په سرکې موږ هغو مسايلو ته اشاره وکړه چې په شعوري او لا شعوري توگه يې زموږ منلي او وتلي شاعر غني خان دې ته اړايستي ووچې د ملا په وړاندې خپل دريځ روښانه کړي.

جنيدبغدادي وايي: ((روحانيت دوه اړخونه لري.شريعت او حقيقت. شريعت د الهي احکامو نص دی چې له يوه پيغمبرنه تربل پيغمبر پورې بدلون کوي اوحقيقت د ابدي روحانيت واقعيت ته ويل کيږي.)) (۲۴۰۰۷)

زموږ اخذ دا دی چې غني خان په خپلو شعرونو کې ملا د يو سمبول په توگه د ديني او مذهبي سيستم او دايرې نه گوښې کړی دی او د ملا هغه غلط او ناسم تعبيراو تفسيرچې له دين نه يې ټولني ته وړاندې کړی ځرگند کړی دی خو يو بل ټکي هم يادول اړين دي او هغه دا چې د غني ليد په زياترو برخو کې يو عارفانه ليد دی. موږ کولي شو چې دشاعر په کلام کې د ملا په اړوند د شاعر عارفانه ليد له زاويي وگورو.

شريعت ظاهري تزکيي ته او طريقت د باطن تزکيي ته ويل کيږي. طريقت د تصوف مېتوديك چلند دی چې د عرفان او اشراقي معرفت په بنياد هست شوی دی. شريعت هغه لاره ده چې انسان جنت ته رسوي اوطريقت داسې

لاره ده چې انسان خدای تعالی ته رسوي. طریقت د شریعت په نسبت خاصه لاره ده. ځکه چې په طریقت کې د شریعت احکام هم داخل دي. لکه هغه عملونه چې بایدد لاس، پښو، ژبې او نورو جوارحو په وسیله ترسره شي. اوهمدغه د بدن غړي باید له حرامو او مکروه کارونو څخه ډډه وکړي اوهمدارنگه په طریقت کې قلبي عملونه اوله ماسوی الله څخه اجتناب هم شامل دي. موږ په دې بحث کې د شاعر عرفاني لیدځانگړنې نه تشریح کوو.دا ځکه چی دا په خپله اوږود بحث دي او د هغه د کلام په بنا باید ترسره شي.

یادښتونه:


۱.بینوا، عبدالروف، اوسني لیکوال (ترتیب اوزیاتونې:مطیع الله روهیال ) دویم چاپ، صحاف نشراته موسسه، ۱۳۸۸کال.

۲۰دغني کلیات، دقومونو اوقبایلو وزارت، دخپرونو ریاست، ۱۹۸۵۰کال.

۳۰ش، شفا، معمای ادیان، سیرې تحقیقی درادیان توحیدي ودرمنشا الهی قران، چاپ ۲۰۱۲.

۴.داریوش آشوري، عرفان ورندي درشعر حافظ، نشرمرکز، چاپ چهارم، سال ۱۳۸۲.

۵. ا، طبري بررسیها وجهانبیني های، (اندیشه های چند در باره حافظ، چاپ: ح، ت، ا، سا ل ۱۳۵۸.

۶.داکتراسدالله حبیب، انسان در نگارستان شعر بیدل، جای نشر، رینفورما پرنت، بورگاس، بلغاریه، کال ۲۰۱۳.

۷.روهي، محمد صديق، ادبي څیړنې، دويم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه، کال ۲۰۰۷.